بسم الله الرحمن الرحیم

# زه ملاله یم

لیکواله: **کریستېنا لمب**
ژباړه: **سیدحبیب وقار**
خپرندوی: **اکسوس کتابپلورنځی**
ډیزاین: **سپین سهار**
چاپکال: **۱۳۹۳ل/ ۲۰۱۴ز**
چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**
چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

**اکسوس کتاب پلورنځی**

لومړی څانګه؛ کابل پوهنتون لویدیځ سړک
دویمه څانګه؛ دهبوري‌یو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
ټیلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۵۰٤٦٥۲
۰۰۹۳۷۹۸۹۸۹٦۹٦
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
/aksos bookstore

Ketabton.com



ګرځېدونکو، له زده کړو او د ژوند
ژوند یې د ناسم سیاست او مافیا
سرې خوړونکو یې ژوند ورنه

(وقار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاله یم

هغه نجلۍ چې د زده کړې د حق د ترلاسه کولو له پاره ودرېده او طالبانو برید پرې وکړ.

ملاله یوسفزۍ

هغو نجونو ته ورانديې کېږي چې د بې عدالتۍ او نابرابرۍ ښکار شوې دي او سره له دې هم غلې دي.

زموږ غږ به واورېدل شي.



# لړلیک


درناوی او منّنه ........ ۷
د ملالې بنسټ په اړه ........ ۱۱
سریزه ........ ۱۲


## لومړی څپرکی


یوه نجلۍ پیداکېږي ........ ۲۰
زما د باز په څېر پلار ........ ۳۵
په ښوونځي کې زده کړه ........ ۴۸
زموږ کلی ........ ٦۸
زه ولې لښتۍ نه په غوږو کوم او پښتانه ولې منّنه نه کوي؟ ........ ۷۹
د کثافاتو غر او ماشومان ........ ۹۱
مفتي مو د ښوونځي د تړلو هڅه وکړه ........ ۱۰۲
د منې زلزله ........ ۱۱۵


## دویم څپرکی


د مرگ دره ........ ۱۲۱
ملا راډیو ........ ۱۲۱
د نبات اوبه، د ټېنېس توپ او د سوات بودا ........ ۱۳۵
لایق ټولگی ........ ۱۴۷
په سرو وینو لړلی واټ ........ ۱٦۰
د گل مکۍ یادونه ........ ۱٦۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله که ملنډې ............................................................ ۱۷۹
د درې پرېښودل............................................................... ۱۹۰

## درېيم څپرکی

درې نجونې، درې مرمۍ ........................................................ ۲۰۰
د غمونو دره ............................................................... ۲۰۰
د خپل قد د لوړېدو دعا مې کوله.............................................. ۲۱۶
ښځه او سپند ................................................................ ۲۳۰
د طالبانو شخصي ډلې........................................................ ۲۴۰
ملاله څوک ده؟ ............................................................. ۲۵۰

## څلورم څپرکی

د مرګ او ژوند تر منځ ........................................................ ۲۵۷
لويه خدايه، هغه په تا سپارم ................................................... ۲۵۷
ناپېژانده لور ته سفر ......................................................... ۲۷۳

## پنځم څپرکی

دويم ژوند ................................................................. ۲۸۴
بېرمېنګهم..................................................................... ۲۸۴
موسکا يې ترې غلا کړې وه ..................................................... ۳۰۰
وروستۍ خبرې ............................................................... ۳۱۳
يو ماشوم يو ښوونکی، يو کتاب او يو قلم .......................................... ۳۱۳
د سوات او پاکستان مهمې پېښې.................................................. ۳۲۵



# درناوی او مننه

په تېر ژوند کې راته د انسان له کچې ډېر نفرت او د الله(ج) بې کچې ډېره مينه ښکاره شوه. ډېرو خلکو مرسته راسره وکړه چې که د ټولو په اړه وليکم او نومونه يې واخلم يو بل کتاب هم ورباندې ليکل کېږي خو غواړم له ټولو هغو کسانو چې په پاکستان او ټوله نړۍ کې يې زما د روغتيا له پاره دعا کړې او ټول هغه زده کوونکي او ماشومان چې له ما يې ملاتړ کړی مننه وکړم. همدارنګه له ټولو هغو ګلونو، ليکونو، کارډونو او پيغامونو چې ماته يې لېږلي دي مننه کوم.

پلار مې هغه څوک دی چې زما د فکر او نظريې خپلواکۍ ته درناوی لري. پلار او مور مې هم د زده کړې د حق د اخيستلو او سولې د راوستلو مبارزې ته ډېره هڅولم، له همدې امله د نېکمرغۍ احساس کوم.

همدارنګه زموږ په ښوونځي کې ښوونکې وې لکه ښاغلې مېرمن الفت چې د درسي مضامينو سربېره به يې ماته نېک چلند او ښه رويه راښوده.

ډېرو خلکو زما روغتيا يوه معجزه وبلله. له همدې امله په ځانګړې توګه د سوات د مرکزي روغتون له ډاکټرانو، نظامي روغتون په ځانګړې توګه زما اتلان، هر يو ډګروال جنيد او ډاکټر ممتاز چې زه يې په وخت سره عمليات کړم او له مرګه يې وژغورلم درناوی کوم. همداراز له ډګرمن اسلم څخه هم مننه کوم چې د بدن اصلي غړي مې يې له عمليات وروسته وساتل.

په ځانګړې توګه له جنرال کياني څخه چې زما له روغتيا سره يې ډېره لېوالتيا ښوده مننه کوم. له ولسمشر زرداري او کورنۍ يې مننه کوم چې زما په ښه والي کې يې پاملرنه اغېزناکه وه. د عربي اماراتو له دولت او شاهزاده محمد بن زايد هم مننه کوم چې الوتکه يې راته ولېږله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر جاوېد کیاني زما د پلار په څېر و، په هغې له غم او درده ډکو ورځو کې یې ماته خوشالي راکړه. ډاکټر فیونا رینولډز مې په پاکستان کې مور او پلار وه او دلته په انګلېستان کې یې هم ماته تسلي راکړه، مننه ترې کوم چې د هغې فاجعې حقیقت یې راته څرګند کړ.

په بېرمېنګهم کې د ملکې الیزابېت روغتون کارکوونکي بې جوړې وو. جولي او نرسانو یې له ماسره په مینه چلند کاوه، بېټ او چودري نه یوازې دا چې پالونکې مې وې بلکې ماته د دوو مهربانو خویندو په څېر وې. سربېره پر نورو له آیما چودري هم ځانګړې مننه کوم ځکه چې زما پالنه یې په بهتره لاره وکړه.

پاتې دې نه وي چې ریچارډ ایرونګ هم زما مسکا بېرته راکړه، همدارنګه مېرمن آنوین وایټ مې د سر کاسه جوړه کړه.

فیونا الکساندر نه یوازې دا چې رسنۍ یې په ښه توګه اداره کړې بلکې له ما او وروڼو سره مې یې مرسته وکړه څو په بېرمېنګهم کې ښوونځي ته لاړ شو. همدارنګه ریحانه صادق هم تل زما د آرامۍ لامل وه.

اوس غواړم له شیذه شهید او کورنۍ یې مننه وکړم چې له ما او کورنۍ سره مې یې مینه لرله. دوی له ما سره د ملالې ارګان په جوړولو کې ډېره مرسته وکړه او همدارنګه د (او مک کنزي) شرکت چې د دې کار په ترسره کولو کې یې د ده ملاتړ وکړ هم مننه کوم. همدا راز له ټولو هغو کسانو چې د دې ارګان په جوړولو کې یې له ماسره مرسته وکړه، په ځانګړې توګه لکه، مګان سمېټ، د ملګرو ملتونو سازمان او ایټال ویسزا[i] او بي سپیس[ii] مرسته راسره وکړه او له ثمر امین الله څخه هم مننه کوم چې له دې ارګان یې ملاتړ وکړ.

سربېره په هغو کسانو چې زما په یاد دي په ځانګړې توګه له جیمي لاندي او همکارانو یې لوما کروکس هم ځانګړې مننه کوم.

له ګورډن براون او د دفتر له کارکوونکو یې چې ماته له پېښې څخه په استفاده

i- Vital Voices
ii- BeeSpace



یې په نړیواله کچه د زده کړې یو خوځښت ترتیب کړ او همدارنګه په لندن کې د پاکستان له پخواني قونسل، واجد شمس حسین په ځانګړې توګه آفتاب حسن خان او مېرمن یې اروم ګیلاني مننه کوم. مور په دې هېواد کې بې وزله وو خو هغوی مرسته وکړه چې وکړای شو د اوسېدو له پاره یو ځای ولرو همدارنګه د شهید حسین له موټر چلوونکي هم مننه کوم.

او په پای له کریستیینالمب څخه ځانګړې مننه کوم چې زما خوبونه یې په واقعیت بدل کړل. هېڅ کله مې دا فکر نه کاوه چې یوه بهرنۍ مېرمن به له خیبر پښتونخوا یا پاکستان سره دومره مینه ولري او زموږ له هېواد به دومره خبره وي.

موږ ډېر ښه چانس لرو دا چې د کارولینا ساتېن، جودي کلین او ارزو تحسین په څېر درنو کسانو له موږ سره مرسته وکړه. څو دغه کیسه په سمه توګه وړاندې کړو.

د پلار له ښه ملګري عبدالحی کاکړ څخه هم مننه کوم چې دا کتاب یې په پوره مینې سره و ارزاوه او همدا راز له ښاغلي انعام الرحیم څخه هم مننه چې زموږ د سیمې د تاریخ په اړه یې ډېره مرسته وکړه.

په دې لړ کې غواړم له انجلینا جولي مننه وکړم چې د ملالې له ارګان څخه یې په سخاوتمندانه توګه ملاتړ وکړ.

د خوشال ښوونځي له ټولو ښوونکو چې د پلار په نشتوالي کې یې ښوونځی وساته درناوی کوم.

د هغې ورځې له امله د الله[ج] شکر اداء کوم چې د شهیده چودري په نوم مېرمن زموږ کور ته راغله، اوس هغه زموږ د کورنۍ له ملاتړ کوونکو څخه ده.

له منیبې چې تل مې ښه ملګرې او ملاتړې وه او وروڼو مې خوشال او اتل هم مننه کوم.

ملاله یوسفزۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر بهرنی چې تر اوسه یې د سوات لیدو ته وخت پیداکړی، ښه پوهېږي چې د دې سیمې خلک څومره مېلمه پاله دي. له ټولو هغو کسانو چې هلته یې له ماسره مرسته کړې په ځانګړې توګه مریم، ښوونکې او ښوونکې، زده کوونکې، خوشال ښوونځی او په مینګوره کې له احمدشاه او سلطان رم څخه هم مننه کوم. همدارنګه له جنرال عاصم بجوا، ډګروال عابد علي عسکري، ډګرمن طارق او د کورنیو خدمتونو د عمومي اړیکو د ډلې مشر او آدم الیک څخه چې خپل یادښتونه یې زموږ په واک کې راکړل مننه کوم.

په انګلېستان کې د ملکې الیزابت روغتون کارکوونکو په ځانګړې توګه فیونا الکساندر او ډاکټر کیاني له ما سره بې کچې ډېرې مرستې وکړې. له ډېرو کاډوین، جودي کلین، آرزو تحسین او مارتین ایونز او په سنډې ټایمز کې مې له ابډېټر څخه ځانګړې مننه کوم. له خپل خاوند پائولو او زوی مې لورنزو هم ډېره مننه کوم.

او په پای کې له ملالې او کورنۍ یې مننه کوم چې د خپل ژوند کیسه یې زموږ په واک کې راکړه.

کریسټینا لمب



# د ملالې بنسټ په اړه

له دې کتاب څخه زما د لیکلو موخه د نړۍ د ټولو نجونو له خوا نړۍ ته زموږ د غږ رسول و. په میلیونونو نجونې چې د زده کړې له حق څخه بې برخې کېږي او له خپلو استعدادونو یې ګټه نه شي اخیستی. هیله منه یم زما د ژوند کیسه د ټولو له پاره الهام راوړونکې شي، څو خپل غږ تر نړیوالو ورسوی شي او خپل ننني ځواک احساس کړی شي خو زما ماموریت همدلته پای نه مومي. د خپل ماموریت او په واقعیت کې زموږ د ماموریت د ترسره کولو له پاره لازمه ده چې د نجونو د زده کړو له پاره په جدي توګه هڅې وکړو، هغوی ته قدرت ورکړو چې خپل ژوند او ټولنې ته یې بدلون ورکړي. له همدې امله مې ملاله بنسټ جوړ کړ.

ملاله بنسټ باور لري چې ټولې نجونې او هلکان کولای شي نړۍ بدله کړي یوازې موکې ته اړتیا ده. له همدې امله بنسټ هڅه کوي چې دغه موکه د نجونو په اختیار کې ورکړي، له هغوی سره مرسته وکړي چې خپلې وړتیاوې په ښه توګه وپېژني او د ځان له پاره ښه راتلونکی ولري.

له ما سره یو ځای شئ چې ټول له یو بل سره د نجونو د زده کړو له پاره هڅه وکړو.

د ډېرو معلوماتو له پاره: www.malalafund.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

زه په داسې یوه هېواد کې وزېږېدم چې په نیمه شپه کې جوړ شو. خو کله مې چې خپل مرګ په خپلو سترګو ولید، له نیمې ورځې لږ تېره وه.
تېر کال له کور څخه د ښوونځي په لور لاړم چې بېرته هېڅ راونه ګرځېدم. هغه ورځ طالبانو برید راباندې وکړ. وروسته د بېهوښۍ په حال کې روغتون ته یوړل شوم او بیا یې له پاکستان څخه وویستم. ځینې کسان فکر کوي چې بیا به هېڅ کله هم هېواد ته رانه شم په داسې حال کې چې زه په بیا راتلو له زړه ایمان لرم. اوس چې په دې هېواد کې اوسېږم هر سهار د خپلې پخوانۍ کوټې چې هر وخت به مې جامې په غولي پرتې وې او د ښوونځي ډالۍ به یې هم په الماری کې اېښې وې خپلې سترګې پرانیزم. زه اوس په داسې یوه هېواد کې ژوند کوم چې له خپل محبوب هېواد او زما له کور څخه چې د سوات[i] په ښکلې دره کې دی یوازې پنځه ساعته لاره ده.
له دې سره سره زما هېواد له دې هېواد څخه په پېړیو واټن لري.
په دې هېواد کې هر ډول امکانات شته دي. له ټولو نلونو څخه سړې او تودې اوبه روانې دي او برېښنا هم د خلکو له پاره شپه ورځ شته ده. له همدې امله نور

(i) Swat سوات د پاکستان په شمال لویدیزه برخه کې یو ښار دی.



د تېلو څراغ ته اړتیا نه لرو، آن تر دې چې د پخلي له پاره هم څوک اړ نه دي بازار ته لاړ شي او ګاز ډبه واخلي. دا هېواد دومره پرمختللی دی چې آن کولای شې خواړه تیار او تړل شوي برابر کړې.
کله چې له کړکۍ سره درېږم، لوړې ودانۍ وینم او بې پایه سړکونه چې نقلیه وسیلې په کې د تلو راتلو په حال کې دي، فلزي میلې او منظم شنه رنګه چمنونه او همدارنګه پاکې پلې لارې مې د سترګو په وړاندې ښکاري.
هغه وخت سترګې پرانیزم او یوه لحظه یې د درې په لور اړوم، لوړ او اوار غرونه چې څوکې یې له واورو ډکې دي، اوارې دښتې او خوندور سمندرونه خو کله مې چې سوات را په زړه شي، ټول بدن مې داسې یوه خوشالي احساسوي چې په اړه یې ویلای نه شم. وروسته مې ښوونځي ته ځم هلته مې له ښوونکو او ملګرو سره یو ځای کېږم. هلته زما ښه ملګرې منیبه وینم له څنګه یې کېښېنم، داسې ورسره خاندم او خبرې کوم چې فکر کېږي له هغې ځایه هېڅ نه یم راغلې او اوس هم هلته یم.
ناڅاپه رایاد شي چې د انګلېستان په بېرمېنګهم کې یم.
د ۲۰۱۲ کال د اکټوبر نهمه د سه شنبې ورځ وه چې زما ژوند بدل شو.
هغه ورځ سهار په رنګه ریکشو کې چې ماشینونو یې دود بهر کاوه او هره ریکشه کې له پنځو څخه تر شپږو نجونې ناستې وې او په خپله همېشنۍ منظمه لیکه روانې وې. د حاجي نیکه له ختو ډک او تنګ سرک ته ورسېدو.
د طالبانو له وخته زموږ ښوونځي هېڅ لوحه نه لرله.
زموږ نجونو له پاره ښوونځي ته په سهار کې ننوتل، یوه ځانګړې نړۍ وه. دا چې په خېزونو او ګامونو به ننوتو، ټکري به مو د وربځو په څېر چې باد یې د لمر له شاوخوا یوه بله خوا وړي له سرونو لرې کېدل او په زینو به په بېړه پورته کېدو. پورته به یوه سالون ته رسېدو چې زموږ د ټولګیو ورونه به له هغه ځایه ښکارېدل.
خپل بکسونه به مو ټولګیو کې پرېښودل، تر آسمان لاندې غرونو ته به مو چې شا وه منظمې لیکې جوړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې نجلۍ په چیغې کړې:

ټول ټولګیو ته!

د پښو پوندې به مو په ځمکه ووهلې ویل به مو

- الله.

وروسته به بیا هغې نجلۍ وویل:

خبردار!

بیا به مو تکرار کړه:

- الله.

پلار مې دا ښوونځی زما تر زېږېدنې مخکې جوړ کړی و او په دېوال یې په ښایسته سپین او ګلابي رنګ په غرور سره (خوشال ښوونځی)لیکلي و. هره ورځ به د سهار په شپږو بجو ښوونځي ته تلو. د نهم ټولګي د یوه زده کوونکي د زده کړې موضوعات کیمیاوي معادلې، د اردو ژبې آرونه، په انګلیسي ژبه کیسه لیکنه او نور موضوعات لکه «بیږه د شیطان کار دی» او د وینو د دوران رسم کول و.

ډېرو ټولګیوالو مو هوډ درلود په راتلونکي کې ډاکټرانې شي خو د دې فکر کول چې زما او ملګرو زده کړې مې د ځینو له پاره د ګواښ لامل شي ډېر سخت دی. سره له دې د دې ښوونځي له دروازو له آخوا نه یوازې د مېنګورې لېونتوب او د ګڼې ګونې ځوړ نه بلکې د سوات د اصلي ښار غږ اوربېدل کېږي. چې د طالبانو په څېر خلک فکر کوي نجونې د زده کړې حق نه لري.

هغې ورځې له نورو سره یو څه توپیر درلود. د آزموینو میاشت وه، ښوونځی مو د ورځې په نهو بجو پیل کېده نو له همدې امله زما له پاره ډېر په زړه پورې و، نور لازم نه وه له خوبه ژر بیداره شم خو کله به چې چرګانو بانګ وکړ او مؤذن به هم آذان وکړ کولای مې شول نوره هم ویده شم. هغه وخت به مې پلار هڅه کوله ویښه مې کړي ویل به یې:

پلار به مې هر وخت راته «جاني» ویل او له خوبه به یې ویښولم.



- پلاره خیر دی لږ نور هم.....

هغه وخت به مې ځان تر برستنې لاندې پټ کړ او مور به مې راغله. هغې به ویل:

- پشی!

مور به مې زه پشۍ بللم.

په همدې وخت کې به مې وخت ته فکر شو او چیغه به مې وکړه:

- وای مورې، ناوخته شوا!

زموږ په فرهنګ کې ټول د ورونو او خویندو په څېر دي او یو بل ته همداسې غږ کوي. کله چې پلار زما مور د لومړي ځل له پاره ښوونځي ته راوسته، ټولو ښوونکو وربېندار ورته وویل: له هغې وروسته په کور کې هم وربېندار ورته وایو.

د خوب کوټه مې د کور په یوه څنګ کې وه، د کوټې ټول سامان مې یو د ویده کېدو کټ او یوه الماری وو.

الماری مې د هغې ډالۍ په پیسو چې په دره کې مې د سولې راوستو او نجونو د زده کړې د حق د ترلاسه کولو له پاره ترلاسه کړې وه واخیسته. ډالۍ او طلايي رنګه پلاستیکي جامونه چې په ټولګي کې مې د درس په مهال اخیستي وو، د الماری په پاړکیو کې ایښي وو. زه یوازې دوه ځله ممتازه زده کوونکې نه شوم، زما سیاله ملکه نور له ما مخکې شوه له هغې وروسته مې هوډ وکړ چې هېڅ کله بیا داسې پېښه ونه شي.

ښوونځی مو له کوره ډېر لرې نه و، زما خوښېدل چې تر ښوونځي په پښو لاړه شم خو د تېر کال راهیسې له نورو نجونو سره یو ځای په رېکشه کې تلم او له هغې خوا په بس کې راتلو. دا لاره یوازې پنځه دقیقې وه په لاره کې به بدبویه اوبه بهېدې. د ډاکټر د ویښتانو د ایښودو د انستیتیوت د لویې لوحې تر څنګ به تېرېدو. دې تابلو به زموږ یو ښوونکی را یاداوه چې ویښتان یې تللي و خو ناڅاپه یې ویښته راشنه شول، فکر مې کاوه ښوونکی به دلته راغلی وي او له ځانه سره به مې وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پلي تګ څخه مې بس ډېر خوښېده، په پلي تګ کې به دومره خوشاله نه وم، ځکه کولای مې شول له خورلڼو او همدارنګه د بس له چلوونکي عثمان بهايي جان سره چې مور به «ورورجان» باله کيسې وکړم. عثمان بهايي جان په خپلو خندوونکو کيسو مور ټول خندولو.

مور مې ښوونځي ته زما له پلي تګ څخه وېرېده، ځکه چې زموږ کورنۍ تل ګواښل کېده، له همدې امله له دې وروسته په بس کې تلم راتلم. د ګواښونو له ډلې ځينې په ورځپاڼو کې او ځينې هم په ليکلي توګه يادښتونه او پيغامونه وو چې زموږ لاس ته راتلل. مور به تل ماته اندېښنه کې وه، خو طالبان هېڅ کله هم په يوه نجلۍ پسې نه وو راغلي، ما باور لاره چې د طالبانو موخه زما پلار دی، ځکه چې پلار مې تل د دوی په ضد خبرې کولې. زاهد خان چې د پلار مې صميمي ملګری او يو مبارز و د اګسټ په مياشت کې لمانځه ته د تلو په وخت کې حمله پرې وشوه، له هغې وروسته به مې ټولو خپلوانو پلار ته ويل چې له ځان سره پام وکړي. دوی به ويل:

- پام دې اوسه چې کېدای شي دا ځل تاسې په نښه کړي.

کور مو په داسې يوه تنګه او وړه کوڅه کې و چې هلته د هر ډول ګاډي راتلل ناشوني و، له ښوونځي به چې را رسېدم بايد چې له بس ښکته شم، له يوې اوسپنيزې دروازې تېره شم او بيا به له څو زينو پورته تلم. ما فکر کاوه که څوک حمله راباندې وکړي په همدې زينو کې به وي. ډېر فکر به مې کاوه چې که کوم تروريست حمله راباندې کوي نو په همدې زينو کې به دزې راباندې وکړي. هغه مهال به مې فکر کاوه چې که داسې پېښه وشي څه غبرګون به ښيم. فکر مې کاوه چې بايد بوټ مې وباسم او پرې ويې ولم خو فکر ته مې راتلل چې بيا به زما او د هغې تر منځ څه فرق وي نو ښه به دا وي ورته ووايم:

- راشه ما مړه کړه خو لومړی مې خبرو ته غوږ ونيسه. دا سم کار نه دی او زه مو دوښمنه نه يم.... يوازې غواړم چې ټولې نجونې ښوونځي ته لاړې شي.

هغه وخت مې دا ټول فکرونه خپلې خورلڼې منيبې ته وويل.



زه او منيبه د ماشومتوب له وخته په يوه کوڅه کې اوسېدو او د لومړني ښوونځي له وخته سره ملګري و. ما او هغې هرڅه لرل لکه د جاستين بيبر سندرې، د لېوه او مېښې فلمونه او د پوستکي د نرمولو تر ټولو بهترين کريمونه چې له يو بل سره به مو شريکول. د هغې خوښېدل چې د موډ طراحه شي خو پوهېده چې کورنۍ به يې هېڅ کله هم د دې کار اجازه ورنه کړي. هر چاته به يې ويل، هيله لري په راتلونکي کې يوه ډاکټره شي. ما هم دوی ته خپل فکر ووايه ويل مې چې بايد يوه مخترع يا هم سياستواله شم دا نظريه مې هېڅ کله هم پټه و نه ساتله.

منيبې ته مې وويل:

- اندېښنه مه کوه... طالبان هېڅ کله هم په يوه نجلۍ پسې نه دي راغلي.

کله چې د بس غږ واورېدل شو، ټولو د زينو په لوري منډې کړل. نجونې چې مخونه يې پټ کړي و له ښوونځي را ووتې او په بس کې کېناستې. زموږ د ښوونځي بس، يو ټون ابس[i] ډوله موټر و چې درې اوږدې چوکۍ يې لرلې دوې څنډو ته او يوه هم د ګاډي په منځ کې وه، شل زده کوونکې او درې ښوونکې به يې لېږدولې.

زه کيڼې خواته چې څنګ ته مې منيبه او ښي خواته مې د ټيټو ټولګيو زده کوونکې شازيه رمضان په داسې حال کې چې د آزموينې دوسيې مو په لاسونو او بکسونه مو له پښو سره ايښي و، کېناستو.

د ګاډي د ننه هوا توده او نېولې وه. يوازې وړاندې د هندوکش لوړ غرونه و چې په مخ يې واوره ښکارېده. ګاډي مو هېڅ هنداره نه لرله يوازې دواړو خواوو ته يې ډبل پلاستيکونه پرې ځړولي و، پلاستيکونه دومره زېړ او په خاورو ککړ و چې هېڅ بهر نه ترې ښکاره کېده. يوازې څه مو چې ليدل لمر و، لمر په دوړو او خاورو کې د يوه لوی زېړ رنګه لامبو وهونکي په څېر خپلې وړانګې خورولې.

په ياد مې دي چې ګاډی د پوځ د تلاشۍ په سرک له اصلي سرک څخه ښي لور ته وګرځېد، د کرکټ له ځمکې تېر شو. خو نور څه مې په ياد نه راځي.

---

[i] Toyota Townace truck

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال مې کاوه چې په ګاډي کې مې په پلار ډزې کېږي او له ما سره یو ځای ویشتل کېږي، وروسته نارینه وینم چې د دوی په منځ کې زما په پلار پسې ګرځي.

ناڅاپه ګاډی ودرېد. د سوات لومړی حاکم او د اقتصاد د وزیر شیرمحمد خان مقبره چې په وښو پوښل شوې وه زموږ ښي لور ته وه او کیڼ لور ته مو هم یوه کارخانه وه. موږ د پوځ له تلاشۍ څخه څه کم دوه سوه متره واټن درلود.

سره د دې چې زموږ مخامخ سم نه مالومېده، خو یوه د لوبې ږیرې لرونکي ځوان چې روښانه رنګ جامې یې اغوستې وې زموږ ګاډی درولی و.

زموږ له چلوونکي یې وپوښتل:

دا د خوشال ښوونځي ګاډی دی؟

عثمان بهايي جان له ځانه سره فکر وکړ چې دا څومره بې عقله پوښتنه ده ځکه چې په ګاډي د ښوونځي نوم لیکل شوی دی. ځواب یې ورکړ:

- هوکې.

هغې دویم ځلي وپوښتل:

د زده کوونکو په اړه معلومات غواړم.

عثمان بهايي جان وویل:

باید دفتر ته لاړ شو.

د دوی د خبرو په وخت کې یو د سپینو جامو څښتن د ګاډي شاته نژدې کېږي.

منیبې وویل:

- وګورئ هاغه خبریال دی غواړي له موږ سره مرکه وکړي.

هلته ډېر وخت کېدل چې له پلار سره مې د نجونو د زده کړې د حق د اخیستو له پاره د طالبانو په ضد چې غوښتل یې موږ غلي کېدو ته اړ کړي خبرې کولې، ډېری خبریالان آن بهرنیان به ماته راتلل. خو هغوی یوه هم له دې کسانو سره ورته والی نه لاره.

هغې کس یوه د تېرې څوکې لرونکې خولۍ په سر کړې وه، خوله او پوزه یې په



یوه دسمال پوښلي و، داسې و لکه ساړه یې چې شوی وي. وروسته د ګاډي شاته راغئ له ماسره نژدې کېناست او پوښتنه یې وکړه:

- ملاله څوک ده؟

ټولې غلې وې خو ډېرو نجونو ماته کتل.

زه یوازینۍ نجلۍ وم چې مخ مې نه و پټ کړی.

وروسته هغې اووه تورې مرمۍ را وويستې، زه هم پوهه شوم چې وسله یې پنځه څلوېښت تپانچه وه.

نجونو چیغې کړې.

منیبې ویل چې هغه وخت مې د هغې لاس ټینګ کړی و.

خورلېنو مې ویل چې هغې درې ځلې ډزې وکړې. لومړی ډز په سترګه ولګېد او له کیڼې اوږې مې ووت. په داسې حال کې په منیبه ور پرېوتم چې له سترګو مې وینې روانې وې.

دوه نورې مرمۍ زما تر څنګ په نجونو ولګېدې. یوې مرمۍ د شازیې کیڼ لاس ټپي کړی و، بله مرمۍ یې له کیڼې غاړې تېره شوې وه او د کاینات ریاض[i] په ښي مټ لګېدلې وه.

وروسته مې ملګرو راته وویل، د حمله کوونکي لاس د ډزو په وخت کې رېږدېده.

کله چې روغتون ته ورسېدم زما اوږده وېښتان او د منیبې جامې په وینو لړلې وې.

ملاله څوک ده؟

زه ملاله یم او دا مې کیسه ده.

i- Kainat Riaz

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

**سوری سوری په ګولو راشې**
**د بې ننګۍ آواز دې رامه شه مینه**

## یوه نجلۍ پیداکېږي

کله چې زه وزېږېدم، کلیوال زما په پیداینښت اندېښمن شول او پلار ته مې یې هم مبارکي ور نه کړه.
زه د سهار په لومړیو کې چې وروستي ستوري سترګک واهه پیداشوم. موږ پښتانه دغه د سهار د وروستي ستوري د سترګک نښه د خیر او برکت نښه ګڼو. پلار مې د روغتون د درملنې او یا هم کورنۍ قابلې له پاره پیسې نه لرلې، نو له همدې امله مې له مور سره ګاونډیانو مرسته وکړه. د مور او پلار لومړی اولاد مې مړ پیداشوی و خو زه په داسې حال کې وزېږېدم چې چیغې او لغتې مې وهلې. زه د داسې یوه هېواد نجلۍ یم چې ټوپک یې د هلکانو د پیداکېدو په وخت کې اور اخلي په داسې حال کې چې نجونې تر پردې لاندې پټېږي دلته د ښځو یوازینۍ دنده د اولادونو روزنه او اخلی پخلی دی.
د ډېرو پښتنو له پاره د نجلۍ د پیداکېدو ورځ د پرېشانۍ ورځ وي. د پلار د ترور زوی مې، جهان شېرخان یوسفزی، یوازینی کس و چې زما د زېږېدو مبارکي یې ورکړې وه او آن ماته یې یو څه پیسې هم ډالۍ کړې وې. هغې د خپل ټبر لویه شجره له ځانه سره راوړې وه، دلوخېل یوسفزي. زما پلارني نیکه به یوازې زموږ د نارینه نیکونو شجره موږ ته ښودله. پلار مې ضیاءالدین د پښتنو نارینه و ته هېڅ ورته نه دی. هغې د شجرې پاڼه را واخیسته تر خپل نوم یې د نبات په اوبو یوه کرښه وکښله او په پای کې یې ولیکل: «ملاله».



د هغې د ترور زوی چې حیران شوی و وخندل. خو پلار مې یې په کیسه کې نه شو. پلار مې وایي له زېږېدو وروسته مې یې چې سترګو ته کتلي و، راباندې مین شوی و.
هغه وخت یې خلکو ته ویلي و:
- زه پوهېږم دغه نجلۍ له نورو سره ډېر توپیر لري.
هغې له خپلو ملګرو او خپلوانو غوښتي و چې زما په زانګو کې وچه مېوه، شیریني او پیسې واچوي، هغه کار چې موږ یې یوازې د هلکانو له پاره کوو.
زما نوم د میوندۍ ملالۍ (د افغانستان اتلې مېرمن) له نوم څخه واخیستل شو. پښتانه قومونه په افغانستان او پاکستان کې وېشل شوي دي. موږ کلونه کېږي، د پښتونولۍ[i] له قانون سره ژوند کوو چې له مېلمنو سره مو ښه چلند ته هڅوي. هڅوي. په دې قانون کې تر ټولو ښه ارزښت «ناموس» دی.
یوه پښتون ته تر ټولو بد څه بې عزتي ده، شرم او خجالت پښتون نارینه له وېرې سره مخ کوي.
پښتانه وایي: «بې عزته دنیا ارزښت نه لري.»
موږ تل له یو بل سره په جګړه یو، په داسې توګه چې خپل دوښمن ته هم ترورزی وایو. خو که بل څوک زموږ په ځمکه تېری وکړي د هغوی په وړاندې له یو بل سره یو ځای کېږو. پښتانه د ملالۍ د اتلولۍ له کیسې سره لوییږي.
هغې په ۱۸۸۰ م کال کې د افغانستان پوځ د انګرېزانو په وړاندې دفاع ته وهڅاوه.
ملالۍ د کندهار په میوند کې چې د کندهار په لویدیځو دښتو کې یو کوچنی ښار دی، د یوه شپانه لور وه. هغه وخت چې دا نوې ځوانۍ ته هم پوره نه وه رسېدلې، پلار یې او هغه کس چې غوښتل یې په راتلونکي کې واده ورسره وکړي، د هغو زرګونو کسان په منځ کې و چې له انګرېزانو څخه د هېواد د دفاع له پاره په جګړه بوخت و. ملالۍ د کلي د نورو مېرمنو په څېر د جګړې ډګر ته

[i] په پښتنو کې د اساسي قانون حکم لري، موضوع یې ډېره د کورنۍ، ټبر او عزت ساتنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړه چې د ټپیانو درملنه وکړي او اوبه ورکړي.
کله چې د افغان ځواکونو بیرغ وړونکی شهید شو، ملالۍ خپل سپین ټکری د بیرغ په څېر پورته کړ او سرتېرو ته یې چیغه کړه:

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

ملالۍ په دې جګړه کې شهیده شوه خو اتلولۍ او خبرو یې افغان سرتېري جګړې ته وهڅول. هغوی یو پل په بشپړه توګه ویجاړ کړ چې د برېتانیا په تاریخ کې دا د دوی له پاره تر ټولو لویه او بده ماتې وه. افغانان له دې امله چې وروستي پادشاه یې په کابل کې د میوند د بریا له پاره یو یادښت جوړ کړ ډېر وياړي او د غرور احساس کوي.
په حقیقت کې موږ پښتانه ملالۍ د اتلولۍ او قدرت د یوه سمبول په توګه پېژنو چې په افغانستان کې یې په نوم ډېر ښوونځي جوړ شوي دي.
خو نیکه مې چې یو مذهبي عالم او کلیوال روحاني و، ملاله نوم چې پلار مې راباندې کېښود خوښ نه کړ، هغه ویل دا نوم د غم او اندېښنې په معنی دی.
په ماشومتوب کې به مې پلار د پېښور د پېژندل شوي شاعر رحمت شاه سایل یو شعر هر وخت راته وایه. هغه شعر په دې سره پای مومي:
«آه د میوند ملالۍ،
یو ځل بیا راپورته شه چې پښتانه د ویاړ په سندره پوه شي،
ستا شاعرانه کلمې دنیا بدلوي،
هیله کوم، یو ځل بیا راپورته شه!»
هر څوک به چې زموږ کور ته راتلل، پلار به مې د ملالۍ کیسه ورته کوله. ما به د دې کیسې له اورېدو او هغو سندرو چې پلار به مې یې په اړه ویلې خوند اخیست.
موږ د نړۍ په ډېره ښکلې سیمه کې ژوند کاوه. زموږ دره، د سوات دره، د غرونو



آسماني قلمرو دی چې هلته آبشارونه او ښکلې رودونه بهېږي. کله چې درې ته ننوزئ یوه لوحه وینئ چې پرې لیکلي دي:
«جنت ته ښه راغلئ»
کلونه وړاندې یې سوات د «باغ» په نوم پېژنده. د سوات ځمکې په خپلسرو شنو شوو ګلونو پوښل شوې دي، د خوندورو مېوو باغونه، د زمرودو کانونه او سیندونه یې د «قزل آلا» په نوم خوندور سره خال لرونکي کبان لري. د سوات ډېری خلک سوات د «لویدیځ سویس» په نوم سره یادوي، آن تر دې چې د پاکستان د (سکي) لوبې ننداره هم همدلته وشوه. د پاکستان پانګه وال خپلې رخصتۍ دلته تېروي . د دې ځای له پاکې او زړه وړونکې هوا، ښکلو منظرو او د صوفي موسیقي او نڅا له جشنونو څخه خوند اخلي. همدارنګه ډېری بهرنیان په ځانګړې توګه انګرېزان د رخصتۍ له پاره دلته راځي. آن تر دې چې د انګرېزانو ملکه هم درې ته راغلې او په سپینه ماڼۍ کې چې د سوات د لومړي حاکم له خوا د تاج محل د مرمرو له کاڼو جوړه شوې اوسېدلې ده.
سوات تر یو کس پورې تړلی تاریخ لري چې اوس د خیبر پښتونخوا[i] یوه برخه ده. له همدې امله د پاکستان له نورو سیمو بېل پاتې شوی دی. سوات په پخوا وخت کې له دوو ګاونډیو ښارونو چترال او دیر سره د پادشاهۍ یو ایالت و. د استعمار په وخت کې هم سره له دې چې زموږ پادشاهانو له برېتانیا سره وفا لرله خو خپله یې په دې ځمکه حکومت وکړ.
کله چې برېتانیا په ۱۹۴۷ م کال کې هندوستان ووېشه. د نوي او خپلواک پاکستان بنسټ کېښودل شو. د دې هېواد دوديزه پیسه پاکستانۍ روپیه وه خو دولت یوازې کولای شول په بهرني سیاست کې لاسوهنه وکړي. والي عدالت پلی کړ او د قبایلو په منځ کې یې سوله را وسته، هغې همدارنګه له خلکو څخه په سلو کې لس د سرکونو، روغتونونو او ښوونځیو د جوړولو له پاره مالیه اخیسته.
موږ د پاکستان له پلازمېنې اسلام آباد څخه سل میله واټن درلود خو داسې

[i] Khyber Pashtonkhwa

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېده چې په يوه بل هېواد کې يو. دغې سفر به د ملکنډ په لاره څه کم پنځه ساعته لاره وهله. چې کلونه وړاندې به زموږ نيکونو د سعيدالله په نوم د يوه واعظ په رهبرۍ چې انگرېزانو به لېونی درويش باله، د هغې غرونو په گړنگونو کې د انگرېزانو په وړاندې مبارزه کوله. د هغوی له ډلې يو هم ويسنتون چرچيل و چې د هغې غرونو په اړه يې يو کتاب وليکه او موږ اوس هم د غرونو يوې څوکې ته چرچيل وايو. د درې په پای کې يوه د زيارت شين رنگه گونبذه هم ليدل کېده چې خلک د منني او دا چې خپل مقصد ته په سالمه توگه ورسېږي، پيسې ورته اچولې.

زموږ له خپلوانو هېڅوک هم اسلام آباد ته نه و تللي. مخکې تر دې چې ناوړه پېښې وشي، زما د مور په څېر ډېری خلک تر سوات نه و وتلي.

موږ په مېنگوره کې چې د درې يوازينی پراخه ښار دی اوسېدو. هغه وړه سيمه وه خو ډېرو خلکو له کليوالو سيمو مېنگورې ته کډه وکړه چې څه وخت وروسته، ډېر نفوسه او چټل ښار ترې جوړ شو. دغې ښار څو هوټلونه، پوهنتون، د سپورټي لوبو د ميدان څمکه او د لوړ بيو ډېرو او دوديزو سنتي گلدوزيو لرونکی و. د شنو چمنونو تر منځ بهېدونکې اوبه چې د پلاستيکي کڅوړو او خځلو په واسطه چټلې شوې وې په ښار کې بهېدې. دغه رود د ماهور د غونډۍ تر څنگ د نورو رودونو په څېر يا هم د سوات د رود غونډې چې له ښاره بهر بهېږي او هلته خلک خوندور کبان نيسي او خپلې رخصتۍ تېروي ښکلې، رڼې او پاکې نه دي.

زموږ کور په گلکده کې چې په پخوا وختونو کې دې ځای ته «بتکره» يا هم «د بودايي بوتانو ځای» نوم اخيستل کېده، و. زموږ د کور په څنگ کې له اسرارو ډکې کنډوالې وې چې د زمري مجسمې، ماتې پايې، له سر پرته بدنونه، تر ټولو حيرانوونکې دا وه چې هلته په سلگونو ډبرينې چترۍ هم ليدل کېدې.

په نولسمه پېړۍ کې کله چې سلطان محمود غزنوي له افغانستان څخه وتښتېد او زموږ د سيمې حاکم شو، زموږ په سيمه کې د اسلام دين راڅرگند شو. خو تر



هغې وړاندې د سوات سيمه د بوداپانو تر واک لاندې وه.

بودايان په دويمه پېړۍ کې دې سيمې ته ننوتل او پادشاهانو يې په دره کې پنځه سوه کاله حکومت وکړ. چيني کشف کوونکو د بودايي صامعې په اړه چې د سوات د رودخانې په څنگ کې وه او د معبدونو د زنگونو غږ چې په دره کې به يې انگازې کولې ليکلي دي:

سره له دې چې کلونه کېږي دغه عبادت ځايونه له منځه تللي خو د سوات په هر ځای کې چې د گلونو په منځ کې قدم ږدئ د دوی پاتې شوني به ووينئ. موږ به د ډبرينو ډېر توړلو (کندنکاريو) په منځ کې چې هلته به يو چاغ بودا په يوه ونه په څلورو پښو ناست و په نېک ښادگوڼ قدم واهه. د بودا د خدای په اړه ډېرې کيسې شته دي. وايي هغه به په دې دره کې د واکمنې سولې او آرامۍ له پاره راته او پاتې نور يې په دره کې په يوه لويه هديره کې ښخ شوي دي.

د بتکرې کنډوالې د سترگو پټولو او پيداکولو د لوبې له پاره ښه ځای و.

کله چې بهرني پخواني آثار پېژندونکي د يو لړ څېړنو له پاره درې ته راغلل، څرگنده يې کړه چې په تېرو زمانو کې گونبذ لرونکي ښکلي زيارتونه چې بودايي پاچاهان به په کې خښېدل په دې سيمه کې و.

پلار مې د «بتکرې عتيقې» په نوم شعر ليکلی او په ښه توگه څرگندوي چې مسجد او عبادت ځای څه ډول کولای شي د يو بل په څنگ کې وي. هغه ليکي:

«کله چې له منارو څخه د حق چيغه پورته کېږي،

بودا موسکا کړي،

او د تاريخ مات شوي زنځيرونه دويم ځلي سره پيوسته کېږي.»

موږ د هندوکش د غرونو چې هلته به نارينه د غرنيو وزو او خرسانو د ښکار له پاره تلل، د لړۍ په څنگ کې ژوند کاوه. کور مو يو پوړ و. په کينه خوا کې يې اوار او پراخه بام ته زينې پورته شوې وې چې هلته به موږ ساعت تېري کوله، زموږ د ساعت تېرۍ ځای و. د لمر لوېدو په وخت کې به مې پلار له خپلو ملگرو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته چای څښلو او بحث به یې کاوه. کله به زه هم هلته په بام کېناستم، د هغې دود نندارە به مې کوله چې د پخلنځي له دودکش څخه به پورته کېده او د شپې د چرچرکو ښکلي آواز ته به مې غوږ نیوه.

زموږ سیمه د انځیرو، انارو او آلو له مېوو ډکه وه چې ډېر خواږه او خوندور دي. زموږ په خپل باغ کې هم انګور او نورې تازه مېوې شته وې. یوه د آلو د مېوې ډېره خوندوره میوه لرونکې ونه مو د څنګ په انګړ کې وه. د مرغانو آن طوطیانو به هم هغه ونه ډېره خوښېده داسې ښکارېده چې زموږ او مرغانو به د آلو په خوړلو سیالي وه.

د کور شاته مو یو صوفه (برنډه) وه چې هلته به ښځې د بنډار له پاره کېناستې. موږ د لوړې په رښتینې معنا ښه پوهېدو. له همدې امله به مې مور ډېر خواږه پخول او له بې وزلو سره به یې مرسته کوله. هغه وخت به چې هر څومره خواږه پاتې کېدل مور به مرغانو ته اچول. موږ په پښتو کې د ټپې په نوم یو ډول شعر لرو چې دوه مصرعې وي، مور به چې مرغانو ته خواږه اچول یوه ټپه به یې زمزمه کوله:

د باغ کوترې مو مه وژنه

که یوه مړه کړې نورې نه راځي مینه

زه به چې په بام کېناستم او د لوړو غرونو په لیدو به مې خیالونه جوړول خوند مې ترې اخیست. تر ټولو لوړ یې هرمي ډوله الوم غر دی چې زموږ له پاره سپېڅلی غر بلل کېده او دومره لوړ دی چې هر وخت یې وریځو شاوخوا نیولې وي. دا غر آن په اوړي کې هم په واورو پوښلی وي.

موږ په ښوونځي کې زده کړل چې سوات ته بودایان څه ډول راغلي و. له مېلاد څخه ۲۳۰ کاله وړاندې لوی سکندر له زرګونو پوځیانو او فیلونو سره د افغانستان او بیا د هند له لارې درې ته ننوتی و. د سوات خلک هم په دې باور و چې خدای[ج] به د الوم غره د لوړوالي له امله دوی وساتني له همدې امله هلته



لاړل خو سکندر هم چې څواکمن مشر و یوه د لرګي زینه یې جوړه کړه چې تیرې ویشتونکي پرې د غره څوکې ته ورسوي.

ما به د بام له لوړې برخې د غره د څلورو فصلونو توپیر ته کتل. په منې کې به ساړه بادونه ترې الوتل په ژمي کې یې ټولې برخې په واورو پوښلې وې. د یخ ټوټې به د تورو په څېر راځړېدلې وې. په ژمي کې مو سیالي کوله، د واورې سړی به مو جوړاوه، هڅه مو کوله چې د واورې ټوټې په لاس وکاروو. سوات به په پسرلي کې ټول شین رنګ نیولی و. د سرو ګلونو غوټۍ به د کور په انګړ کې راپورته شوې. هر څه ته به یې ښایسته رنګ ورکاوه او باد به د شولو (د وریجو بوټي) تند بوی له ځانه سره راووړ. زه د دوبي په موسم کې زېږېدلې یم، کېدای شي همدا دلیل وي چې دا موسم مې خوښېږي، سره د دې چې د مېنګورې اوړی ډېر تود او وچ وي او اوبه یې چې خلک ځځلې په کې اچوي بد بویه دي.

زما د زېږېدو په وخت کې زموږ کورنۍ ډېره بې وزله وه. زما پلار او یوه ملګري یې خپل لومړنی ښوونځی جوړ کړی و. موږ په یوه زاړه کور کې چې ښوونځي ته مخامخ و او دوه کوټې یې لرلې ژوند کاوه. زه مې له مور او پلار سره په یوه کوټه کې وېده کېدم. بله کوټه مو مېلمنو ته ځانګړې کړې وه. موږ آن حمام او پخلنځی هم نه درلود. مور مې په ځمکه په یوه نغري کې د لرګیو په اور پخلی کاوه، جامې به مو د ښوونځي په مخه کې په نل وینځلې. کور کې به مو هر وخت ګڼه ګوڼه وه له کلیو به ډېر مېلمانه راتلل، مېلمه پالنه د پښتنو د فرهنګ مهمه برخه ده.

زما له پیداکېدو دوه کاله وروسته زما ورور خوشال پیداشو. دا چې موږ تر اوسه هم د روغتون لګښت نه درلود هغه هم په کور کې پیداشو. پلار مې د ښوونځي د نوم د اغېزې له امله خوشال نوم پرې کېښود. دغه نوم د یوه مبارز پښتانه شاعر «خوشاله خان خټک» نوم و. مور مې د یوه زوی پیداکېدو ته هیله لرله، نه یې شوای کولای د خوشال په زېږېدو سره خپله خوشالي پټه کړي. زما له نظره خوشال یوه نی ته ورته داسې لکه چې باد یې وهي ډنګر او وړوکی و خو د مور له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره مې ډېر مینه ناک و. پوهېدم هرڅه به چې خوشال غوښتل مور به ورته پیداکول. هغې به هر وخت چای غوښت. زموږ سیمه ییز چای له شیدو، بورې او هېل څخه جوړېږي.

مور مې هوډ درلود چې هغې ته یوه نوې زانګو واخلي، کله چې زه پیداشوې وم پلار مې یې د اخیستو توان نه درلود. نو ځکه یې ماته یوه زړه لرګینه زانګو چې ډېر ځله کارول شوې وه له ګاونډیانو راوړې وه. خو پلار مې مخالفت وکړ، ویې ویل:

ملاله په همدې زانګو کې لویه شوه، خوشال ته همدا زانګو مناسبه ده.

څه باندې پنځه کاله وروسته مې بل ورور «اتل» چې د سوېې په څېر روښانه او پلټونکې سترګې یې لرلې وزېږېد. هغه وخت مې پلار ویل چې موږ اوس یوه بشپړه کورنۍ یو په داسې حال کې چې په سوات کې ډېری کورنۍ اووه او آته اولادونه لري هلته د دریو اولادونو کورنۍ ډېره وړه ښکاري.

ما به تل له خوشال سره لوبې کولې، هغه له ما څخه دوه کاله وړوکی و خو هر وخت به مو شخړې کولې. هغه به هر وخت مور او ما به پلار ته شکایت کاوه. هغه به ویل:

- جاني څه شوه؟

زه هم د خپل پلار په څېر د کاذبو مفصلونو لرونکې یم او کولای شم په آسانۍ سره خپلې ګوتې شا خوا ته قات کړم. د پښو پوندې مې د تلو په وخت غږ باسي چې د نورو د نا آرامۍ لامل کېږي.

مور مې ډېره ښایسته ده پلار مې دومره پرې مین دی چې د نورو نارینه وو په خلاف هېڅ کله یې هم په هغې لاس نه دی پورته کړی داسې چې فکر کوي مور مې یوه ماتېدونکې ګلدانۍ ده. د مور نوم مې «تور پېکۍ» دی یعنې دا چې تور وېښته لري، سره له دې چې وېښتان یې قهوه یي دي. نیکه مې جانسر خان دا نوم زما د مور تر زېږېدو مخکې چې له راډیو یې اورېدلی و خوښ کړی و.

هیله مې لرله چې زما د مخ رنګ هم د هغې په رنګ چې سپین سوسن ته ورته



دی او سترګې مې هم شنې وای. خو د شین او زېړ رنګ ترکیب، پلنه پوزه او قهوه یي سترګې مې له پلاره په میراث اخیستې. زموږ په کور کې هر کس یو مستعار نوم لري. سره د دې چې په کور کې به مور ماته پیشو ویله، د کورنۍ ځینو غړو به ماته لاچي چې د هېل مانا لري غږ کاوه. زه ډېر شوخ طبیعت لرم نو هغه کسان چې سپین رنګ لري سپین پوستی ورته وایم او همدارنګه موږ یو بل د له ټوکو نه د صفت متضاده کلمه وایو. په کور کې مو پلار (ښایسته دادا) باله.

هغه وخت چې لږ او ډېر څلور کلنه وم له پلاره مې وپوښتل:

- پلاره تاسې کوم رنګ لرئ؟

هغه په ځواب کې وویل:

- نه پوهېږم، لږ سپین... او لږ هم تور...

ما وویل:

لکه د شیدو چای!

هغه وخت پلار په زوره وخندل.

پلار مې چې ځوان و، د خپل تور پوستکي له امله به شرمېده، دښتې ته به تلو چې ځان د مېښې په شیدو ومینځي، هغه فکر کاوه چې په دې سره به یې پوست سپین شي. خو کله چې زما له مور سره واده کوي د خپل پوست توروالي ته ارزښت نه ورکوي او نه پرې شرمېږي. زما د مور مینه د هغې په نفس باور ډېروي.

زموږ په ټولنه کې ټول ودونه د کورنیو له خوا ټاکل کېږي خو زما د مور او پلار واده په مینه پیل شوی و. هر ځل چې د دوی د پېژندنې کیسه اورم ورسره تازه کېږي او خوند ترې اخلم. هغوی د شنګلې په نوم د سوات د لوړې درې د یوه کلي اوسېدونکي و. پلار به مې چې کله د ترور (عمه) کور ته تلو چې زما د مور ګاونډۍ وه ورسره پېژندلي یې و. زموږ په دود کې د داسې احساساتو څرګندول منعه دي. پلار به مې مور ته شعر لېږه خو هغه په لوست نه پوهېده.

مور مې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما د هغه فکر خوښېده.

پلار مې بیا په خندا وایې:

- زه یې په ښکلا مین وم.

د دوی تر منځ یوه ډېره مهمه مسئله وه چې هغه د نیکه مخالفت و. کله مې چې پلار خپله مینه ځرگنده کړه، هېڅ یوه یې هم ملاتړ ونه کړ خو له څه وخت وروسته یې پلار راضي کړ او د هغې کور ته یې یو کس ور ولېږه. دا د واده غوښتلو له پاره د پښتنو یو دود دی. خو ملک جانسر خان مخالفت وکړ.

دا چې پلار مې سرڅېله سړی دی، خپل پلار یې اړ کړ چې یو ځل بیا هم څوک ور ولېږي. د جانسر خان حجره به په سیاسي مسایلو د خبرو له پاره د خلکو د ټولېدو ځای و چې پلار به مې هم برخه په کې اخیسته. له همدې امله دوی دواړو یو بل پېژندل خو له نهو میاشتو وروسته یې هوکړه وکړه.

مور مې له هغې کورنۍ څخه ده چې پیاوړې ښځې او نفوذ لرونکي نارینه لري. نیا یې خپلو وړو زامنو ته کونډه شوې وه. مشر زوی یې جانسر خان چې د نهو کلونو په عمر و، له یوې کورنۍ سره د قبیلوي دوښمنۍ له امله بندي شوی و. نیا مې له بند څخه د هغه د خلاصېدو له پاره په غرونو کې څلوېښت میله پلې تللې وه څو له یوې بډایه کورنۍ څخه مرسته وغواړي. زه هم فکر کوم چې زموږ مور به هم زموږ له پاره همداسې کار وکړي. سره د دې چې هغه نه شي کولای لیک لوست وکړي خو بیا مې هم پلار د هر څه په اړه مشوره ورسره کوي. مور مې پلار ته لاس ورکوي، مشوره ورسره کوي چې څوک یې په ربښتیا دوست دی او څوک نه دی. پلار مې یې هم خبره مني. ډېرې پښتنانه داسې چلند نه کوي دوی مې پلار د ملنډو په ډول یادوي وایي: «هغه یې له خپلې ښځې هم هیله کوي!»

موږ خوشاله کورنۍ یو او هر وخت په خوله موسکا لرو.

مور مې دینداره ده په ورځ کې پنځه وخته لمونځ نه قضا کوي سره له دې چې مسجد ته نه شي تلای ځکه چې هلته یوازې نارینه ځي. هغه گډا په دې نه خوښوي چې خدای(ج) یې نه خوښوي خو د ځان د ښایسته کولو لپاره په گلونو



جوړې جامې، د سرو زرو غاړکۍ او لاس بند اچول یې ډېر خوښېږي.

زه مې پلار ته ډېره ورته یم له جامو او جواهراتو سره ډېره مینه نه لرم، په بازار کې گرځېدل مې سترې کوي خو کله کله مې زړه غواړي په بندو دروازو کې له خپلو خورلڼو سره وگډېږم.

موږ ماشومانو به ډېر وخت له مور سره تېراوه. پلار به مو ډېر وخت په ښوونځي او ادبي ټولنه کې بوخت و. هغې تل هڅه کوله نه یوازې همغه سیمه بلکې دره هم وساتي. هغې د خپلې زده کړې او خپلې انرژۍ په مټ موږ ته یو هوسا او آرام ژوند برابر کړ چې له همدې امله خلو وپېژانده.

خلکو به یې له وینا خوند اخیست او هر مازیگر به مې چې د پلار د لیدو له پاره مېلمانه راتلل زه به ډېره خوشاله کېدم. موږ به تر یوه پلاستیکي سترخان چاپېره چې مور به خواړه پرې کېښودل ټولېدو. هغه وخت به مو په ښي لاس (چې زموږ دود دی) وریجې او غوښه کلوله کوله او بیا به مو خوړله.

کله به چې هوا تیاره شوه د تېلو د څراغ رڼا ته به کېناستو، رڼا ته به مو په دېوال د نیم بدن څېرې د گډا په څېر ښکارېدې چې غوماشې به پرې شړل کېدې. په اوړي کې به هر وخت د باران د برېښنا غږونه ډېر اورېدل کېدل زه به ډېر وخت د پلار په گونډو پرته وم.

زه مې د پلار خبرو جذب کړې وم. موږ ته به یې قبیله یې، د روحانیونو او پښتنو مشرانو د جگړو کیسې کولې او په زړه وړونکي غږ به یې موږ ته شعرونه ویل او کله به یې په عیني وخت کې ورسره ژړل.

د سوات د ډېرو اوسېدونکو په څېر موږ هم د یوسفزیو له قبیلې څخه یو. یوسفزي په اصل کې د افغانستان د کندهار او د پښتنو لوی ټبر دی چې په افغانستان او پاکستان کې تیت شوي دي.

زموږ نیکونه له کابل څخه سوات ته په شپاړسمه پېړۍ کې کډوال شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی په کابل کې د تیموریانو[i] له یوه پادشاه سره مرسته وکړه خو وروسته له دې چې خپل تېر یې له تخته لرې کړی و بېرته په تخت کېنوي. خو خپلوانو او نژدې کسانو یې پوه کړ چې د یوسفزیو ځواک ورځ په ورځ ډېرېږي نه چې بله ورځ یې پاچاهي له ستونزو سره مخ کړي، له همدې امله یې یوه شپه د دوی ټول مشران د یوې مېلمستیا له پاره را وغوښتل او ټول یې د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ووژل.

لږ او ډېر ۶۰۰ مشران په دې عام وژنه کې ووژل شول، د دوی له منځه یوازې دوه کسان په تېښته بریالي شول او د خپلې قبیلې له نارینه و سره پېښور ته وتښتېدل. له څه مودې وروسته له ځینو قبیلو سره د خبرو له پاره سوات ته لاړل چې د دوی په مرسته او ملاتړ بېرته افغانستان ته لاړ شي خو دوی هلته د سوات په ښکلا مین شول، هوډ یې وکړ چې نور هملته ژوند وکړي د دې له پاره یې له سوات څخه نورې قبیلې وشړلې او خپله په کې مېشت شول.

د یوسفزیو قبیلو دغه ځمکه د خپلو نارینه و تر منځ ووېشله. دوی د «وېش» په نوم طریقه لرله. چې هر پنځه یا لس کاله وروسته به ټولو کورنیو کلي بدلول او په نوي کلي کې به یې د نارینه و تر منځ ځمکه وېشله څو په دې طریقه ټول وکولای شي هم له ښې او هم له خرابې ځمکې استفاده وکړي.دوی فکر کاوه چې په دې ډول به د قبیلو تر منځ د جګړې مخنیوی وشي. خانانو به په کلیوالو واکمني کوله، کارکوونکو او صنعت کارانو به د دوی کارونه اجاره کول. خلکو باید چې خانانو ته اجاره ورکړې وای چې دغه اجاره به د دوی د محصولاتو یوه برخه وه. دوی باید د هرې وړې ټوټې ځمکې په سر خانانو ته یو سرتېری ورکړی وای څو دوی یوه ملېشه جوړه کړي. خانانو به د نورو کلیوالو د لوټ کولو له پاره په سلګونو وسله وال لرل.

دا چې د یوسفزیو په قبیله چا حکمراني نه کوله، د دوی د خانانو او کورنیو تر

[i] Timurid د ایران تیموریان او ګورګانیان (۱۳۶۰-۱۵۰۶م) پورې د ترکانو له کورنۍ څخه و. د دې لړۍ بنسټ ایښودونکی ګورګاني تیمور و، د ده د پاچاهۍ او قدرت مرکز په سمرقند کې و.



منځ به هر وخت نښتې کېدې. زموږ ټول نارینه وسله وال دي، سره د دې چې اوس د نورو سیمو پښتانه له وسلو سره نه ګرځي. نیکه به مې هر وخت د خپلې ځوانۍ د وخت د وسله والو جګړو کیسې کولې. د تېرې پېړۍ په لومړیو کلونو کې، هغوی له دې امله چې انګرېزانو یې ډېرو ځمکې تر خپلې ولکې لاندې کړې وې په اندېښنه کې و. همدارنګه دوی نه غوښتل چې د وینو ویالې وبهېږي. له همدې امله یې هوډ وکړ، د جګړو د له منځه وړلو له پاره په سیمه یو عادل واکمن حاکم کړي.

له دوو حاکمانو وروسته چې وړتیا یې نه لرله، په ۱۹۱۷ م کال کې یې د میان ګل عبدالودود په نوم یو کس د حاکم په توګه وټاکه. موږ هغه د پاچا صیب په نوم پېژنو. سره له دې چې هغه زده کړې نه وې کړې خو په دره کې یې د سولې د راتلو لپاره هڅه وکړه. له یوه پښتون څخه ټوپک اخیستل داسې دي لکه له هغه څخه ژوند اخیستل، نو ځکه هغه ونه توانېد هغوی بې وسلې کړي. هغه وخت یې د سوات په غرونو کې کلاوې جوړې او یو پوځ یې جوړ کړ. هغه په ۱۹۲۶ م کال د انګرېزانو له خوا د ایالت د رییس په توګه په رسمیت وپېژندل شو او وروسته یې هغه د سیمې د لومړني حاکم په توګه وټاکه. نوموړي د ټیلیفون سېستم او لومړی ښوونځی جوړ کړ. همدارنګه یې د «وېش» قانون هم ختم کړ، ځکه چې د کلیوالو تر منځ تلپاتې ځای په ځای کېدل د دې لامل کېدل چې ځمکه وانه خلي او ونه پلوري، ښه کورونه جوړ نه کړي او مېوه لرونکي باغونه ونه روزي. په ۱۹۴۹ م کال کله چې پاکستان جوړ شو هغه له حکومت څخه لاس واخیست او خپل مشر زوی میانګل عبدالحق جهانزیب یې په تخت کېناوه.

پلار به مې تل ویل:

- پادشاه صیب سوله راوسته او زوی یې هوساینه او پرمختیا...

د جهانزېب حکومت زموږ په تاریخ کې د طلایي دورې په نوم پېژندل شوی دی. نوموړي په پېښور کې د برېتانیا په ښوونځي کې زده کړې کړې وې، کېدای شي چې ده به د خپل پلار د بې سوادۍ له امله ښوونځیو ته ډېر ارزښت ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهانزېب څو ښوونځي، روغتونونه او سرکونه جوړ کړل. په ۱۹۵۰ م کال کې یې هغه قانون چې خلکو باید خانانو ته مالیه ورکړې وای ختم کړ. خو د ده په زمانه کې د بیان آزادۍ هېڅ مفهوم نه درلود که چا پر والي نیوکه کړې وای له درې ویستل کېده. د پلار د زېږېدنې په کال ۱۹٦۹ م کې، والي له قدرت لاس واخیست او سوات د پاکستان د سرحدي شمال لویدیځ ایالت یوه برخه شو. چې څو کاله وروسته یې نوم په «خیبر پښتونخوا» واوښت.

له همدې امله زه د پاکستان د یوې سرلوړې او اتلې نجلۍ په توګه وزېږېدم، سره له دې چې زه هم د نورو سواتیانو په څېر ځان لومړی سواتۍ، بیا پښتنه او بیا پاکستانۍ نوموم.

زموږ له کوڅې سره نژدې یوه کورنۍ یوه کورنۍ اوسېده چې د (سفینې) په نوم لور یې زما همزولې وه او دوه زامن (بابر) او (بسیط) یې هم زما د وروڼو همزولي و. موږ هر وخت په کوڅه کې د کرکټ لوبه کوله خو زه پوهېدم کله چې لویه شم په کور کې به وم او نه باید چې بهر ووزم. نجونې باید د خپلو وروڼو او پلار له پاره پخلی وکړي او خواړه ورته تیار کړي. په داسې حال کې چې هلکان او نارینه په آسانۍ سره کولای شي په کوڅو کې وګرځي او لوبې وکړي او موږ مېرمنې د کورنۍ له یوه نارینه پرته که هغه پنځه کلن هم وي نه شو کولای بهر ووزو.

دا زموږ له پاره یو دود و.

خو ما په ماشومتوب کې هوډ وکړ چې له داسې یوه برخلیک سره مخ نه شم. پلار به مې هر وخت ویل:

- ملاله به د یوه خپلواک مرغه په څېر وي.

هیله مې لرله د الوم د غرونو څوکه فتحه کړم او یا هم د درې هغې خواته لاړه شم. خو کله به مې چې وروڼه لیدل چې په بام منډې وهي، ګوډیان پورته کوي او هڅه کوي له یو بل نه مخکې شي له ځان سره به مې ویل چې یوه نجلۍ تر کومې اندازې پورې خپلواکې لرى شي.



# زما د باز په څېر پلار

زه په دې پوهېدم چې د پلار له پاره مې د کلمو اداء کول یو څه سخت دي. ډېری کلمې به یې چې ویلې په یوه هجا به درېدلې او په بیا بیا به یې تکرارولې. هغه به ویل داسې احساسوي چې په ستوني کې یې کوم لوی غر وغزېږي. «م، پ او ک» هغه توري و چې کلمه به یې نه شوای پرې اداء کولای او پرې درېده به، له همدې امله به یې ماته جاني غږ کاوه چې د ګران په معنی ده، ځکه چې ملاله ویل ورته یو څه سخت و. د هغه چا له پاره چې له وینا کولو او شعر ویلو سره مینه لري د ژبې له بندېدو ډېر ځورېږي. پلار مې یوه عمه لرله د هغې هم ژبه بندیده. خو پلار یې داسې غږ درلود چې کلمې به یې په نڅا را وستې او په سختۍ به یې پېچلې کولې.

هر وخت به چې د پلار ژبه بنده شوه چیغې به یې وهلې:

را ویې باسه زویه!

د نیکه نوم مې «روح الامین» دی، د جبراییل سپېڅلی نوم، ده به په خپل نوم ویاړ کاوه. ځان به یې خلکو ته په یوه پېژندل شوي شعر چې د ده نوم په کې راغلی و پېژانده. ډېر زغم یې نه درلود په ډېرو وړو کارونو به ډېر غوسه کېده لکه د یوې مرغۍ په لاره سم نه تلل، د یوې پیالې ماتېدل او داسې وړو پېښو به په جوش راتلو. هغه وخت به یې رنګ سور اوښت او لوښي به یې وارول. ما هېڅ کله هم خپله نیا نه پېژنده، خو پلار مې وایي:

- هغې به مې له پلار سره ټوکې کولې، ویل به یې، دا چې ته هر وخت په ما کبر کوې، که زه مړه شم خدای(ج) به داسې مېرمن درکړي چې هېڅ کله هم ونه خاندي.

نیا مې د پلار د ژبې بندېدو ته ډېره اندېښمنه وه په ماشومتوب کې یې یوه سپېڅلي کس ته ور وستلی و. تر هغې ځایه په بس ګاډي کې هم لاره ډېره وه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیا مې د غره په لاره یو ساعت پلې تللې وه. حکیم فضلي وراره یې تر هغې ځایه زما پلار په اوږه ورسره وړی و. د هغې سپېڅلي کس نوم پیر لواڼو روحاني دیوان و، ځکه چې خلکو به ویل هغه کولای شي دیوان آرام کړي. کله چې پیر ته د کتنې له پاره ورغلي وو، پیر مې د پلار خوله خلاصه کړې وه بیا یې په خوله کې خپلې لاړې ور اچولې وې. له ګنیو څخه جوړه شوې یو څه تېنګه شیره یې په لاړو ښه لنده کړې او بیا یې زما نیا ته ویلي چې له دې څخه باید هره ورځ لږ لږ ورکړي. خو دې درملو د پلار د ژبې بندېدلو ته ګټه ونه کړه آن چې ځینې وایي له پخوا هم بدتره شو. سره له دې کله چې پلار دیارلس کلن شو، خپل نیکه ته یې ویلي و چې د وینا او خبرو په یوه عمومي سیالۍ کې برخه اخلي، هغه حیران شوی و.

هغه وخت مې نیکه روح الامین چې خندل یې وویل:

یوه خبره په دوو دقیقو کې وایې... نو څنګه به کولای شې.

پلار مې ځواب ورکړی و:

اندېښنه مه کوه، تاسې د خبرو متن راته ولیکئ زه به تمرین وکړم.

د نیکه خبرو او وینا مې په خلکو کې شهرت درلود. هغې د شاپور کلي په دولتي ښوونځي کې د الهیاتو درس ورکاوه. هغه د سیمې د یوه مسجد امام او یو ښې جوړې ویناوال و. د جمعې په لمانځه کې یې د خطبې ویل دومره مشهور و چې له ډېرو لرې ځایونو به خلک پلي او یا په کچرو له غرونو تېرېدل او زموږ مسجد ته به راتلل.

پلار مې په یوه لوی نفوسه کورنۍ کې پیدا شوی و، د سعید رمضان په نوم یې یو ورور درلود چې موږ به خان دادا باله او پنځه یې هم خویندې لرلې.

د دوی کلي بارکانه ډېر پخوانی و، تولې کورنۍ له خاورو جوړ یو منزله سست کور کې ژوند کاوه چې کوټې به له هر باران سره څڅېدې. د ډېرو نورو کورنیو په څېر به دوی هم هلکان ښوونځي ته لېږل او نجونې به یې په کور کېنولې. پلار مې ویل:

- نجونو یوازې دې ته انتظار کاوه چې واده وکړي.

عمه ګانې مې یوازې له ښوونځي نه وې بې برخې، بلکې کله به چې د دوی نارینه و شیدې او یا رش خوارږه ښځو ته به یې له شیدو پرته چای ورکاوه، که به



یې سهار کې د چرګې هګۍ پخولې یوازې د هلکانو له پاره وې، کله به یې چې چرګ پوخ کړ، وزر او غاړه به یې نجونو خو نورې د سینې خوندورې غوښې به یې زما پلار، تره او نیکه خوړلې.

پلار مې وایي:

- هر وخت به یې زما او خویندو تر منځ توپیر کاوه.

د پلار په کلي کې مې د هېڅ کار د ترسره کولو شونتیا نه وه. هغه ځای د کرکټ له پاره هم ډېر تنګ و، په ټول کلي کې یوازې یوه کور ټلویزیون درلود. هره جمعه به دوی وروڼه مسجد ته تلل او د خپل پلار د خبرو ننداره به یې کوله چې د مسجد په مخ کې ولاړ او خلکو ته به یې خبرې کولې.

نیکه مې خپلې زده کړې په هندوستان کې کړې وې. هلته یې له لویو وینا کوونکو، د پاکستان له بنسټ ایښودونکي محمد علي جناح، جواهر لعل نهرو، مهاتماګاندي، خان عبدالغفار خان د پښتنو لوی مشر چې د خپلواکۍ له پاره یې مبارزه کوله ملاقات کړی و. ما هغه نیکه باله، هغه د ۱۹۴۷ م کال د اګسټ د څوارلسمې نیمې شپې شاهد دی چې هند د یرغلګرو انګرېزانو له واکمنۍ څخه خپلواکي واخیسته. ده به د یوې زړې راډیو په وسیله چې تره مې تر اوسه هم ساتلې خبرونه اورېدل. ډېری ویناوې به یې تاریخي او نړیوالې پېښې او د قران او د پیغمبر(ص) د احادیثو کیسې وې. هغې همدارنګه له سیاسي مسائلو سره ډېره مینه لرله. د پلار د زېږېدو په کال مې یعنې په ۱۹٦۹م کې سوات د پاکستان یوه برخه شوه. ډېرو سواتیانو په دې پېښه اندېښنه ښوده. خلک د پاکستان له قضایي نظام څخه خوښ نه و، ویل به یې چې د دوی له قبیله یي چلند څخه سست عمل کوي او لږ اغېزه لري. نیکه مې هم له خان سالارۍ، طبقاتي نظام او د بې وزلو او پانګه والو تر منځ له توپیري چلند سره مخالف و.

زموږ هېواد پخوانی تاریخ نه لري خو له بده مرغه چې ډېرې نظامي کودتاوې یې لیدلې دي. کله مې چې پلار آته کلن و د ضیاءالحق په نوم یو جنرال واکمن شو. تر اوسه یې هم ډېر تصویرونه لیدل کېږي هغه ډېر وحشتناک انسان و، د سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شاوخوا یې توری لکې لرلې. لوی غاښونه، غوږو او صافو وېښتانو یې د خلکو پام ځان ته را اړاوه. هغه زموږ لومړنی ټاکل شوی لومړی وزیر ذوالفقار علي بوټو بندي او په خیانت یې تورن کړ. هغه وخت یې بوټو د راولپنډۍ په یوه زندان کې اعدام کړ. تر اوسه یې هم خلک د یوه پیاوړي او نفوذ لرونکي کس په توګه یادوي. هغوی وايي چې بوټو د پاکستان لومړنی مشر و چې د خلکو د دفاع له پاره راپورته شو، سره له دې چې هغه خپله یو فیوډال پانګه وال و، د مانګو ډېرې پراخه ځمکې یې په واک کې وې. اعدام یې خلک و وېرول او لامل شو چې د پاکستان په اړه د نړیوالو نظر واوړي. نور نو هغه وخت امریکایانو د پاکستان ملاتړ ونه کړ.

جنرال ضیا د خلکو د ملاتړ د راجلبولو له پاره په یوه اسلامي مبارزه لاس پورې کړ څو پاکستان له یوه داسې پوځ سره چې د هېواد د سرحدونو دفاع وکړای شي او د دوی د وختونو ارمان و په اسلامي هېواد بدل کړي. ضیا خلکو ته څرګنده کړه چې د ده دولت د اسلامي قوانینو پیروي کوي باید چې ده ته تسلیم شي. آن چې ده د لمونځ کولو تصمیم هم نیوه او په هره لرې پرته سیمه کې یې د لمانځه د ښه ترسره کولو له پاره یوه ټولنه جوړه کړه او د دې کار د سرته رسولو له پاره یې سل زره څارونکي وګمارل. تر دې وړاندې مفتیانو څرګند رول نه درلود خو د ضیاء په وخت کې د موعظو او ارشاد له پاره اسلام آباد ته وغوښتل شول، آن چې زما نیکه هم ورغلی و.

د ضیاء په واکمنۍ کې د ښځو په ژوند هم محدودیتونه ولګول شول.

جناح وايي: «له ښځو سره اوږه په اوږه له کار کولو پرته هېڅ بریا شونې نه ده. په نړۍ کې دوه ځواکه واکمني کوي، یوه توره او بل نی، یو بل ځواک هم له لوی قدرت سره شته دی چې هغه ښځې دي.»

خو جنرال ضیاء داسې قوانین جوړ کړل چې له امله یې په محکمه کې د یوې ښځې شاهدي له نیم نارینه سره مساوي وه. له همدې امله ډېر ژر زندانونه له وېرونکو پېښو ډک شول د بېلګې په توګه: یوه دیارلس کلنه نجلۍ چې تېری پرې شوی و او امیندواره شوې وه، د زنا په جرم زنداني شوه، ځکه چې نجلۍ نه وه توانېدلې چې



محکمې ته د خپلې بې ګناهۍ له پاره څلور نارینه شاهدان پیداکړي. ښځې آن نه شوای کولای د یوه نارینه له اجازې پرته ځان ته بانکي حساب جوړ کړي. زموږ د هاکي لوبډلې هر وخت بریالۍ وې خو ضیاء ښځینه لوبغاړې د چین لرونکي پتلون په اغوستلو اړې کړې او د ښځینه لوبغاړو ځینې ډلې یې له لوبو منعه کړې.

زموږ ډېری دیني مدرسې په هغې وخت کې جوړې شوې. په ټولو ښوونځیو کې د دیني درسونو ځای اسلامیاتو ونیو. زموږ تاریخي متنونه د دې له پاره بیا ولیکل شول چې پاکستان د اسلام د مرکز په توګه څرکند کړي. او داسې ښکارېده چې زموږ هېواد له ۱۹۴۷ م کال ډېر وړاندې شته و. په دې متنونو کې هندوان او یهود محکوم شوي دي. هر چا به چې تاریخ لوست فکر یې کاوه چې موږ په درېو جګړو کې بریالي شوي یو خو د خپل لوی دوښمن هندوستان په وړاندې مو ماتې خوړلې.

د پلار په لس کلنۍ کې مو هر څه بدل شول. د ۱۹۷۹ م کال له کرېسمیس وروسته روسانو زموږ په ګاونډي هېواد افغانستان یرغل وکړ له افغانستان څخه په میلیونو کسان را واوښتل چې جنرال ضیاء پناه ورکړه. د پېښور په شاوخوا کې د سرتېرو پراخه خېمې ودرېدې چې ځینې یې تر اوسه هم ولاړې دي. زموږ تر ټولو لوی اطلاعاتي سازمان تر پوځ پورې تړلی دی چې (آی، اېس، آی)[i] نومېږي دوی د افغان کډوالو له پاره د مجاهدینو د مبارزې په نوم د زده کړې مرکز جوړ کړ سره د دې چې افغانان پېژندل شوي مبارزین دي خو د دې پروګرام لوی افسر کرنل امام شکایت کړی و چې د دوی د سازمان کولو هڅه د څونګښو د تول په ډول ده.

د روسیې د یرغل، په سړه جګړه کې د ضیاء نړیواله منفوره څېره، د خپلواکۍ په لوی مدافع بدله شوه. امریکایان دویم ځلي زموږ دوستان شول، ځکه چې په هغې ورځو کې روسیه د دوی اصلي دوښمن و.

څو میاشتې وړاندې زموږ په ګاونډ کې د ایران شاه د یوه انقلاب په پایله کې راوپرځېد چې له امله یې د امریکا د مرکزي اطلاعاتو سازمان[ii] سي آی اې په

[i] ISI
[ii] CIA

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سیمه کې خپله اصلي اډه له لاسه ورکړې وه. نو له دې امله پاکستان د دې هېواد ځای ناستی شو. د امریکا له متحده ایالاتو او نورې لویدیزې نړۍ څخه زموږ د هېواد خزانې ته په بیلیونونو ډالر راغلل، همدارنګه یې د پاکستان له اطلاعاتي سازمان سره د روسانو په وړاندې د افغانانو د روزلو له پاره هېواد ته وسلې راوړل شوې. جنرال ضیاء په سپینه ماڼۍ کې د امریکا له ولسشمر رونالډ ریګن سره، په مارګارېټ تاچر کې د بهرنیو چارو له وزیر، په داونینګ سټرېټ او همدارنګه د هغوی له بهرنیو چارو له وزیر سره د کتنې له پاره غوښتل شوی و. دوی ډېر ښه راغلاست ورته ووایه.

لومړي وزیر ذوالفقار علي بوټو، ضیاء د پوځ له پاره وروزه، ځکه چې ده فکر کاوه چې هغه دومره هوښیار نه دی چې ورته ګواښ شي. بوټو به ضیا د (زما بیزو) په نوم باله. خو ضیا یو تېرویستونکی و. هغه نه یوازې دا چې افغانستان یې د لویدیځ والو له پاره چې هغوی هوډ درلود، له شوروي اتحاد څخه د کمونیزم د غزېدلو مخنیوی وکړي، د بیا را ټولېدو ځای کړ. بلکې له سوډان څخه تر تاجکستان پورې یې ټولو مسلمانانو ته داسې وښوده چې پاکستان یو اسلامي هېواد اوس د کافرانو تر یرغل لاندې دی. د نړۍ له ټولو عرب مېشتو هېوادونو په ځانګړې توګه سعودي عربستان څخه مالي مرستې چې د امریکا د متحده ایالاتو له مرستو سره ورته وې رالېږل کېدې. همدارنګه یې یو داوطلب پانګه وال اسامه بن لادن چې یو عرب میلیونر دی هم دلته را واستاوه.

موږ پښتانه په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کې اوسېږو په واقعیت کې هغه سرحد چې په پخوا وختونو کې برېتانیا زموږ تر منځ ویستلی په رسمیت نه پېژنو. له همدې امله د شوروي د یرغل په مهال زموږ وینه د ملي او مذهبي دلایلو له امله په ځوښ راغله. د مسجد روحانیونو به په خپلو موعظو کې د شوروي اتحاد له خوا په افغانستان د یرغل خبرې کولې. هغوی به شورویان محکومول او خلکو ته به یې خبر ورکاوه چې باید له جهاد سره یو ځای شي او دا یې د هر حقیقي مسلمان دنده بلله.



د ضیاء په واکمنۍ کې جهاد په اسلام کې د پنځو بنسټونو (کلمه، لمونځ، روژه، زکات او د بیت الله شریف زیارت «د خدای(ج) په لویوالي باور لرل، په ورځ کې پنځه ځله لمونځ کول، د رمضان په میاشت کې روژه نیول، زکات ورکول او د توانایي په وخت کې د بیت الله شریف زیارت کول» په سر کې وبلل شو.) پلار مې وایي زموږ په ځمکه کې جهادي نظریه تر ډېرې کچې د امریکا د مرکزي اطلاعاتي ادارې له خوا پیاوړې کېده. آن دا چې په کمپونو کې د ښوونځي د ماشومانو له پاره درسي مواد د یوه امریکایي پوهنتون له خوا برابر شوي و. دوی ریاضیاتو کې هم د جګړې مثالونه ورکول. لکه: «که پنځه تنه له لسو روسي کافرو څخه د یوه مسلمان له خوا ووژل شي، پنځه تنه پاتې کېږي، یا هم لس مرمۍ منفي له پنځه لسو مرمیو څخه مساوي کېږي پنځه مرمۍ.»

د پلار له کلي او سیمې مو ډېر ځوانان افغانستان ته د جګړې له پاره لاړل. پلار مې یادوي چې یوه ورځ مو کلي ته د صوفي محمد په نوم یو مولانا راغئ او له خلکو یې وغوښتل چې د الله(ج) د رضا له پاره د کفارو په ضد د جهاد په موخه ورسره یو ځای شي. ډېرو یې خبره ومنله او ځانونه یې په پخوانیو وسلو تبر او چاړو سره سمبال کړل. کلونه وروسته د صوفي محمد همدا ډله د سوات د طالبانو په ډله بدله شوه چې هغه وخت مې پلار دوولس کلن و او د جګړې له پاره ډېر وړوکی و.

په افغانستان کې د روسانو یرغل لږ او ډېر په ۱۹۸۰ م کلونو کې لس کلونو ته ورسېد، کله مې چې پلار د ځوانۍ پړاو ته ورسېد له جهاد سره یې ډېره مینه ښودلې وه. سره له دې چې په ورستیو کې یې لمونځ دومره منظم نه و، خو سهار وختي به یې د قرآن د تفسیر له پاره د یوه لوړ پوړي طالب تر نظر لاندې د بل کلي مسجد ته ځان رساوه. دوی هلته ټول قران کریم هم له مخه لوست او هم یې تفسیر کاوه.

طالب به د جهاد په اړه دومره په لوړه کچه وعظ کاوه چې پلار مې یې سم تر دم لاندې راوستی و. خپل پلار ته به یې تل ویل چې د دې دنیا ژوند لنډ دی او د کلي د ځوانانو له پاره لږ فرصت پاتې دی. زموږ کورنۍ لږ ځمکه لرله او پلار مې نه غوښتل چې د خپلو نورو ټولګیوالو په څېر د جنوب د ډېرو د سکرو په کان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کار وکړي، ځکه چې ډېر خطرناک او سخت کار و او په کال کې به څو ځله د ډبرو د سکرو له کانونو څخه د ځوانانو تابوتونه راوړل کېدل. هغه وخت د ځوانانو خوښېدل چې د کار له پاره سعودي عربستان او دوبۍ ته لاړ شي او هلته په ودانیزو شرکتونو کې کار وکړي.

د یو څه وخت له پاره یې په ژوند کې اسلامي هویت ته له بلې هرې موضوع ډېر ارزښت ورکاوه، خپل نوم به یې د «ضیاءالدین پنج پیري»[ا] په اسلامي هویت سره سره لاسلیک کاوه، لومړۍ نښه یې په مخ اوږده ږیره وه. همغه ډول چې پلار مې ویل دا د ماغزو د مینځلو له پاره یو ډول ښوونځی و. هغه باور لري، دا هم شونې وه چې ځانمرګی برید یې کړی وای. البته که هغه وخت ځانمرګي وای. خو پلار مې له ماشومتوبه ډېر پلټونکی حس لري او موضوعاتو ته به یې له ظاهري پلوه ډېر لږ کتل. سره له دې چې زموږ د دولتي ښوونځیو د زده کړې طریقه داسې وه چې زده کوونکو به له ښوونکو څخه د پوښتنې حق نه درلود.

په هغې ورځو کې چې پلار به مې د خدای(ج) دربار ته دعا کوله چې شهید شي او جنت ته لاړ شي، له ماما «فایز محمد» سره ملګری شو او په هغې وختونو کې به یې د هغه کور ته تګ راتګ کاوه او له نیکه سره به په حجره کې کېناست. هغوی سیمه ییز سیاسي فعالیت کوونکي و او له سیکولر نشنلیست ګوند سره یې خواخوږي لرله، دوی همدارنګه د جګړې له مخالفینو څخه و.

په هغې وخت کې د پښتنوري شاعر رحمت شاه سایل په قلم یو شعر ډېر مشهور شوی و چې زما د همنامې نجلۍ له پاره یې ویلی و. د افغانستان د هغې دورې پېښې یې د دوو فیلانو تر منځ له جګړې سره ورته بللې وې چې یو شوروي اتحاد او بله امریکا وه. سایل ویلي و چې موږ پښتانه د وښو (بوس) په څېر یو چې د دوو څیروونکو حیواناتو په پښو کې واړه شوي یو. هغه وخت چې ماشومه وم، پلار به مې هر وخت دا شعر راته وایه خو هغه وخت یې په مفهوم نه پوهېدم.

پلار مې په بې کچې توګه د فائز محمد د خبرو تر اغېزې لاندې و فکر یې کاوه

[ا] یوه مذهبي فرقه ده چې په اردو کې (پانچ پیر) ورته ویل کېږي.



چې خبرې یې ډېر ښه پیغام لري. په ځانګړې توګه کله به یې چې په هېواد کې د فیوډالیزم او پانګونې د نظام د له منځه وړلو په اړه خبرې کولې:

بې وزله خلک ورځ په ورځ بې وزله کېږي، هغه د دوو فکري خواوو له یوې خوا سیکولر او له بلې خوا اسلام په منځ کې راګیر و خو فکر کوم هغه منځ لاری و.

پلار مې نیکه ته وېرجن درناوی درلود، د هغه په اړه به یې حیرانوونکې کیسې راته کولې. نیکه یو پېژندل شوی او ښه ویناکوونکی و، که چېرې یې زغم لرلای او د خپلو تربرونو په وړاندې چې سیالي یې ورسره لرله، له زغم څخه کار اخیستی کولای یې شول یو ښه رهبر شي.

نیکه مې یو د تره زوی درلود چې هغه هم د نوموړي ښوونځي ته د یوه ښوونکي په توګه ننه ووت. کله یې چې کار پیل کړ له نیکه مې ډېر وړوکی و، زموږ خلک د خپل پیدایښت په نېټه سم نه پوهېږي. د بېلګې په توګه مور مې نه پوهېږي چې څه وخت پیداشوې. موږ ډېر ځله له لویو پېښو لکه زلزله او نورو په یادولو سره نېټه پېژنو خو نیکه مې پوهېده چې د تره زوی یې ډېر ورڅخه مشر دی. له همدې امله ډېر غوسه و او د سوات د پوهنې له وزیر سره یې د کتنې له پاره تر مېنګورې پورې د بس ډېره ستړې لاره ووهله.

نیکه وزیر ته وویل:

- صیب، زما یو د تره زوی دی چې له ما لس کاله مشر او تاسې یې عمر له ما لس کاله کشر لیکلی دی.

وزیر په ځواب کې ورته ویلي و:

- مولانا صیب همداسې دې وي، نو څه ولیکو؟ غواړې ولیکو چې د کوېټې د زلزلې په کال پیدا شو؟

نیکه مې هم ومنله، د زېږېدنې نوې نېټې یې ۱۹۳۵م کال ته بدلون وکړ او د تره له زوی یې ډېر کشر شو.

د کورنۍ دا سیالي د دې له پاره وه چې په پلار به مې یې د تره زامنو ملنډې وهلې. ځکه هغوی پوهېدل چې پلار مې د خپلې څېرې له امله شرمېږي، بله دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ښوونځي کې ښايسته هلکان هر وخت د ښوونکو خوښېدل او لطف يې پرې کاوه. نو د تره زامنو به يې د ده د تورې څېرې او لنډې ونې له امله ځوراوه. زموږ په ټولنه کې بايد د داسې سپکوونکو چلندونو مخنيوی وشي، خو پلار مې له دوی نه ډېر ورړوکی و.

هغه به فکر کاوه چې هېڅ کله به هم خپل پلار خوشاله نه کړای شي. نيکه مو خط ډېر ښکلی ليکه. پلار به مې په ساعتونو هڅه کوله چې ډېر وليکي او ښه يې وليکي خو بيا به هم د نيکه د ستاينې وړ نه و.

نيا به مې پلار هڅاوه چې په ځان باور ولري او آرام وي. د نيا به تل پرې پام و. هر وخت يې ورته ويلي و چې ښه راتلونکې به ولري. دومره پرې ګران و چې له نورو به يې ده ته ډېر رش او غوښه ورکول.

په هغې وختو کې کليو برېښنا نه لرله نو په داسې وختونو کې مطالعه سخته کار دی. ده به په حجره کې د تېلو څراغ ته درس وايه. يوه ورځ د سترپيا له امله خوب پرې ورغلی او ويده شوی و او څراغ هم چپه شوی و خو مخکې تر دې چې کوټه اور واخلي نيا مې پرې خبره شوې وه. د نيا پياوړی ايمان مې د پلار د پرمختيا لامل شو او ځان ته يې يو ښه ژوند پيداکړ چې پلار مې بيا دا لاره موږ ته وښودله.

نيا مې سره له دې هم يو ځل پلار ته غوسه شوې وه. هغه هم په داسې توګه چې څو روحاني کسان د «سيدانو د تنګي» په نوم له يوه سپېڅلي ځای څخه د اوړو د ټولولو له پاره راغي. بيا په داسې يوه ورځ چې نيا او نيکه مې له کوره بهر وتلي، دوی زموږ کور ته راغلي. پلار مې د غنمو د لرګين کندو قلف ماتوي او د هغوی کاسې ورته ډکوي خو کله مې چې نيا او نيکه کور ته راغي پلار مې ښه سم وهي.

پښتانه سره له دې چې مېلمه پاله دي او له مېلمنو سره ښه چلند کوي خو په دې هم مشهور دي چې ډېر لګښت نه کوي. نيکه به د پيسو په لګولو کې ډېر پام کاوه. که به يې کوم اولاد خواړه له کوره بهر اچول سخت به غوسه کېده. هغه يو منظم انسان و په دې نه پوهېده چې ولې يې زامن د ده په څېر نه دي.

ده د يوه ښوونکي په توګه د هلکانو د ښوونځي د ورزش لګښتونو ته تخفيف ورکړ



څو دوی د بدني روزنې په ډله کې شامل شي. هغه تخفيف په دومره لږ اندازه و چې ډېرو ښوونکو هېڅ پام نه ورته کاوه خو پلار مې د دې تخفيف له پاره غوښتنليک ورکړ. سره له دې چې دغه کار يې نه خوښېده او کله به چې د مدير له دفتر بهر ورته انتظار و، په مخ او سر به يې خولې راماتې وې او د ژبې بندېدل به يې هم ورسره يو په دوه کېدل.

ماته يې وويل:

- داسې مې احساسوله چې د پنځو روپو له پاره مې عزت په خطر کې دی.

نيکه به هېڅ کله هم نوي کتابونه نه ورته اخيستل، له نورو شاګردانو به يې غوښتنه کوله چې د کال په پای کې کتابونه د ده زوی ته ورکړي. بيا به يې زما پلار د خپل شاګرد کور ته لېږه چې کتابونه ترې راوړي. دی به د دې کار په کولو شرمېده خو د زده کړو د دوام له پاره يې بله چاره نه لرله، په ټولو کتابونو يې د نورو شاګردانو نومونه ليکلي و.

دی وايي:

- دا چې له نورو کتابونه واخلو بد کار نه دی خو ما هيله لرله چې نوی کتاب ولرم او خپل نوم مې پرې وليکم. خوښېدل مې چې کتابونه مې پلار په پيسو راته واخلي.

د نيکه کنجوسي لامل شوه چې پلار مې په مادي او معنوي لحاظ د بديو په وړاندې ښښنه دود کړي. هوډ يې وکړ چې د ده او د تره د زامنو تر منځ به دوديزې سيالۍ له منځه وړي. کله يې چې د ښوونځي د مدير مېرمن د ناروغۍ له امله پرېوته. پلار مې يې د درملنې له پاره وينه ورکړه. هغه کس مې له پلار څخه په حيرانۍ سره د خپل پخواني بد چلند ښښنه غوښتې وه.

پلار مې چې کله د خپل ماشومتوب کيسې کوي، هر وخت وايي سره له دې چې پلار يې کنجوس و خو ماته يې تر ټولو بهترينه ډالۍ راکړه چې هغه زده کړه ده. نيکه مې پلار د انګليسي ژبې د زده کړې له پاره دولتي ښوونځي ته لېږلی و چې له وخت سره سمې زده کړې وکړي سره له دې چې د يوه امام په صفت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کار له امله له خلکو سپکې خبرې اورېدې.

نیکه مې پلار ته له زده کړې سره ژوره مینه او د خلکو د حقوقو پېژندل ور وښودل او پلار مې هم دا مینه ماته وښودله. د جمعې په خطبو کې به نیکه د بې وزلو او ملکانو په اړه خبرې کولې او د فیوډالېزم په وړاندې به یې د اسلام دریځ څرګنداوه. په عربي او فارسي یې هم خبرې کوی شوای ډېرو کلمو ته به یې پام کاوه. زما پلار ته به یې د سعدي، علامه اقبال، مولانا جلال الدین محمد رومي شعرونه په ډېر حرارت سره ویل. داسې چې فکر دې کاوه په مسجد کې یوې ډلې ته درس ورکوي.

پلار مې هیله لرله چې د ژبې له بندېدو پرته یو ښه وینا کوونکی شي، پوهېده چې پلار یې غوښتل چې دی یو ډاکټر شي خو سره له دې چې هغه یو ښه پوه او لایق شاګرد او د ښه استعداد لرونکی شاعر و. په ریاضیاتو او نورو علومو کې یې ځان کم احساساوه. نو له دې امله یې هڅه کوله د وینا کولو په سیمه ییزه کلنۍ سیالۍ کې برخه واخلي او پلار یې پرې وویاړي. ټولو فکر کاوه چې لېونی شوی دی. ښوونکو او ملګرو یې تصمیم ونیو پښېمانه یې کړي او پلار یې هم د وینا د متن لیکلو ته زړه نازړه و. په پای کې نیکه د وینا یو ښه متن ورته ولیکه، پلار هم په ځلونو تمرین کړ. ده چې د غرو په لمنو کې یې قدم واهه ټوله وینا یې په یادو زده کړې وه، د غره په لمنه کې یې غرونو او مرغانو ته په پرلپسې توګه له یاده ویله.

د دوی په کلي کې ډېری خلک وزګار وو، نو له دې امله د سیالۍ په ورځ هلته ډېر کسان راټول شوي وو.

نور زده کوونکي چې د سیالۍ له پاره ټاکل شوي وو او د وینا ستاینه یې کېده وینا یې وکړه ورپسې زما د پلار نوبت راغئ.

هغه وایي:

لاسونه او ګونډې مې لړزېدې.... دا چې قد مې وړوکی و په ستونزو سره مې کولای شول خلک ووینم. حیران او وېرېدلی وم خلک مې تیاره او تور لیدل. د لاسونو ورغویو مې خولې کړې وې او د خولې اوبه مې وچې وې.



خو کله یې چې خبرې پیل کړې، خبرې یې د ښایسته پتنګانو په څېر د الوتو په څېر بهر ته الوتې. غږ یې د نیکه په ډول نه و خو دا چې له وینا کولو سره یې مینه لرله بریالی شو او څومره یې چې پرمختګ کاوه همدومره یې په خپل نفس باور ډېرېده.

د خبرو په پای کې د هڅولو چیغې او چکچکې پسې ډېرې شوې. کله چې د ښه ویناوال په توګه ستېج ته وغوښتل شو او د سیالۍ لومړی مقام یې خپل او کپ یې واخیست، په دې وخت کې پلار نیکه ته کتلي چې چکچکې وهي او له دې صحنې خوند اخلي.

له هغې وروسته به مې پلار په ټولو سیالیو کې برخه اخیسته، نیکه به هم د ټولو ویناوو متن ورته لیکه.

کمزوري پلار مې ځان پیاوړی او توانا کړ، نیکه به د لومړي ځل له پاره د نورو په وړاندې د ده ستاینه کوله.

په ویاړ سره به یې ویل:

- ضیاءالدین یو باز دی.

ځکه چې باز د نورو مرغانو په سر الوزي.

او همدارنګه پلار ته به مې یې ویل.

- له خپل ضیاءالدین نوم سره باز هم لیکه.

د یو څه مودې له پاره یې د نیکه خبره ومنله، خو کله یې چې وروسته پام شو، باز د نورو په سر الوزي او بې رحمه مرغه دی. نو نور یې د خپل نوم تر څنګ باز نه لیکه. په پای کې مې پلار له خپل نوم سره د خپلې کورنۍ او ټبر نوم یوسفزی ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ښوونځي کې زده کړه

مور مې په شپږ کلنۍ کې ښوونځي ته لاړه او په همغه وخت کې یې زده کړې پرېښودې. په کلي کې یې دا بل ډول نجلۍ ښکارېده ځکه چې پلار او وروڼو یې هڅوله چې ښوونځي ته لاړه شي او زده کړې وکړي. هغه په داسې یوه ټولګي کې وه چې له دې پرته نور ټول ټولګی له هلکانو ډک و. دې به هره ورځ د خپلو ترو لوڼې په کور کې په لوبو پرېښودې او خپله به ښوونځي ته تله چې دې کار خوند نه ورکاوه.

په ټولګي کې مې د مور د مخ پوستکی تر نورو ټولو ځلانده و. د دې ښوونځي ته تلل یوازې له دې امله خوښېدل چې د کور له کارونو، پاکۍ او اولادونو له پیداکولو وبښل شي. یوه ورځ یې خپل ټول کتابونه په نهه انې[i] وپلورل، په پیسو یې د نبات اوبه واخیستې او بیا هېڅ کله هم ښوونځي ته نه ولاړه.

پلار یې د دې موضوع په اړه هېڅ کله هم خبرې ورسره ونه کړې. پلار به یې سهار وختي له خوبه پاڅېد. له چای سره به یې رش او د غنمو ډوډۍ وخوړه وروسته به یې خپله آلماني تپانچه تر مټ لاندې وترله. نیکه مې ټوله ورځ د شخړو د حل او دوښمنیو د له منځه وړلو په پېښو کې بوخت و. ده اووه نور زامن هم لرل چې هغوی ته یې باید پام کړی وای.

مور مې چې کله له پلار سره ملګرې شوه، هغه وخت یې د زده کړو ارمان وکړ او په خپل کار پښېمانه شوه. پلار مې ډېر کتابونه مطالعه کړي و، مور ته به مې یې شعرونه لیکل خو مور به مې نه شوای لوستی. پلار مې تصمیم درلود چې خپل ښوونځی ولري. مور مې هم د هغې د مېرمنې په توګه مرسته ورسره کوله چې خپل هدف ته ورسېږي. تر کومه ځایه چې پلار په یاد لري یوازینی آرمان یې د یوه ښوونځي جوړول و خو د دې کار ترسره کول له کورنۍ اړیکو او پیسو پرته

---

[i] شپاړس پوله



ناشونی و.

هغه وایي د کسب زده کړه د ژوند یوه ارزښت لرونکې مسئله ده. پلار مې یادوي چې هغه وخت څومره تر اغېزې لاندې و. په هغه وخت کې چې د کلي په ښوونځي کې د سیند د اوبو په اړه بحث کېده دا چې له کومه راځي او چېرته ځي. تر دې چې د اوبو څرخ یې له باران څخه سیند ته زده کوي.

د دوی د کلي ښوونځی په یوه وړوکې ودانۍ کې و. ډېر ټولګي یې د ځمکې په سر تر یوې ونې لاندې جوړ شوي وو. آن چې د آرامۍ او استراحت ځای هم هلته نه و نو له دې امله به زده کوونکي د طبیعت د نندارې له پاره غرونو ته تلل نو پلار مې وایي چې دوی په رښتیا ښه بخت درلود. خویندې یې هم د میلیونونو نورو نجونو په څېر هېڅ کله هم ښوونځي ته نه وې تللې.

پلار ته مې زده کړه تر ټولو ښه ډالۍ وه. هغه باور درلود چې د هېواد د ټولو ستونزو رېښې د زده کړو نه لرل دي. د خلکو ناپوهي سیاست پوهانو ته موکه ورکوي چې تېر یې باسي او بې وړتیا مدیران بیا هم وټاکل شي. د ده په باور ټولو خلکو، نجونو، هلکانو، بې وزلو او پانګه والو ټولو ته باید د زده کړو آسانتیا برابره شي. پلار مې د یوه داسې ښوونځي آرمان کاوه چې څو مېزونه، کمپیوټر، یوه کتابخانه، په دېوال رنګه تصویرونه او تر ټولو مهمه دا چې تشناب ولري.

نیکه مې د خپل وړوکي زوی له پاره په ذهن کې بل ډول فکر درلود، غوښتل یې زوی یې ډاکټر شي. له زوی یې هیله لرله چې د کورنۍ له لګښت سره مرسته وکړي. د نیکه مشر زوی سعید رمضان نومېده. کلونه کېدل چې په یوه کلیوال ښوونځي کې یې د ښوونکي په توګه درس ورکاوه. هغه او کورنۍ یې له نیکه سره ژوند کاوه. کله یې چې یو څه پیسې ټولې کړې د کور په څنګ کې یې د مېلمنو له پاره یوه وړوکې کوټه جوړه کړه. رمضان به د اور بلولو له پاره له غره څخه لرګي راوړل او له درس ورکولو وروسته به یې په هغه دښته کې چې کورنۍ مو هلته څو مېښې لرلې کار کاوه. همدا راز له بامه د واورې د پاکولو په څېر سختو کارونو کې به یې له نیکه سره مرسته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مې چې پلار د جهانزیب په پوهنتون کې چې په سوات کې تر ټولو ښه پوهنتون و ومنل شو، نیکه مې یې له لګښت ورکولو ډډه وکړه. نیکه په ډهلي کې وړیا زده کړې کړې وې. دوی هلته په مسجدونو کې د طالبانو په څېر ژوند کړی و چې د سیمې خلکو به خواړه او کالي ورته راوړل.

په جهانزیب پوهنتون کې زده کړې وړیا وې خو پلار مې د ورځني ژوند له پاره پیسو ته اړتیا لرله. په پاکستان کې زده کوونکو ته هېڅ ډول پور نه ورکول کېږي او پلار مې هېڅ کله هم د دې کار له پاره کوم بانګ ته نه و تللی. دغه پوهنتون له مېنګورې سره په نژدې ښار سیدوشریف کې و هلته داسې کومه کورنۍ نه وه چې پلار ژوند ورسره کړی وای. په شنګله کې بل پوهنتون هم نه و، که پوهنتون ته نه تلای نو شونې نه وه چې له کلي ووزي او خوبونه یې په حقیقت بدل شي.

پلار مې نور نه پوهېده چې څه وکړي له ناهیلۍ به یې ژړل. له ښوونځي تر فارغ کېدو مخکې یې مور مړه شوه. دی پوهېده که مور یې ژوندۍ وای خامخا یې د ده ملاتړ کاوه، ده یې له پلار هیله وکړه خو ګټه یې ونه کړه.

د پلار یې یوازینۍ هیله په کراچۍ کې اوسېدونکي ورونه وو. نیکه مې وړاندیز وکړ چې کېدای شي هغوی یې له زوی سره مرسته وکړي، که داسې شوي وای نو پلار کولای شول هلته په کراچۍ کې پوهنتون ووايي. هغوی هم په دې ورځو کې د نیا د مړینې د تسلیت له پاره کلي ته راتلل.

پلار دعا کوله چې هغوی یې دا خبره ومني. همدا چې په بس کې له درې ورځني سترې سفر را ورسېدل، نیکه مې خبره ورسره شریکه کړه چې له ځنډ پرته یې دا هیله ونه منله. نیکه ډېر په غوسه شو له هغوی سره یې هېڅ نورې خبرې ونه کړې. پلار احساس کړه چې نور یې موکه له لاسه ورکړې او د خپل ورور په څېر یې باید په یوه سیمه ییز ښوونځي کې درس ورکړي.

په هغه ښوونځي کې چې زمونږ تره خان دادا درس ورکاوه، د سور په کلي کې و چې له کور تر ښوونځي پورې یو نیم ساعت پلې لاره وه. دغه ښوونځي خپله ودانۍ هم نه لرله. دوی په یوه مسجد کې له سلو ډېرو زده کوونکو ته چې له



پنځو تر پنځه لس کلونو و، درس ورکاوه.

د سور کلي خلک ګوجر، غرني او منځوي و. مونږ ځمکه لرونکو ته «منځوي» وایو. ګوجر او غرني خلک په غرونو کې اوسېدونکي خلک دي چې هلته مېښې ساتي، خلک وایي:

د دوی اولادوه چټل او ټنبل دي نو باید چې بې زده کړو پاتې شي.

ښوونکي نه خوښوي چې د دومره لرې سیمې ښوونځي ته ولېږل شي، دوی له یو بل سره هوکړه کړې وه چې هره ورځ یوازې یو کس ښوونځي ته راشي، که یې ښوونځی دوه کسه ښوونکي ولري، هر یو په اونۍ کې درې ورځې ښوونځي ته ځي او د بل په ځای هم حاضري لاسلیک کوي او که درې ښوونکي ولري هر یو په اونۍ کې دوې ورځې ځي. د ښوونکي تر ټولو لویه دنده داده چې له یوې لویې لښتې سره شاګردانو ته ودرېږي او کرار یې کړي. دا فکر هم نه شي کېدای چې زده کړې به دوی ته ګټه وکړي کنه.

تره مې دنده ښه ترسره کوله، ده د غرونو له خلکو سره مینه لرله او د دوی سخت ژوند ته یې درناوی درلود، له همدې امله به یې ښوونځي ته ډېره غیرحاضري نه کوله، په حقیقت کې یې هڅه کوله دوی ته یو څه ور زده کړي. پلار مې چې له ښوونځي فارغ شو بې کاره و. نو له ورور سره یې د شاګردانو په درسونو کې د مرستې قصد وکړ خو هلته یې برخلیک واوښت. یوه عمه مې په همغه غرونو کې واده شوې وه، هغوی د نصیر پاچا په نوم یو خپلوان درلود چې پلار مې یې د کار په وخت کې لیدلی و. نصیر پاچا په کلونو کلونو په سعودي عربستان کې ساختماني کارونه کول او کورنۍ ته یې پیسې رالېږلې. پلار مې ورته وویل چې نژدې وختو کې له ښوونځي فارغ شوی او په جهانزیب پوهنتون کې هم منل شوی دی. خو نصیر پاچا ته یې ونه ویل چې د لګښت توان نه لري ځکه چې نه یې غوښتل پلار یې له شرم سره مخ شي.

نصیر پاچا ترې وپوښتل:

- ولې نه راځې چې له مونږ سره ژوند وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې ځواب ورکوي:

- خدایه! څومره خوشاله شوم!

له هغې وروسته پاچا او د هغې مېرمن ځاځی یې دویمه کورنۍ شوه. د دوی کور د سپینې ماڼۍ په لاره په سپال بندي غرني کلي کې و. پلار به مې هغه ځای یو الهام راوړونکی او عجیبه یاداوه. هلته به یې په بس کې تګ راتګ کاوه. د ده په نظر هغه ځای زموږ د خپل کلي په نسبت دومره لوی و چې فکر یې کاوه، یوه ښار ته راغلی دی. هلته یې د یوه مېلمه په توګه ښه درناوی وشو. د کور مېرمن ځاځی یې د مور په څېر وه. یوه ورځ یوې کلیوالې مېرمنې ځاځی ته زما د پلار شکایت کړی و چې هغه د دوی له یوې نجلۍ سره اړیکې لري، دې مې له پلار څخه په کلکه دفاع کړې وه کلیوالې ته یې ویلي و:

- ضیاءالدین ډېر پاک او سرښکته انسان دی، تاسې مو خپله لور وڅارئ او منعه یې کړئ.

په سپال بندي کې مې پلار له داسې ښځو سره مخ شو چې ډېر آزاد ژوند یې لاره، زموږ د کلي د ښځو په څېر په کورونو کې نه پټېدې. د هغه ځای ښځې به د غرنۍ سیمې د یوې ښکلې کلا په مخه کې را غونډېږي او د ورځني ژوند په اړه به یې خبرې کولې، له کوره بهر د ښځو راټولېدل ډېر عجیبه و. هملته و چې پلار مې له خپل مشاور اکبر خان سره وپېژندل.

اکبر خان مې پلار ته په پور پیسې ورکړې چې د پوهنتون لګښتونه پرې وکړي. هغه هم زما د مور په څېر زده کړې نه وې کړې خو په خپل وجود کې یې بل ډول علم او پوهه لرله. پلار به مې تل د اکبر خان او نصیر پاچا د مهربانۍ او مینې کیسې کولې او دا به یې زیاتوله چې که له چا سره مرسته وکړئ نو پرته له کومې هیلې او انتظاره به له تاسې سره مرسته وشي.

پلار مې د پاکستان د تاریخ په یوه ډېر مهم دوران کې پوهنتون ته لاړ. په هغې اوړي کې زموږ زورواکی جنرال ضیاء په یوه هوایي پېښه کې ووژل شو. د ده په پوهنتون د دورې د لومړي کال په نیمایي کې ملي ټاکنې وشوې.



د لومړي وزیر لور بې نظیر بوټو چې پلار یې زما د پلار د ماشومتوب په دوره کې اعدام شو، ټاکنې وګټلې. د اسلامي نړۍ او پاکستان په تاریخ کې بې نظیره لومړنۍ لومړۍ وزیره وه، ناڅاپه د پخوا پر خلاف خلک راتلونکي ته خوشاله ښکارېدل.

د محصلینو خوځښتونه چې د ضیاء په واسطه منع شوي و، بېرته یې خپل فعالیت پیل کړ. پلار مې ډېر ژر د محصلینو په سیاسي خوځښتونو کې ګډون وکړ او د یو تکړه ویاند په توګه وپېژندل شو. هغه د پښتنو محصلینو د فدراسیون د مرستیال په توګه چې غوښتل یې پښتنو ته هم له نورو سره یو ډول حقوق ورکړل شي وټاکل شو. د پوځ تر ټولو مهم اداري او دولتي کارونه پنجابیانو ته ورکول کېږي ځکه چې هغوی د ایالت تر ټولو ډېر واک لرونکي او پانګه وال دي.

د محصلینو یو بل مهم تشکیل د (طالبانو اسلامي ټولنې) په نوم شته و چې د پاکستان د پوهنتونونو ډېر ځواک ورسره ملګری و. دغې ټولنې محصلینو ته د زده کړې لګښتونه او وړیا کتابونه ورکول خو ځرګندونې یې له تعصب ډکې وې. د دوی ساعتېری دا و چې په پوهنتونونو کې وګرځي او د موسیقي د کنسرتونو مخه ونیسي.

دغه حزب تر جنرال ضیاء پورې اړه لرله چې په ټاکنو کې یې ښه پایله وانه خیسته.

په جهانزېب پوهنتون کې د محصلینو د ډلې مشر «احسان الحق حقاني» و. سره له دې چې له پلار سره مې یې سیالي لرله خو بیا یې هم د یو بل ستاینه کوله چې وروسته بیا دواړه صمیمي ملګري شول.

حقاني وایي باور لري که زما پلار د خانانو له کورنۍ څخه وای، د پښتنو د محصلینو د فدراسیون مشر کېده او وروسته به د سیاست پوهانو په کتار کې هم و. د محصلینو سیاسي ټولنې ډېر بحثونه لرل خو سیاسي حزب مالي ملاتړ ته اړتیا لرله.

په لومړي کال کې د دوی تر ټولو تود بحث د یوه رمان په اړه و. دغه کتاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«شيطاني آيتونو» په نوم د سلمان رشدي له خوا ليکل شوی و او د ملنډو په توګه په بمبيي کې د پيغمبر(ص) د ژوند يو تقليد و. د نړۍ ډېرو مسلمانانو هغه يو کفري کتاب باله او دومره يې غوسه کړي و چې تل به يې په اړه خبرې کېدې. عجيبه دا وه چې هېچا هم د کتاب د خپرېدو په اړه فکر نه و کړی، نوموړی کتاب په پاکستان کې نه پلورل کېده خو وروسته د پاکستان په اردو ورځپاڼو کې د پاکستان په اطلاعاتي سازمان پورې اړوند د يوه ملا مقالې په پرلپسې توګه خپرې شوې چې په کتاب يې پيغمبر(ص) ته د سپکاوي له امله نيوکې کولې. په دې مقالو کې ليکل کېدل چې دا د هر رښتيني مسلمان دنده ده چې د اعتراض غږ پورته کړي.

ډېر ژر په ټول پاکستان کې ملايانو د دې کتاب په ضد خبرې پيل کړې چې بايد مخه يې ونيول شي او د غوسې د څرګندولو له پاره بايد لاريونونه وشي. تر ټولو لوی لاريون يې د ۱۹۸۹ م کال د فبروري د مياشتې په ۱۲ مه نېټه وشو په دې لاريون کې د امريکا بيرغ ته د دې سفارت په مخه کې اور واچول شو. سره له دې چې سلمان رشدي او د کتاب خپروونکي يې انګرېزان و. پوليسو په لاريون کوونکو ډزې وکړې چې په پايله کې يې پنځه کسان ووژل شول. دغه غوسه يوازې په پاکستان کې نه وه را پورته شوې، دوه ورځې وروسته د ايران لوی رهبر هم د سلمان رشدي د وژلو فتوا صادره کړه.

د پلار په پوهنتون کې مې په يوه تړلې کوټه کې بحث وشو. ډېرو زده کوونکو ويل چې دا کتاب بايد منعه او وسوزول شي له دې فتوا څخه ملاتړ وشو. پلار مې هم دا کتاب د اسلام له پاره سپکاوی باله.

پلار مې له فراغت وروسته په يوه خوصي کالج کې د مياشتې په ۱۶۰۰ معاش د انګليسي ژبې استاد شو چې د پلار له پاره لږې وې. له بلې خوا به نيکه هم شکايت کاوه چې پلار د کور په لګښت کې مرسته نه کوي. معاش يې دومره نه و چې يو څه پيسې ترې وساتي. نو له همدې امله يې نه شوای کولای چې له خپلې مينې توريېکۍ سره واده وکړي



په ښوونځي کې مې د پلار د همکارانو له ډلې يو هم محمد نعيم خان و. ده او پلار مې د کارپېژندنې لوړه دوره چې د انګليسي ژبې په برخه کې وه يو ځای ترسره کړې وه. دوی د زده کړې په برخه کې ښه خوځښت لاره.

دواړو د ناهيلۍ احساس کاوه. ځکه چې په ښوونځيو کې سختګيري وه، زده کوونکو او ښوونکو د هېڅ ډول څرګندونو اجازه نه لرله او د مالکانو څارنه دومره سخته او جدي وه چې آن د ښوونکو تر منځ يې هم ښې اړيکې نه خوښولې. پلار مې په ذهن کې د خپلواکۍ هيلې روزلې او هوډ يې لاره چې ښوونځي ته يې هم ورسره راوړي.

زړه يې غوښتل چې د خپلواکې نظريې پالنه وکړي، ده د خلاقيت او روڼ اندۍ په ځای، د ورکړې په بدل کې اطاعت نه خوښاوه او له دې ډول چلند يې نفرت کاوه. له همدې امله کله چې نعيم له اداري سره د يوې لفظي شخړې په سبب خپله دنده پرېښوده، دوی هوډ وکړ چې خپله يو ښوونځی جوړ کړي.

اصلي پلان دا و چې زما د پلار په کلي شاپور کې چې ښوونځي ته په کې ډېره اړتيا ده يو شخصي ښوونځی جوړ کړي.

- لکه يو پلورنځی چې په داسې يوه سيمه کې جوړ کړې چې هلته بل هېڅ پلورنځی نه وي.

کله چې سيمې ته ورسېدل هلته يې د يوه ښوونځي تبليغاتي پاڼې د وېشل کېدو په حال کې وليدې، کوم بل څوک ترې مخکې شوي و. له همدې امله يې هوډ وکړ په مېنګوره کې د انګليسي ژبې ښوونځی جوړ کړي، په دې فکر سره چې سوات د سيلانيانو د راتلو ځای دی نو د انګليسي ژبې زده کول يوه جدي اړتيا ده.

هغه وخت چې پلار مې په تدريس اخته و، نعيم به د ځای د پيداکولو له پاره چې د ښوونځي له پاره يې په اجاره ونيسي يوازې په کوڅو کې ګرځېده.

يوه ورځ يې پلار ته په ډېرې خوښۍ چيغې وهلې چې وړ ځای يې پيداکړی دی. دغه دوه پوړيزه ودانۍ په لنډي کڅ سيمه کې وه. د زده کوونکو د غونډېدو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره يې يو انګړ هم درلود. اجاره ورکوونکي تر دوی وړاندې په دې ودانۍ د رمضې په نوم يو ښوونځی اداره کاوه. د هغه ښوونځي مالک چې يو وخت ترکيې ته تللی و هلته يې د رمضې ښوونځي ودانۍ ليدلې وه ترې اغېزمن شوی و نو له همدې امله يې خپل ښوونځي ته همدا نوم غوره کړ. خو ښوونځی يې له ماتې سره مخ شوی و.

له بلې خوا دا ودانۍ د رود تر څنګ وه چې خلکو په کې خپلې خځلې اچولې، رود به د تودې هوا په موسم کې بدبوی کاوه.

پلار مې له رسمي وخت وروسته د ودانۍ ليدو ته لاړ. دا يوه عالي شپه وه چې آسمان له ستورو ډک و او د ونو په سر يوه ځلېدونکې سپوږمۍ ليدل کېده. پلار د هغې شپې آسمان ته د يوه يادښت په سترګه کتل او ياده يې کړه:

- ډېر د خوښۍ احساس مې کاوه... په هغې شپه زما خوبونو حقيقت پيداکړ.

نعيم او پلار مې خپله ټوله ذخيره چې شپېته زره روپۍ وې په کار واچولې. دېرش زره روپۍ يې هم پور کړې چې ودانۍ رنګ او يو څه ورغوي. دوی همدارنګه د اوسېدو له پاره د سرک بلې غاړې ته يو وړوکی کور په کرايه ونيوه، له دې وروسته به دوی کور په کور ګرځېدل چې ښوونځي ته زده کوونکي پيداکړي.

له بده مرغه چې د انګليسي له زده کولو سره خلکو ډېره مينه نه لرله.

د پوهنتون له فراغت وروسته مې پلار په سياسي بحثونو کې ګډون کاوه. هره ورځ به يې د سياسي مناظرو همکاران او ملګري د غرمې ډوډۍ ته کور يا ښوونځي ته راتلل.

نعيم به شکايت کاوه ويل به يې:

- موږ دومره مېلمانه پاللی نه شو.

سره د دې چې نژدې ملګري و خو نه يې شوای کولای او ورته سخته وه چې په شريکه کار وکړي.

له دې اخوا له شنګلې هم ډېر مېلمانه راتلل، پلار مې هم د مېلمنو له پاره ځای لاره. موږ پېښتانه نه شو کولای کور ته د خپلوانو د راتلو مخه ونيسو. موږ ته



خصوصي حريم معنی نه لري او د چا د ليدو له پاره تر مخکې وخت نه ټاکو. د مېلمنو چې هر وخت زړه وغواړي له خپلوانو کره تلای شي او هر څومره يې چې زړه وي هلته پاتې کېدای شي. دا کار د داسې چا له پاره چې غواړي کسب او کار يې پرمختګ وکړي يو خوب ليدل و چې نعيم يې انديښمن کاوه. هغې به مې پلار ته په خندا ويل چې که زموږ هر يوه مېلمانه دلته ډېرې شپې کوي بايد جريمه واچوو. له دې وروسته به مې پلار هڅه کوله چې د نعيم ملګري او کورنۍ وهڅوي شپه وکړي له همدې امله به نعيم هم جريمه کېده.

له دريو مياشتو وروسته د نعيم زغم پای ته ورسېد.

هغه ويل:

- بايد چې د نوم ليکنې پيسې راټولې کړو، زموږ د ښوونځي دروازه يوازې خيرات غوښتونکي ټکوي، دا کار سخت دی!

خبرې يې اوږدې کړې:

- نور زغم نه شم کوی.

په دې وخت کې دوو ملګرو له يو بل سره په ډېرې غوسې خبرې کولې، دوی د شاوخوا مشران د منځګړيتوب له پاره را وغوښتل. پلار مې ناهيلی و او نه يې غوښتل ښوونځی له لاسه ورکړي، له همدې امله يې له نعيم سره هوکړه وکړه چې د نعيم برخه په کار اچول شوې پيسې ورکړي.

هغه نه پوهېده چې دا پيسې به څه ډول ورکوي. له نېکه مرغه د پوهنتون د وخت ملګری يې هدايت الله، هغه وخت را پيداشو او ويې منله چې د نعيم پيسې ورکړي. دواړه شريکان بيا هم په کور وګرځېدل، خلکو ته يې څرګنده کړه چې يو ډول نوی ښوونځی يې پيل کړی.

پلار مې دومره نفوذ لاره چې په اړه يې هدايت الله وايي:

- د هغه شخصيت داسې دی چې که کور ته دې بلنه ورکړې، ستاسې له ملګرو سره هم اړيکې ټينګوي.

خو خلکو له دې سره سره چې له ده سره خبرو خوند ورکاوه خو بيا يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل خپل اولادونه پخوانیو او پیژندل شوو ښوونځیو ته ولېږي.

دوی د پښتنو د پېژندل شوي او مبارز شاعر خوشال خان خټک چې د سوات په جنوب کې د اکوړې سیمې اوسېدونکی و او په شپاړسمه پېړۍ کې یې غوښتل پښتانه د مغولو په ضد یو ځای کړي، خپل ښوونځی ونوماوه. له دروازې سره نژدې یې په دېوال په خپله ژبه یوه جمله داسې ولیکله: «موږ یو ځای کېږو چې تاسې ته د زمانې نوی آواز جوړ کړو.»

پلار همدارنګه د ښوونځي د زده کوونکو لپاره د یو ډول جامو فرمایش ورکړ او پرې ویې لیکل: «د افغان په ننګ مې وتړله توره»

پلار مې غوښتل چې موږ ته یو الهام راوړونکی اتل شي خو په داسې لاره چې زموږ له زمانې سره ورته سمه وي. په قلم نه په توره.

هماغه ډول چې خوشال خټک له پښتنو غوښتل د پردیو په ضد سره یو موټی شي، موږ هم غوښتل د ناپوهۍ په ضد د یو بل په وړاندې سره یو موټی شو.

له بده مرغه چې ویې نه شوای کولای ډېر خلک باوري کړي کله چې ښوونځی پرانیستل شو، هغوی یوازې درې زده کوونکي لرل. سره له دې هم پلار غوښتل چې هره ورځ د ښوونځي په پیل کې ملي سرود وویل شي، وروسته به یې وراره عزیز چې د دوی د مرستې له پاره راغلی و د هېواد بیرغ پورته کاوه.

دا چې دوی په ښوونځي کې لږ زده کوونکي لرل نو د ښوونځي د تجهیزاتو له پاره یې ډېرې پیسې نه لرلې نو له همدې امله یې خپل باور ډېر ژر له لاسه ورکړ. هېڅوک نه شي کولای له کورنۍ او خپلوانو پیسې پور کړي او کله چې هدایت الله پوه شو پلار مې د ډېرو خلکو پوروړی دی ډېر پرېشانه شو. دوی ته به هر وخت د پوروړیو لیکونه رسېدل.

شرایط هغه وخت ډېر خراب شول چې پلار مې د ښوونځي د ثبت کولو اقدام وکړ. له ډېر انتظار وروسته یې هغه د ښوونځیو د رییس دفتر ته ومانه.

شاوخوا یې ډېرې دوسیې پرتې وې، د چای څښلو په حال کې مې یې له پلاره وپوښتل:



څه ډول ښوونځی دی؟

هغه وخت چې په خپله پوښتنه پورې یې خندل زیاته یې کړه:

- درې ښوونکي لرئ؟! ستاسې ښوونکي زده کړې نه لري. هر څوک فکر کوي چې د ښوونځي جوړول دومره آسانه دي.

په دفتر کې نورو ناستو کسانو هم وخندل او ملنډې یې پرې ووهلې، پلار هم ډېر عصباني و.

داسې ښکارېده چې رییس رشوت غوښت.

پښتنو ته د نورو له خوا ملنډې د منلو وړ نه دي او پلار مې هم نه غوښتل چې د خپل حق په وړاندې هم رشوت ورکړي. ده او هدایت الله د ډوډۍ خوړلو له پاره کافي پیسې نه لرلې، رشوت ورکول خو پر ځای پرېږده. د ښوونځي د ثبت پیسې دیارلس زره او یا تر دې ډېرې کېدې، خو دوی موږ ته د ډېرو بډایه خلکو فکر کاوه. نو په داسې حالت کې ښوونځي ته لازمه وه چې رسمي چارواکو ته د سرو کړو چرګانو او یا هم خوندورو کبانو یوه غرمنۍ تیاره کړي. وروسته د ښوونې او روزنې رییس د لیدو وخت ټاکي او بیا د ځان له پاره د یوې خوندورې غرمنۍ سپارښت ورکوي.

پلار مې په پرېشانۍ سره وویل:

موږ د چرګانو او کبانو په فارم کې نه یو، دلته یو ښوونځی دی.

سره له دې چې رییس د رشوت اخیستو له پاره خبره ورسره یوې او بلې خواته اړوله، پلار مې د خپلې ویاندویۍ د ډېرو کلونو د تجربې په ځواک سره ورته وویل:

- دا پوښتنه د څه له پاره کوې؟ آیا کوم جرم مې کړی؟

تصمیم یې ونیو د دې ستونزې په وړاندې مبارزه وکړي څو د فساد او رشوت په وړاندې په مبارزې سره د نورو ښوونځیو له مالکانو سره مرسته وکړي. هغه پوهېده چې خپل هدف ته د رسېدو له پاره خپلې انرژۍ او ځواک ته اړتیا لري، له همدې امله د سوات د خصوصي ښوونځیو له ټولنې سره یو ځای شو. په هغې وختونو کې وړه ټولنه وه چې ټول یې پنځه لس کسه غړي لرل چې پلار مې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر د ټولنې د رییس مرستیال وټاکل شو.

د ښوونځیو مدیرانو نور د رشوت ورکولو واقعي مفهوم نه پېژانده او نه یې په کیسه کې وو. پلار به مې دوی ته څرګندوله چې که ټول ښوونځي له یو بل سره یو موټی شي د دې مسئلې په وړاندې درېدی شي.

ده خبرې اوږدې کړې:

- د یوه ښوونځي اداره کول کوم جرم نه دی. ولې باید ورشوت ورکړئ؟ تاسې خو د ځان پلورنې د کوم مرکز مدیر نه یاست. هلکانو ته زده کړه ورکوئ. دولتي مامورین ستاسې رییسان نه دي.

زیاته یې کړه:

دوی خدمت کوونکي دي. د دې له پاره چې تاسې ته خدمت وکړي امتیاز اخلي. دا تاسې یاست چې د دوی زامنو ته زده کړه ورکوئ او روزئ یې.

هغه ډېر ژر د ټولنې مشر شو، ټولنه یې دومره پراخه کړه چې د غړیو شمېر یې څلور سوه مدیرانو ته ورسېد. ناڅاپه د ښوونځیو ټولو مدیرانو واک پیداکړ. خو پلار مې د احساس خاوند و، نه یې شوای کولای چې یو ښه سوداګر وي، په همدې وخت کې دی او هدایت الله له داسې ناهیلی سره مخ و چې د سیمې د هټیوال په وړاندې هم بې باوره و. نه یې شوای کولای چې بوره او چای ترې واخلي. دوی په ښوونځي کې یو وړوکی کانتین کېښود، سهار به یې له بازاره خوراکونه راوړل چې په شاګردانو یې وپلوري. پلار به مې جوار اخیستل او تر نیمې شپې به ویښ و چې پاخه یې کړي او پلورلو ته یې تیار کړي.

هدایت الله ویل:

- زه ډېر پرېشانه وم، کله به هم شاوخوا ستونزو له پېښو غورزولم خو ضیاءالدین د ستونزو په وړاندې نور هم پیاوړی کېږي او له ما ښه روحیه لري. پلار به مې ټینګار کاوه چې دوی باید لوړ فکر ولري. یوه ورځ کله چې هدایت الله کورنیو ته د ډاډ ورکولو او د زده کوونکو له نوم لیکنې بېرته راغلی و، پلار مې یې لیدلی و چې د پاکستان د سیمه ییز ټلویزیون له مشر سره د ښوونځي د تبلیغاتو



په اړه خبرې کوي.

د ټلویزیون د مشر له وتلو سره سم، هدایت الله په زوره زوره وخندل او بیا یې پلار ته په خندا وویل:

- ضیاءالدینه مونږ آن یو ټلویزیون هم نه لرو... که تبلیغات وکړو نو خپله یې هم لیدی نه شو.

خو دا چې پلار مې ښه او پراخ نظر لاره، نو هېڅ کله یې د داسې وړو مسئلو له امله له کاره لاس وانه خیست.

یوه ورځ مې پلار هدایت الله ته وویل غواړي چې د څو ورځو له پاره خپل کلي ته لاړ شي. په اصل کې یې غوښتل واده وکړي خو په مېنګوره کې یې خپل یو ملګری هم خبر نه کړ. ځکه چې د ډېر لګښت توان یې نه لاره. زموږ خلک د یوه واده له پاره څو ورځې مېله جوړوي. په حقیقت کې څه ډول مې چې مور وویل، پلار د واده په اصلي مراسمو کې حاضر نه و. وایي چې دی یوازې د مراسمو په وروستۍ ورځ راغئ چې په هغې ورځ یې د دې په سر شال واچاوه او د دواړو په سر یې سپېڅلی کتاب قران ونیوه او یوې لویې هنداري ته یې ودرول چې په هغې کې خپله جوړه ووینې. په اجباري ودونو کې د ډېرو جوړو له پاره په دې هنداره کې کتل، لومړی ځل کتل وي. یو ماشوم هلک هم د دوی په پښو کې ور کېښېنوي چې د دوی لومړی اولاد هم نارینه پیدا شي.

زموږ یو دود دا دی چې د نجلۍ د کورنۍ له خوا یو څه د کور وسایل لکه یخچال، د خوړو لوښې، فرشونه او نور او د زوم د کورنۍ له خوا یو څه سره زر راوړي. نیکه مې ډېر سره زر نه و اخیستي له همدې امله مې پلار اړ شو، ډېرې پیسې پور کړي چې څو لاس بندونه واخیستی شي. د واده له مراسمو وروسته به مې مور له عمه او نیکه سره یو ځای ژوند کاوه. پلار به مې هم په دوه یا دریو اونیو کې د دې لیدو ته کلي ته راتلو. د دوی پلان دا و چې پلار د ښوونځي اداره کولو ته ادامه ورکړي او څنګه یې چې ښه عاید تر لاسه کړ خپلې مېرمنې ته یې را ولېږي.

خو نیکه به هر وخت شکایت کاوه او مور ته مې یې ستونزې جوړولې. د مور له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره مې یې موټر کرایه کړی و او مېنګورې ته یې لېږلې وه خو دوی نه پوهېدل چې د ژوند لګښتونو ته څه ډول اوړه ورکړي.

پلار مې ویل:

- زه مخکې پوهېدم چې پلار هلته زموږ اوسېدل نه خوښوي. په هغې ورځو کې مې له کورنۍ ډېر خپه وم خو وروسته مې د دې کار له امله مننهترې وکړه ځکه چې د دوی دې کار زه خپلواک کړم.

هغه یې شریک ته له دې موضوع څه نه و ویلي، ترې پټه کړې یې وه.

همدا چې پلار او مور مېنګورې ته را رسېدلي و، هدایت الله په ډېرې وارخطایۍ سره پلار ته ویلي و:

موږ نه شو کولای چې د یوې کورنۍ لګښت پوره کړو. هغوی به څېرې ژوند کوي؟

پلار یې په ځواب کې ویلي و:

- وي دې، هغه به پخلی او د کور کارونه راته کوي.

مور مې د مېنګورې ژوند ته ډېره حیرانه وه چې څه ډول به دلته ژوند کوي.

دې ته مېنګوره یو پرمختللی ښار و. کله چې دې او خورلڼو یې په کلي کې د سېند په غاړه خبرې کولې د نورو خورلڼو آرمان یې دا و چې واده وکړي، اولادونه ولري او د خاوند له پاره پخلی وکړي. خو کله به چې د مور نوبت کېده خپل خیال به یې داسې څرګنداوه:

- زړه مې غواړي په ښار کې ژوند وکړم او د پخلي په ځای له بازاره ډوډۍ او کباب راوړم.

خو دې چې د څنګه ژوند هیله لرله هسې جوړ نه شو. هغې واړه کور یوازې دوه کوټې لرلې، یوه کوټه د پلار او هدایت الله د خوب کوټه او بل یې هم کوچنی دفتر و. هلته یې هېڅ پخلنځی نه لاره او په کور کې نلونه هم نه و غزېدلي.

کله چې مور هلته لاړه، هدایت الله اړ شو همغې واړه دفتر ته لاړ شي او په یوه کلکه لرګینه چوکۍ ویده شي.



پلار به مې په ټولو موضوعاتو کې له مور سره مشوره کوله.

هغه ویل:

- تورپېکۍ دې موضوع زه ګنګس کړی یم. له ما سره مرسته کوې؟

مور آن له دوی سره د ښوونځي د دېوالونو په رنګولو کې مرسته وکړه.

کله به چې برېښنا نه وه، دې به څراغونه ساتل چې رنګمالي وکړای شي.

هدایت الله به ویل:

- ضیاءالدین د کور نارینه و خو دوی په عجیبه توګه سره نژدې و. په داسې حال کې چې موږ ډېری نارینه خپلې ښځې زغمی نه شو، خو ضیاء به پرته له ښځې ژوند نه شوای کوی.

له څو میاشتو وروسته مې مور امیندواره شوه. په ۱۹۹۵ م کال یې لومړ ی اولاد مړ پیدا شو.

پلار مې وایي:

- زما په نظر اصلي ستونزه هغه چټله او له خاورو ډکه سیمه وه. ما فکر کاوه چې ښځې کولای شي له روغتون پرته په کور کې هم اولاد وزېږوي. لکه په کلي کې زما مور او خویندې! مور مې ټول اولادونه په کور کې وزېږول.

د ښوونځي حالت مخ په ځوړ و. میاشتې تېرېدې خو دوی نه شوای کوی چې د ښوونکو معاش او د ښوونځي اجاره ورکړي. د واده د لاس بندونو زرګر به هره ورځ د خپلو پیسو له پاره هلته راته. پلار به مې هم چای او کلچې ورته راوړې او هیله به یې ورکوله چې پیسې به یې ژر ورکړي.

هدایت الله به په خندا پلار ته ویل:

- فکر کوې چې هغه په چای راضي کېږي؟ هغه چای نه بلکې پیسې یې غواړي.

وضعیت دومره کړکېچن شو چې پلار مې له ناچارۍ د سرو زرو لاس بندونه وپلورل.

زموږ په فرهنګ کې د واده ګڼې د مېرمن او خاوند تر منځ یو پیوستون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې مېرمنې له خپل خاوند سره د مرستې له پاره هغه پلورې چې خاوند يې يو کسب او کار پرې وکړي يا هم د کار له پاره له هېواده بهر سفر وکړي. مور مې تر دې وړاندې ويلي و چې لاس بندونه يې د خاوند د وراره د پوهنتون لګښتونو ته پلوري. پلار مې په بېړه قول ورسره کړی و چې هغه ته به د پوهنتون پيسې خپله برابروي خو له نېکه مرغه د پلار د عمه زوی شېرخان تر پلار وړاندې شو او د پوهنتون پيسې يې ورکړې. مور مې نه پوهېده چې د لاس بندونو په پيسو د پوهنتون لګښتونه نه پوره کېږي.

حالت هغه وخت ډېر کړکېچن شو چې ناڅاپي سېلابونه راغلل. يوه ورځ باران نه درېده او له ماښام وروسته د سېلاب خطر وليدل شو. بايد چې ټولو خلکو سيمه پرېښې وای. مور مې له کوره وتلې وه او هدايت الله هم پلار ته اړتيا لرله چې د کور ټول سامانونه له لومړي پوړ څخه يوسي خو هغه يې پيدا نه کړای شو. بهر ووت او چيغې يې کړې:

- ضياءالدينه، ضياءالدينه!

له ښوونځي بهر نرۍ کوڅه ټوله سېلاب نيولې وه. د برېښنا لينونه راځړېدلي و چې باد يوه او بله خوا وړل راوړل. د هدايت الله بدن سړو او باران بې حسه کړی و، دې هرڅه ته يې په حيرانۍ کتل. په پای کې لږ او ډېر له اوبو سره مخامخ شو، خو که چېرې د برېښنا لينونه په اوبو کې لګېدلي وای نو هدايت الله به د برېښنا له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی وای.

کله يې چې پلار پيداکړ، ويې ليد چې هغه د يوې ښځې د ژړا چيغې اورې چې خاوند يې له کوره نه شي وتلای. له همدې امله يې د دوی مرستې ته ور دانګلي دي او مرسته ورسره کړې چې يخچال يې هم ورسره را وباسي.

هدايت الله مې پلار ته په غوسه وايي:

- د دې ښځې خاوند دې وساته خو خپل کور نه. آيا دا ټول کارونه د يوې ښځې د ژړا له امله و؟

کله چې اوبه ډېرې شوې دوی وليدل چې کور او ښوونځی دواړه له منځه تللي.



اسبابونه، پردې، کالي او د غږ دستګاه ټول تر خاورو لاندې شوي دي او له هر ځايه بد بوی راځي. دوی نور د خوب له پاره ځای نه درلود او هېڅ پاکې جامې يې هم نه لرلې چې وايې غوندي.

له نېکه مرغه چې شپې ته يې د امان الدين په نوم ګاونډي خپل کور ته بوتلل. د يوې اونۍ په اوږدو کې يې هر څه له سره تنظيم کړل. لس ورځې وروسته يوه ورځ چې دواړه له کوره وتلي و، دويم ځلي سېلاب راغئ، دويم ځلي يې هم ټوله ودانۍ له خاورو ډکه کړه. له څه وخت وروسته د اوبو او برېښنا مامور دې سيمې ته ولېږل شو. مامور ويل چې خپل سېستم مو سم نه دی جوړ کړی خو په اصل کې مامور رشوت غوښت. کله چې پلار ووېل رشوت نه ورکوي نو د جريمه کېدو له پاره يې يوه پاڼه ورکړه. پلار مې د دې جريمې په ورکړه هېڅ کله نه توانېده له همدې امله يې له يوه خپل سياستوال ملګري هيله وکړه چې دا مسئله ورته حل کړي.

شرايط داسې حالت ته ورسېدل چې په حقيقت کې نور ښوونځی نه و. خو د پلار زړه نه و چې خپل خوبونه داسې په آسانۍ سره له لاسه ورکړي. له دې ور اخوا ده يوه کورنۍ هم لرله چې بايد د هغې لګښت يې هم پيداکړی وای.

زه د ۱۹۹۷ م کال د جولای مياشتې په ۱۲مه وزېږېدم. يوې ګاونډۍ مو له مور سره زما په زېږون کې مرسته کړې وه چې زما تر مور يې مخکې اولاد پيداشوی و. پلار په ښوونځي کې و، کله چې زما له زېږېدو خبر شو په منډو منډو کور ته راغئ. مور مې پلار ته د هلک او نجلۍ ويلو له امله وېرېده. خو هغه وايي پلار چې کله زما سترګو ته وکتل، بې اندازې خوشاله شو.

هدايت الله وايي:

- ملاله نېکبخته وه کله چې پيداشوه نېکبختيو زموږ لور ته مخه کړه.

د ۱۹۹۷ م کال د پاکستان د پنځوسمې کليزې په موخه چې د اګسټ په څوارلسمه په ټول هېواد کې لمانځل کېږي د لمانځلو مراسم او لاريونونه نيول شوي و. له دې سره سره مې پلار او ملګري يې به دې باور و چې د دې ورځې لمانځلو ته اړتيا نه وه ځکه له کله چې سوات له پاکستان سره يو ځای شوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځور او ستونزو سره مخ دی او په ظلمونو کې اوسېږي. دوی د اعتراض کولو له پاره چې دا لمانځنې بې ځایه وبښيي تور بندونه وتړل چې پلار مې د همدې اعتراض له امله ونیول شو. دوی باید جریمه ورکړې وای خو د جریمې وس يې نه درلود.

زما له زېږېدو درې میاشتې وروسته د ښوونځي درې پورته کوټې تشې شوې مور ټول هلته لاړو. دېوالونه يې ګچ شوي او اوبه مو هم لرلې نو له همدې امله نظر هغې وړوکي کور ته چې له خاورو جوړ و دلته په راتلو مو ځان پرمختللی باله خو اوس مو هم کافي ځای نه لاره ځکه چې اوس هم هدایت الله له موږ سره اوسېده او ډېری وخت به مو کور ته مېلمانه هم راتلل. خوشال ډېر وړوکی او لومړنی ګډ ابتدایي ښوونځی و. کله چې زه وزېږېدم پنځه یا شپږ ښوونکي، لږ او ډېر سل زده کوونکي يې لرل او په میاشت کې يې له هر زده کوونکي سل روپۍ اخیستې.

پلار مې د ښوونځي مدیر، مالي مسول او ښوونکی و. ده به ځمکه هم جارو کوله، دېوالونه او تشنابونه به يې هم مینځل. پلار به د تبلیغاتي پاڼو د بندولو له پاره د برېښنا په پایه پورته کېده، سره له دې چې له لوړ ځایه يې دومره وېره لرله چې کله به په زینو کې پورته کېده پښې به يې لړزېدې. که به د اوبو نلکه خرابېده د جوړولو له پاره به څا ته ښکته کېده. کله به مې چې پلار ته کتل، څا ته ښکته کېږي او نه ښکاري، له سترګو به مې اوښکې بهېدې. فکر به مې کاوه چې بیا به بېرته را نه شي.

د اجارې او ښوونکو د حقوقو له ورکړې وروسته به یو څه پیسې پاتې کېدې. موږ به شین چای څښنه ځکه چې د معمولي چای د جوړولو وس مو نه لاره. له څه وخت وروسته پلار د یوه بل ښوونځي د جوړولو هوډ وکړ، غوښتل يې په هغې «د ملالې د زده کړې موسسه» نوم کېږدي.

ښوونځی مې د ساعت تېري سیمه وه. پلار مې وايي مخکې تر دې چې خبرې وکړم، ټولګیو ته به تلم تي تي به مې ویل داسې به ښکارېدم لکه د زده کوونکو ښوونکې چې وم. د ښوونځي د ښځو کارکوونکو له ډلې به مېرمن الفت زه په غېږ کې اخیستم او څو دقیقې به يې ورسره کېنولم او یا به يې څو دقیقې کور ته



ورسره بوولم. هغه وخت چې درې یا څلور کلنه وم، زه به يې د لویو هلکانو په ټولګي کې کېنولم. زه به په خپل ځای کې په حیرانۍ ناسته وم او درس ته به مې غوږ نیوه. کله کله به مې د ښوونکو خبرې ورسره تکرارولې. له همدې امله کولای شم ووایم چې زه په یوه ښوونځي کې لویه شوې یم.

له نعیم سره د ملګرۍ په وخت پلار پوه شو چې نه شي کولای کسب او کار سره ګډ کړي او له یو بل سره ښې اړیکې ولري. په پای کې هدایت الله هم موږ پرېښودو څو خپل ښوونځی اداره کړي. پلار او هدایت الله زده کوونکي سره ووېشل. دوی په دې اړه زده کوونکو ته څه ونه ویل څو خلک فکر وکړي ښوونځی پراخه شوی او دوې ودانۍ يې ورته نیولې دي. سره له دې چې پلار او هدایت الله په هغې ورځو کې خبرې نه کولې خو هدایت الله به په ماپسې ډېر خپه کېده او لیدو ته به مې راته.

د ۲۰۰۱ م کال د سپټمبر په میاشت کې چې یوه ورځ هدایت الله زما لیدو ته راغئ، دې وخت کې زموږ کور ته نور کسان هم راغلي و، په کور کې ډېر شور لګېده. دوی ویل چې په نیویارک کې په یوه ودانۍ وحشت ناکه حمله شوې. دوې الوتکې له یوې ودانۍ سره لګېدلې وې. زه هغه وخت څلور کلنه وم دومره وړه وم چې په موضوع نه پوهېدم. آن د لویانو له پاره هم دا موضوع د پوهېدو وړ نه وه ځکه چې د سوات تر ټولو لویې ودانۍ یو هوټل او یو روغتون دي چې دوه یا درې پوړیزه دي.

دغه پېښه د دوی په نظر ډېره عجیبه وه. زه آن نه پوهېدم چې نیویارک او امریکا څه دي. ښوونځی مې نړۍ او نړۍ مې ښوونځی و.

موږ نه پوهېدو چې د سپټمبر یوولسم زموږ ژوند بدل کړی او جګړه به زموږ درې ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ کلی

موږ دود لرو چې د ماشوم د زېږېدو په اوومه ورځ کورنۍ، ګاونډیانو، خپلوانو او ملګرو ته جشن جوړوو. زما له پاره مې مور او پلار دا ډول پروګرام جوړ نه کړ. ځکه چې هغوی دومره وس نه لاره چې د مېلمنو له پاره د پسه غوښه او وریجې واخیستی شي. نیکه مې هم مرسته نه ورسره کوله ځکه چې زه هلک نه وم.
کله مې چې وروڼه پیدا شول نیکه غوښتل مېله پرې جوړه کړي خو پلار ونه منله ځکه چې زما له پاره یې دا کار نه و کړی. ما یوازې همدا نېکه لاره، د مور پلار مې زما له پیدایښت مخکې وفات شوی و. مور او پلار مې وایي چې زه د دواړو نیکونو ځانګړتیاوې لرم، د مور د پلار په څېر هوښیاره او شوخه او د پلار د پلار په څېر مې ښه ویانده یم.
زه به چې کلي ته د نیکه لیدو ته تلم ډېره خوشاله کېدم.
هغه به چې زه هر وخت ولیدم یوه سندره به یې راته ویله داسې به یې ښودله چې هغه تر اوسه هم زما د نوم د معنی په اړه فکر کوي، غوښتل یې چې دا نوم له خوشالۍ ډک وښيي.
هغه به داسې ویل:
- ملاله د میوند اوسېدونکې او د نړۍ تر ټولو خوشاله نجلۍ ده.
موږ به هر وخت د اختر په رخصتیو کې کلي ته تلو. تر ټولو ښې جامې به مو اغوستې، په بس ګاډي کې به مو د بارکانې په لور شمال خواته زموږ د کلي شنګلې لور ته حرکت کاوه. موږ په کال کې دوه اخترونه لرو، کوچنی اختر چې د روژې میاشتې په پای کې راځي، د قربانۍ یا لوی اختر چې زموږ د پیغمبر ابراهیم(ع) یاد دی چې غوښتل یې خپل زوی اسماعیل د خدای(ج) په امر سره قرباني کړي.
د اختر نېټه د روحیانیونو له خوا ځخه د میاشتې په لیدو سره ټاکل کېږي. همدا چې خبر به مو واورېد د کلي په لور به مو حرکت وکړ.



تر سفر مخکې شپه به مې له سترګو خوب تېښتېدلی و ځکه چې ډېره به خوشاله وم. دغه سفر به په هغې لاره چې د باران او غره د ښویېدو له خطره روغ پاتې و، پنځه ساعته و او بس ګاډي به سهار وختي حرکت کاوه. موږ به په ډېر زحمت سره د مېنګورې د بسونو تمځي ته رسېدو.
بکسونه به مو د کورنۍ له پاره له ګلدوزي شوو ټکریو، ډول ډول شیرینیو، سرو ګلونو، پستې او درملو چې دا توکي په کلي کې نه پیداکېدل ډک و. ځینو خلکو به بوره او اوړه ورسره وړل چې د بس سر به له بکسونو ډک و.
وروسته به بس ګاډي ته د سرک د خوا چوکۍ د نیولو له پاره ګړندي ختلو، سره له دې چې د بس هنداري به خاورې او ګردونه نیولي وو چې بهر به سم نه ترې ښکارېده. د سوات بسونه په زېړو ګلونو، نارنجي پړانګانو او له واورو د ډکو غرونو په منظرو ښکلي کوي. که په هسته یې توغندیو او جګړه ییزو ګاډو کې سواره وای هم به مې وروڼه خوشاله و. سره د دې چې پلار مې ویل که زموږ سیاست پوهانو د هسته یې وسلې د جوړولو له پاره لږه پانګونه کړې وای، د ښوونځیو له پاره به ډېره بودیجه ټاکل شوې وه.
موږ له یوه بازاره او د غاښونو د ډاکټر له یوې داسې لوحې چې یوه خندانه خوله پرې کاږل شوې وه، د لرګینو قفسونو جوړې ټانګې چې له سپینو او تیټ سترګو چرګانو ډکې وې او زرګرۍ چې الماری یې له زېړو لاسبندونو او غاړکیو ډکې وې تېرېدو. په پای کې څو لرګینې غرفې وې داسې ښکارېده چې په یوه بل یې تکیه کړې وي د دوی په مخکې به ډېر ټایرونه سر په سر اېښودل شوي و چې په نا اوارو سړکونو د کارېدلو له پاره یې هلته اېښي و. هغه وخت موږ وروستي سرک ته ورسېدو. کیڼ لور ته د سوات پراخه سېند او د شنو زمردو د کانونو لرونکې غونډۍ ښې لور ته پرتې وې. د سیلانیانو له پاره د سېند په غاړه له هندارو جوړ هوټلونه لیدل کېدل. موږ هېڅ کله هم دې هوټلونو ته نه و تللي. وروسته مې په خاورو ککړ ماشومان ولیدل چې د وښو د لویو پنډو د وړلو له امله ټوغ ټوغ تلل. د لارې په اوږدو کې مې ډېر کسان ولیدل چې د وزو رمې یې یوه او بله خوا ګرځولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه ډول چې وړاندې تلو، د شولو (د وریجو بوټي) شنه فصلونه مې تر سترګو شول چې تازه بوی ترې پورته کېده. همدارنګه هلته، د زردالو او انځیرو باغونه لیدل کېدل. د رود د هغې غاړې د مرمرو د ډبرو له وړې کارخانې سره چې د شیدو په څېر سپین رنګه کیمیاوي مواد ترې راوتلي و، تېر شوو. د دې منظرې لیدو مې پلار پرېشانه کړ ویې ویل:

- دغه بې عقلان وګورئ زموږ ښکلې دره څومره ککړوي.

وروسته بس د غرو په لمنو کې چې د صنوبر په ونو پوښل شوې وې پورته لاړ. د ځینو غرونو په سرونو کې کنډوالې ښکارېدې چې ډینګانو دورې پرې وهلې. د غرونو پاتې څوکې داسې وې چې د لومړي والي په وخت کې جوړې شوې وې. په غونډیو کې بس ټکان خوړ او جمپ یې کاوه، چلوونکي ښکنځلې کولې ځکه چې څو ګاډي په خطرناکه لار کې له موږ مخکې شول. وروڼو مې د ګاډو له مخته کېدو خوند اخیست او خوشاله کېدل دوی د خرابو شوو نقلیه وسایطو ډېریو ته اشارې کولې او سرونه بې زما او مور په سرونو ایښي و.

بالاخره د غره څوکې ته ورسېدو، د شنګلې درې ته ننوتو چې یوه غرنۍ لاره ده، سړی فکر کوي د نړۍ تر ټولو لوړه برخه ده. هلته موږ د نړۍ تر ټولو غونډیو لوړ و. په لرو سیمو کې مو د «مالم جبې»د (سکي) لوبې واورې لیدې. د سرک په غاړو کې آبشارونو او چینو خوندور حرکت کاوه. هلته چې د چای څښلو له پاره بس ګاډی ودرېد د صنوبر د ونو ښکلی بوی او تازه هوا مو تنفس کړه. شنګله ټول غرونه دي په سر یې یوازې یو وړوکی آسمان ښکاري. باد د قربان سېند پسې واخیست خو د غونډیو په یوه برخه کې بېرته آرام شو. له سېند څخه د تېرېدلو له پاره دواړو غاړو ته یوازې یو تړل شوی تناب لري چې خلک د تېرېدلو په وخت کې ځان پرې نیسي او بلې خواته ځان پرې رسوي. بهرنیانو به د «ځان وژنې پلونه» ورته ویل په داسې حال کې چې موږ به خوند ترې اخیست.

که د سوات نقشه وګورئ، دغه دره له وړو درو جوړه شوې یوه اوږده دره ده چې وړې درې لکه په ونه کې پاڼه داسې پکې ښکاري. زموږ کلی د ختیز لور ته د



«کانړي» په دره کې موقعیت لري.

دغه دره د لوړو ژورو غرونو په دېوالونو احاطه شوې ده، دره دومره تنګه ده چې د کرکټ د میدان له پاره هم ځای نه لري. موږ خپل کلی (شاپور) بولو خو په حقیقت کې د درې لاندې خواته درې کلي شته دي، شاپور یې تر ټولو لوی دی، بارکانه زما د پلار استوګنځی و او کرشت هغه کلی دی چې مور مې په کې لویه شوې وه. د هر کلي په پای کې یو غر پروت دی، د جنوبي خوا تور غر او د شمال لور ته سپین غر، موږ به هر وخت د نیکه په کور بارکانه کې چې پلار مې هلته لوی شوی و، اوسېدو.

دا کور د سیمې د نورو ټولو کورونو په څېر له خاورې او ډبرو جوړ شوی و چې مسطح چت یې لاره. زما خوښه وه چې د ماما له زامنو سره مې په کرشت کې پاتې شم، ځکه چې د هغوی کور ګچ شوی و او حمام یې هم درلود. هلته ډېر ماشومان و چې لوبې ورسره وکړم. زه او مور د لاندې پوړ په کوټه کې چې د مېرمنو له پاره وه اوسېدو. د کور مېرمنو به ورځ په پخلي، د ماشومانو په ساتنه او پالنه، نارینه و ته په ډوډۍ تیارولو چې په پاس کوټه کې به کېناستل، تېروله. زه به مې د ماما له اولادونو انیسې او سنبل سره په یوه کوټه کې ویده کېدم. د مسجد په څېر یو ساعت او یوه الماري ډوله تختې چې ټوپک او د وېښتانو څو ډوله رنګونه په کې ایښې و په دېوال کې ځوړند و.

ټول او آن زه چې هر وخت به تر ډېره ویده کېدم، سهار وختي له خوبه پاڅېدو، د پاڅېدو په وخت کې به د چرګانو بانګونه او د لوښو آواز چې نارینه و ته به یې د سهار چای تیاراوه اورېدل کېدل. د سهار په مهال به د تور غره له څوکو د لمر وړانګې خپرېدې. کله به چې د سهار له لمانځه پورته کېدو او کیڼ لوري ته به مو کتل، د سپین غره څوکې به داسې ښکارېدې لکه یوه سپین رنګې ښځه چې په غاړه کې د سرو زرو غاړکۍ واچوي چې دا د لمر لومړۍ وړانګې وې چې غره ته یې ښکلا ورکوله او زموږ تر سترګو کېدې.

ډېری وخت به باران ټول ځایونه مینځل، او د شنو غرونو په سر به ورېځې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو به هلته د چارمغزو ونې او نورې سبزۍ کرلې لیدل کېدې. د شاتو د مچیو صندقونه هم ځای ځای لیدل کېدل. زه چې له شاتو سره مینه لرم او له چارمغزو سره یې خورم. له سېند لاندې د کرښت د کلي په پای کې مېښې لیدل کېدې. هلته د اوبو یوه ژرنده هم وه چې جوار او غنم به یې په اوړو بدلول او هلکانو به هغه په بوجیو کې اچول. د ژرندې تر څنگ د برېښنا یو کوچنی ماشین هم و چې کلي ته د برېښنا د وېش له پاره یې گډ وډ لینونه تر څنگ پراته و. هلته دولت خلکو ته برېښنا نه وه ورکړې نو له همدې امله خلکو د لنډ مهال له پاره له همدې ډول برېښنا کار اخیست.
کله به چې ورځ په تېرېدو شوه، د لمر وړانگې به د سپین غره په څوکو ځلېدې. وروسته به د ماښام په وخت کې د لمر سیورۍ پرې لوېده او لمر به له تور غره پناه کېده. زموږ د لمانځه وخت به د غره په سیوري سره ټاکل کېده. کله به چې لمر یوې ټاکل شوې لوېې ډبرې ته ورسېد او خپلې وړانگې به یې پرې وغوړولې د مازیگر د لمانځه وخت به شو. وروسته به د ماښام په وخت کې چې کله د سپین غره څوکه د سهار په پرتله څو ځله ښایسته ښکارېده د ماښام د لمانځه وخت به و. سپین غر له هر ځایه لیدی شو. پلار به مې ویل چې دا غر ماته زموږ د هېواد د سولې د سمبول په څېر ښکاري چې د درې په پای کې د یوه سپین بیرغ په څېر دی. ده د ماشومتوب په وخت کې فکر کاوه چې په دې وړه دره کې ټوله نړۍ ده او که څوک د غره بلې خوا ته ولوېږي له منځه به لاړ شي.
سره له دې چې په ښار کې پیداشوې یم خو بیا مې هم د پلار په څېر له طبیعت سره مینه لرم او د دې ښه حاصل ورکوونکې خاورې، شین والي، بوټو، محصولاتو، مېښو، د الوتو په حال کې له زېړو پتنگانو او ټولو څخه خوند اخلم. د کلي خلک ډېر بې وزله و خو کله چې هلته لاړم، زموږ لویې کورنۍ لوی جشن جوړ کړی و. له سرو کړو چرگانو ډک غوري، وریجې، سیمه ییز سابه او د پسه غوښه چې دا ټول ښځو په اور پاخه کړي و لیدل کېدل. همدا راز هلته ټوټې شوې منې، د زېړ کیک ټوټې او د شیدو چای هم و. هېڅ یوه هلک کتاب او د



لوبو وسایل نه لرل. هلکانو په یوه څنگ کې د کرکټ لوبه کوله آن د دوی د کرکټ توپ هم له پلاستیکونو جوړ شوی و.
کلي هېرې شوې سیمې وې. اوبه له چینې راوړل کېدې. ډېر لږ کورونه گچ شوي و هغه هم د هغو کسانو کورونه چې زامن یې د جنوب کانونو او یا هم خلیج ته د کار له پاره تللي و او له هغه ځایه یې پیسې رالېږلې وې. په دې سیمه کې څلوېښت میلیونه پښتانه اوسېږي چې له دې ډلې یې لږ تر لږه لس میلیونه له هېواده بهر په کار پسې تللي دي. پلار مې ویل:
- دا ډېره پرېشانوونکې ده چې دوی د دې له پاره چې د خپلې کورنۍ نوی ژوند وساتي هېڅ کله هم نه راځي او باید چې همدلته پاتې شي او کار وکړي.
ډېرې کورنۍ وې چې له خپلو نارینه و پرته یې ژوند کاوه، هغوی به په کال کې یوازې یو ځل یو بل لیدل او تل به یې هره نهمه میاشت یو ماشوم پیداکېده.
لکه د نیکه کور، له وړو ښاخونو او له یو بل سره په اوبدل شوو لرگیو جوړې شوې کوټې چې په خاورو پټې شوې وې. دا کوټې به د سېلاب راتلو په وخت کې چپه کېدې. په ژمي کې به ماشومان د سړې هوا له امله په کې مړه کېدل. دې کلي آن روغتون هم نه لاره. یوازې د شاپور کلي یو کلینیک درلود. که به په نورو کلیو کې څوک ناروغ کېدل، د ناروغ خپلوانو به هغه تر کلینیک پورې د لرگي په یوه تخته را رساوه. موږ په ټوکو دې تختې ته د شنگلې امبولانس وایه. که به ناروغ عاجل و نو دوی اړ و چې تر مېنگورې پورې یو گاډی کرایه کړي. نېکمرغه هغه و چې کوم گاډې والا به یې پېژانده.
سیاست پوهان به یوازې د ټاکنو په وخت کې کلیو ته تلل. خلکو ته به یې ژمنې ورکولې چې ښوونځي او سړک جوړوي، خلکو ته تصفیه شوې اوبه برابروي او کلي ته به برېښنا را ولي. دې کسانو به د کلیو نفوذ لرونکو کسانو ته چې مابه قمار وهونکي بلل پیسې او جنراتورونه ورکول څو خلکو ته وښیي چې رایه څه ډول ورکړي. البته دې موضوع هم تر نارینه و پورې اړه لرله ښځو په ټاکنو کې گډون نه شوای کوی. هغه وخت به که دوی په ملي مجلس کې بریالي کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام آباد ته او هغه چې د ایالتي ټولنې له خوا به ټاکل شوي و پېښور ته به تلل. وروسته به دوی له خپلو ژمنو سره یو ځای ورکېدل.

د تره زامنو به مې زما د ښار په چلند هر وخت ملنډې وهلې. هېڅ کله مې نه غوښتل لوڅې پښې وګرځم. کتاب مې لوست، ګرډود مې له دوی سره توپیر لاره، د مېنګورې د خلکو په عامیانه ژبه به مې خبرې کولې. کالي به مې ډېرې وخت له پلورنځیو اخیستل کېدل د دوی د کالیو به څېر به په کور کې نه و جوړ شوي. خپلوانو به مې راته ویل:

- زړه دې غواړي موږ ته چرګ پوخ کړې؟

مابه ځواب ورکاوه چې نه بېچاره چرګ! هغه بې ګناه دی. نه باید چې حلال یې کړم.

دوی به فکر کاوه چې زه د نوې زمانې نجلۍ یم ځکه چې په ښار کې پیداشوې یم.

په واقعیت کې هغوی نه پوهېدل چې د اسلام آباد او یا آن د پېښور د خلکو په فکر ډېره ساده وم.

موږ به کله د تفریح له پاره غره او یا لاندې سېند ته تلو. په دوبي کې به چې په غرونو کې واورې ویلې کېدې، له هغه ځایه به اوبه له درناوي ډک او چټک حرکت کاوه. هلکانو به د خاورو چینجي په یوه چنګکه کې د کبانو د نیولو له پاره بندول او په یوه اوږده لرګي به یې سیند ته ښکته کول. دا کبان دومره خوندور نه و، لېشکې یا اغزي یې ډېر لرل چې موږ به «چاقو کبان» بلل.

کله به هم نجونې د نېک فال له پاره له وریجو او شربتو ډکو لوښو سره سېند ته تلې. زموږ د خوښې وړ لوبه (واده) و. موږ به په دوو ډلو وېشل کېدو چې هره ډله به یوه کورنۍ وه. وروسته هرې کورنۍ باید یوه نجلۍ کوژده کړې وای. له همدې امله مو کولای شول د واده یوه مېله جوړه کړو. هرې ډلې به هڅه کوله چې زه یې په ډله کې وم ځکه چې له مېنګورې راغلې وم او ښاري وم. په موږ کې تر ټولو ښایسته نجلۍ «تنضله» وه ما به هڅه کوله چې مقابلې ډلې ته یې ولېږم چې بیا زموږ ناوې شي. د دې منصوعي واده تر ټولو مهمه برخه د ګڼې وه. په



داسې حال کې چې ناوې ته مو غاړکۍ، لاس بندونه، او لښتې ور اچولې، بالیووډې ترانې به مو ویلې.

هغه وخت به د آرایش په سامان چې له میندو مو راوړي و، ناوې ښکلې کوله. لاسونه به مو یې په خوړه سوډا او چونه کې ښکته کول چې سپین شي، نوکونه به مو یې په نکریزو رنګول. د وړلو په وخت کې به یې ژړل او موږ به تسلې ورکوله ورته ویل به مو:

- اندېښنه مه کوه، واده د ژوند یوه برخه ده. له خسر او خواښې سره مهربانه اوسېږه چې دوی هم سم چلند درسره وکړي، د مېړه دې ښه پالنه وکړه او خوشاله اوسه.

واقعي ودونه په لویو مېلو سره جوړېږي په پایله کې د پېښې د کورنۍ په تاوان پای مومي، کورنۍ ورسره پوروړې کېږي. ناوې تر ټولو ښې جامې اغوندي او په هغو ګېڼو یې ښایسته کوي چې د دواړو کورنیو له خوا ورته ډالۍ شوې وي. آن یو ځای مې ولوستل چې له نورو سره د سیالۍ له پاره بې نظیر بوټو په خپل واده کې بدل لاسبندونه اچولي و، هلته تر اوسه هم د واده د آرایش دود چلېږي.

کله به هم سیمې ته له کانونو څخه یو لرګین تابوت راوړل کېده. ښځې به د مرحوم د مېرمنې او یا هم مور په کور کې راټولېدې. ډېرې وېروونکې چیغې او ژړاوې به یې کولې، دې چیغو به په ټوله دره کې انګازه خوروله او د بدن وېښتان به یې نېغ درول.

د شپې به کلی ډېر تیاره و، زموږ په کورونو کې به د تېلو څراغونو یو ډول ځانګړی اواز کاوه. په مشرانو مېرمنو کې د یوې هم لیک لوست زده نه و خو کیسې به یې زده وې او پښتو شعرونه او ټپې به یې له ځانه ویلې. د نیا مې ډېرې ټپې زده وې چې ډېری دا ډول شعرونه د پښتنو او یا هم مینې په اړه و.

نیا به مې ویل:

«پښتون وطن پرېښودی نه شي
یا ډېر غریب شي یا د یار له غمه ځینه»

عمه ګانو به موږ په وېروونکو کیسو وېرولو، لکه د «شل ګوتي» کیسه، عمه ګانو به ویل چې یو د شلو ګوتو څښتن هر وخت زموږ په بستره کې ویده کېږي. نو موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



به چې ډېرې وېرېدلې وو له سترګو به مو اوښکې روانې وې، سره له دې چې په پښتو کې د لاسونو او پښو ګوتو ته یوه کلمه کاروي، نو په حقیقت کې موږ شل ګوتې لرلې خو هغه وخت مو دې ټکي هېڅ پام نه کېده.

عمه ګانو به مو د دې له پاره چې حمام ته د ځان مینځلو له پاره لاړې شو. کیسه را ته کوله چې یوه ډېره بد شکله «شیشکه» راځي چې لاسونه به یې په خاورو ککړ وي او ډېر بدبوی به کوي، شیشکه به په هغو ماشومانو پسې راځي چې ځان نه مینځي. هغه به دا ډول ماشومان د موږک په څېر یوه حشره باندې بدل کړي او یا دا چې کېدای شي وبې وژني. په ژمي کې د دې له پاره چې مینځې خپل اولادونه د ژمي د واورې له سړو وساتي او بهر ته یې پرې نه ږدي، د زمري او یا پړانګ کیسې به یې ورته کولې. ورته ویل به یې چې زمري او پړانګ به ماشومان د دوی له پلونو څخه چې په واوره یې ابښي پیداکړي.

څنګه به چې لوی شوو نور به موږ ته کلی زړه تنګوونکی ښکارېده. په کلي کې یوازې یوې بډایه کورنۍ ټلویزیون لاره، آن په ټول کلي کې یو کمپیوټر نه و.

د کلي ښځې به چې بهر راوتې مخونه به یې پټ و، دوی له هغو کسانو سره چې خپلوان به یې نه و خبرې نه شوای کولای. ما به د ورځې له موډ سره سمې جامې اغوستې او چې پېغلتوب ته ورسېدم هم مې مخ نه پټاوه.

یوه ورځ مې یو د تره زوی پرېشانه شو او له پلار مې یې وپوښتل:

- ملاله ولې مخ نه پټوي؟

پلار مې ځواب ورکړ.

- هغه زما لور ده. ته د خپل ځان ته پام کوه.

زموږ د کورنۍ ځینو غړو به فکر کاوه چې خلک په ما پسې خبرې کوي او وایي چې موږ د پښتونولۍ قوانین نه پالو.

زه په دې ویاړ کوم چې پښتنه یم خو کله کله فکر کوم چې زموږ قوانین ډېر د پوښتنې وړ موضوعات لري. په ځانګړې توګه هغه قوانین چې په ښځو پورې اړوند دي. د «شهیدې» په نوم یوه مېرمن چې موږ ته یې کار کاوه او درې لوڼې



یې لرلې ویل یې، کله چې دا لس کلنه شوه پلار یې په یوه واده لرونکي سپین ږیري وپلورله، ځکه چې هغه سپین ږیري یوه پېغله غوښته.

د نجلۍ د ورکېدو یوازینی دلیل واده نه و.

د سیما په نوم یوه پنځه لس کلنه ښایسته نجلۍ په یوه هلک مینه وه. کله به چې د هلک تر څنګ تېرېده د خپلو اوږدو او ښایسته باڼو لاندې به یې هلک ته کتل چې نورو نجونو به بخیلي پرې کوله. زموږ په ټولنه کې که چېرې یوه نجلۍ له کوم هلک سره اړیکه ولري د کورنۍ له پاره یې د شرم وړ ده، خو د هلکانو له پاره بیا داسې نه ده. خلکو به ویل چې هغې ځان وواژه خو وروسته خبره شوم چې کورنۍ یې مسمومه کړې وه.

زموږ په فرهنګ کې د «سورې» په نوم یو دود دی چې یوه کورنۍ د دوښمنۍ د ختمولو له پاره خپله لور د هغې کورنۍ ته په بدو کې ورکوي. دا ډول دودونه په رسمي توګه منعه دي خو سره له دې هم ادامه لري. زموږ په کلي کې د ثریا په نوم یوې کونډې له داسې یوه سړي سره واده وکړ چې د هغې هم مېرمن مړه شوې وه او د پخواني خاوند له قبیلې یې و. هېڅوک حق نه لري له یوې کونډې سره د هغې د کورنۍ له اجازې پرته واده وکړي. د ثریا کورنۍ د دې په واده له خبرېدو څخه په غوسه کېږي. د ثریا د خاوند کورنۍ یې وګوابښله تر دې چې د دې دوښمنۍ د له منځه وړلو له پاره د سیمې د سپین ږیرو او مشرانو یوه «جرګه» جوړه شوه. د جرګې د پرېکړې له مخې د هغې کورنۍ جزا دا شوه چې خپله ځوانه او ښایسته لور به د دوښمنۍ د له منځه وړلو له پاره د دې بلې کورنۍ یوه کس ته ورکوي. دا کس دومره بې وزله او فقیر و چې د نجلۍ پلار باید د دې واده له پاره خپل ټول عاید لګولی وای.

د یوې نجلۍ برخلیک ولې یوازې د دوو کورنیو د دوښمنۍ د ختمولو له پاره چې نجلۍ هېڅ رول هم نه په کې لري خراب شي.

کله به چې ما پلار ته د دې موضوعاتو له امله شکایت کاوه او پرېشانه کېدم به، راته ویل به یې چې په افغانستان کې د ښځو ژوند له دې هم سخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما له پیدایښت مخکې د یوه ملا په مشرۍ د «طالبانو» په نوم یوې ډلې هېواد نیولی و او هلته یې د نجونو ښوونځي سوزولي و. هغوی نارینه اړ کړي و چې خپلې ږیرې پرېږدي او ښځې باید چې «چادري» په سر کړي. چادري داسې یو شی ده لکه په یوه لویه بوجۍ کې چې روان وې. یوازې د سترګو په ساحه کې د لارې د لیدو له پاره واړه واړه سوري لري. دغه لباس د تودې هوا په وخت کې د یوه تنور په څېر دی. ما خو نه شوای په سر کولای. دوی به ویل چې طالبانو آن ښځې په لوړ غږ له خندا هم منع کړې دي او یا هم ښځې نه پرېږدي چې سپین بوټونه په پښو کړي ځکه چې د دوی په اند سپین رنګونو یوازې په نارینه و پورې اړه لرله. ښځې به یې د نوکانو د رنګولو له امله وهلې او بندي کولې به یې. کله مې چې پلار دا کیسې راته وکړې ټول بدن مې ولړزېد.

ما د (آناکارنینا) کتابونه او د (جین اوستین) ناولونه لوستي و او د پلار په خبرو مې باور لاره چې ویل یې:

- ملاله د یوه آزاد مرغه په څېر ده.

کله به مې چې د افغانستان په ښځو د ظلم کیسې اورېدې په دې به مې ویاړ کاوه چې د سوات یم.

ما به هر وخت ویل:

- دلته یوه نجلۍ کولای شي زده کړه وکړي.

خو طالبان له موږ سره نژدې و.

زما له پاره دره روښنايي او لمر و، نه مې شوای کولای هغه وربځې چې د غرونو په سرونو راغلې دي ووینم.

پلار به مې هر وخت ویل:

- ملالې زه به ستا د خپلواکۍ ساتنه وکړم... له ارمانونو سره دې اوسه.



# زه ولې لښتۍ نه په غوړو کوم
# او پښتانه ولې منته نه کوي؟

په اووه کلنۍ کې د ټولګي بې جوړې زده کوونکې وم. له هغو شاګردانو سره به مې مرسته کوله چې په درسونو کې به یې ستونزې لرلې.

ټولګیوالو به مې هر وخت ویل:

- ملاله یوه نابغه ده.

ما به د درسونو په ټولو برخو لکه بدمینتون، ډرامو، کرکټ، هنري فعالیتونو او آن په سندرو او آواز ویلو کې برخه اخیسته. یوه ورځ د ملکه نور په نوم یوه نجلۍ نوې زموږ ټولګي ته راغله، د دې د نوم معنی د (رڼا ملکه) ده. ملکې نور غوښتل، باید دا لومړۍ ښځه وي چې د پوځ قوماندانه شي. مور یې په یوه بل ښوونځي کې مدیره وه. دا موضوع غیر عادي ښکارېده ځکه چې زموږ د یوې مور هم دنده نه لرله. ملکې په ټولګي کې ډېرې خبرې نه کولې.

ما او نژدې ملګرې مې منیبې به تل له یوې بلې سره سیالي لرله. د منیبې لیک ښکلی او د لوستو وړ و، له همدې امله یې د آزموینې غړو ستاینه وکړه. د کال وروستۍ آزموینې هم تېرې شوې او ملکه نور ممتازه زده کوونکې شوه. دا خبر مې چې واورېد ډېره پرېشانه شوم. په کور کې به مې ژړل او مور به مې تسلي راکوله.

په همغې ورځو کې مو له هغې کور څخه چې د منیبې دوی په کوڅه کې و کډه وکړه. په نوې سیمه کې مې هېڅ ملګرې نه لرله خو وروسته مې د (سفینې) په نوم له یوې نجلۍ سره وپېژندل چې له ما لږ وړوکې وه، موږ به له یوې بلې سره لوبې کولې.

هغه نجلۍ نازولې وه، ډېرې نانځکې او یوه صندوقچه ګنې یې لرلې خو بیا به یې هم تل زما خړ رنګه پلاستیکي مبایل ته چې پلار مې راته اخیستی و، سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولې وې چې هغه زما د لوبو یوازینی سامان و. پلار به هر وخت په خپل مبایل خبرې کولې، ماهم مینه لرله چې د پلار په څېر مې وم او د ده په څېر په خپل مبایل کې خبرې وکړم خو یوه ورځ مې مبایل ورک شو.

څو ورځې وروسته مې ولیدل چې سفینه هماغه زما د مبایل په څېر په مبایل ساعتېرې کوي، ترې ومې پوښتل:

- مبایل دې له کومه کړی؟

ځواب یې راکړ:

- په بازار کې مې اخیستی.

هغه وخت مې فکر کاوه چې کېدای شي رښتیا وواېي، خو بیا مې هم له ځانه سره فکر کاوه «زما مبایل یې پټ کړی. نو زه هم باید یو څه وکړم.»

زه به ډېر وخت د دوی کور ته ورتلم او یو ځای به مو درس وایه، نو هر وخت به چې د دوی په کور کې وم، د دې د لوبو توکي به مې پټول چې ډېری به یې د آرایش او لوبو سامانونه لکه لښتی، لاس بند او نور و.

دا کار ډېر آسانه و. لومړی به د غلا په وخت کې وېرېدم خو دا احساس لنډمهاله و ډېر ژر په اجباري کار واوښت. نور مې نه شوای کولای د ځان مخنیوی وکړم.

یوه ورځ له ښوونځي وروسته چې ماسپښین کور ته ورسېدم، نو د تل په څېر مې پخلنځي ته منډې کړې، مور ته مې وویل:

- سلام مورې، ډېره وږې یم!

په ټول پخلنځي کې چوپتیا خوره وه.

مور مې په غولي ناسته وه، درمل، شنه ځېره، کورکمند او نور یې میده کول. ښه بوی یې ټول چاپېریال نیولی و. هغې خپل کار کاوه، سترګې یې ماته نه را اړولې. ما څه کړي و؟ زه چې ډېره پرېشانه شوم کوټې ته مې لاړم. کله مې چې دروازه خلاصه کړه، هېڅ غلا کړي شیان هلته نه و، حیرانه شوم.

د عمه لور مې رښا کوټې ته راغله ویې ویل:

- هغوی پوهېدل چې ته غلا کوې. خو انتظار یې کاوه چې له دې کاره لاس



واخلې او حال وواېي خو تا نوره هم ادامه ورکړه.

هغه وخت چې ځمکې ته مې کتل مور ته مې ورغلم.

هغې وویل:

- ملالې تېروتنه دې کړې. غواړې مور وشرموې؟ چې دوی وواېي مور تاته داسې توکي اخیستی نه شو؟

خو ما دروغ وویل:

- دا حقیقت نه لري، ما هغه نه دي راوړي.

خو مور مې پوهېده چې پټ کړي مې دي. خبرې مې پسې اوږدې کړې:

- لومړی سفینې پیل وکړ. هغې زما مبایل چې پلار راته اخیستی و رانه پټ کړ.

مور مې بې حرکته پاتې وه ویې ویل:

- سفینه له تا وړوکې ده، باید چې تا هغې ته ور زده کړي وای. ته باید هغې ته یوه بېلګه وې.

هغه وخت مې له سترګو اوښکې وبهېدې او څو ځله مې له مور څخه ښښنه وغوښته.

وروسته مې وویل:

- خیر دی هیله کوم پلار ته مه وایه.

ما نشوای زغملی چې پلار زما په اړه ناهیلی شي.

ماته ډېره عجیبه ده چې د پلار او مور له نظره وغورځېږم او یوه نالایقه ورته ښکاره شم.

خو دا مې لومړی ځل نه و. ماشومه چې وم یوه ورځ مې له مور سره بازار ته لاړم. له یوې ګاډۍ مې په پټه لږ بادام واخیستل. هغه ډېر خواږه او خوندور و نو د ځان مخه مې نیولای نه شوای. مور مې په دې کار ورټلم او د ګاډۍ له مالک یې ښښنه وغوښته. هغه ډېر غوسه ناک سړی و، هېڅ نه آرام کېده. مور هغه وخت لږ پیسې لرلې، مور مې خپل بکس خلاص کړ. د ګاډۍ له مالک یې پوښتنه وکړه:

- کېدای شي دا بادام په لس روپۍ راکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځواب ورکړ.

نه دا بادام ډېر قیمته دي.

مور مې ډېره پرېشانه شوې وه، پلار ته یې کیسه وکړه. هغه سمدلاسه لاړ، له هغه کس یې ټول بادام واخیستل، وروسته یې هغه د شیشې په یوه لوښي کې کېښودل.

ماته یې وویل:

- بادام ښه دي. که له ویده کېدو مخکې شیدې او بادام وخورې، ډېره ګټه درته کوي.

زه پوهېدم چې پلار دومره پیسې نه لرلې خو په شیشه کې بادامو زما ګناه را په یادوله. له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې نور به هېڅ کله هم داسې کار نه کوم. خو اوس مې بیا داسې کار وکړ. مور مې اړه کړم چې له سفینې او کورنۍ یې ښښنه وغواړم. دا کار ډېر سخت و. سفینې مې د مبایل په اړه څه ونه ویل چې دا عدالت نه و، خو ما هم د دې موضوع د یادولو له پاره هېڅ هم ونه ویل.

سره له دې چې خپه وم خو له دې وروسته مې له دې درد او رنځ نه خلاصه شوې وم. له هغې ورځې وروسته مې هېڅ کله هم دروغ ونه ویل او غلا مې ونه کړه. آن په هغو پیسو مې چې پلار به کور کې د سودا اخیستو له پاره پرېښودې کار نه لاره. همدارنګه مې نور ګڼې هم نه اچولې ځکه چې له ځان سره مې ویل: «نو دا بې لګښته توکي څه دي چې ما په اندېښنه کې اچوي؟ ولې مې خپل شخصیت د څو ټوټو بې ارزښته فلزو له پاره تر پوښتنې لاندې راولم؟»

په ټولو لمونځونو کې به مې له خدایه ښښنه غوښتنه.

پلار او مور به مې له یو بل نه هېڅ موضوع نه پټوله، نو له همدې امله مې پلار ژر زما د پرېشانۍ په لامل پوه شو. ما نه شوای کولای چې د هغه په سترګو کې ووینم چې زما په اړه مې څومره ناهیلی کړی. تل به مې زړه غوښتل چې هغه ویاړ را باندې وکړي، لکه یوه ورځ چې زموږ د ښوونځي د وړکتون ښوونکې مېرمن الفت ورته وویل، زه د اردو ژبې د درس په پیل کې ټولګیوالو ته په توره تخته



لیکم: «یوازې په اردو خبرې وکړئ» نو له دې امله به ډېر ژر دا ژبه زده کړم.

پلار مې راته ویل لویو اتلانو هم په ماشومتوب کې ډېرې تېروتنې کړې دي، ده به ماته دا ډول تسلي راکوله.

ویل یې چې مهاتما ګاندي ویلي: «خپلواکي به ارزښت ونه لري خو دا چې خپلواکه و او کله هم تېروتنه وکړو.»

په ښوونځي کې مې د «محمد علي جناح» په اړه کیسې لوستې وې. هغه به په کراچۍ کې د سړکونو د چراغونو رڼا ته درس وایه، ځکه چې په کور کې یې هېڅ رڼا نه لرله. ده به نورو هلکانو ته ویل، په خاورو او دوړو کې د ټېله کولو په ځای کرکټ وکړئ ځکه چې جامې به مو نه چټلېږي.

پلار مې د ابراهام لینکلن د لیک یوه بېلګه د یوه ښوونکي زوی ته ورکړې وه چې پښتو یې کړې، بیا یې هغه قاب کړه او له دفتر بهر یې په دېوال وځړوله. ډېره ښکلې او له مفهومه ډکه لیکنه وه.

«که کولای شئ زوی ته مې په ژوند کې د کتاب اغېزمن رول ورزده کړئ. او همدا راز د هغې په واک کې ډېر وخت ورکړئ څو په آسمان کې الوتونکو ته د الوتلو په وخت کې، مچیو او د غره د یوې شنې لمنې د ګلونو په اړه فکر وکړي. هغې ته ور زده کړئ له دې څخه چې په چل سره بریالی شي ښه ده چې ماتې وخوري.»

زه فکر کوم چې هر انسان په خپل ژوند کې لږ تر لږه یو ځل تېروتنه کړې. مهمه دا ده چې له خپلې تېروتنې څه زده کړو. له همدې امله زه د پښتونولۍ په ځینو قوانینو نه پوهېږم. د همدې قوانینو په بنسټ هیله رانه کېږي چې د نورو د ناسم چلند په وړاندې کینه کښه شم او غچ واخلم، خو دا غچ اخیسته به څه ډول پای ومومي؟ که یو کس د یوې کورنۍ د یوه کس له خوا ټپي یا ووژل شي، غچ یې باید به زور واخیستل شي څو دا شرم پاک کړي. دا غچ د وژونکي د کورنۍ د یوه کس په وژلو سره اخیستل کېږي. وروسته باید چې هغه کورنۍ بیا غچ واخلي او یو کس ووژني چې دا وژنه په ځلونو تکرارېږي او هېڅ کله به هم پای ته ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېږي. غځ ته وخت نه ټاکل کېږي وايي:

«پښتانه له شلو کلونو وروسته او یا هم له دې ژر غچ اخلي.» زموږ فرهنګ ډېر پندونه لري. چې یو یې دا دی: «دپښتو ډېره هېڅ کله په اوبو کې نه ورستېږي.»

دا په دې معنی ده چې پښتانه هېڅ کله هم نه څه هېروي او نه یې بښي. له همدې امله ده چې موږ ډېر لږ مننه کوو، ځکه باور لرو چې پښتون یو ښه کار هېڅ کله هم نه هېروي او ژر یې بدل ورکوي، پوره لکه د یوه ناسم عمل بدل اخیستل. د مینې او محبت ځواب به یوازې مینه او محبت وي په داسې کلمو لکه (مننه کوم، آباد اوسې) به یې جبران نه کړي.

د پښتنو ډېری کورنۍ په لویو ودانیو کې چې په کونجونو کې یې د څار برجونه هم جوړ کړي ژوند کوي څو خپل دوښمنان تعقیت کړای شي. ډېری کسان د همدې ډول دوښمنیو په بدل کې قرباني شول. له دې ډلې یو هم (شېر زمان) زما د پلار ټولګیوال و چې له پلاره یې ډېرې نومرې اخیستې. نیکه او تره به مې تل پلار په غوسه کاوه او یو مخ به یې ورته ویل:

- شېر زمان له تا لایق دی.

له همدې امله یې یو ځل هیله کړې وه چې دربغی له غرونو څخه ډېرې پرې را ورغړي . خو شېر زمان پوهنتون ته نه لاړ او د کلي په درملتون کې به یې د خلکو نسخې کتلې. کورنی یې د یوې وړې ټوټې ځنګلي ځمکې له امله د خپل تره له زامنو سره اختلاف پیداکړ او په جګړه بوخت شول. یوه ورځ چې شېر زمان او دوه ورونه یې په لاره و د خپل تره او څو نورو کسانو له خوا وویشتل شول.

پلار به په سیمه کې د یوه درانه کس په توګه په ټولنه کې تل د دوښمنۍ د له منځه وړلو له پاره راغوښتل کېده. پلار مې په «غچ» باور نه لاره، هڅه یې کوله چې خلکو ته یې روښانه کړي چې د تاوتریخوالي اوږدول به هېڅ خواته هم ګټه ونه کړي، نو ښه به وي چې خپل ژوند ته په آرامۍ سره ادامه ورکړئ. دوی زموږ په کلي کې د دوو کورنیو د دښمنۍ په منځه وړلو بریالي نه شول. د دوی دوښمني دومره پخوانۍ وه، چې هېچا هم دا نه یادوله چې دا دوښمني څه ډول



پیل شوه، په غالب ګومان سره کېدای شي د یوې ډېرې بې ارزښته موضوع له امله وي ځکه چې موږ تند خویه یو. لومړی یو ورور له یوې خوا او تره به له بلې خوا تر یرغل لاندې ونیول شي، وروسته بیا بل لوری خپل غچ اخلي. دا ځل به دا دوښمني د ډېرو کسانو ژوند واخلي.

زموږ خلک وايي چې دا یوه وړ روحیه ده او د نورو سیمو په کچه د پښتنو په سیمو کې د جرمونو کچه لږ ده. خو زما په نظر که څوک ستاسې ورور او یا د کورنۍ بل کس ووژني نه باید چې هغه او یا یې له کورنۍ کوم بل کس ووژنئ. په بدل کې باید هغوی پوه کړئ چې له تاوتریخوالي لاس واخلي. زه له «خان عبدالغفار خان» څخه الهام اخلم چې ځینې خلک یې «سرحدي ګاندي» بولي، هغه زموږ په فرهنګ کې له تاوتریخوالي د مخنیوي فلسفه دود کړه.

دغه موضوع د غلا په څېر ده. ځینې خلک زما په څېر نیول کېږي او بیا ژمنه کوي چې بیا دا کار نه تکراروي. خو نور کسان وايي:

- دا مهمه نه ده. یوازې یو کوچنی شی دی.

خو دویم او دریېم ځل بیا لوی شی هم غلا کوي. زموږ په هېواد کې ډېری سیاست پوهان د غلا په اړه فکر نه کوي. هغوی بډای دي سره له دې چې زموږ هېواد بې وزله دی، له همدې امله هغوی هر وخت ملت چور کوي. ډېری دا ډول خلک مالیه نه ورکوي چې دا د دوی وړه غلا ده. دوی همدا راز له بانګونو پور اخلي چې بیا یې هېڅ کله هم نه ورکوي. له شرکتونو، ملګرو او دولتي قراردادونو ډېرې پیسې ترلاسه کوي. له دوی څخه ډېر یې په لندن کې د لوړ بیه ودانیو مالکان دي.

هغوی څه ډول خپل وجدان تر پښو لاندې کوي. په داسې حال کې چې ملت مو وږی دی یا له برېښنا پرته په تیاره کې ژوند کوي یا یې هم ماشومان نه شي کولای ښوونځي ته لاړ شي یوازې د دې له پاره چې د خپل بې وزله مور او پلار له پاره کار وکړي.

پلار مې وايي پاکستان د داسې سیاستوالو لاسونو ته لوېدلی چې یوازې د پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداکولو له پاره فکر کوي. دوی تل خوښوي چې له سیمې لرې وي او په خپله کوټه کې کېني، هلته دوی د کوټې پردې کشوي او له خوندورو خوړو خوند اخلي. په داسې حال کې چې خلک د اقتصادي ستونزو تر فشار لاندې دي.

زه د ولسواکۍ په دوره کې وزېږېدم چې هغه وخت بې نظیر بوټو او نواز شریف یو د بل ځای ناستي شول، د دوی هېڅ یوه دولت هم خپله کاري دوره پوره نه کړه، هر وخت به یې یو بل په فساد او خرابو کارونو تورن کاوه.

زما له زېږېدو دوه کاله وروسته جنرالانو یو ځل بیا واک تر لاسه کړ. په هغې دوره کې نواز شریف لومړی وزیر و چې د خپل پوځ په قوماندانۍ سره یې جنرال پرویز مشرف بې واکه شو.

په هغې وخت کې جنرال مشرف د پاکستان په یوه ملي الوتکه کې له (سریلانکا) څخه راتلو. نواز شریف چې د مشرف له غبرګون څخه ډېر په غوسه و نو په پاکستان کې یې د ده د راوړونکې الوتکې د ښکته کېدو مخه ونیوله. د کراچۍ هوایي ډګر ته یې امر وکړ چې د ښکته کېدو څراغونه مړه کړي او د الوتکې د کېناستو ځای ته د اور ښودنې ماشینونه راوړي ترڅو د الوتکې کېناستو ته ځای پاتې نه شي. سره له دې چې الوتکې ۲۰۰ نور مسافر هم لېږدول او په بل هېواد کې یې هم د سون توکي نه لرل. په ټلویزیون کې د مشرف له کودتا یو ساعت وروسته ټانګونه کوڅو ته ووتل، سرتېري، خبریالان او هوایي ډګرونه یې په واک کې ونیول. سیمه ییز قوماندان جنرال افتخار د کراچۍ هوایي ډګر د ساتنې ډله تر یرغل لاندې ونیوه چې د مشرف د الوتکې ښکته کېدو ته لاره برابره کړي.

هغه وخت مشرف واکمن شو او شریف یې د «اټک کلا» په بندیخانه کې بندي کړ. ډېرو خلکو شیریني ووېشله او خوشالي یې وکړه ځکه چې شریف په خلکو کې محبوبیت نه لاره. کله مې چې پلار خبرونه واورېدل له سترګو یې اوښکې وبهېدې. هغه فکر کاوه چې په نظامي زورواکي سره زموږ کار جوړ دی. شریف چې په خیانت تورن و د ملګرو په همکارۍ یې د سعودي په شاهي کورنۍ کې



نجات پیداکړ او هلته ووېستل شو.

مشرف زموږ څلورم نظامي حاکم و، د نورو زورواکو په څېر ده هم په ټلویزیون کې ملت ته په خطاب کې وویل:

- زما ګرانو وطنوالو!

د شریف له بد ویلو او نیوکو سره یې خپلې خبرې اوږدې کړې ویې ویل چې د هغه په حکومت کې پاکستان خپل عزت او احترام له لاسه ورکړی و. ژمنه یې وکړه چې فساد به له منځه وړي او هغه جنایت کاران به چې ملي پانګه چور کوي ونیسي. هغه قول ورکړ چې خپله به هم مالیه ورکوي. زیاته یې کړه چې د لنډ مهال له پاره به په هېواد واکمني وکړي خو هېچا یې هم په خبرو باور ونه کړ. جنرال ضیاء هم خلکو ته قول ورکړی و چې یوازې نوي ورځې به واکمن وي خو له یوولسو کلونو ډېر حکومت یې وکړ تر دې چې په یوه هوایي پېښه کې ووژل شو.

پلار مې راته وویل چې دا هماغه پخوانۍ کیسه ده په واقعیت کې حقیقت همدا و. مشرف قول ورکړ چې پخوانۍ فیوډال نظام به ختموي چې له مخې یې ټول هېواد د څو کورنیو په لاس کې و، ویل یې چې په سیاسي چارو کې به ځوانانو ته برخه ورکړي. په حقیقت کې د ده دولت هم له هماغو پخوانیو څېرو ډک و. د ده په واکمنۍ کې یو ځل بیا هېواد په یوه نړیوال تور پسه بدل شو. امریکایانو یو کال مخکې زموږ د هستوي آزموینو د ترسره کولو له پاره مرستې ځنډولې وې خو اوس یې لې او ډېر زموږ ټول هېواد تحریم کړ.

د داسې تاریخ له لرلو سره فکر کوی شئ چې ولې د دې سیمې ډېرو خلکو هیله لرله چې سوات دې د پاکستان برخه نه وي. سره له دې چې هر کال به د سوات د اداره کولو لپاره د پاکستان حکومت د دولت یو استازی را لېږه. بشپړ هماغه ډول کار چې انګرېزانو به د استعمار په وخت کې کاوه. زما په نظر به دغه دولتي مامورین زموږ ایالت ته د دې له پاره راتلل چې بدایه شي او بیا به بېرته خپل کور ته تلل. هغوی د سوات له پرمختګ سره هېڅ مینه نه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره مالي زموږ د خلکو عادت ګرځېدلی، دوی په والي نیوکه نه کوي. که څوک والي وځوروي، کېدای شي ټوله کورنۍ یې له سوات څخه وشړل شي. نو له همدې امله کله به چې له پاکستان نه حکومتي مامور راغئ هغه به نوی رییس و او هېڅا به د پوښتنې حق نه لاره. سپین ږیري او مشران به په پخواني والي پسې خپه و، په زړه تنګی به یې ویل:

- غرونه تر اوسه هم له ونو ډک و. په هغې دوران کې مو په هرو پنځو کیلومترو کې یو ښوونځی لاره او والي به خپله د خلکو د ستونزې د اواري او پوښتنې له پاره راته.

د سفینې له پېښې وروسته مې له ځانه سره ژمنه وکړه چې له دې وروسته به له هېڅ ملګرې سره بد چلند نه کوم. پلار مې تل وایي چې باید له ملګرو سره سم چلند وشي. پلار مې پوهنتون ته د تلو په وخت کې هېڅ پیسې نه لرلې چې خواړه او یا کتاب پرې واخلي، خو هغه وخت یې ډېرو ملګرو مرسته ورسره کړې وه چې ده یې هم هېڅ کله مرستې هېرې نه کړې.

زه درې نژدې خورلنې لرم: سفینه چې زموږ په سیمه کې ده، سنبل په کلي او منیبه په ښوونځي کې.

هغه وخت چې له منیبې سره مې په یوه سیمه کې ژوند کاوه، هغه په لومړني ښوونځي کې زما تر ټولو ښه ملګرې شوې وه. هغې ته مې قناعت ورکړی و چې زموږ ښوونځي ته راشي. هغه هوښیاره نجلۍ ده سره له دې چې کله به مو د یوې بلې په سر، سر اېښوده په ځانګړې توګه هغه وخت چې د ښوونځي د لوبو ځای ته تلو. هغه په یوه لویه کورنۍ کې زېږېدلې ده، درې خویندې او څلور ورونه لري. زه ورته د مشرې خور په سترګه ګورم سره له دې چې له ما شپږ میاشتې وړه ده. موږ له یوې بلې هېڅ راز نه پټوو او همدا راز د یوې بلې راز نورو ته نه وایو. د هغې زړه نه غواړي چې زه له نورو نجونو سره خبرې وکړم هغه وایي، موږ باید د بد اخلاقه کسانو چلند ته فکر وي دا هر وخت وایې:

- زه څلور ورونه لرم، که یوه وړه تېروتنه هم وکړم، هغوی به بیا ښوونځي ته د تلو



اجازه رانه کړي.

زما به زړه نه غوښتل چې پلار او مور زما په اړه ناهیلي شي له همدې امله مې له ټولو سره مرسته کوله. یوه ورځ مې یوې ګاونډۍ رانه هیله وکړه چې له بازاره یو څه غنم ورته راوړم. په لاره کې یوه هلک په بایسکل ووهلم، کیڼ ولی مې دومره خوږ شو چې له سترګو مې اوښکې روانې شوې. سره له دې مې هم یو څه غنم واخیستل او ګاونډۍ ته مې یوړل. وروسته خپل کور ته راغلم.

له دې پېښې څه وخت وروسته پوه شوم چې ځان ته څه ډول باید پام وي. ټاکل شوې وه چې په ښوونځي کې د خبرو او وینا کولو یوه عمومي سیالي ترسره شي. ما او منیبې غوښتل ګډون په کې وکړو، هغه وخت مې د پلار کیسه په زړه شوه چې بابا یې څه ډول حیران کړی و ما هم د همداسې کار هیله لرله.

کله مو چې موضوع تر لاسه کړه، زه ډېره حیرانه او ډېره خوشاله وم.

موضوع داسې وه:

«ریښتیا ویل تر ټولو ښه سیاست دی»

تمرین داسې و چې سهار به په لوړ آواز او په ډله ییزه توګه څو شعرونه وایو، له موږ یوې مشرې نجلۍ فاطمې هم په دې سیالۍ کې ګډون وکړ چې یوه ښه وینا کوونکې وه. هغه ښکلې وه او د ژوند په اړه یې خبرې کولې. هغې کولای شول په خپل د نفس باور لرلو په مټ د سلګونو خلکو په مخکې خبرې وکړي او هغوی به هم په ښه ډول ورته غوږ و. ما او منیبې هیله لرله چې د هغې په څېر شو.

زموږ په فرهنګ کې د خبرو متن هر وخت د پلارونو، ترونو او یا هم ښوونکو له خوا لیکل کېږي چې ډېری وخت په انګلیسي او یا اردو ژبه وي او زموږ په خپله سیمه ییزه پښتو ژبه نه لیکل کېږي. ما فکر کاوه چې که په انګلیسي خبرې وکړم هوښیاره به معلومه شم خو سخته تېروتلې وم. دا چې په کومه ژبه خبرې وکړو مهمه نه ده، مهمه دا ده چې څه وایو او کومې کلمې کاروو.

د منیبې د خبرو متن د دې مشر ورور لیکلی و. هغې د علامه اقبال ښکلي شعرونه ویل. پلار مې ما ته د خبرو متن ولیکه. د متن یوه برخه دا ډول وه: «که

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړئ په ناسمه لاره ښه کار ترسره کړئ، نو ناسم کار مو کړی. له بلې خوا، که په سمه لاره ناسم کار ترسره کړئ بیا مو هم ناسم کار کړی.» د لېنکلن په یوه جمله یې دا متن پای ته رسولی و: «که ماتې وخورئ تر هغې ډېره خوښوونکې ده چې په چل او فریب سره بریالي شئ.»

د سیالۍ په ورځ یوازې نهه یا لس کسان حاضر و. منیبې په ښه ډول خبرې وکړې، هغه ډېره آرامه وه، خبرو یې ډېر د شاعري او ښه احساس رنګ او بوی لاره، سره له دې چې زما خبرو خلکو ته ښه پیغام ورکاوه. له خبرو کولو مخکې ډېره غوسه وم له وېرې سر تر پښو رېږدېدم. نیکه مې هم نندارې ته راغلی و پوهېدم چې د هغه زړه زما بریا غواړي، همدې موضوع ډېره غوسه کولم.

هغه وخت را یاد شول چې پلار مې ویل له خبرو کولو مخکې باید اوږده ساه وباسو، وروسته مې فکر شو چې ټولو سترګې ماته نیولې دي نو په بیړه او مینه مې پیل وکړ. په پای کې مې د لېنکلن جمله وویله پلار ته مې پام شو چې په موسکا یې راته کتل.

په پای کې کله یې چې پایلې اعلان کړې، منیبې سیالۍ ګټلې وه او زه دویمه وم. خو مهمه نه وه. لېنکلین همدا راز په لیک کې د ښوونکي زوی ته لیکلي و:

«هغې ته وواياست کله چې ماته وخوري خپل وقار څه ډول وساتي او له هغې پند واخلي.»

زه هر وخت په ټولګي کې لومړۍ نومره کېدم. خو څه وخت وروسته پوه شوم چې که درې او یا څلور ځله بریالۍ شې نو له هغې وروسته به بریا له هڅې او کوشش پرته ترلاسه نه کړې او همدارنګه کله هم دا ښه وي چې په ځان تکیه ولرئ. له هغې وروسته به مې د خبرو له پاره خپله متن لیکه او د اداء کولو طریقه مې یې هم بدله کړه، د دې په ځای کې د پاڼې له مخې وویل شي ټولې کلمې به مې له زړه کولې.



# د کثافاتو غر او ماشومان

کله چې د خوشال ښوونځي د زده کوونکو شمېر ډېر شو، موږ دویم ځلي ښوونځی بل ځای ته یووړ او یو ټلویزیون مو هم واخیست. په ټلویزیون کې مې د خوښې پروګرام «شاکا لاکا بوم بوم»[i] و او د هندي ټلویزیون د ماشومانو یوه خپرونه «سانجو» وه چې یو جادویي پنسل یې لاره. هغه به چې هر څه نقاشي کول، واقعي کېدل به. که به یې کومه سبزي یا پولیس رسامي کړ، سمدلاسه به راڅرګند شو. کله به یې مار رسم کړ چې بېرته به یې پاک کړ ورک به شو. هغې به د خپل پنسل په واسطه له خلکو سره مرسته کوله او آن چې خپله کورنۍ یې له تباه کوونکو وژغورله او ما به په دنیا کې تر هر څه ډېر د هغې پنسل د لرلو هیله کوله.

د شپې په وخت به مې دعا کوله: «خدایه، ماته د سانجو پنسل راکړه، هېچا ته هم نه وایم. یوازې هغه زما په الماری کې راته کېږده. په هغې پنسل به ټول خلک خوشاله کړم.»

همدا چې دعا به مې خلاصه کړه، لاړم الماری به مې وکتله. خو هلته مې هېڅ وخت هم پنسل ونه لید. که مې پنسل تر لاسه کړی وای، پوهېدم چې لومړی به مې کوم کار پرې کاوه. زموږ د نوي کور په سرک یوه تشه نومره ځمکه وه چې خلکو به هلته خپلې خځلې «کثافات» اچول. په سوات کې د خځلو ټولولو کومه اداره نه شته چې هغه ځای ډېر ژر د خځلو په یوه لویه غونډۍ بدل شو. زه به هېڅلکه هم هغې ځای ته نژدې نه ورتلم ځکه چې هلته به ډېر بد بوی لګېده. کله به مو څو موږکان چې یوه خوا بله خوا به ګرځېدل او کېاخان چې زموږ په سر به ګرځېدل، لیدل.

[i] Shaka Laka Boom Boom

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ چې ورونه مې په کور کې نه و، مور مې رانه وغوښتل د کچالو پوستکي او څه نورې خځلې وباسم. ما مې پوزه پټه کړې وه د خځلو ډېران ته ورنژدې شوم، مچان مې له ځان څخه شړل، ځمکې ته مې پام کاوه چې بوټونه مې چټل نه شي. کله مې چې غوښتل خځلې په ډېران وغورځوم، هلته مې یو خوځېدونکی شی ولید، له وېرې سمدلاسه پورته شوم. زما په عمر یوه نجلۍ وه. ګډوډ وېښتان یې و، مخ یې هم ټول زخم زخم و. زما له نظره هغې چټلې ښځې (شیشکې) ته ورته وه چې مور ته به یې د دې له پاره کیسه کوله چې حمام ته لاړ شو او ځان ومینځو.

له نجلۍ سره یوه لویه بوجۍ وه چې د خځلو توکي به یې په کې ېښول. کوټي او د بېړیو سرونه یوې خواته او کاغذونه به یې بلې خواته اېښودل. لږ ترې لرې څو هلکان و چې د مقناطیس په واسطه یې چې په یوه طناب یې ورته تړلی و اوسپنې راټولولې. زړه مې غوښتل له هلکانو سره خبرې وکړم خو ډېره وېرېدلې وم.

د هغې ورځې په مازیګر کله چې پلار له ښوونځي کور ته راغئ، د هغې هلکانو په اړه مې چې خځلې یې ټولولې خبرې ورسره وکړې، هیله مې ترې وکړه چې هلته راسره لاړ شي او هغوی له نژدې وویني. پلار مې هڅه وکړه خبرې ورسره وکړي خو هغوی وتښتېدل. پلار مې کیسه راته وکړه چې دا هلکان خځلې ټولوي او بیا یې په ځینو پلورنځیو په ډېره ارزانه بیه پلوري چې هغه پلورنځی بیا له دې ډېره ګټه اخلي. کله چې بېرته راتلو پلار ته مې پام شو چې ژړل یې.

هغه وخت مې له پلاره هیله وکړه:

- پلاره، هغوی وړیا په ښوونځي کې شامل کړه.

پلار مې وخندل. ما او مور مې تر دې وړاندې هم دې ته اړ کړی و چې یوه اندازه نجونې په وړیا توګه په ښوونځي کې شاملې کړي.

سره له دې چې مور مې زده کړې نه لرلې، خو د عمل ښځه وه په داسې حال کې چې پلار به مې ډېرې خبرې کولې. دې به هر وخت له خلکو سره مرسته



کوله، کله کله به پلار په غوسه کېده، پلار به د غرمنۍ په وخت کې کور ته راتلو او چیغې به یې وهلې:

- تورپېکۍ زه راغلم!

خو مور به بهر وه او ډوډۍ به یې نه وه ورته تیاره کړې. مور به یا د خپل کار له پاره روغتون ته تله او یا به یې له کومې بلې کورنۍ سره مرسته کوله. کله کله به د «چینې بازار» ته د کالیو د اخیستو له پاره هم تله.

په هره سیمه کې به مو چې کور ونیو، مور به کور له مېلمنو ډک کړی و. ما مې خپله کوټه د خپل ماما له لور انیسې سره چې د ښوونځي د زده کړې له پاره له کلي راغلې وه او شهناز چې یو وخت یې مور سلطانې زموږ په کور کې کار کاوه شریکه کړې وه. شهناز او خور یې د خپل پلار له مړینې وروسته خځلې ټولولې ځکه چې ډېر بې وزله و. یو ورور یې عصبي ناروغي لرله او هر وخت به یې عجیبه کارونه کول، د بېلګې په توګه د دوی کالي به یې سوزول او هغه برقي پکه چې موږ ورکړې وه پلورلې وه. سلطانه هم ډېره ژر غوسه کېده له همدې امله مې مور نه غوښتل هغه زموږ په کور کې کار وکړي. خو پلار مې د دوی د مرستې له پاره شهناز او ورور یې ښوونځي ته را وستل. شهناز هېڅ کله هم ښوونځي ته نه وه تللې. سره له دې چې هغه له مانه دوه کاله مشره وه خو بیا هم له ما دوه ټولګي ټیټه شامله شوه. له دې وروسته یې له موږ سره ژوند کاوه او ما کولای شول مرسته ورسره وکړم.

همدا راز نوریه د «خاور» لور چې له مور سره به یې د مینځلو او کور په پاکولو کې مرسته کوله، آلیشپه د خالدې لور وه. خالدې به له مور سره په پخلي کې مرسته کوله او زموږ په کور کې یې ژوند کاوه. خالده په یوه بوډا پلورل شوې وه چې هر وخت به یې وهله او ډېبوله چې په پای کې خالده له خپلو دریو لورانو سره د خپل خاوند له کوره تښتي. خپلې کورنۍ یې هم کور ته پرې نه ښوده ځکه د دې ځای خلک هغه ښځه چې د خاوند له کوره وتښتي خپل شرم بولي. لورانو یې هم یو څه وخت خځلې ټولولې څو د خپل ورځني ژوند لګښتونه پوره کړي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د ژوند کیسې تر هغې ناولونو چې ما به لوستل ډېرې وېروونکې وې.

ښوونځی ډېر پراخه شوی و، درې ودانۍ یې لرلې. اصلي ودانۍ یې په لنډې کڅ کې وه چې لومړنۍ ښوونځی و، د نجونو یو منځنی ښوونځی په یحی کوڅه کې و او د بودا له پالنځې سره نژدې د هلکانو د یو لوی انګړ لرونکی منځنی ښوونځی چې تل به له سرو ګلونو ډک و، پروت و.

په ټولیزه توګه زموږ په ښوونځیو کې ۸۰۰ زده کوونکو زده کړه کوله، سره له دې چې ښوونځي مو دومره ډېره ګټه نه لرله خو بیا هم پلار ۱۰۰ کسان وړیا په کې شامل کړي و. د دې کسانو له ډلې یو هم د شرافت علي زوی و چې شرافت علي د پلار د پوهنتون په دوره کې مرسته ورسره کړې وه. شرافت علي او پلار مې د کلي د اوسېدو په وخت کې له یو بل سره کلکه ملګري لرله. شرافت د برېښنا په شرکت کې کار کاوه هر وخت به یې چې وس کېده پلار ته به یې یو څه روپۍ ورکړې. پلار مې له دې امله چې وکولای شي د شرافت علي مینه او مهرباني جبران کړي خوشاله و.

زموږ په ټولګي کې د کوثر په نوم یوه نجلۍ وه چې پلار یې د ګلدوزۍ کار کاوه، هغه کسب چې زموږ په سیمه کې دود دی. کله به چې زموږ د ښوونځي زده کوونکي غرونو ته د سیل له پاره تلل، پوهېدم به چې دا د تلو لګښت نه شي ورکوی نو له همدې امله به مې د دې خرڅه له خپل جېبه ورکوله.

ښوونځي ته د ډېرو بې وزلو کسانو نه راوستل یوازې له دې امله نه و چې پلار به یې میاشتنۍ فیس له لاسه ورکړي. بلکې ځینو بډایه کورنیو به هغه بې وزله هلکان چې د دوی په کورونو کې به یې د پاکۍ کارونه کول ولیدل چې د دوی له اولادونو سره په یوه ټولګي کې ناست دي نو دوی به دا کار د ځان له پاره شرم باله خپل اولادونه به یې زموږ له ښوونځي څخه ویستل. مور به مې ویل د دې بې وزله هلکانو له پاره د درس زده کول چې کافي خواره نه لري سخت دي. له همدې امله به له دې ډلې ځینې د سهار چای د څښلو له پاره زموږ کور ته راتلل. پلار به مې له ټوکو ویل چې زموږ کور په یوه مېلمستون بدل شوی.



دا چې په کور کې مو کسان ډېر و، په زحمت به مو درس وایه. دا چې خپله کوټه مې لرله ډېره خوشاله وم، د کوټې له پاره مې پلار یو روک لرونکی مېز هم اخیستی و چې کار پرې وکړای شم. خو اوس مې په کوټه کې دوې نورې نجونې هم وې او ما ډېر ځای غوښت. بیا هم زه پوهېدم چې موږ ډېر نېک بخته یو، په خپل دې فکر به مې چې باید کوټه کې مې بل څوک نه وي د ګناه احساس کاوه. هغه وخت مې بیا د خځلو ټولوونکو ماشومانو په اړه فکر وکړ. د هغې نجلۍ فکر مې بیا ذهن ته لاره وکړه، له پلاره مې هیله وکړه چې هغوی هم ښوونځي ته را ولي.

پلار هڅه کوله پوه مې کړي، هغه هلکان خپلې کورنۍ ته ډوډۍ برابروي، نو که چېرې په ښوونځي کې په وړیا توګه هم شامل شي، کورنۍ به یې له لوږې مړې شي. پلار زیاته کړه چې د آزادي خان په نوم یې له یوه بډای غوښتي چې د یوه بروشور په برابرولو سره له دې هلکانو سره مرسته وکړي. په بروشور کې یې ولیکل: «آیا دغه هلکان د زده کړې حق نه لري؟»

پلار مې دا بروشور په زرګونو ګڼې چاپ کړ بیا یې په سیمه ییزو ټولنو او ښار کې توزیع کړ.

له هغې وروسته مې پلار په سوات کې په یوه پېژندل شوې څېره بدل شو. سره له دې چې هغه یو خان او بډای نه و خو بیا یې هم خلکو پیروي کړله. دوی پوهېدل چې پلار مې په سیمینارونو او ورکشاپونو کې هر وخت مهمې خبرې وړاندې کوي او بله دا چې په دولتي مامورینو او آن پوځ به یې چې د هېواد اداره یې په لاس کې وه نیوکه کوله او له دوی به یې هېڅ وېره هم نه لرله. پوځ هم دی په ښه توګه پېژانده، د پلار ملګرو به ویل چې د سیمې قوماندان به دی په ښکاره توګه «خراب کاره» باله. پلار نه پوهېده چې له دې نوم څخه د قوماندانۍ مطلب څه دی خو زموږ په هېواد کې چې پوځ ډېر واک لري ښه نښه نه ده.

هغه له خیالي ښوونځیو ډېر نفرت کاوه. قدرت او نفوذ لرونکو کسانو به په لرې پرتو سیمو کې د ښوونځي د جوړولو له پاره له دولت څخه پیسې اخیستې خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ښوونځیو کې هېڅ وخت هم کوم شاګرد ونه لیدل شو. دوی به په بدل کې خپل ځان او یا یې حیواناتو ته ودانۍ پرې جوړولې. داسې کسان هم و چې د خپلې معلمۍ معاش به یې اخیست خو یوه ورځ یې هم درس ور نه کړ. پر فساد او ناوړه حکومت سربېره د پلار اندېښنه په هغې ورځو کې د ژوندانه چاپېریال ته وه. مېنګوره په چټکۍ سره پراخه کېده چې لږ او ډېر ۱۷۵۰۰۰ نفوس یې لاره. نو د همدې ډېر نفوس له امله د ډېرو کورونو دودکشونه او نقلیه وسایلو د ښار تازه هوا ډېره چټله کړې وه. د غرونو او غونډیو ښکلې ونې د تختو جوړولو له پاره وهل کېدې. پلار به ویل چې د ښار یوازې نیم نفوس سمې او پاکې اوبه لري. زموږ په څېر ډېرو خلکو د فضله اوبو د خالي کولو ځای نه لاره. نو له همدې امله یې له ملګرو سره د «نړیوالې سولې ټولنه» جوړه کړه چې د نوم پر خلاف یې سیمه ییزې ستونزې او مسئلې په کې اوارېدې. دغه نوم پېغور ډوله و چې ډېری وخت به پلار ورته خندل خو د ټولنې هدف ډېر جدي و: «د سوات د سیمې د ژوندانه د چاپېریال د پاکۍ ساتل او د سیمې د خلکو تر منځ د زده کړې او سولې پراخه کېدل و.»

پلار مې له شعر لیکلو سره ډېره مینه لرله. شعرونه به یې کله کله د مینې په اړه و، خو ډېری وخت به یې د بحث کوونکو موضوعاتو په اړه لیکل، لکه ناموسي وژنې او د ښځو حقوق. یو ځل په یوه مشاعره کې د ګډون له پاره، د افغانستان پلازمینې کابل ته لاړ چې هلته په یوه هوټل کې جوړه شوې وه. په مشاعره کې یې د سولې په اړه شعر ویلی و، د مشاعرې په پای کې یې شعر تر ټولو اغېزمن شعر بلل شوی و. ځینې ګډونوالو ترې غوښتي و چې د شعر ټول بندونه یې دویم ځلي ووایي. نیکه به مې هم هر وخت ویاړ پرې کاوه او هر وخت به یې ویل:

- زویه، ته به په آسمان کې د علم او پوهې ستوری شې.

ما به هم ویاړ پرې کاوه، خو نور مې ډېر نه لیده. موږ ته به هر وخت جامې مور اخیستې او که به ناروغ شوو مور به روغتون ته بېولو. سره له دې چې زموږ په کلیوالي فرهنګ کې یوې ښځې ته لازمه نه ده چې داسې کارونه ترسره کړي. د



پلار یو وراره به مې ورسره تلو. کله به مې چې پلار په کور کې و، د لمر لوېدو په وخت به یې له ملګرو سره په بام کېناست او د سیاست په اړه به یې بحث کاوه. په هغې ورځو کې به یې یوازې یوه موضوع تر خبرو لاندې نیوله چې هغه د سپټمبر یوولسمه وه. دغې پېښې کېدای شوای ټوله نړۍ بدله کړې وای خو موږ د هر څه په مرکز کې واقع کېدو. کله چې په نړیوال سوداګریز مرکز یرغل وشو، د القاعدې مشر اسامه بن لادن په کندهار کې اوسېده. امریکایانو یې د نیولو له پاره افغانستان ته په زرګونو سرتېري لېږلي و څو د طالبانو نظام چې د اسامه ملاتړ یې کاوه را وغورځوي.

تر دې مهاله موږ هم په پاکستان کې تر یوه زورواکي حکومت لاندې و، خو امریکا د ۱۹۸۰ م کال په څېر چې په افغانستان کې یې له روسانو سره د جګړې له پاره موږ ته اړتیا لرله، دویم ځلي بیا موږ ته اړه شوه. په بشپړه توګه هغه ډول چې د روسانو له خوا په افغانستان د یرغل په ترڅ کې یې ضیاء را وپرځاوه. د سپټمبر پېښې هم د جنرال مشرف نړیوالې منفورې څېرې ته بدلون ورکړ. ناڅاپه د جورج بوش له خوا سپینې ماڼۍ او د توني بلېیر له خوا هم ډاونېنګ سټرېټ ته وغوښتل شو. له دې سره یوه لویه ستونزه هم شته وه. په حقیقت کې زموږ اطلاعاتي سازمان (آی اېس آی) طالبان رامنځ ته کړي و. د دې سازمان ډېرو غړو له طالبانو سره نژدې اړیکې لرلې او له کلونو یې هغوی پېژندل. آن دا چې له هغوی سره یې عقیده هم یو ډول وه. د آی اېس آی مشر کرنل امام به د مبالغې په توګه ویل چې نوي زره ۹۰۰۰۰ مبارزو طالبانو ته یې زده کړې ورکړې دي. له همدې امله د طالبانو د رژیم په وخت کې په هرات کې د پاکستان عمومي کونسل شو.

موږ د طالبانو پلوي نه کوله، ځکه اورېدل مو چې دوی د نجونو ښوونځي ړنګ کړي او د بودا ډېرو مجسمو ته یې انفجار ورکړی. موږ د بودا ډېرې مجسمې لرلې او ویاړ مو پرې کاوه. ډېرو پښتنو نه غوښتل چې افغانستان بمبار شي او یا هم پاکستان له امریکا سره مرسته وکړي او آن د پاکستان له هوا څخه هم اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنه کړي. موږ نه پوهېدو چې جنرال مشرف امریکایانو ته زموږ له هوایي ډګرونو د استفادې اجازه هم ورکوي.

زموږ ځینې مذهبي ډلو خو اسامه بن لادن یو اتل باله. په بازار کې مو یې لوی لوی تصویرونه لیدل چې په یوه سپین آس سپور یې تصویرونه د شیرینیو په ښکلو کارتنونو چاپ شوي و. دغو روحانیونو به ویل چې د سپټمبر د یوولسم پېښه له امریکایانو څخه د مسلمانانو غچ اخیستل و. خو دې حقیقت ته یې پام نه کاوه چې په سوداګریز مرکز کې را ټول کسان بې ګناه و او د امریکا له سیاست سره یې هېڅ اړیکې نه لرلې، ځکه چې سپېڅلی قران عظیم الشان په صریح ډول وایي چې وژل ګناه ده.

زموږ خلک د هرې موضوع تر شا یوه توطیه لټوي، ډېرو به ویل چې دا یرغل د یهودیانو له خوا څخه و، څو امریکا په مسلمانانو د یرغل له پاره یوه پلمه ولري. ځینو ورځپاڼو دا کیسې چې په هغې ورځ په سوداګریز مرکز کې هېڅ یهودي نه و خپرولې خو پلار مې ویل چې دا ټولې کیسې چټیات دي.

مشرف خلکو ته وویل چې له امریکایانو سره یې له مرستې پرته بله چاره نه لرله. هغوی پاکستان ته ویلي و: «یا تروریستان یاست او یا هم زموږ ملاتړي.» ویل یې چې ګوابښ یې ورته کړی، که مرسته ورسره ونه کړو زموږ هېواد به بمبار کړي. خو په بشپړه توګه مو مرسته ورسره نه کوله ځکه چې زموږ اطلاعاتي سازمان تر اوسه هم د یو شمېر طالبانو په مجهز کولو لګیا و او دوی ته یې د دوی له رهبرانو سره یو ځای په کوټه کې د پټېدو ځای ورکاوه. هغوی آن امریکایان په دې باوري کړل، اجازه ورکړي د افغانستان له شمال څخه خپل په سلګونو جنګیالي را وباسي. د آی ایس آی مشر له امریکا د جګړې د درولو غوښتنه وکړه، څو هغه کندهار ته لاړ شي او د طالبانو له مشر ملاعمر څخه غوښتنه وکړي چې بن لادن هغوی ته وسپاري او په بدل کې به یې دوی له طالبانو سره مرسته وکړي.

زموږ په ایالت کې صوفي محمد چې د روسانو په وړاندې یې مبارزه کړې وه د امریکایانو په ضد یې فتوا صادره کړه. ده په ملکنډ کې چې هلته زموږ نیکونه د



انګرېزانو په وړاندې جنګېدلي و یوه لویه غونډه جوړه کړه. د پاکستان دولت یې مخه ونه نیوه. زموږ د ایالت مشر خلکو ته په بیانیه کې وویل چې ټول په خپلواکه توګه کولای شي په افغانستان کې د ناټو په ضد وجنګېږي. له سوات څخه د ۱۲۰۰۰ کسانو په شاوخوا کې د طالبانو مرستې ته ورغلل چې ډېری یې هېڅ کله هم بېرته رانغلل.

د پلار د ملګري ورور او اوښې وحید زمان هم له دې ډلې و چې افغانستان ته لاړل. مېرمنې او اولادونه یې تر اوسه د بېرته راتلو لارې څاري. افغانستان زموږ له درې څخه تر سل میله لږ واټن لري خو افغانستان ته د تلو له پاره باید له باجوړ څخه تېر شو چې د افغانستان او پاکستان د سیمې تر منځ یوه قبایلي سیمه ده.

بن لادن او ملګري یې د افغانستان په ختیز کې د سپین غره تورې بوړې ته تښتېدلي وو چې دوی په دې غره کې له روسانو سره د مبارزې په وخت کې یو تونل ویستلی و. هغوی له دې ځایه د تونل له لارې د کورمې سیمې ته چې یوه قبایلي سیمه ده وتښتېدل. یو څه ته چې زموږ پام نه شو دا و چې بن لادن سوات ته راغئ او هلته یې یو کال په یوه غرني کلي کې ژوند وکړ. ده د پښتونولۍ د مېلمه پالنې له قانون څخه بده ګټه اخیستې وه.

ټول پوهېدل چې مشرف لوبه کوي. ده له یوې خوا له جهادیانو یا «ستراتیژیکو پانګو» سره چې آی ایس آی به دوی په همدې نامه یادول مرسته کوله او له بلې خوا یې له امریکا پیسې اخیستې. امریکا ویل چې پاکستان ته یې په بیلیونونو ډالره پیسې ورکړې دي چې له دوی سره د القاعدې په وړاندې عملیاتو کې مرسته وکړي خو خلکو د دې پیسو په سلو کې یوه برخه هم ونه لیدې. مشرف د ځان له پاره د اسلام آباد د راول سېند په غاړه یوه لویه ودانۍ جوړه کړه او یوه ودانۍ یې په لندن کې واخیسته. یوه مهم امریکایي چارواکي هزارګاهي شکایت وکړ چې موږ خپله دنده په سمه توګه نه ترسره کوو چې له دې سره سم یو کس «خالد شیخ محمد» په راولپنډۍ کې د پوځ د مشر له کور څخه یو میل وړاندې په یوه کور کې چې د سپټمبر یوولسم د پېښې تنظیموونکی و، ونیول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر بوش له همدې امله بیا هم جنرال مشرف وستایه او دا چې مشرف یې خپل نژدې ملګری وباله امریکا ته یې د ورتلو بلنه ورکړه. پلار او ملګري یې په دې کار پرېشانه شول. دوی ویل چې تل همدا خوښوي چې په پاکستان کې له زورواکو سره اړیکه ولري.

هغه وخت چې عمر مې ډېر لږ و له سیاست سره مې مینه پیداشوه. د پلار په ګونډو به مې سر اېښی و او له ملګرو سره به مې یې خبرو ته غوږ نیوه. خو تر ټولو به مې د کور او کوڅې مسائلو ته ډېر ارزښت ورکاوه. له خپلو ملګرو سره مې د هغو ماشومانو په اړه خبرې وکړې چې خځلې یې ټولولې، که مرسته ورسره وکړای شم. خو هېچا هم له دوی سره مرستې ته زړه نه ښه کاوه دوی ویل چې دا هلکان چټل دي او کېدای شي ناروغ هم وي او بله دا چې د دوی کورنۍ نه غواړي ماشومان یې له دوی سره یو ځای ښوونځي ته لاړ شي. همدارنګه به دوی ویل، د دوی د ستونزو اوارول زموږ دنده نه ده خو ما به مخالفت کاوه او ویل به مې:

- موږ کولای شو د هغې ورځې هیله ولرو چې دولت له دوی سره مرسته وکړي. خو دولت به داسې کار ونه کړي. که زه له دوو او یا دریو دا ډول هلکانو سره مرسته وکړم او یوه بله کورنۍ هم د څو کسانو ملاتړ وکړي په پای کې موږ کولای شو له دوی ټولو سره مرسته وکړو.

زه پوهېدم چې له مشرف څخه غوښتنې ګټه نه لرله. که پلار د دا ډول ستونزې د حل کولو توان نه لرلی، نو بیا یوازې یوه لاره پاتې وه. خدای(ج) ته مې لیک لیکه:

«لویه خدایه!

زه پوهېږم چې ته هرڅه وینې، خو ډېر څه شته دي چې کله کله ستاسې له نظره لرې پاتې کېږي، په ځانګړې توګه په افغانستان کې بمبارې. خو زه فکر نه کوم چې تاسې به د خځلو ټولوونکو ماشومانو له لیدلو څخه خوشاله شئ.

لویه خدایه!



ماته اتلولي او ځواک راکړه، ما کمال ته ورسوه ځکه چې زړه مې غواړي نړۍ کمال ته ورسوم.

ملاله»

ستونزه یوازې دا وه چې نه پوهېدم دا لیک خدای(ج) ته څنګه ورسوم. فکر مې کاوه چې باید د ځمکې تل ته یې ورسوم، نو له همدې امله مې لومړی د باغچې په ځمکه کې خښ کړ. ناڅاپه مې فکر وکړ چې هلته خو کاغذ ورستېږي، له همدې امله مې هغه په یوه پلاستیکي کڅوړه کې کېښود. خو دې هم ګټه نه کوله. موږ عادت لرو چې سپېڅلي متنونه په پاکو اوبو کې اچوو، نو هغه مې لوله کړ، د رخت په یوه ټوټه کې مې غوټه کړ، بیا مې یې په سر یو ګل کېښود او د سوات په سیند کې مې خوشې کړ. فکر مې کاوه چې دا لیک به خامخا لوی څښتن(ج) ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مفتي مو د ښوونځي د تړلو هڅه وکړه

د خوشال ښوونځي د سرک مخامخ چې هلته زېږېدلې وم، د «غلام الله» په نوم د لوړ قد لرونکي ملا کور و. ملا ځان مفتي باله چې د اسلامي قوانینو د مامور او اسلامي څېړونکي به معنی دی. سره له دې چې پلار په پرېشانۍ سره وایي چې هر څوک کولای شي د یوې لنګوټې په تړلو سره ځان «مولانا» او «مفتي» وبولي. ښوونځي مو په سمه توګه فعالیت کاوه، پلار هوډ لاره چې د هلکانو په منځني ښوونځي کې یوه معلومات خونه «ریسیپشن» او یوه کړه لاره جوړه کړي. د لومړي ځل له پاره مور وتوانېده ښې جامې واخلي او کله به هم د ډوډۍ خوړلو له پاره بهر ته تلو، همغه ډول چې پخوا یې هیله لرله خو مفتي دا ټول کارونه څارل. ده به هره ورځ نجونې لیدلې چې زموږ ښوونځي ته راځي چې له امله به یې غوسه کېده، په ځانګړې توګه دا چې ځینې نجونې ځوانۍ ته رسېدلې وې. پلار یوه ورځ وویل: «مولانا بد فکر لري.»

پلار یې په مطلب پوه شوی و.

مفتي د ودانۍ د مالک مېرمنې ته ورغئ او ورته یې وویل:

- ضیاءالدین ستاسې په ودانۍ کې یو حرام ښوونځی پیل کړی. چې د سیمې له پاره شرم دی. دغه نجونې باید پټې وي.

زیاته یې کړه:

- له ضیاءالدین مو ودانۍ واخلئ او زما مدرسې ته یې په اجاره راکړئ. که دا کار وکړئ پیسې یې همدا اوس درکوم او په هغې دنیا به یې هم ثواب درکړل شي.

هغې ښځې یې خبره ونه منله او پلار ته مې یې په پټه خپل زوی را ولېږه.

پلار ته یې وویل:

- دغه مولانا غواړي ستاسې په ضد کوم کار وکړي. موږ خپل کور نه ورکوو خو تاسې هم پام کوئ.



پلار چې هغه وخت ډېر په غوسه و ویې ویل:

- هغه ډاکټر چې بشپړه پوهه ونه لري د انسان د ژوند له پاره ګواښ دی او هغه ملا چې زده کړې ونه لري د انسان د ایمان او عقیدې له پاره ګواښ دی.

زه ویاړم چې هېواد مو یو اسلامي ملک دی خو موږ یې تر اوسه په حقیقت نه یو پوه شوي. قرآن موږ ته راښیي چې صبر ولرو خو داسې ښکاري چې د صبر کلمه مو هېره کړې ده. همدارنګه فکر کېږي چې اسلام یعنې چې نارینه جهاد وکړي او ښځې په کورونو کې کښېني او چادرۍ په سر کړي.

زموږ د هېواد بنسټ ایښودونکي جناح غوښتل چې د هند د مسلمانانو حقوق په رسمیت وپېژندل شي، خو د هغې ځای ډېر خلک «هندو مذهب» و. له همدې امله په ۱۹۴۷ م کال ووېشل شو چې یو خپلواک اسلامي ایالت جوړ شو خو دا د وینو د بهېدو یو پیل و. په میلیونونو مسلمانان له هند څخه تېر شول او هندوانو په بله لاره سفر وکړ. لږ او ډېر دوه میلیونه یې له سرحد څخه د اوښتو په وخت کې ووژل شول. ډېری په هغې رېل کې چې ډهلي او لاهور ته روان و په عامه توګه ووژل شول او رېل په وینو لړلو جسدونو ډک شو.

په دې اړو دوړ کې کله مې چې بابا ډهلي ته د زده کړو له پاره روان و، رېل یې د هندوانو له یرغل سره مخ شوی و او نیکه مې مرګ ډېر نژدې په خپلو سترګو لیدلی و. په اوس وخت کې زموږ هېواد یو سل او اتیا میلیونه نفوس لري چې له ۹٦ سلنه ډېر یې مسلمانان دي، له دوه میلیونه ډېر مسیحیان او له دوو میلیونو ډېر احمدیان هم ځان مسلمان بولي خو دولت یې خبره نه مني، دلته ژوند کوي.

جناح د خپلې ځوانۍ په وخت کې لندن کې ژوند کړی او د وکالت درس یې ویلی و. ده د یوه داسې هېواد هیله لرله چې هلته سوله او وروروولي واکمنه وي. زموږ خلک یې مشهورې خبرې چې له خپلواکۍ څو ورځې مخکې یې ویلې وې رانقلوي: «په پاکستان کې خپلواکي لرئ چې مسجد، معبد او هر بل سپېڅلي ځای ته لاړ شئ. تاسې کولای شئ له هر مذهب، هرې طبقې او هرې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه وئ چې دا مو تر هېواد پورې هېڅ اړه نه لري.»

پلار مې وایې:

- ستونزه یوازې دا وه چې جناح د یوه هېواد نه بلکې د یوې ټوټې ځمکې په اړه خبرې کولې.

د پاکستان له جوړېدو یو کال وروسته، جناح د سل په ناروغۍ د اخته کېدو له امله مړ شو چې تر اوسه جنګ ادامه لري. موږ د هندوستان په ضد درې جګړې کړې دي او په خپل هېواد کې مو هم یو ځل بې کچې وژنې شوې دي.

موږ مسلمانان په دوو ډلو سني او شیعه باندې وېشل کېږو. اصلي عقیدې او قران عظیم الشان په دې دوو ډلو کې ګډ دي او یوازې په دې موضوع کې اختلاف لري چې په اوومه مېلادي پېړۍ کې د رسول الله(ص) له رحلت وروسته څوک د دین رهبر شوی. څوک چې هغه وخت وټاکل شو د حضرت محمد(ص) نژدې ملګری او سلاکار ابوبکر صدیق(رض) و. کله چې حضرت محمد ص د رحلت په بستر پروت و ابوبکر یې د لمونځ کوونکو د لاربښوونې له پاره وټاکه. «سني» یو عربي توری دی د پیغمبر(ص) له سنتو څخه د پیروۍ په معنی دی خو یوې بلې ډلې ادعا لرله چې د دین د مشرۍ له پاره باید د رسول الله(ص) له کورنۍ څخه یو کس وټاکل شي. هغوی ویل چې علي(رض) چې د رسول الله(ص) د تره زوی او زوم دی باید وټاکل شي، دغه ډله په «شیعه» مشهوره ده. شیعه د «شیعت علي» یا د علي(رض) د پلویانو په معنی ده.

شیعه مذهبي ډله هر کال د محرم په میاشت کې د رسول الله(ص) د لمسي حسین(رض) د وژلو له امله چې د ٦٨٠ م کال د کربلا په جګړه کې شهید شوی غم (عزاداري) کوي. د پلار یو ملګری مې شیعه دی، هر وخت چې د حسین(رض) د وژلو کیسه کوي له سترګو یې اوښکې بهېږي. هغه دومره اغېزمن کېږي، فکر به وکړې دا پېښه ۱۳۰۰ کاله پخوا نه بلکې تېره شپه پېښه شوې ده.

جناح زموږ د هېواد بنسټ اېښودونکی شیعه مذهبه و. د بې نظیر بوټو مور هم یوه ایرانۍ شیعه مذهبه وه.



زموږ ډېری پاکستانیان یعنې اتیا په سلو کې سني دي خو بیا په څو ډلو وېشل کېږي.

لویه ډله یې برېلوي دي چې نوم یې په نولسمه پېړۍ کې له باریلي مدرسې څخه چې د هندوستان په اوتار پرداش ایالت کې وه اخیستی دی.

ورپسې دېوبندي ډله ده. دا ډله د نولسمې پېړۍ د یوې مدرسې په بنسټ چې د هند په اوتار پرداش کې د دېوبند په کلي کې وه نومول شوې. دغه ډله ډېره محافظه کاره ده او زموږ ډېری مدرسې دېوبندي دي.

همدا راز د اهل حدیث په نوم یوه بله د سلفیانو ډله ده دوی له عربو څخه اغېزمن دي چې له دوو مخکینیو ډلو ډېر محافظه کار دي. هغوی روحانیون او سپېڅلي ځایونه نه مني. ډېری پاکستانیان عرفاني دي د ګډا او عبادت له پاره په معبدونو کې له صوفي څخه راټولېږي. هر یو له دې ډلو نورې څانګې هم لري.

د خوشال په سرک مفتي د تبلیغیانو له ډلې څخه و. یوه دېوبندي ډله ده چې هر کال د لاهور په رېونډ کې چې د دوی پنډغالی بلل کېږي یوه لویه اجتماع جوړوي چې په دې اجتماع کې په میلیونونو کسان ګډون کوي. وروستی زورواکی جنرال ضیاء به هر وخت هلته ګډون کاوه چې د ده د دورې په وخت په ۱۹۸۰ م کال کې تبلیغیانو ډېر واک پیداکړ. د دوی ډېری امامان په پوځ کې په ډلګیو کې د وعظ له پاره په کار وګمارل شول او د پوځ افسران به د ډلې د ماموریت د ټاکلو له پاره راتلل.

یوه شپه وروسته له هغې چې مفتي د کور څښتن له موږ سره د قرارداد په لغوه کولو راضي نه کړای شو نو د سیمې څو نفوذ لرونکي کسان او پیران یې د سیمې د استازو په توګه زموږ کور ته را وستل. دوی اووه کسان و د تبلیغیانو مشران، د مسجد ساتونکی، یو پخوانی مجاهد او یو بوټ ګنډونکی ټول زموږ کور ته راغلل.

پلار مې پرېشانه ښکارېده او موږ یې په بیړه د ننه کور ته ولېږلو خو دا چې کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو وړوکی و موږ یې ټولې خبرې اورېدې.

ملا غلام الله د مسلمانانو دوو ډلو ته وویل:

- زه د عالمانو، تبلیغیانو، طالبانو او ټولو مسلمانانو په استازیتوب وایم چې ستاسې د نجونو ښوونځی یو حرام کار او مقدساتو ته سپکاوی دی نو دا ښوونځی باید وتړل شي. نجونې باید ښوونځي ته لاړې نه شي. یوه نجلۍ ډېره سپېڅلې ده باید کور کې په پرده ژوند وکړي. آن چې خدای(ج) په قرآن کې د یوې نجلۍ نوم هم نه دی یاد کړی.

پلار نور مقاومت نه لاره ځواب یې ورکړ:

په قران کریم کې ډېر ځله د مریم نوم راغلی دی. آیا مریم ښځه نه ده؟

ملا وویل:

- نه د مریمې نوم په قران کریم کې یوازې د دې له پاره راغلی چې عیسی(ع) د خدای(ج) زوی نه بلکې د مریم زوی دی.

پلار په ځواب کې ورته وویل:

- کېدای شي، زه هم دا وایم چې د مریمې نوم په قرآن کریم کې راوړل شوی دی.

مفتي غوښتل د خبرو نوبت واخلي خو پلار مې یې خبرې په کافي اندازه اورېدلې وې. نو هغه وخت یې دوی ته په خطاب کې وویل:

- کله چې زه دا ښاغلی په کوڅه کې وینم سلام ورته کوم. خو هغه یوازې سر ښوروي.

ملا په داسې حال کې چې شرمېدلی و ځمکې ته یې کتل ځکه چې په اسلام کې سلام او د بل پوښتنه کول ډېر ارزښت لري.

خو ناڅاپه یې پلار ته وویل:

- تاسې یو حرام کار اداره کوئ. له همدې امله نه غواړم چې تاسې ته سلام وکړم او یا مو سلام ته ارزښت ورکړم.

وروسته د راغلو له ډلې یوه وویل:



- ما اورېدلي و چې تاسې کافر یاست خو ستاسې په کوټه کې خو د قرآن کریم څو سپېڅلي کتابونه وینم.

پلار په داسې حال کې تر اغېزې لاندې و ځواب ورکړ:

- خامخا باید وي ځکه چې موږ مسلمانان یو.

مفتي وویل:

- ښه به دا وي چې د ښوونځي په اړه خبرې وکړو. د ښوونځي د معلومات خونې په برخه کې څو تنه نارینه دي چې نجونې د راتلو په وخت کې ویني چې دا ډېره بده ده.

پلار وویل:

- خو ښوونځی د ننوتو له پاره یوه بله لاره هم لري چې نجونې له هغې لارې ننوتی شي.

د ملا له خبرو څرګندېده چې هغه په بشپړه توګه د ښوونځي تړل غواړي. پیران هم له دې کاره خوشاله و او له کوره ووتل.

پلار دې موضوع اندېښمن کړی و. په کوم څه چې موږ پوهېدو او دی نه پوهېد دا و چې د مفتي ورېره هم په پټه زموږ ښوونځي ته راتله. له همدې امله یې څو ورځې وروسته د نجلۍ له پلار او د مفتي له ورور سره خبرې وکړې.

پلار ورته وویل:

- د ورور له لاسه دې په عذاب یو، یو څه وکړه چې له موږ لاس واخلي؟

هغه ځواب ورکړ:

- ضیاءالدینه زما په وس کې څه نشته. موږ په کور کې هم له هغه سره ستونزه لرو. هغه له موږ سره په کور کې ژوند کوي او وایي چې ښځه یې باید له ما څخه ستر ولري او زموږ ښځې هم له ده څخه په پرده کې وي. زموږ ښځې د ده د خویندو په څېر دي او د ده مېرمن هم ماته همداسې ښکاري. خو دې لېوني موږ ته له کوره جهنم جوړ کړی. ښښنه غواړم چې زه له تاسې سره مرسته نه شم کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار پوهېده چې مفتي لاس نه اخلي. د ضیاء د واک له وخته چې د اسلام په نوم یې مبارزه کوله ملایان ډېر واکمن شوي و.

جنرال مشرف له جنرال ضیاء سره لږ توپیر لاره. سره له دې چې هغه ډېری وخت یونیفورم اغوست، کله به یې هم د لویدیزوالو په څېر کمیس او پتلون نه اغوستل او ځان یې د نظامي قوماندان په ځای «اجرایي قوماندان» باله. هغه به سپي ساتل، په داسې حال کې چې مسلمانان سپي ناپاک بولي. هغه «هدایت شوی اعتدال» د ضیاء د اسلام گرایي ځای ناستی کړ. رسنۍ او ټلویزیوني چینلونه یې بېرته را منځ ته کړل او له دې وروسته ښځو هم کولای شول ویاندي وکړي.

دا امر یې هم وکړ چې هر کال دې د خپلواکۍ په ورځ د پاپ موسیقۍ کنسرت جوړ شي او د خلکو ننداري ته دې وړاندې شي. هغه داسې کارونه وکړل چې بل هېڅ بل زورواکي واکمن آن بې نظیر بوټو هم نه و کړي. مشرف هغه قانون چې که یوه ښځه د جنسي تېري ادعا کوي باید د خپلې ادعا له پاره څلور شاهدان ولري، هم له منځه یوړ.

هغه د لومړي ځل له پاره د ایالتي بانگ د مسولیت له پاره یوه ښځه وټاکله او د ده په دوران کې د لومړي ځل له پاره ښځې ساحلي ساتونکې او پیلوټانې وټاکل شوې. اعلان یې وکړ چې په کراچۍ کې به د جناح د مقبرې د ساتلو له پاره هم ښځې وگماري.

له دې سره سره پښتنو زموږ په هېواد کې چې د شمال لویدیز په سرحدي ایالت کې اوسېدل، ژوند یې له دوی سره په خورا توپیر کې و. مشرف په ۲۰۰۲ م کال کې د «مهار شوي ولسواکۍ » له پاره ټاکنې وکړې. ټاکنې ډېرې عجیبه وې ځکه چې د حزب اصلي رهبران بې نظیر بوټو او نواز شریف تر اوسه هم په تبعید کې و. زموږ په ایالت کې هماغه ډول چې موږ وایو «د ملایانو دولت» یې واک ته ورساوه. «متحده مجلس عمل» هغه ډله وه چې پنځه مذهبي ډلې په کې شاملې وې، د مسلمانو علماوو جمعیت چې دیني مدرسې او د طالبانو د زده کړې



ځایونه یې اداره کول. خلکو به له ټوکو دې ډلې ته د «ملایانو د پوځ اتحاد» وایه او ویل به یې چې دوی د مشرف د ملاتړ له پاره را پورته شوي دي. خو ډېرو خلکو یې پیروي کوله ځکه چې مذهبي پښتانه د امریکا د یرغل او له واکه د طالبانو د لرې کولو له امله ډېر په غوسه و.

زموږ سیمه د پاکستان د نورو سیمو په نسبت ډېره محافظه کاره وه. د افغانستان د جهاد په وخت کې ډېرې دیني مدرسې جوړې شوې وې چې سعودي عربستان د ډېرو مالي ملاتړ کاوه. ډېرو ځوانو کسانو زده کړې په کې وکړې ځکه چې وړیا وې. هماغه ډول چې پلار به ویل دا د پاکستان د عربي کولو پیل و.

وروسته د سپټمبر یوولسمې پېښې د خلکو په وجود کې د جگړې حس ځواکمن کړ. کله به چې له اصلي سرک څخه تېرېدو ومو لیدل چې د ودانۍ په دېولل لیکل شوي و: «د جهاد د زده کړې له پاره له موږ سره په اړیکه کې شئ.» د دې جملې تر څنگ یوه د اړیکې شمېره هم لیکل شوې وه.په هغې ورځو کې جهادي ډلې آزادې گرځېدې هر کار یې چې زړه غوښت کاوه یې. تاسې په سترگو لیدی شوای چې دوی به په ښکاره توگه مرسته ټولوله او تازه ځواک به یې اخیست. آن په شنگله کې یو مدیر و چې په ویاړ به یې ویل چې د ده ډېر لوی افتخار دا دی چې کشمیر ته یې د جهاد له پاره له نهم ټولگي څخه لس کسان لېږلي دي.

د متحده عمل مجلس، دولت د فلم او موسیقي پلورنځي بند کړل او تصمیم یې لاره چې د افغانستان د طالبانو په څېر امر بالمعروف او نهي عني المنکر له پاره هم کسان وگماري. په داسې توگه چې وکولای شي یوه ښځه او نارینه ودروي او پرې ثابت کړي چې سره خپل دي او کنه؟ له نېکه مرغه چې د هېواد سترې محکمې دا خبره ونه منله. وروسته د متحده عمل ډله په سینماوو ورغله، په فلمونو یې د نجونو د تبلیغاتو تصویرونه ځیرې کړل او یا یې هم په تور رنگ ولړل. دوی د ښځو د څېرو په څېر جوړې نانځکې چې په دوکانونو کې جامې ور اغوندي چور کړې. په هغو نارینه وو یې چې جامې یې لویدیزوالو ته ورته وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حملې کولې او د کمیس پرتوګ اغوستو ته يې اړ کول. دوی ښځې اړ ویستې چې سرونه پټ کړي. د دوی له کارونو داسې ښکارېده چې له ژوند څخه د ښځو ټولې نښې وباسي.

زموږ خوشال ښوونځی په ۲۰۰۳ م کال پرانیستل شو. په لومړیو کلونو کې نجونو او هلکانو یو ځای درس وایه خو په ۲۰۰۴ م کال کې شرایط بدل شول، دا مو ښه وبلله چې نجونې او هلکان په بېلو ټولګیو کې درس ووايي. د شرایطو له بدلون سره سره بیا هم غلام الله ستونزې جوړولې، د ښوونځي یوه کارکوونکي پلار ته وویل :

- مفتي اوس هم ښوونځي ته راځي او پوښتنه کوي چې ښوونځي ته ولې د نجونو د ننوتو لاره بدله نه شوه.

هغه ویل یوه ورځ چې یو نارینه کارکوونکی له یوې ښوونکې سره تر اصلي سرک پورې تلو چې هغه په رېکشا کې پورته شي مولانا ترې وپوښتل:

- دا کس ولې تر سرک پورې ورسره لاړ؟ آیا ورور يې دی؟

د ښوونځي کارکوونکی ځواب ورکوي:

- نه هغه يې همکار دی.

مولانا وايي:

- دا کار باید ونه کړي دا یوه تېروتنه ده.

پلار ورته وویل که دې بیا مولانا ولید ماته غږ وکړه. کله چې د هغه د راتلو خبر راغئ، پلار او د اسلامي مطالعې ښوونکی ورغلل.

پلار وویل:

- مولانا ولې له ما لاس نه اخلې؟

ته څوک يې؟

لېونیه! ته باید یو ځل ځان ډاکټر ته وښیې. ته فکر کوې چې زه ښوونځي ته ځم او جامې مې وباسم؟ ته چې کله یوه نجلۍ او هلک وینې یوازې رسوا او شرمول دې ذهن ته راځي. هغوی یوازې د ښوونځي زده کوونکي دي او بس! زه فکر



کوم ته باید حیدر علي ډاکټر ته ورشي.

حیدر علي ډاکټر په سیمه کې د اعصابو یو مشهور ډاکټر و.

پلار زیاته کړه:

- غواړې چې ډاکټر حیدرعلي ته دې ورولم؟ آیا لېونی يې، عقل دې له لاسه ورکړی؟

مفتي هېڅ نه ویل. هغه خپله لونګۍ له سره پورته کړه او د پلار په خوا يې وار کړه. لونګۍ د پښتنو د ځوانۍ او غیرت سمبول دی او لونګۍ له لاسه ورکول د سپکوالي په معنی دي.

خبرې يې پیل کړې:

- ما ستاسې کارکوونکي ته هېڅ کله هم دا خبرې نه دي کړې. هغه دروغ وايي.

پلار مې چې ډېر په غوسه و چیغې يې کړې:

- له دې ځایه لاړ شه. ورک شه!

مفتي زموږ ښوونځی بند نه کړای شوای خو لاسوهنې يې د دې حکایت کاوه چې زموږ هېواد څه ډول چپه کېده. پلار اندېښنه لرله. هغه او نورو فعالانو به ډېرې غونډې جوړولې. دغه غونډې له دې وروسته یوازې د غرونو د ونو د وهلو له پاره نه وې، بلکې د زده کړې او ولسواکۍ په اړه هم وې.

په ۲۰۰۴ م کال کې د واشنګټن له دوه نیم کلن فشار وروسته، جنرال مشرف د افغانستان له سرحد سره په قبیله يي فدرالي سیمو کې چې دولت هلته ډېر لږ څارنه لري د پوځ اووه نمایندګۍ ولېږلې. امریکایانو ادعا کړله، د القاعده ملېشې چې له افغانستان څخه تښتېدلې وې، له دې ځای څخه يې د امن د سیمې په توګه ګټه اخیستې ده او د پښتنو له مېلمه پالنې هم بده ګټه اخلي. هغوی له هغې ځایه د زده کړې د کنډکونو په واسطه د ناټو په سرحدي سرتېرو حملې اداره کولې. باجوړ، له سوات سره نژدې یوه نمایندګي ده. په قبایلو کې اوسېدونکي خلک زموږ د یوسفزیو په څېر ټول پښتانه دي چې د سرحد په دواړو خواوو کې ژوند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه قلمرو په توګه قبیلوي استازي چې د افغانستان او هند تر منځ دي د انګرېزانو په وخت کې رامنځ ته شوي چې تر اوسه هماغه ډول ادامه لري چې د قبیلې د مشرانو او یا هم د ملک له خوا اداره کېږي. له بده مرغه چې ملکانو ته قبیله ارزښت نه لري او په حقیقت کې په قبایلي سیمو هېڅوک هم حکومت نه کوي. دغه سیمې غرونو او لویو ډبرو په دره کې هېرې شوې سیمې دي چې هلته خلک قاچاقي کارونه کړي. په دې سیمو کې ډېر لږ روغتونونه او ښوونځي په ځانګړې توګه د نجونو ښوونځي شته دي او سیاست پوهانو په اوس وختونو کې هلته د ورتلو حق پیداکړی دی.

ډېر لږ لیدل کېږي چې د دې سیمې کومې ښځې دې یوازې د لیک لوستل زده وي. که د انګرېزانو له راپورونو یو ولولئ، پوه به شئ چې د دې ځای خلک په غوسې او خپلواکۍ شهرت لري.

زموږ پوځ هېڅ کله هم په قبایلي سیمو کې متحد نه و. د انګرېزانو په څېر یې د پوځ په ځای له سرحدي پښتنو سرتېرو ګټه اخیسته. په دې سیمه یې خپله غیرمستقیمه څارنه جاري وساتله. هغې سیمې ته د پوځي کسانو لېږل ستونزمن کار و. نه یوازې دا چې زموږ پوځ او آی اېس آی له دې ملېشو سره پخوانۍ اړیکې لري بلکې زموږ سرتېرو له خپلو پښتنو ورونو سره جګړه کوله. «جنوبي وزیرستان» لومړۍ قبایلي سیمه وه چې د ۲۰۰۴ م کال په مارچ کې هلته پوځ لاړ. هماغه ډول چې وړاندوېینه کېدله، سیمه ییزو خلکو د خطر احساس وکړ، هلته ټول کسان وسله لري نو کله چې سیمه ییزو خلکو خوځښت وکړ په سلګونو سرتېري ووژل شول.

پوځ وېرېدلی و. ځینو ونه منله چې په دې جګړه کې برخه واخلي، دوی نه غوښتل له خپلو ورونو سره جګړه وکړي. هغوی له دوولسو ورځو وروسته په شاتګ وکړ او د ملېشو له مشرانو لکه نیک محمد سره یې په سوله هوکړه وکړه. په دې هوکړه کې پوځ دوی ته رشوت ورکاوه چې ټول یرغلونه ودروي او بهرني جنګیالي وباسي. ملېشو په دې پیسو سره نورې وسلې او تجهیزات واخیستل او خپل



اقدامات یې له سره پیل کړل. څو میاشتې وروسته د امریکا یوې بې پیلوټه الوتکې په پاکستان لومړۍ حمله وکړه.

د ۲۰۰۴ م کال د جون په ۱۷ مه بې پیلوټه الوتکې د جنوبي وزیرستان مشر نیک محمد چې له یوه ټیلیفون څخه یې خبرې کولې وویشت. دی او د ده په څنګ کې ټول کسان ووژل شول. تر هغې وخته موږ نه پوهېدو چې امریکا به په داسې کارونو هم لاس پورې کوي. زموږ او امریکا د هېوادونو تر منځ جګړه نه وه خو کله یې چې زموږ د هېواد ځمکه وویشته ووېرېدو. د قبایلو ټول اوسېدونکي په وېره کې و. ډېری یې له ملېشو سره یو ځای شول او څو ډلې یې جوړې کړې.

امریکا څو ځلې نورې حملې هم وکړې. امریکایانو ویل چې د اسامه بن لادن مرستیال ایمن الظواهري په باجوړ کې پټ شوی او هلته یې واده کړی دی. د ۲۰۰۶ م کال په جنوري میاشت کې یوې بې پیلوټه الوتکې د دامادولا کلی بمبار کړ چې د دوی هدف ایمن الظواهري و. په دې حمله کې درې کورونه ویجاړ شول او د سیمې ۱۸ کسان په کې ووژل شول. امریکایانو ویل چې هغه نه دی وژل شوی او تښتېدلی دی. د همغې کال د اکتوبر په ۳۰ مه یوې بلې امریکایي الوتکې د خار ښار ته نژدې یوه مدرسه وویشته چې ۸۲ کسان په کې ووژل شول چې ډېری یې د مدرسې کم عمره زده کوونکي و. امریکا ویل چې دوی هلته د القاعدې د زده کړې مرکز په وېډیوګانو کې کتلی و چې تر مدرسې لاندې یې تونل تېر کړی و او هلته یې وسلې په کې ساتلې. له دې حملې څو ساعته وروسته، د «فقیر محمد» په نوم د سیمې یو نفوذ لرونکی روحاني چې د مدرسې مدیر و څرګنده کړه چې د وژل شوو زده کوونکو غچ به د پاکستان له اردو څخه د ځانمرګیو په واسطه واخلي.

پلار او ملګري یې پرېشانه و د سیمې پیران او رهبران یې د سولې د خبرو له پاره را ټول کړل. په دې غونډه کې چې د جنوري د میاشتې په یوه ډېره سړه شپه کې جوړه شوه ۱۵۰ کسانو ګډون وکړ.

پلار دوی ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دلته هم ډېر ژر راځي. جګړه درې ته نږدې شوې ده. راځئ مخکې له دې چې دلته را ورسېږي د دې اور لمبې مړې کړو.

خو هېڅوا هم غوږ نه ورته نیوه. آن ځینو کسانو د ملنډو په څېر ورته خندل.

پلار یوه سیمه ییز رهبر ته وویل:

- ښاغلیه خانه، تاسې پوهېږئ چې د افغانستان په خلکو څه بلا راغله. دوی له خپل هېواد څخه تبنتېدلي دي او له موږ سره ژوند کوي. همدا پېښه باجوړ او موږ ته هم پېښېږي. یوه شئ چې هغه وخت به موږ هېڅ د پناه ځای ونه لرو.

خو مشر په له ملنډو ډکو الفاظو ورته وویل:

- زه یو خان یم. څوک مې له دې سیمې ویستلی شي؟

پلار په پرېشانه توګه خان ته ور وګرځېد او له ځان سره یې وویل: «زه یو ښوونځی لرم، نه کوم خان یم او نه هم سیاسي رهبر او هېڅ ځای هم نه لرم.»



# د مني زلزله

د اکتوبر په میاشت کې یوه ورځ کله په ښوونځي کې وم چې ناڅاپه مې د ټولګي د مېزونو لړزه حس کړه. ټولګي مو تر اوسه هم ګډ و، نجونو او هلکانو چیغې وهلې:

- زلزله!

همغه ډول چې را ښودل شوي و په بیړه مو بهر ته منډه کړل. د چرګوړو غوندې چې د مور تر وزرونو لاندې پټېږي ټول شاګردان تر ښوونکو چاپېر شول.

سوات په داسې یوه کرښه پروت دی چې ډېری وخت زلزله په کې کېږي خو دې زلزلې له پخوانیو زلزلو سره توپیر لاره. شاوخوا ټولې ودانۍ لړزېدې او غړونو یې دوام کاوه. موږ ټولو ژړل او ښوونکو مو دعاوې ویلې. زموږ یوې ډېرې ګرانې ښوونکې مېرمن روبي ماته وویل چې نور ونه ژاړم او آرامه و اوسم. ویل یې ژر به هرڅه سم شي.

همدا چې لړزه ودرېده، ټول زده کوونکي یې کورونو ته ولېږلو، مور مې په یوه چوکۍ ناسته وه او په لاس کې یې سپېڅلی کتاب قرآن نیولی و او پرلپسې یې تلاوت کاوه. هر وخت چې خلک له ستونزو سره مخ شي نو پرلپسې دعا وایي. کله یې چې په ما سترګې ولګېدې، یو څه د آرامۍ احساس یې وکړ، زه یې په غېږ کې ونیولم او له سترګو یې اوښکې روانې شوې. خو د زلزلې لړزې تر ماسپښین پورې ادامه لرله او موږ ډېرې وېرېدلې و.

موږ دویم ځلي کډه کړې وه، تر دیارلس کلنۍ مو اووه ځله کور بدل شو، یوه اپارتمان ته تللي وو. دوه منزله ودانۍ وه چې په سر یې یوه د اوبو ذخیره هم لرله او په مېنګوره کې دا ودانۍ ډېره لوړه ښکارېده. مور مې له دې وېرېده نه چې ودانۍ را باندې ولوېږي، له همدې امله له کوره بهر کېناستو. پلار ډېر ناوخته کور ته راغئ ځکه چې ټوله ورځ د نورو ښوونځیو د ودانیو په کتلو بوخت و.

د شپې هم لړزې حس کېدې، مور مې ډېره وېرېده. هر ځل به چې ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړزېده فکر به مو کاوه چې قیامت را نژدې شوی دی. دې به چیغې وهلې:

- موږ به په خپلو بسترو کې ځانونه پټ کړل.

ټینګار یې کاوه له دې ځایه لاړ شو، خو پلار سترې و او موږ مسلمانان باور لرو چې برخلیک مو خدای(ج) ټاکي. له همدې امله پلار، زه او وروڼه مې په ځایونو کې څملاستو.

هغه وخت مې پلار مور او د تره لور ته وویل:

- تاسې که هر ځای ځئ تلی شئ. زه همدلته پاتې کېږم. که تاسې هم په الله(ج) باور لرئ همدلته پاتې شئ.

هر وخت چې یوه وحشتناکه پېښه کېږي او یا مو هم ځان له ګواښ سره مخ کېږي، خپل ګناهونه مو را په یادوو چې له خدای(ج)سره به څه ډول مخامخ کېږو او آیا هغه به موږ وبښي. خو خدای(ج) همدا راز موږ ته د هېرې ځواک راکړی دی. له همدې امله کله چې فاجعه ختمېږي موږ بېرته خپل پرلپسې ژوند ته راګرځو. زه مې د پلار په ایمان باور لرم، خو زه او مور ځینې ګډې اندېښنې لرو.

د ۲۰۰۵ م کال د اکتوبر د ۸ زلزله په تاریخ کې یوه بې خونده او بده پېښه وه. دغه زلزله چې د رېښتر په کچه ۷/٦ وه چې آن په کابل او دهلي کې هم حس شوه. زموږ په ښار مېنګوره کې یوازې څو ودانۍ ړنګې شوې خو زموږ په ګاونډ کې کشمیر او د پاکستان د شمال څنډې ډېرې ویجاړې شوې وې. ان په اسلام آباد کې هم ودانیو ضرر لیدلی و. دا چې موږ د دې فاجعې په شدت پوه شوو یو څه وخت یې ونیو، کله چې ټلویزیون د زلزلې ویجاړۍ خپرولې، پوه شوو چې کلي له خاورو سره خاورې شوي دي. هغو کلیو ته چې ټول ویجاړ شوي د غرونو د ښویېدو له امله ورتلل ناشوني وو. د برېښنا او ټلیفون لینونه هم وران شوي وو. دغې زلزلې د امریکا د کونېکټېکیوټ[i] ایالت په کچه د ۳۰ زرو کیلومتره مربع ځمکې په شاوخوا کې ویجاړه کړې وه، شمېره یې د باور وړ نه وه. له ۷۳۰۰۰ ډېر کسان وژل شوي او له ۱۲۸۰۰۰کسانو ډېر ټپي شوي و.

[i] Connecticut



د درې میلیونه او پنځه لکه کسانو په شاوخوا کې خلکو خپل کورونه له لاسه ورکړل. سرکونه، پلونه اوبه او برېښنا له منځه لاړل او د بالاکوټ په څېر سیمې په عمومي توګه ویجاړې شوې وې. د زلزلې په سهار ډېر وژل شوي کسان د ښوونځیو زده کوونکي و. ٦۴۰۰ ښوونځي ویجاړ شول او ۱۸۰۰۰ زده کوونکي په کې ووژل شول.

په هغې سهار موږ ډېر وېرېدلي و او په ښوونځي کې مو زیانمنو ته پیسې ټولولې. ټولو له خپلې وسې سره سم مرسته وکړه. پلار د خوراکي توکو، کالیو او پیسو له پاره خپلو ټولو ملګرو ته ورغئ او ما مې له مور سره مرسته کوله چې لرګي راغونډ کړي. پلار د سوات د خصوصي ښوونځیو له ټولنې او نړیوالې سولې له ټولنې یوه اندازه پیسې ټولې کړې، هغه یې له هغو پیسو سره چې په ښوونځي کې مو ټولې کړې وې یو ځای کړې. ټولې پیسې یو میلیون شوې. په لاهور کې یو خپرندوی ارګان چې ښوونځیو ته یې کتابونه تیارول، پنځه لارۍ یې له خوراکي توکو او نورو د اړتیا وړ توکو ډکې ور ولېږلې.

موږ په شنګله کې خپلې کورنۍ ته ډېر په فکر کې وو. دوی د غرونو تر منځ یوه وړوکي چاپېریال کې بند پاتې وو. په پای کې مو د تره زوی موږ ته خبر راووړ چې د پلار په واړه کلي کې مې آته کسه وژل شوي او ډېر کورونه وران شوي وو. یو هم د سیمې د یوه روحاني مولانا خدیم کور و چې څلور ښکلې لوڼې یې تر کور لاندې شوې وې. زړه مې غوښتل له پلار سره په لاریو کې شنګلې ته لاړه شم خو پلار نه منله ویل یې چې دا کار ډېر خطرناک دی.

کله چې هغه له څو ورځو وروسته بېرته را وګرځېد، د پوست رنګ یې خاورو ته ورته شوی و. هغه ویل چې د سفر وروستۍ شېبې یې ډېرې سترې کوونکې وې. ډېر سرکونه سېندونو کې ښویېدلي و او لویو ډبرو لارې بندې کړې وې. پلار ته مې خپلوانو ویلي و دوی فکر کاوه چې نړۍ نور پای ته رسېدلې. هغوی څرګنده کړې وه چې له غرونو څخه د ډبرو لویې ټوټې راښویېدلې او ټولو د قرآن کریم د آیتونو په تکرارولو سره بهر منډې وهلې. کله به چې د کورونو بامونه رالوېدل د خلکو چیغې او حیواناتو رمباړې به هر ځای اورېدل کېدې. زلزلې ادامه لرله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ټوله شپه له کوره بهر تېره کړې او د تودېدو له پاره له یو بل سره نژدې ناست و سره له دې چې د غرونو هوا ډېره سړه وه.

د ساتنې یوازې څو مامورین شته و چې د بهرنیو مرستو له سازمانونو څخه و. څو داوطلبان د «محمدي شریعت د نفاذ تحریک» او «د اسلامي قوانینو د ترسره کولو خوځښت » مامورین هم هلته و. دغه ډله د صوفي محمد له خوا جوړه شوې وه چې خلک به یې افغانستان ته د جهاد له پاره لېږل.

صوفي محمد له ۲۰۰۲ م کال را په دې خوا هغه وخت چې مشرف د ملېشو یو څه مشران د امریکا له فشار وروسته ونیول او تر اوسه په زندان کې دی. خو دې سازمان تر اوسه هم خپل کار ته ادامه ورکوله او د صوفي د زوم مولانا فضل الله په مشرۍ اداره کېده. د شنګلې په څېر ځینو سیمو ته لاسرسی سخت و ځکه چې سړکونه او پلونه یې بیخي ړنګ شوي و او سیمه ییز دولت هم په ټوله سیمه کې بې درکه و. په ټلویزیون کې د ملګرو ملتونو یوه مامور څرګنده کړه چې دغه فاجعه له هغو بدترینو پېښو څخه ده چې تر اوسه ملګري ملتونه نه ورسره مخ شوي.

جنرال مشرف ورته د «ملت آزموینه» نوم ورکړ او اعلان یې وکړ چې پوځ د «ساتنې عملیات» برابر کړي دي، زموږ پوځ د هر عملیات له پاره یو نوم غوره کوي. په ورځپاڼو، خوړو او په جامو د بار هلیکوپترو ډېر انځورونه لیدل کېدل، خو هلیکوپترې په ډېرو تنګو ځایونو کې کېناستی نه شوای او کوم کارتنونه به یې چې لاندې غورځول په سیند کې به لوېدل. په ځینو سیمو کې به چې الوتکو خواړه غورځول خلکو به حملې پرې کولې چې په سمه توګه نه وېشل کېدل.

خو ځینې مرستې په ښه توګه د ټولو لاسونو ته ورسېدې. د امریکایانو د عمل چټکوالی ډېر زیات و، ځکه چې هغوی په افغانستان کې په زرګونو سرتېري او هلیکوپترې لرلې، نو له همدې امله یې په آسانۍ سره کولای شول چې هغه راپورته کړي او په دې کار سره یې ښودله چې د ستونزو په وخت کې له موږ سره مرسته کوي. سره له دې چې د حملو له وېرې یې د ځینو هلیکوپترو امریکایي نښې پټې کړې وې. د لرې سیمو ډېریو کسانو د لومړي ځل له پاره بهرنیان لیدل.



د ډېرو سازمانونو او یا اسلامي خیریه ټولنو داوطلبه کسان او د ملېشو ځینې ډلې راغلې وې. لکه جماعت الدعوه او د طیبه لښکر مرستندوی ځواک و.

طیبه لښکر له آی اېس آی سره نژدې اړیکې لرلې او د کشمیر د خپلواکۍ له پاره رامنځ ته شوی و. موږ باور لرو چې کشمیر باید له هند نه بېل او د پاکستان برخه شي ځکه چې ډېری خلک یې مسلمانان دي. د طیبه لښکر مشر د حافظ سعید په نوم یو تندخویه استاد د لاهور اوسېدونکی دی چې ډېری وخت په ټلویزیون کې خلک پر هندوستان حملې ته پاروي.

له زلزلې وروسته مو چې دولت له خلکو سره په کافي اندازه مرسته ونه کړه، جماعت الدعوه د مرستې څو ډلې برابرې کړې چې په کلاشینکوف او مخابرو سمبال کسانو یې ساتنه کوله. ټول پوه و چې دا د طیبه لښکر کسان دي او ډېر ژر یې د غرونو په څوکو او درو کې تور او سپین بیرغونه له تورو سره په حرکت راغلل.

جماعت الدعوه د آزاد کشمیر په مظفر آباد سیمه کې یو لوی روغتون چې د اېکس وړانګو په دستګاوو، عملیات خونه، د غاښونو څانګه، درملتون او د داخلې په خونې سره سمبال و جوړ کړ. ډاکټرانو او جراحانو د زرګونو داوطلب ځوانانو په لرلو سره خدمتونه کاوه.

زلزله ځپلو، هغه فعالیت کوونکي چې لرې پرتو سیمو ته یې د درمل او مرستو د رسولو لپاره ستړیا په ځان ګاللې وه وستایل. د دوی په مرسته کلي بېرته جوړ شول او جسدونه یې هم خاورو ته وسپارل. آن چې اوس هم هلته بهرني مرستندویان ځي د سړکونو په غاړه ړنګې ودانۍ لیدل کېږي او خلک دولت ته انتظار کوي چې نوي کورونه ورته جوړ کړي.

د جماعت الدعوه او نورو مرسته کوونکو بیرغونه تر اوسه هلته رپېږي. د تره زوی مې چې په انګلستان کې یې زده کړې کولې ویې ویل چې دوی هم یوه اندازه پیسې په لندن کې له مېشتو پاکستانیانو ټولې کړې. وروسته خلکو ویل چې د دې پیسو یوه اندازه د انګرېزانو په مسافرتي الوتکو کې چې امریکا ته تلې د بمونو اېښودو له پاره ولګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې زلزله کې ډېر شمېر کسانو ووژل شول او له امله یې ډېرې ماشومان یعنې د ۱۱۰۰۰ کسانو په کچه یتیمان شوي و. زموږ په فرهنګ کې د کور مشران د وړو یتیمانو سرپرستي کوي خو زلزلې دومره ویجاړې کړې وه چې آن ډېرې کورنۍ په بشپړه توګه له منځه تللې وې. نو له همدې امله هېڅ کورنۍ د یتیمانو د ساتنې شرایط نه لرل. دولت ژمنه وکړه چې د دوی ټولو ساتنه به وکړي، خو دا هم د دولت د نورو ژمنو په څېر وه. پلار اورېدلي و چې ډېرې یتیمان له جماعت الدعوه سره یو ځای شوي دي او د دوی په مدرسو کې اوسېږي.
په پاکستان کې دا ډول مدرسې یو ډول هوسا نظام دی، ځکه چې هلته زده کوونکو ته ډوډۍ او ځای په وړیا توګه ورکول کېږي خو تدریسي سېستم یې یو ډول ناپېژانده دی. هلکان قرآن عظیم الشان حفظ کوي. هغوی زده کول چې د علم، پوهې او یا ادبیاتو په نوم کوم څه نه شته، ډایناسورونه هېڅ کله هم نه شته دي او بشر هېڅ کله هم سپوږمۍ ته نه دی ختلی.
له زلزلې وروسته هم د ډېر وخت له پاره خلک په وېره کې و. تر دې وړاندې له نظامي زورواکو او سیاست پوهانو سره نښتي و او اوس په دې طبیعي بلا واوښتو. د محمدي شریعت د نفاذ تحریک به په خپلو بیانیو کې ویل چې زلزله د خدای(ج) له لوري یوه خبرتیا ده. که موږ د شریعت او اسلامي قوانینو به بنسټ ژوند نه کولای، هغوی به د بربښنا او لوړ آواز چیغې وهلې چې زموږ په وړاندې طاقت نه راوړونکې جزاوې شته دي.



## دویم څپرکی

# د مرګ دره

رباب منګیه وخت دې تېر شو
د کلي خوا ته طالبان راغلي دینه

# ملا راډیو

کله چې طالبان زموږ درې ته راغلل، زه لس کلنه وم. ما او منیبې د «مېښې او لېوه» کتابونه لوستل او هیله مو لرله چې وینې څښونکې شو. زموږ په نظر طالبان زموږ درې ته په بشپړه توګه د وینو څښونکو په څېر په شپه کې را ننه وتل. دوی وسله وال و، کلاشینکوفونه او چاړې ورسره وې. په سوات کې د لومړي ځل له پاره د ماتې څوکې په سر را ښکاره شول.
هغوی په لومړیو کې ځانونه طالبان معرفي نه کړل او د افغانستان له طالبانو سره چې لونګۍ یې په سر کولې او د سترګو شاوخوا به یې تور کړي وو، لوی لوی وېښتان لري، ورته والی نه لاره.
په واقعیت کې یې عجیبه څرنګوالی لاره، ږیرې او وېښتان یې ډېر اوږده او نامنظم و. یو کمیس یې اغوست چې اوږدوالی یې تر ګونډو پورې و او کمیس یې په پتلون کې ټېبده. ورزشي بوټونه او یا یې هم پلاستیکي څپلکې په پښو کولې او دوه سوري لرونکې جورابې به یې په سر کشولې، پوزه به یې په ډېرې بې نزاکتۍ سره د لونګۍ په شمله پاکوله. دوی به د «شریعت یا شهادت» په معنی تور نښانونه لرل او ډېری وخت به یې تورې لونګۍ په سر کولې. سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خلکو به د «تورې لونګۍ تشکیلات» ورته ویل او دومره به چټل و چې د پلار ملګري به مې د دوی په اړه داسې ویل:

- دوی له حمام او سلمانۍ څخه بې برخې شوي دي.

مشر یې مولانا فضل الله ۲۸ کلن و چې د سوات له سیند څخه د تېرېدو له پاره یې کرکره یي طناب جوړ کړ او ښۍ پښه یې د ماشومانو د فلج له امله په ماشومتوب کې له لاسه ورکړې وه او معیوب شوی و. هغه خپلې زده کړې د صوفي محمد په مدرسه کې چې د محمدي شریعت د نفاذ د تحریک بنسټ اېښودونکی و کړې وې او د صوفي محمد له لور سره یې واده کړی و. کله چې صوفي محمد په ۲۰۰۲ م کال کې د ملېشو د رهبرانو د نیولو په ماموریت کې ونیول او بندي شو، فضل الله یې ځای ناستی شو. له زلزلې څخه لږ مخکې د سوات د سیند په بله غاړه په امام دره کې چې یو وړوکی کلی دی او له مېنګورې څخه څو میله واټن لري، را څرګند شو او خپله غیر قانوني راډیو یې جوړه کړه.

زموږ په دره کې ډېری پېښې د راډیو له لارې د خلکو تر غوږونو رسېږي ځکه چې ډېری یې ټلویزیون نه لري یا بې سواده دي. ډېر ژر ټولو خلکو د همدې راډیو په اړه خبرې کولې او هغه د «ملا راډیو» په نوم وپېژندل شوه. هره ورځ به یې د سهار له اوو څخه تر نهو او د شپې له خوا به یې له اتو تر لسو پورې خپرونې لرلې.

په لومړیو کې فضل الله ډېر هوښیار ښکارېده. ځان یې د یوه اسلامي اصلاح غوښتونکي او د قرآن د مفسر په توګه خلکو ته وپېژانده. مور مې چې ډېره مذهبي ده د فضل الله له خبرو سره یې مینه پیداشوه. هغه له راډیو څخه د امر بالمعروف او نهی عنی المنکر له پاره کار واخیست. ویل به یې چې نارینه باید ږیرې اوږدې کړي، سګرېټ ونه څکوي خو په چلم کې تنباکو څکوی شي. خلک باید هیرویین او چرس ونه څکوي. خلکو ته یې د لمانځه له پاره د اوداسه کولو سمه لاره وښوده آن ورته شرح یې کړل چې څه ډول باید خپل خصوصي غړي ومینځي.



کله به یې خبرې د منلو وړ وې، په داسې ډول چې ویل به یې، کله چې لویان په زور پر تاسې یو کار کوي او ستاسې هغه کار خوښ نه وي نو دا تاوتریخوالی او وحشتناک عمل دی. ډېری وخت به یې چې د اسلام په اړه خبرې کولې ژړل به یې. هغه به څو دقیقې خبرې کولې بیا به یې ځای ناستي شاه دوران، هغه کس چې په خپله درې ټایره کراچۍ کې به یې په بازار کې سودا پلورله ادامه ورکوله چې نور موسیقۍ ته غوږ ونه نیسئ، فلم او ګډا ونه ګورئ.

فضل الله ویل چې همدغه په ګناه ککړ اعمال د زلزلو لامل شوي دي نو که چېرې خلک د دوی امر ونه مني، دویم ځلي به پرې د خدای(ج) قهر راشي. ملایانو به آیاتونه او حدیثونه په سمه توګه نه تفسیرول. دا چې ډېر لږ خلک په عربي پوهېدل، ملایانو به دوی ته قرآن او حدیث ورښودل او فضل الله به له دې ناپوهۍ او جهل نه سوء استفاده کوله.

ما مې له پلاره وپوښتل:

- پلاره، آیا هغه په سمه روان دی؟

هغه ځواب راکړ:

- نه جانې. هغه یوازې خلک تېر باسي.

په هغې وخت کې زموږ ښوونځي لږ او ډېر اویا ښوونکي چې ۴۰ نارینه او ۳۰ ښځینه و لرل. ډېری ښوونکي د فضل الله سخت مخالف و خو ډېری یې سخت پلوي و. خلکو فکر کاوه چې هغه قرآن په سمه توګه وایي، د هغه روحاني جذبه به یې ستایله. هغوی یې د اسلامي قوانینو د دویم ځلي پلي کولو ملاتړ کاوه، ځکه چې خلک د پاکستان له قضایي نظام څخه ناهیلي شوي و. د ځمکې په سر د خلکو شخړې ډېرې ژر حل کېدې خو په محکمه کې به په کلونو پاتې وې. د خلکو زړه غوښتل چې د درې له فاسدو دولتي مامورینو مخ واړوي، دوی فکر کاوه چې فضل الله به د وخت د والي په څېر عزتمند دولت جوړ کړي.

له شپږو میاشتو وروسته یې د ټولو خلکو ټلویزیونونه ټول کړل. د فضل الله ملګرو ټلویزیونونه راټول او په سرک یې وسوزول چې پورته فضا یې له تورو لوخړو ډکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه. د فلمونو او موسیقۍ په سلګونو دوکانونه په داوطلبانه توګه وتړل شول او طالبانو ته یې جریمه ورکړه. زه او ورونه مې د خپل ټلویزیون په اندېښنه کې و خو پلار مو ډاډ را کاوه چې هېڅ کله به یې بهر ونه غورځوي.

ټلویزیون مو په یوه الماری کې پټ کېښود او پروګرامونه به مو ډېر په ورو آواز کتل. طالبانو به د خلکو کورونو ته پټ غوږ نیوه او بیا به په زور کور ته ننوتل، ټلویزیون به یې بهر راغورځاوه او ټوټه ټوټه به یې کړ. فضل الله د بالیووډ له فلمونو چې مونږ ډېره مینه ورسره لرله ډېر نفرت کاوه، هغه یې غیر اسلامي بلل. یوازې راډیو روا وه او موسیقي د طالبانو له ترانو پرته نوره حرامه اعلان شوې وه.

یوه ورځ مې پلار روغتون ته د خپل یوه ناروغ ملګري پوښتنې ته ورغئ، هلته یې لیدلي و چې ټول ناروغان د فضل الله خبرو ته غوږ ږدي.

خلکو هغه ته ویلي و:

- تاسې باید مولانا فضل اللهووینئ. هغه یو لوی عالم دی.

پلار مې د دوی په ځواب کې ویلي و.

- په حقیقت کې هغه تحصیل په نیمه کې پرېښی او بې سواده دی. آن دا چې واقعي نوم یې فضل الله نه دی.

خو هغوی خبرو ته غوږ نه نیوه. پلار مې له دې حالته ډېر پرېشان شوی و، ځکه چې خلکو د ملا فضل الله خبرې او خیال پلوونه منلي و.

پلار وویل:

- ډېره د خندا وړ ده. دغه په ښکاره عالم سړی خلک ناپوهۍ ته دعوت کوي.

فضل الله په لرې پرتو سیمو کې ډېر شهرت پیداکړی و، ځکه چې د هغو سیمو د خلکو په یاد و چې د زلزلې په وخت کې د محمدي شریعت د نفاذ تحریک څه ډول له دوی سره مرسته کړې وه په داسې حال کې چې دولتي ځواکونه هلته نه و. په ځینو مسجدونو کې یې له راډیو سره پیوسته لاوډسپیکرونه ولګول څو د هغې خبرې په هره سیمه غره او سمه کې خلک واوري. د دې خبرو مهمه برخه به د سهار په وخت کې خپرېده چې په هغې کې به د خلکو نومونه یادېدل چې



پلاني او پلاني به چرس څکول خو اوس یې ځکه پرېښي دي چې دا ګناه ده. یا هم ښاغلي پلاني اوس ږیره اوږده کړې ده چې مونږ یې ستاینه کوو.

ده به هغوی ته ویل چې د خپلو اعمالو ثواب به په آخرت کې ویني. خلک له دې امله چې خپل نوم به یې په راډیو کې اورېده خوشاله و، هغوی همدا شان غوښتل پوه شي چې کوم یو ګاونډی یې ګناهګار دی چې د هغې په اړه هلته خبرې وکړي.

ملا راډیو به د پوځ په اړه ټوکې ویلې. فضل الله د پاکستان دولت کافر اعلان کړ زیاته یې کړه چې هغوی د شرعي قوانینو د پلي کولو مخالف دي. هغه ویل چې دوی به د شریعت پلي کولو ته اړ باسي. د ده د علاقې یوه ډېره مهمه موضوع د خانانو د فیوډال نظام بې عدالتي وه. بې وزله خلک له دې امله چې خانانو ته جزا ورکول کېږي ډېر خوشاله وو. هغوی فضل الله ته د رابین هوډ په نظر کتل او باور یې لاره چې که فضل الله قدرت ته ورسېږي د خانانو ځمکې به په بې وزلو ووېشي. ځینې خانان وتښتېدل. پلار مې د خانانو د واکمنۍ مخالف و خو ویل یې چې طالبان به شرایط تر دې هم خراب کړي.

د پلار ملګری مې هدایت الله په پېښور کې دولتي مامور شوی و او مونږ ته یې خبر راکړ:

- ملېشې هوډ لري. د دې له پاره چې د خلکو په ذهن او زړه کې ځای پیدا کړي، په لومړي سر کې ټولنیزې ستونزې پیداکوي او د حل کولو هڅه یې کوي. له همدې امله د ډېرو چوپو خلکو ملاتړ تر لاسه کوي. په بشپړه توګه هغه کار چې په وزیرستان کې ترسره شوی و. په شوکمارو او انسان تښتوونکو پسې لاړل او کله چې واک ته ورسېد، د هغو مجرمانو په څېر دي چې خپله یې ځان بندي کړی وي.

د فضل الله د ډېرو خبرو مقابل لوری به ښځې وې. هغه پوهېده چې زمونږ ډېری نارینه له کورونو څخه لرې دي او د جنوب د ډېرو سکرو په کانونو او د خلیج په ساختمانونو کې کار کوي، کله به یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوس دې نارینه بهر ته ووزي. زه له ښځو سره خبرې کوم. ښځې باید هغه مسولیتونه چې په کور کې یې لري ترسره کړي. که چېرې ښځه اړتیا ولري کولای شي بهر ووزي خو کله چې وزي باید چې حجاب ولري. کله به یې ملګرو خلکو ته ښځینه جامې ښودې او ویل به یې چې دا یې له فاسدو او بې حجابه ښځو څخه ویستلې دي چې وشرمېږي.

ملګرو مې په ښوونځي کې ویل چې میندې یې ملا راډیو ته غوږ ږدي سره له دې چې زموږ مدیرې مېرمن مریم به دوی دې راډیو ته له غوږ نیولو څخه منعه کول.

موږ په کور کې یوه پخوانۍ ماته راډیو لرله چې د نیکه مو وه خو د مور ملګرو به راډیو ته غوږ نیوه څه به یې چې واورېدل مور ته مې یې ویل. هغوی به د فضل الله ستاینه کړله د هغه د لویو وېښتانو او په آس د سپرلې په اړه به یې خبرې کولې. د دوی په نظر هغه د پیغمبر(ص) په څېر چلند کاوه. ښځو به خپلې هیلې ورته ویلې او ده به دعا ورته کوله. مور مې له دې پېښو سره مینه پیداکړې وه خو پلار به د وېرې احساس کاوه.

ما هم وروسته له هغې چې د فضل الله خبرې مې واورېدې د ځان ورکې احساس مې وکړ. په قرآن عظیم الشان کې لیکل شوي دي چې یوازې نارینه کولای شي بهر ووزي او ښځې باید چې ټوله ورځ په کور کې د ننه وي او کار وکړي. په ښوونځي کې مې هر وخت په درس کې د اسلامي مطالعو په برخه کې د پیغمبر(ص) د ژوند په اړه مقالې لیکلې. ما اورېدلي و چې د محمد(ص) لومړۍ مېرمن خدیجه سوداګره وه. هغه څلوېښت کلنه وه چې له محمد(ص) څخه پنځه لس کاله مشره وه او تر دې وړاندې یې هم یو ځل واده کړی و، چې بیا محمد(ص) واده ورسره وکړ. همغه ډول چې پوهېدو پښتنې مېرمنې ډېرې پیاوړې دي. کله مې چې نیکه په یوه ټکر کې ټپي کېږي او له امله یې آته کاله په بستره کې پرېوزي، نو نیا مې په یوازې ځان د خپلو آتو اولادونو پالنه کوي.

یو نارینه د کار له پاره بهر وزي، خپل امتیازات اخلي، کور ته راځي، ډوډۍ



خوري او ویده کېږي. دا هغه کارونه دي چې یو نارینه یې ترسره کوي. زموږ نارینه فکر کوي چې که پیسې تر لاسه کړي، امر وکړي نو قدرت لري. خو فکر نه کوي چې قدرت د هغې ښځې په لاس کې دی چې ټوله ورځ د هر څه ساتنه او پالنه کړي او اولاد زېږوي. مور مې د کور ټول کارونه اداره کول، ځکه چې پلار تل له ډېرو کارونو سره مخ و. مور مې سهار وختي له خوبه پورته کېده، زموږ د ښوونځي جامې یې اوتو کولې، د سهار چای یې تیاراوه، موږ ته به یې په ټولنه کې له خکو سره د چلند ډول را ښوده، بازار ته به په سودا پسې تله او پخلی به یې کاوه. هغې به دا ټول کارونه په یوازې ځان کول.

په لومړي کال کله چې طالبان زموږ درې ته راغلل زه دوه ځلې عملیات شوم. یو ځل اپنډکس او دویم ځل یې زما تانسل ویستلی و. خوشال یې هم د اپنډکس له امله عملیات کړ. هغه وخت هم روغتون ته مور بوتلو، پلار مې یوزاې د لیدو له پاره راغئ او موږ ته یې مېوه راوړه.

سره له دې مې هم مور باور لاره چې په قرآن کریم کې ویل شوي چې ښځې نه باید له کورونو څخه ووزي او له خپلوانو پرته له نورو سره د خبرو کولو حق هم نه لري. پلار مې مور ته ویل:

- تورپېکۍ پاک لمنې یوازې په حجاب کې نه ده بلکې د انسان په زړه کې ده.

ډېرو ښځو چې مېړونو یې له هېواده بهر کار کاوه فضل الله ته به یې پیسې او سره زر ورکول. دوی به د سرو زرو لاسبندونه او غاړکۍ ورکولو ته په صف کې ولاړې وې او یا به یې زامن ورلېږل، فضل الله د دې توکو له پاره میزونه تیار اېښي و.

ځینو به د خپل ژوند ټوله پانګه په دې باور ورکوله چې دا کار د خدای(ج) د خوښۍ له پاره کوي. هغه د پخو خښتو یو لوی قرارداد وکړ چې په امام دره کې یې یو لوی مسجد او مدرسه پرې جوړه کړل او د سوات د سېند له ډېرو او شګو یې د هغې ودانۍ د ساتلو په موخه انګړ ترې چاپېر کړ.

هېڅوک نه پوهېدل چې سیم او ګاډر له کومه کوي خو کار یې د سیمې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو کاوه. نارینه و به هره ورځ په خپل نوبت د مدرسې په جوړولو کې کار کاوه.
یوه ورځ د اردو ژبې ښوونکي نواب علي پلار ته وویل:
- زه سبا ښوونځي ته نه راځم.
کله چې پلار دلیل ترې وپوښت، ویې ویل چې سبا له فضل الله سره د کار نوبت د دوی د کلي دی.
پلار مې ځواب ورته وویل:
- ستا تر ټولو ارزښت لرونکې دنده داده چې زده کوونکو ته درس ورکړې.
نواب علي وویل:
- نه، زه باید سبا کار ته لاړ شم.
پلار مې چې په غوسه یې خبرې کولې کور ته راغئ.
له ځان سره یې ویل:
- که څوک د خدای[ج] د رضا له پاره په خپله خوښه سرکونه جوړ کړي د سېند خځلې پاکې کړي، پاکستان به په یوه کال کې جنت شي. دوی یوازې له مدرسو او مسجدونو سره مرسته د خیر کار بولي خو نورو کارونو ته د خیر د کار په سترګه نه ګوري.
څو اونۍ وروسته هماغه ښوونکي پلار ته وویل چې نور نجونو ته درس نه شي ورکوی ځکه چې مولانا دا کار منعه کړی دی.
پلار هڅه کوله چې د هغه نظر واړوي ورته یې وویل:
- سمه ده چې ښځې ښوونکې باید نجونو ته درس ورکړي نو لومړی خو باید نجونې یو څه زده کړي چې ښوونکې شي.
یوه ورځ صوفي محمد له زندان څخه اعلان وکړ چې نجونې آن په دیني مدرسو کې هم د زده کړې حق نه لري.
هغه ویل:
- تاسې په تاریخ کې پیدا کړئ چې اسلام د نجونو مدرسه روا کړې وي.
په هغې وخت کې د ملا راډیو پام ښوونځیو ته واوښت. هغوی به د ښوونځیو له



مدیرانو سره خبرې کولې او د هغو نجونو نومونه به یې یادول چې ښوونځی یې پرېښی دی او هغوی به یې هڅولې. هغوی به زموږ په څېر نجونې چې لا هم ښوونځیو ته تلې د غواوو او مېږو په نوم یادولې.
زه او ملګرې نجونې مې نه پوهېدو چې د نجونو په زده کړه کې ستونزه څه ده؟
له پلاره مې وپوښتل:
- ولې ښوونځي ته د نجونو د تلو مخنیوی کوي؟
هغه ځواب راکړ:
- هغوی له قلم څخه وېرېږي.
یو بل ښوونکی چې د ریاضي درس یې ورکاوه او اوږده وېښتان یې لرل هم نجونو ته له درس ورکولو ډډه وکړه. پلار هغه له ښوونځي وویست خو څو ښوونکو اندېښنه وښوده او خپل استازی یې د ښوونځي ادارې ته را ولېږه.
استازي یې وویل:
- ښاغلیه! هغه له ښوونځي مه وباسئ. په بدو ورځو کې ګیر یو، پرې یې ږدئ چې کار وکړي. موږ به د هغه په ځای درس ورکړو.
هره ورځ یوه نوې فتوا صادرېده. فضل الله د ښکلا سالونونه وتړل او د ږیرې خریل یې هم منع کړل. له همدې امله سلمانیو هېڅ کار نه درلود چې ویې کړي. پلار مې چې ږیره یې خربیله او یوازې بریتونه یې لرل وویل چې هېڅ کله به هم د طالبانو په خاطر ږیره اوږده نه کړي. طالبانو ښځو ته ویل چې نه باید د سودا له پاره بازار ته لاړې شي. زما د چینې له بازار سره جوړه نه وه او سودا کړل مې هم نه خوښېدل، خو مور مې له ښکلو جامو سره مینه لرله، سره له دې چې موږ ډېرې پیسې نه لرلې.
مور به مې هر وخت راته ویل:
- مخ دې پټوه چې خلک درته ګوري.
مابه ځواب ورکاوه:
- مهمه نه ده. زه هم دوی ته ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به مور ډېره په غوسه کېده.

مور او ملګرې یې چې نور یې نه شوای کولای د سودا اخیستو له پاره بازار ته لاړې شي ډېرې پرېشانه وې. په ځانګړې توګه له اختر څو ورځې مخکې چې مور ځانونو ته ښایسته جامې او ګېنې اخلو. ښایسته غرفو ته ځو او هلته لاسبندونه او نکریزې اخلو.

دا ټول منعه شول.

که ښځې بازار ته تللی هېڅ کله هم تر حملې لاندې نه راتلې، خو که په کور کې کښېني هلته بیا د طالبانو د ګواښ وېره شته. یو طالب د یوه بشپړ کلي له پاره ګواښ کېدای شوای.

هلکان هم ډېر عصباني و، بازار ته نوي فلمونه راغلي و خو فضل الله د فلمونو او موسیقۍ دوکانونه تړلي و.

مور مې هم نور د فضل الله له فتواوو تر پوزې راغلې وه، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د ښوونځیو په ضد یې وینا وکړه او دا خبره یې په ټینګاره کوله، هغه کسان چې ښوونځي ته ځي دوزخ ته به ولېږل شي.

وروسته فضل الله په خپل څنګ کې د یوې سیمه ییزې محکمې په څېر یوه شورا جوړه کړه. خلک دې سیمه ییزې محکمې ته ډېر خوشاله و ځکه چې د دولت په محکمو کې د خلکو پرېکړې په کلونو نه کېدې او د ژر پرېکړې لپاره به یې رشوت ورکاوه. خلک به د خپلو سوداګریزو او شخصي دعوو له پاره فضل الله ته ورتلل.

یو کس پلار ته وویل:

- دېرش کاله په یوه ستونزه کې ګیر وم، خو فضل الله ته په یو ځل ورتلو اواره شوه. فضل الله به مجرمین په عام محضر کې په درو وهل چې تر دې وړاندې زموږ په سیمه کې داسې څه نه و لیدل شوي.

د پلار یوه ملګري مې ورته وویل، په خپلو سترګو یې درې هغه ځوانان ولیدل، چې دوه ښځې یې تښتولې وې او د عامو خلکو په وړاندې په درو ووهل شول.



د فضل الله استوګنځي ته نژدې یې یو ستیج جوړ کړ چې د جمعې ورځې له وعظونو وروسته به هلته په سلګونو کسان د مجرمینو د سزا د لیدلو له پاره ورتلل چې د هرې درې په وهلو سره به یې په چیغه ویل:

- الله اکبر!

کله به فضل الله په یوه څلور نعل لرونکي تور آس سپور د خلکو منځ ته ورغئ.

ملګرو به یې روغتیایي کسانو ته اجازه نه ورکوله چې د فلج درمل خلکو ته ورکړي. دوی ویل واکسین ورکول امریکایي نقشه ده چې مسلمانې ښځې شنډې کړي. نو په دې سره به د سوات د خلکو نسل هم له منځه لاړ شي.

فضل الله په راډیو کې وویل:

- د ناروغۍ له خپرېدو مخکې تداوي د اسلامي شریعت له قوانینو سره مخالفت دی. د سوات په هېڅ سیمه کې به دې یو ماشوم هم نه و لیدلی چې یو څاڅکی واکسین یې دې خوړلي وي.

د فضل الله کسان په بشپړه توګه د افغانستان د امر بالمعروف او نهی عنی المنکر پولیسو ته ورته وو، په لارو او کوڅو کې به په مخالفینو پسې ګرځېدل. دوی «د شاهین ځانګړي ځواک» په نوم د پولیسو یوه داوطلبه ډله جوړه کړه. دا ډله به وسله په لاس په ګاډیو کې ناست او په سیمه کې ګرځېدل.

ځینې خلک خوشاله و. یوه ورځ مې له پلار سره د بانګ مدیر ته تللې وم، هغه مې پلار ته وویل:

- د فضل الله یو له ښو کارونو دا و چې نجونې او ښځې یې بازار ته له سودا څخه منعه کړې. اوس موږ نارینه پیسې ذخیره کوی شو.

پلار په پرېشانۍ سره ویل چې ډېری کسان زموږ د سیمې د سلمان په څېر دي هغه ورځ یې ویل چې د بې کارۍ له لاسه د کور چلولو له پاره یوازې اتیا روپۍ لري خو همدې سلمان د دوی د کار تر بندېدو یوه ورځ مخکې یوه خبریال ته ویلي و چې طالبان ډېر ښه، زړه سواندي او مهربانه خلک دي.

د ملا راډیو له خپرېدو څخه یو کال وړاندې، د فضل الله تاوتریخوالی او واکمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخه شوې وه. ورور يې مولانا لياقت له خپلو درېو زامنو سره د هغو وژل شوو کسانو له ډلې و چې په ۲۰۰۶ م کال د اکتوبر د مياشتې په پای کې په بوجار مدرسه امريکايي بې پېلوټه الوتکو بمبار وکړ. په دې حمله کې د سوات د درې اتيا کسانو چې ډېری يې نوي ځوانان او د دوولسو کلونو په شاوخوا ماشومان وو ژوند له لاسه ورکړ. له دې حملې وروسته ټول وېرېدلي وو او خلکو قسم خوړلی وو چې غچ به يې اخلي. لس ورځې وروسته يو ځانمرگي بريد کوونکي د اسلام آباد او سوات په لاره په دره گی کې د پوځ په يوه پوسته حمله وکړه چې په پايله کې يې د پوستې ۴۲ کسه سرتېري ووژل. هغه وخت په پاکستان کې ځانمرگي بريدونه ډېر پېښېدل خو په هغې کال په ټوليزه توگه شپږ چاودنې وشوې او دا تر ټولو لويه حمله وه چې د پاکستاني پوځيانو په ضد شوې وه.

په اختر کې موږ پسونه او نور حيوانات قرباني کوو. خو فضل الله وويل:

- په دې اختر کې به دوه پښې لرونکي حيوانات قرباني شي.

ډېر ژر مې يې د خبرو معنی ته پام شو. پيروانو يې خانان، سياست پوهان، د ملي حزبونو او سېکولر غړي په ځانگړې توگه «د خلکو ملي گوند»[i] او نورو څخه ډېر کسان ووژل.

د ۲۰۰۷ م کال په جنوري کې مې د پلار يو ملگری چې ملک بخت بيدار نومېده په خپل کلي کې د اتيا کسانو له خوا چې مخونه يې پټ کړي و وتښتول شو. هغه د خلکو د ملي گوند مشر، خان او پانگه وال و. وروسته يې جسد د ده د کورنۍ د نيکونو په هديره کې پيداشو چې لاسونه او پښې يې پرې مات کړي و. دا په سوات کې لومړۍ هدفي وژنه وه. خلکو ويل هغه له دې امله ووژل شو چې د طالبانو په ضد يې له پوځ سره مرسته کړې وه.

دولتي چارواکو ټولې پېښې له پامه غورځولې وې. زموږ ايالتي حکومت تر اوسه هم له هغو ملايانو څخه جوړ شوی و، چې د اسلام له پاره په مبارزه کړلو يې هېڅوک نه ملامتول. په لومړيو کې مو فکر کاوه چې د سوات تر ټولو لوی ښار

[i] په پاکستان کې يو سياسي چپي حزب دی.



مېنگوره زموږ له پاره خوندي دی. خو د ملا فضل الله پنډغالی زموږ د اوسېدو له ځايه په څو ميله کې پروت و. سره له دې چې کور ته نژدې مو طالبان نه و خو په کوڅو، بازارونو او غونډيو کې گرځېدل.

موږ ته هم ورځ په ورځ گواښ نژدې کېده.

په اختر کې خپل کلي ته لاړو. زه او مور مې د تره د زوی په گاډي کې شاتني سېټ کې ناستې وو، گاډی د سېند په غاړه روان و چې د طالبانو له يوه پاټک سره ودرېدو. د تره زوی مو ډېر ژر د موسيقۍ کسټونه موږ ته راکړل چې په بکسونو کې مو يې پټ کړو. طالبانو تورې جامې اغوستې وې او کلاشينکوفونه يې په لاسونو کې و.

موږ ته يې وويل:

- خويندو په دې ډول جامو کې تاسې د شرم وړ ياست، بايد چې چادرۍ په سر کړئ.

کله چې له رخصتيو وروسته بېرته ښوونځي ته راغلو، د دروازې په سر مو يو ليک ښکارېده چې په کې ليکل شوي و:

«ښاغليه! ستاسې ښوونځی د لويديزوالو او کفارو په څېر دی. تاسې نجونو ته زده کړه ورکوئ او هغوی چې کومې جامې اغوندي د شريعت خلاف دي. ښوونځی مو وتړئ کنه له ستونزو سره به مخ شئ او اولادونه به مو په غم کېني.

«د اسلام فدايان»

پلار هوډ وکړ چې له دې وروسته هلکان خپلې سيمه ييزې جامې او نجونې هم له سپين ټکري سره شين رنگه جامې واغوندي. موږ ته يې سپارښتنه وکړه، ښوونځي ته د تلو او راتلو په وخت کې مخ پټ کړو.

هدايت الله له پلار نه غوښتنه وکړه چې پياوړی او ثابت قدمه و اوسي. زياته يې کړه:

- ضياءالدينه ته نفوذ لرونکی شخصيت يې کولای شې د دوی په ضد بيانيه ورکړې. ژوند يوازې نفس ويستل او نفس اخيستل نه دي. ته کولای شې همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شي، د طالبانو ټول امرونه ومنې او یا هم د دوی په وړاندې ودرېږې.

پلار د هدایت الله خبرې موږ ته تشریح کړې. وروسته یې د ډیلي آزادۍ سیمه ییزې ورځپاڼې ته یو لیک ولیکه:

«د اسلام فدایانو ته!

دغه د اسلامي احکامو د پلي کولو سمه لاره نه ده. له تاسې هیله کوو زموږ اولادونو ته ضرر مه رسوئ، ځکه په کوم خدای[ج] چې تاسې باور لرئ، همدغه ماشومان هره ورځ همغه خدای[ج] ته سجده کوي. تاسې کولای شئ زما ژوند واخلئ خو هیله کوم د دې ښوونځي ماشومان ونه وژنئ.»

کله چې پلار ورځپاڼه ولیده ډېر وارخطا شو. لیک د منځ په پاڼه کې چاپ شوی و او د پلار نوم او د ښوونځي پته هم په کې لیکل شوي و. پلار ته ډېرو خلکو مبارکي ورکوله او نور یې هم وهڅاوه.

ځینو کسانو پلار ته وویل:

- تاسې په ګړندیو اوبو کې لومړۍ ډبره اېښې اوس موږ هم باید د خبرو کولو شهامت ولرو.



# د نبات اوبه، د ټېنېس توپ او د سوات بودا

طالبانو لومړی موسیقي، وروسته د بوداګانو مجسمې او وریسې یې زموږ تاریخ له منځه یووړ. زموږ یو له په زړه پورې فعالیتونو څخه د ښوونځي له خوا د مېلې سفر و. دا چې موږ د سوات په څېر جنتي سیمه کې ژوند کاوه ډېر خوشاله و. سوات ډېر په زړه پورې میله یي ځایونه لرل لکه آبشار، سېند، د سکي لوبه، د والي ماڼۍ، د بودا مجسمې او د سوات د آخند مقبره.

ډېرې اونۍ پخوا به مو د مېلې د سفر په اړه خبرې کولې تر دې چې هغه شپه هم را ورسېده چې تر ټولو ښکلې جامې به مو اغوستې، له سرو کړو چرګانو او وریجو ډکو لوښیو سره به بس ته پورته شوو. ځینو زده کوونکو به د عکاسۍ کامرې لرلې او په مېله کې به مو عکسونه هم اخیستل. د ورځې په پای کې به پلار غوښتل چې ټول په یوه لیکه کې ودرېږو او هر کس به په نوبت په یوه لویه ډبره درېده او د نن ورځې د ننداري په اړه به مو خبرې کولې. کله چې فضل الله راغئ له هغې وروسته مو ښوونځي هېڅ مېله یي سفر نه لاره، ځکه چې نجونې نه باید بهر لیدل شوې وای.

طالبانو د بودا مجسمې او ګونبذې چې زموږ د لوبو ځای و ورانې کړې. دغه مجسمې په زرګونه کلونه پخوا د کوشانیانو[i] د پاچاهانو د زمانې له تاریخ څخه را پاتې وې. طالبانو باور لاره چې هر ډول نقاشي کړل او مجسمه جوړول حرام دي او باید چې مخنیوی یې وشي. یوه ورځ یې د جهان آباد بودا چې مېنګورې ته نژدې په یوه غره کې توږل شوی و او شپږ متره اوږدوالی یې لاره والوزاوه.

---

[i] د کوشانیانو امپراتوري چې له ٦٠ څخه تر ۳۵۷ م کلونو پورې یې په منځنی آسیا او دهند په شمال واکمني کوله او بودایي دین په کې رواج و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانې آثار پېژندونکي وايي چې دې بودا د افغانستان د باميانو[ii] د بودا په څېر چې د افغانستان طالبانو ويجاړ کړ ارزښت درلود.

د دې مجسمې د ويجاړېدو له پاره يې دوه عملياته وکړل. لومړی يې د ډېرو په ټوټو کې سوري وکړل او له باروتو يې ډک کړل، خو په زړه پورې پايله يې ترلاسه نه کړه. څو اونۍ وروسته د ۲۰۰۷م کال د اکتوبر په آتم يې هغه ځايونو ته انفجار ورکړ، دا ځل يې هغه بودا چې د اوومې پېړۍ راهيسې يې د درې ځارنه کړه له منځه يووړ.

طالبان زموږ د ښکلو هنرونو، فرهنګ او تاريخ دوښمنان شول. د سوات موزيم يې له دوی څخه د ساتنې له پاره بل ځای ته ولېږداوه. دوی د زمرودو او نورو کانونو غرونه تر خپلې ولکې لاندې راوستل او د هغه ځای ښکلې ډبرې يې د وسلو د اخيستو له پاره پلورلې. چا به چې زموږ ارزښت لرونکې ونې د تختو جوړولو له پاره وهلې له طالبانو به يې اجازه اخيسته چې په ونو ډکو ګاډو ته يې د تلو اجازه ورکړي.

د دوی د راډيو خپرونې په ټوله دره او په ګاونډيو سيمو کې اورېدل کېدې. سره له دې چې موږ تر اوسه هم خپل ټلويزيون ساتلی و، هغوی کېبلي چينلونه پرې کړل. ما او منيبې نور نه شوای کولای چې د «شرارت» په څېر د خپلې خوښې باليووډي خپرونې وګورو. داسې ښکارېده چې طالبان غواړي موږ هېڅ کار ونه کړو. هغوی د کاروم په نوم زموږ د خوښې وړ د تختې لوبه چې په تخته به مو ښو ته حرکت ورکاوه هم منعه اعلان کړه. داسې اوازې مو اورېدلې وې چې که طالبان په کورونو کې د ماشومانو د خندا آواز واوري په زور کور ته ننوزي او تخته ورته ماتوي. طالبانو موږ د نانځکو په څېر تر خپلې ولکې لاندې راوستي و، خلکو ته به يې امر کاوه چې څه ډول کالي واغوندي او څه کار وکړي. ما به فکر کاوه چې که

---

[ii] د بودا لويې مجسمې وې چې د افغانستان د باميانو ولايت د يوه غره په زړه کې توږل شوې وې. دغه مجسمې چې د يوې لوړوالی ۵۳ او د بلې هم ۳۵ متره و، د نورو تاريخي ځايونو سره په دې سيمه کې د اوږده وخت له پاره په افغانستان کې د سيلانيانو د ليدلو اصلي آثار و.



خدای[ج] غوښتي موږ هم همداسې وای نو ټول انسانان به يې يو ډول پيداکړي و.

يوه ورځ مې پام شو چې ښوونکې حميده په سلګيو ژاړي. خاوند يې په متته واړه ښار کې پوليس و، د فضل الله کسانو په هغې ښار حمله کړې وه، د ښوونکې حميدې د خاوند په ګډون يې څو کسه پوليس وژلي و. د درې په پوليسو يې دا لومړی بريد و. دوی ډېر ژر ډېر کليوال تر خپلې ولکې لاندې راوستل. د شريعت د نفاذ سپين او تور بيرغونه ډېر ژر د پوليسو په پوستو کې ورپېېدل. د دوی ملېشې به له لوډسپيکرونو سره کليو ته ننوتې او پوليس به ترې تښتېدل. په لږ وخت کې يې ۵۹ کلي تر ولکې لاندې راوستل. پوليس له وژل کېدو څخه ډېر وېرېدلي و. نو له همدې امله يې په ورځپاڼو کې خبرتيا خپره کړه چې دوی له واک څخه لاس اخيستی.

دا ټولې پېښې وشوې خو څوک يې په مخه کې ونه درېدل، داسې چې ته به وايې ټول پرموښې وړي دي. پلار مې ويل چې فضل الله خلک لار ورکي کړي و. ځينو له دې امله چې ښه ژوند به ولري ورسره يو ځای شوي و. سره له دې چې سخته وه، خو بيا هم پلار هڅه وکړه چې د دوی له تبليغاتو سره مقابله وکړي.

هغه به په خندا سره ويل:

- زه نه ملېشه يم او نه هم راډيو لرم.

هغه آن يوه ورځ په يوه ښوونځي کې د خبرو له پاره په ډېرې اتلولۍ سره د راډيو ملا کلي ته ورغئ. دی له يوه سپند څخه د کرکره يي پل په واسطه تېرېده، وراندې يې پام شو چې ټول آسمان دود نيولی، په ژوند کې يې چې کوم دودونه ليدلي و تر ټولو ډېر تور دود و. لومړی يې له ځان سره فکر کړی و چې دا به د خښتو د بټيو دود وي، خو کله چې ور نږدې شوی و، ګوري چې څو لونګۍ او لويو ږيرو واله کسان ولاړ دي ټلويزيونونه او کمپيوټرونه اور ته اچوي.

پلار مې په ښوونځي کې خلکو ته وويل:

- کليوال مې وليدل چې ټلويزيونونه او کمپيوټرونه يې په اور سوزول. پوهېږئ څوک چې له دې کار څخه ګټه اخلي چاپاني شرکتونه دي چې نور سامانونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړي.

یو کس ستبج ته راغئ د پلار په غوږ کې یې وویل نور ادامه مه ورکوه چې له خطر سره مخ کېږې.

ډېرو دولتي مامورینو او آن خلکو د دې ډول کارونو په وړاندې غبرگون نه ښوده. داسې ښکارېده چې د ټول هېواد خلکو خپل عقل له لاسه ورکړی وي. طالبانو د ملت زړه اسلام آباد هم تر ولکې لاندې راوستی و. په ورځپاڼو کې مې تصویرونه لیدل چې ښځو او نجونو د چادري په څېر جامو کې د موسیقۍ او فلمونو په بازار یرغل کړی و.

دغه ښځې د نجونو د لویې دیني مدرسې «جامعه حفصې» او «لال مسجد» څخه وې. دغه مسجد په ۱۹۶۵ م کال کې جوړ شو او لال نوم یې د دېوالونو د سرو رنگونو له امله دی. لال مسجد چې دولتي مامورینو به هلته لمونځونه کول، د شورا له مجلس، د آی اېس آی له مرکز او نورو ډېرو دولتي ادارو سره ډېر لږ واټن لري. ودانۍ یې د نجونو او هلکانو دوې مدرسې لري چې په کلونو په کشمیر او افغانستان کې د مبارزې له پاره کارول شوې دي. دغه ودانۍ د عبدالعزیز او عبدالرشید په نومونو د دوو وروڼو له خوا اداره کېده او هغه وخت د بن لادن د تبلیغاتو په مرکز بدل شو چې عبدالرشید له ملاعمر سره د کتنې په وخت کې اسامه هم لیدلی و.

دغه دوه وروڼه د خپلو اور ژبو بیانیو له امله پېژندل شوي و او ډېر کسان یې په ځانگړې توگه د سپټمبر له یوولسم وروسته په ځان رامات کړل. کله چې ولسمشر مشرف د «تروریزم» په وړاندې جگړه کې له امریکایانو سره د مرستې هوکړه وکړه، مسجد له پوځ سره خپلې اړیکې پرې کړې او په دولت د نیوکې په مرکز بدل شو. آن عبدالرشید په ۲۰۰۳ م کال په ډسمبر کې د مشرف په کاروان چې راولپنډۍ ته روان و د انفجار په توطیه تورن شو. څارنوالان وایي چې د دې حملې له پاره یې چاودېدونکي توکي په لال مسجد کې پټ کړي و خو هغه له دې تور څخه څو میاشتې وروسته له بنده خلاص شو.



کله چې مشرف په ۲۰۰۴ م کال کې قبایلي سیمو وزیرستان ته خپل سرتېري ولېږل، دوو وروڼو د دولت په ضد د یوې مبارزې رهبري په غاړه اخیستې وه او د پوځ اقدام یې غیر اسلامي اعلان کړ. هغوی یوه وېبپاڼه او د فضل الله د راډیو په څېر یوه ناقانونه راډیویي دستگاه لرله چې له لارې یې خلکو ته اطلاعات رسول.

په همغه وخت کې چې په سوات کې طالبان راڅرگندېدل، د لال مسجد د مدرسې نجونو په اسلام آباد کې خلک گواښل. هغوی په هغو کورونو چې فکر کېده د پیغام رسولو مرکزونه دي په ناڅاپي توگه حمله کړله. کومې ښځې به چې د دوی په فکر بې لارې وې په درو به وهل کېدې. د فلم او موسیقۍ پلورنځي یې تړلي و او د پلورنځیو ټولو وسایلو ته یې اور ورته کړی و. کله چې ښځې د طالبانو په گټه وې، بیا یې د دوی به نظر لیدل او غږ اورېدل ناروا نه دي. د «ام حسن» مدرسې مدیره د عبدالعزیز د مشر ورور ښځه وه چې په ویاړ سره به یې ویل چې ډېرو نجونو ته یې د ځانمرگي برید له پاره روزنه ورکړې. آن په مسجد کې یې محکمې خلاصې کړې چې اسلامي عدالت ترسره کړي. ملېشو به پولیس په درو وهل او دولتي ودانۍ به یې چور کولې.

د مشرف دولت نه پوهېده چې څه ډول غبرگون وښیي. کېدای شي له دې امله به و چې پوځ له مسجد سره نژدې و. خو د ۲۰۰۷ م کال په منځنیو میاشتو کې شرایط نور هم خراب شول او خلک له دې وېرېدل چې د طالبانو ملېشو پلازمېنه تر واک لاندې راوسته. اسلام آباد هر وخت یوه آرامه او منظمه سیمه ده چې د هېواد له نورو سیمو سره ډېر توپیر لري. په پای کې د جولای د درېیم ماښام په وخت ټانگونه او نظامي گاډي تر مسجد چاپېر شول. دوی د هغې سیمې برېښنا پرې کړه، کله چې تیاره شوه، ډزې او چاودنې پیل شوې. سرتېریو د دېوال په سوریو کې چاودنې وکړې او د پېټځای په لور یې توپونه وویشتل، په داسې حال کې چې جنگي هلیکوپترې یې په آسمان گرځېدې، دولتي ځواکونو د مدرسې نجونو ته په لوډسپیکرو کې چیغې وهلې چې تسلیم شي.

د مسجد ډېرو ملېشو د کشمیر او افغانستان په جگړو کې هم برخه اخیستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د ځان له پاره ځو سنګرونه جوړ کړي و. دوی د مدرسې نجونې ډېرینو ځمکتلو کوټو ته له زېرو سره ولېږلې. د نجونو کورنۍ له مسجد بهر پرېشانه ولاړې وې او له خپلو لوڼو سره یې په مبایل خبرې کولې او هیله یې ترې کوله چې را ووزي. ځینو نجونو نه منله ویل یې له ښوونکو یې زده کړې چې د دوی له پاره شهادت کامیابي ده.

د سبا ورځې په ماښام لږ شمېر نجونې را ووتې. عبدالعزیز یې له لور سره چې چادري یې په سر کړې وه په پټه را ووت. د ده مېرمن او وړوکی ورور یې له ډېرو نورو زده کوونکو سره د ننه پرېښودل او هره ورځ به پوځ او ملېشو پر یو بل ډزې کړلې. ملېشې په راکټو او له بتریو جوړو بمونو سمبال وې. دغه محاصره د جولای تر نهم پورې، هغه وخت چې د مسجد له منارې څخه یې د ځانګړو ځواکونو یو قوماندان وویشت ادامه لرله. په پای کې د پوځ زغم پای ته ورسېد او په پټنځای یې حمله وکړه.

دولت دې ته د «خاموش عملیات» نوم ورکړی و سره له دې چې چیغو یې د غوږو پردې شکولې. تر دې وړاندې مو په پلازمېنه کې داسې جګړه نه وه لیدل شوې. کمانډویانو په ساعتونو کوټه په کوټه مبارزه وکړه، تر دې چې عبدالعزیز او پیروان یې تر ځمکتلې پورې تعقیب او ووژل. د جولای په لسمه کله چې محاصره پای ته ورسېده، د سرتېرو او ماشومانو په ګډون په سلګونو خلک ووژل شول. خبرونو ټکان ورکوونکي عکسونه چې هر ځای وینې ښکارېدې، هر ځای هنداري ماتې او بې روحه جسدونه پراته و، ښودل. موږ ټولو دا تصویرونه کتل چې ډېر یې وېرېدلي و. د دواړو مدرسو ډېر زده کوونکي د سوات اوسېدونکي و. په پلازمېنه هغه هم په یوه مسجد کې څه ډول داسې پېښه رامنځ ته کېږي؟ مسجد زموږ له پاره یو سپېڅلی ځای دی.

د لال مسجد له محاصرې وروسته د سوات طالبان ورک شول. د جولای دوولسمه مې د زېږېدو ورځ ده له دې امله مې د دې ورځې پېښې نه هېرېږي. فضل الله خلکو ته د یوې راډیو شپې ورکړې چې له پخوانیو شپو سره یې توپیر



لاره. هغه په ډېرې غوسې او پرېشانۍ سره د لال مسجد د حملې په اړه خبرې کولې او ژمنه یې وکړه چې د عبدالعزیز د مرګ غچ به اخلي. بیا یې د پاکستان د حکومت په ضد د جګړې اعلان وکړ.

دغه شخړې د یوې واقعي نیونې پیل و. اوس فضل الله خپل ګواښونه کوی شوای چې د لال مسجد په نوم خلک د طالبانو ملاتړۍ ته وهڅوي. څو ورځې وروسته یې د سوات په لاره په یوه دولتي ډله حمله وکړه او دیارلس سرتېري یې ووژل. دغه ستونزه یوازې د سوات نه وه، د باجوړ د قبیلو له خوا هم د اعتراض چیغې پورته شوې او د ځانمرګو بمونو غړ په ټول هېواد کې واورېدل شو.

تر اوسه هم د هیلو یوه وړانګه شته وه، ځکه چې بې نظیر بوټو بېرته راتله.

امریکایان ډېر په وېره کې و، ځکه چې له ده سره تړون کوونکي جنرال مشرف په پاکستان کې محبوبیت نه لاره چې د طالبانو په وړاندې اغېز ولري، له همدې امله یې له خپل مامور سره مرسته وکړه چې په یوه معامله کې خپل واک ووېشي. نقشه داسې وه چې مشرف له واک څخه څنګ ته کړي او د بې نظیر بوټو د حزب تر ملاتړ لاندې یو ملکي کس ولسمشر وټاکي. ټولو پاکستانیانو مې د پلار په څېر مې فکر نه کاوه چې دا معامله دې اغېز ولري ځکه چې مشرف او بې نظیرې له یو بل څخه بد راتلل.

زما د دوه کلنۍ له وخته بې نظیرې له هېواده بهر په تبعید کې ژوند کاوه. خو پلار مې یې په اړه ډېرې خبرې کړې وې او دا چې دویم ځلي راتله او یوه ښځه رهبر به مو لرله ډېره حیرانه وم. بې نظیر بوټو زما په څېر ډېرو نجونو ته د خبرو کولو زړه ورکړی و چې خبرې او سیاست وکړو. هغه زموږ له پاره بېلګه وه. بې نظیر بوټو د زورواکۍ د له منځه وړلو، د ولسواکۍ پیل او ټولې نړۍ ته د قدرت او هیلو پیغام راوړونکې وه. هغه زموږ یوازینۍ مشره وه چې د ملېشو په ضد به یې خبرې کولې او آن امریکا ته یې وړاندیز وکړ چې د پاکستان په پولو کې بن لادن پیدا او ویې نیسي.

خو د ټولو خلکو د استقبال وړ ونه ګرځېده. د ۲۰۰۷ م کال د اکتوبر په ۱۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کراچۍ کې له الوتکې راښکته شوه چې مور ټول يې د ليدو له پاره ټلويزيون ته ځک و، اوښکې يې تويولې ځکه چې له نهه کاله تبعيد وروسته يې د پاکستان په خاوره کې پښه اېښې وه. کله يې چې کاروان په سرک په حرکت کې و او دا په يوه سرخلاصي بس کې وه. په سلګونو زره خلک يې ښه راغلاست ته راغلي و. هغوی له ټول هېواد څخه راغلي و چې ډېرو يې ماشومان هم ورسره را وستي و. ډېرو يې سپينې کوترې والوزولې چې يوه يې د بې نظيرې په بکس کېناسته. خلک دومره ډېر و چې بس ډېر ورو حرکت کاوه. مور يې نور ننداره نه شوای کوی ځکه چې ډېر وخت يې نيوه.

کله چې په نيمه شپه کې ملېشو حمله وکړه، زه مې په بستره کې پرته وم. د بې نظيرې بس د نارنجي وړانګو په څپو کې الوتی و. سهار چې کله له خوبه ويښه شوم، پلار مې خبره کړم. هغه او ملګري يې دومره وېرېدلي او پرېشانه و چې ټوله شپه يې سترګې نه وې پټې کړې. له نېکه مرغه چې بې نظيرې ته زيان نه و رسېدلی ځکه چې هغه تر انفجار مخکې لاندې پوړ ته تللې وه څو په يوه فولادي کوټه کې آرام وکړي خو په دې پېښه کې ۱۵۰ کسه وژل شوي و، زمونږ په هېواد کې د بم چاودنې دا پېښه تر ټولو لويه وه. ډېری جسدونه د زده کوونکو و چې تر بس يې کړۍ جوړه کړې وه او ځانونه د بې نظيرې فدايان بلل. په هغې ورځ په ښوونځي کې ټول زده کوونکي آن د بې نظيرې مخالفين هم غلي و. مور خدای[ج] ته شکر ويست چې بې نظيره جوړه ده.

يوه اونۍ وروسته پوځ د جيپونو او هلي کوپترو په آوازونو سره سوات ته راغئ. مور په ښوونځي کې و چې هليکوپترې راغلې، غږ يې ډېرې ووېرولو. په منډه منډه بهر ووتو، د نبات اوبه او د ټېنېس توپونه يې چې مور ته را اچول په چټکۍ سره مو نيول. هليکوپترې د سوات په يوه لرې پرته سيمه کې وې، خو دا چې زمونږ کور د سيمه ييز پوځ له اډې سره نژدې و زمونږ په سر به يې هم پروازونه کول. مور د نبات د اوبو د ټولولو له پاره له يو بل سره سيالي کوله چې څوک به ډېر ټول کړي.

يوه ورځ يو کس د سرک له بلې غاړې راغئ ويې ويل، مسجدونو اعلان وکړ چې



سبا به نظامي حکومت جوړ شي. مور نه پوهېدو چې نظامي حکومت څه معنی لري. له همدې امله وارخطا و. د خپل ګاونډي د کور په دېوال کې د اړيکو ساتلو له پاره چې هلته سفينه اوسېده يو سوری و. زه لاړم دېوال مې په زوره زوره وواهه، دوی د دېوال سوري ته راغلل، ترې ومې پوښتل:

- دا نظامي حکومت يې لا څه دی؟

کله چې هغوی راته تشريح کړ، وروسته آن له کوټو مو هم را ونه وتو فکر مو کاوه چې کومه بده پېښه کېږي.

په راډيو کې مو واورېدل چې مشرف درې ته ۳ زره سرتېري لېږلي چې له طالبانو سره مقابله وکړي. هغوی ټولې خصوصي او دولتي ودانۍ چې فکر کېده ستراتيژيک اهميت لري ونيوې. تر هغې وخته فکر کېده چې پاکستان د سوات پېښو ته فکر نه کوي. يوه ورځ وروسته يوه ځانمرګي د پوځ يو ګاډی والوزاوه چې ۱۷ سرتېري او ۱۳ ملکي وګړي په کې ووژل شول. وروسته ټوله شپه له غرونو څخه د توپ او ټوپکو آوازونه راتلل، له دې غږونو سره مو نه شوای کولای سترګې پټې کړو.

په بله ورځ مې په ټلويزيون کې واورېدل چې په غرونو کې جګړه د شمال لور ته هم وړل شوې ده. ښوونځی رخصت شوی و او مور په کور کې پاتې و، هڅه مو کوله په پېښه پوه شو. سره له دې چې جګړه له مېنګورې بهر وه خو مور د مرميو غږونه اورېدل. پوځ ويل چې د سلو په شاوخوا ملېشې وژل شوې دي، خو د نوومبر په لومړۍ ورځ لږ او ډېر اوه سوه طالبانو په خوازه خېله کې د پوځ په يوه پوسته برید وکړ. له دوی څخه پنځوس تنه سرحدي پوځيان وتښتېدل او اته څلوېښت کسه نور يې ونيول. د فضل الله کسانو د دې له پاره چې دوی سپک کړي او ملنډې پرې ووهي، وسلې او يونيفورم يې ترې اخيستي وو او بيا يې هر يوه ته پنځه سوه روپۍ ورکړې چې له هماغه لارې بېرته لاړ شي. وروسته طالبانو په خوازه خېله کې دوې پوستې تر خپل واک لاندې راوستې او مدين[i] ته لاړل چې هلته پوليسو خپله وسلې ورکړې. طالبانو په ډېرې چټکۍ سره د مېنګورې

[i] Madyan

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا سیمې تر واک لاندې کړې.

مشرف د نوومبر په دولسمه لس زره سرتېري او څو جنګي هلیکوپټرې هم زموږ درې ته را ولېږلې. په هر ځای کې پوځ ښکارېده. هغوی آن د ګلف د لوبو په ډګر کې هم پوسته واچوله او خپلې لوېې وسلې یې د غره په لمنه کې ودرولې. وروسته یې د فضل الله په ضد عملیات پیل کړل چې د سوات د لومړۍ جګړې په نوم یاده شوه. دا لومړی ځل و چې دولت د خپلو خلکو په وړاندې له قبایلي سیمې بهر عملیات کوي. لومړی پولیسو هڅه وکړه چې فضل الله په داسې حال کې چې یوه ټولي ته یې خبرې کولې ونیسي خو یو طوفان وشو چې هغه په تېښته بریالی شو، دغې پېښې د ده معنوي ارزښت ډېر کړ.

ملېشې په آسانۍ سره تسلیم نه شوې. د دوی په ځای یې د ختیځ لور ته پرمختګ وکړ، د نوومبر په ١٦مه یې د الپورې ښار چې د شنګلې له اصلي ښارونو څخه یو دی ونیو. سیمه ییز پولیس دویم ځلي له جګړې پرته وتښتېدل. د هغې ځای خلکو ویل چې د مبارزه کوونکو په منځ کې چیچنیایي او ازبک هم وو. موږ په شنګله کې خپلې کورنۍ ته په اندېښنه کې وو، سره له دې چې پلار ویل کلي یې د طالبانو له سیمې ډېر لرې دی چې دوی ته مزاحمت نه شي کوی او د سیمې خلک به له دوی سره مرسته وکړي. د پاکستان پوځ ډېر سرتېري او وسلې لرلې، له همدې امله یې دویم ځلي هوډ وکړ چې دره په ټولیزه توګه تر کنټرول لاندې ونیسي. هغوی د فضل الله مرکز امام دره ونیوه. ملېشې ځنګل ته وتښتېدې او د ډېسمبر په لومړیو کې پوځ وویل چې ټولې سیمې پاکې شوې دي. فضل الله د غرونو په لور شا تګ کړی و.

خو دوی طالبان له هغې ځایه لرې نه کړل.

پلار وویل:

- دا د شخړې پای نه دی.

یوازې د فضل الله ډله د ویجاړۍ لامل نه وه. د پاکستان په ټول شمال لویدیز کې د قبایلو په رهبرۍ د ملېشو بېلابېلې ډلې را پیداشوې وې. د سوات له



جګړې یوه اونۍ وروسته د طالبانو ۴۰ رهبرانو زموږ د ایالت له لارې په جنوبي وزیرستان کې سره کتلي و او د پاکستان د دولت په ضد یې جګړه اعلان کړې وه. دوی هوکړه کړې وه د «پاکستان د طالبانو د تحریک» په نوم او بیرغ سره به یوه، متحده ډله جوړه کړي او دعوه یې وکړه چې په خپله ډله کې د پاکستان په ضد جګړې له پاره ۴۰ زره کسان لري. دوی د بیت الله مسعود په نوم یو کس چې په افغانستان کې هم جنګېدلی و او لږ او ډېر د څلوېښت کلونو و، د خپل رهبر په توګه وټاکه. فضل الله هم د سوات د عملیاتو قوماندان وټاکل شو.

کله چې پوځ را ورسېد، موږ فکر کاوه چې جګړه به ژر پای ته ورسېږي خو سخته تېروتنه مو کړې وه. تر اوسه ډېرې شخړې شته وې. طالبانو نه یوازې دا چې په پولیسو او پوځ یې حملې کړلې، بلکې کومو ښځو چې حجاب نه لاره، چا چې اوږده ږیره نه لرله او چا چې کمیس پرتوګ نه اغوستل هم یې حملې پرې کولې.

د ډېسمبر په اووه ویشتم بې نظیر بوټو د راولپنډۍ د پارکي په لیاقت باغ کې چې هلته زموږ د هېواد لومړی وزیر لیاقت علي ترور شوی و، ټاکنې ترسره کړې.

بې نظیر بوټو د چیغو او خوشالیو په غږونو کې څرګنده کړه:

- موږ به افراط کوونکو او ملېشو ته د خلکو په قدرت سره ماته ورکړو. د دې وړونکی ګاډی یو ټویوټا ډوله د مرمۍ ضد لندکروزر و، کله چې له باغه ووته، د ګاډي په چوکۍ ودرېده او د ګاډي له لوڅ سر څخه یې سر ویوست چې خلکو ته د خدای په آمانۍ له پاره لاس وښوروي. ناڅاپه د ډزو او چاودنو غږونه واورېدل شول، ځکه چې یوه ځانمرګي برید کوونکي ځان د دې د ګاډي په څنګ کې الوزولی و. بې نظیره ورو لاندې ورغړېده. د مشرف دولت وروسته څرګنده کړه چې د بې نظیرې سر له یوه سخت ځای سره لګېدلی و خو خلکو ویل چې هغه په ډزو سره ووژل شوه.

د ټلویزیون ننداري ته ناست و چې ناڅاپه خبرونه پیل شول. نیا مې ویل:

- بې نظیره به شهیده شي.

په دې معنی چې د ویاړ وړ مرګ به ولري.

زموږ ټولو له سترګو څخه اوښکې روانې وې او دعا مو ورته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مو چې د هغې د مړینې خبر واورېد، زما ننني آواز راته وویل: «ته ولې د ښځو د حقوقو له پاره مبارزه نه کړې؟»

موږ د ولسواکۍ په لټه کې و او خلکو ویل:

- بېنظیره چې مړه شوه، هېڅوک به هم امنیت ونهویني.

داسې ښکارېده چې هېواد مو ټولې هیلې له لاسه ورکړې وې.

مشرف د پاکستان د طالبانو رهبر بیت الله مسعود د بې نظیرې د مرګ مسول باله. دوی د بیت الله مسعود او د دوی د ملېشو تر منځ دیوې ټلیفوني مکالمې متن خپور کړ چې د حملې په اړه یې خبرې کړې وې . خو مسعود اعلان وکړ چې بوټو دوی نه ده ترور کړې.

د اسلامي مطالعې ښوونکی قاري صیب به له موږ کره راته چې ما او د سیمې نورو ماشومانو ته قرآن را زده کړي. کله چې طالبان زموږ سیمې ته راغلل، د ټول قرآن تلاوت کول مې تر ډېره د بابا د خوشالولو له پاره ختم کړی و. موږ قرآن کریم په عربي ژبه له مخه وایو، چې ډېر خلک په سمه توګه نه پوهېږي چې د آیتونو معنی یې څه ده، خو ما به یې معنی هم زده کوله، په داسې حال کې چې زه وېرېدلې وم او قاري صیب هڅه کوله چې د بې نظیرې مرګ توجیه کړي ویل یې:

- ډېر ښه وشول چې هغه یې ووژله. کله چې ژوندۍ وه وجود یې هېڅ ګټه نه لرله. هغې له اسلام څخه په سمه توګه پیروي نه کوله او که چېرې ژوندۍ وای، بې نظمي او ګډوډي رامنځ ته کېده.

زه سخته وېرېدلې وم او دا موضوع مې له پلاره سره شریکه کړه.

هغه وویل:

- بله هېڅ لاره نشته. موږ دې ملایانو ته د قرآن د زده کړې له پاره اړتیا لرو. خو ته یوازې د له مخه ویلو له پاره له هغې مرسته غواړې، نو د هغه توضیحاتو او تفسیر ته پام مه کوه. یوازې هغه څه زده کړه چې خدای(ج) ویلي دي. د هغه خبرې الهي پیغامونه دي چې ته کولای شې هغه په آزادانه توګه تفسیر کړې.



# لایق ټولګی

ښوونځي توان را کاوه چې په هغې تیارو ورځو کې درس وویلای شم. کله به چې په لاره روانه وم فکر مې کاوه چې تر څنګ به مې هر تېرېدونکی کس طالب وي. موږ به د ښوونځي بکس او کتابونه تر ټکري لاندې پټول. پلار به هر وخت ویل د کلي تر ټولو ښه سهار هغه دی چې یو ماشوم د ښوونځي په جامو کې ووینم، خو اوس له دې ډول جامو څخه وېرېدو.

نوې منځني ښوونځي ته راغلې وم او مېرمن مریمې ویل چې هېڅچا نه غوښتل زموږ ټولګي ته درس ورکړي ځکه چې موږ ډېرې پوښتنې کولې. په واقعیت کې مو زړه غوښتل چې ځیرکې زده کوونکې و. کله به مو چې په ودونو کې په لاسونو نکریزې اېښودې د ګلونو په ځای به مو د کېمیا فارمولونه او انتیګرالونه جوړول.

له ملکه نور سره مې سیالي روانه وه خو وروسته له هغې چې هغه لومړۍ زده کوونکې شوه، ما ډېره هڅه وکړه چې په ښوونځي کې مې ښېرته خپل ځای ونیسم. پخوا به هر وخت دا دویمه او منیبه درېیمه کېدې. ښوونکو به موږ ته ویل، آزموینه اخیستونکي لومړی ګوري چې څومره مو لیکلي، وروسته یې بیا مفهوم ارزوي. منیبې ښکلی لیک لاره، خو ما به هر وخت هغې ته ویل چې په ځان کافي باور نه لري. دې ډېره هڅه کوله ځکه له دې وېرېده نه چې لږې نومرې وړل یې کورنۍ ته پلمه شي او له ښوونځي یې منعه کړي.

زه په ریاضي کې کمزورې وم آن چې په یوه آزموینه کې مې صفر وړی و، خو بیا مې هم ډېر کوښښ کاوه. زموږ د کیمیا استاد ښاغلي عبدالله به ویل، «موږ به ټولو ښوونکو ته (ښاغلی یا مېرمن ویل)» زه نړۍ ته سیاست پوه راغلی یم ځکه چې د شفاهي آزموینو په وخت کې به مې تل ویل:

- ښاغلیه تاسې زموږ تر ټولو بهتره ښوونکی یاست او ستاسې له مضمون سره ډېره مینه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمېر کورنیو شکایت لاره چې پر ما ډېر فکر کېږي، ځکه چې پلار مې د ښوونځي مالک دی.ډېرې خلک به دې ته هم حیران کېدل چې مور له دومره سیالۍ سره سره بیا هم ډېرې سره نژدې یو او په یو بل بخیلي نه کوو. مور به همدا راز د نمونه شاګرد له پاره هم سیالي کوله. په دې سیالۍ کې د سیمې د خصوصي ښوونځیو تر ټولو تکړه زده کوونکي ټاکل کېدل، یو کال زما او ملکې نومرې یو ډول شوې. ما یو ځل بیا هم په ښوونځي کې آزموینه ورکړه چې د ډالۍ مستحق معلوم شي چې دویم ځلي مو هم یو ډول نمرې واخیستې. د دې له پاره چې نور خلک فکر ونه کړي چې په ښوونځي کې ماته ډېر پام کېږي یا ډېره نازول کېږم. پلار مې بله آزموینه د خپل ملګري په ښوونځي کې واخیسته، بیا هم یو برابر شوو نو له همدې امله مو ډالۍ سره ووېشله.

ما له ډرامې او تمثیل سره ډېره مینه لرله. په همدې بنسټ مې د فساد په اړه د رومیو او ژولیت په اساس ډرامه ولیکله. لومړی داوطلب یوه ښایسته نجلۍ وي او هغه له نجلۍ ډېرې آسانه پوښتنې کوي: «یو بایسکل څو ټایرونه لري؟»

نو کله چې هغه ځواب ورکوي: «دوه»

ورپسې داوطلب یو نارینه دی نو رومیو له هغې سختې پوښتنې کوي: «پرته له دې چې له چوکۍ مو پورته شئ، زمونږ د کوټې په سر کوټه کې کوم ډول پکه ده؟»

هغه ځواب ورکوي: «زه به څنګه پوه شم؟»

رومیو ځواب ورکوي: «تاسې خو وایاست چې د دوکتورا په کچه زده کړې لرئ... ولې نه پوهېږئ؟!»

له همدې امله رومیو هوډ کوي چې کار نجلۍ ته ورکړي.

منیبې د نجلۍ رول لوباوه، یوې بلې نجلۍ عطیې زما د سکرترې رول لاره چې په خپلو ټوکو سره به یې ډرامې یا تمثیل ته ښکلا او شور ورکاوه. ټولو په زوره زوره خندل. زما خوښېږي چې د خلکو د چلند او خبرو پېښې وکړم، په تفریح کې به زده کوونکو زارۍ راته کولې چې زمونږ د ښوونکي ښاغلي عبدالله پېښې وکړم. د بدو پېښو له پېښېدو سره سره مو په هغې ورځو کې یوې وړې پلمې ته لاره



اواروله چې له شونډو مو مسکا لرې نه شي.

د ۲۰۰۷ م کال په پای کې د پوځ عملیاتو ونه کړای شوای چې د تل له پاره هېواد له طالبانو خلاص کړي. پوځ لا تر اوسه د سوات په ځینو سرکونو لیدل کېده، له دې سره سره ملا فضل الله هره ورځ په راډیو کې خبرې کولې، د ۲۰۰۸ م کال حملې او چاودنې یې تر دې کال وېروونکې بللې.

په هغې ورځو کې زمونږ د خبرو اترو موضوع پوځ او طالبان و. عطیې به هر وخت سر زما په سر اېښود او ویل به یې:

- طالبان ښه دي که پوځ؟

او ما به ځواب ورکاوه:

- که یو زمرې او مار حمله دربانديې وکړي وایې به چې کوم یو ښه دی؟

مار که زمرې؟

زمونږ ښوونځی له وېرې او وحشت څخه بهر وه، زمونږ د ټولګي هرې نجلۍ غوښتل چې ډاکټره شي، خو ما غوښتل چې د طالبانو په ضد یو ماشین جوړ کړم چې دوی را وباسي او وسلې یې ویجاړې کړي. ویلای شم چې په ښوونځي کې هم ګواښل کېدو، یو شمېر ملګرو مې زده کړې پرېښودې. فضل الله به تل له راډیو څخه خبرتیا خپروله چې نجونې باید په کورونو کې کښېني او ملګري به یې ښوونځي والوزوي، چې دا چاودنې به هر وخت د نظامي حکومت په وخت کې د شپې له خوا کېدې چې هغه وخت به زده کوونکي په ښوونځیو کې نه و.

لومړی ښوونځی چې والوزول شو په متته کې د «شاور زنګی » په نوم د نجونو دولتي لومړنی ښوونځی و، د داسې جنایت کول د باور وړ نه و. له هغې وروسته یې هم هره ورځ ډېرې ودانۍ والوزولې. آن په مېنګوره کې هم څو چاودنې وشوې. یوه ورځ په پخلنځي کې وم، دوه بمونه وچاودېدل چې ټول کور ورسره ولړزېد او د کور له چت نه پکه لاندې را وغورځېده. زه دومره وېرېدلې وم چې یوه او بله خوا مې منډې وهلې.

د ۲۰۰۸ م کال د فبرورې د میاشتې په وروستیو ورځو کې مې یوه ورځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخلنځي کې کوم څه پخول چې د لوبې چاودنې غږ مو واورېد. دا غږ ډېر وېروونکی غږ و. د تل په څېر مو یو بل ته غږ کړل چې د ټولو په روغتیا مو باور وشي او له حاله یې خبر شو. وروسته مو د مېنګورې د امبولانسونو غږونه واورېدل چې یو پر بل پسې زموږ له کور څخه تېر شول. یوه ځانمرګي برید کوونکي د حاجي بابا د لیسې د باسکټبال په میدان برید کړی و. هلته د اقبال جاوېد په نوم د یوه سیمه ییز پېژندل شوي پولیس د جنازې مراسم و چې له طالبانو څخه د تېښتې په وخت کې په یوه لرې پرته سیمه کې په ځانمرګي برید کې وژل شوی و. هغه د مېنګورې و. جسد یې د نظامي درنښت له پاره خپلې سیمې ته راوړی و چې طالبانو یې د جنازې د لمانځه په مراسمو کې چاودنه وکړه. د اقبال د وړوکي زوی په ګډون د سیمې پنځه پنځوس کسان چې ډېری یې ما پېژندل ووژل شول. هلته د منیبې د کورنۍ لس کسان هم وو چې ټول یې یا وژل شوي او یا هم ټپي شوي و. منیبه ډېره غمجنه وه او ټول ښار په وېره کې و. په ټولو مسجدونو کې فاتحې واخیستل شوې.

له پلاره مې وپوښتل:

- پلاره وېرېدلی یې؟

ځواب یې راکړ:

- په شپه کې د انسان وجود ته وېره راځي خو کله چې سهار شي بېرته ارې اتل جوړېږي.

په رښتیا هم موږ وېرېدلي و، خو اتلولي مو په وېرې غلبه وکړه.

پلار وویل:

- موږ باید دره د طالبانو له نښو پاکه کړو. چې بیا به هېڅوک هم په زړه کې وېره ونه لري.

موږ پښتانه د کړکېچ په وخت کې بېرته له خپلو پخوانیو لارو سره تړل کېدو، نو له همدې امله په ۲۰۰۸ م کال کې د سوات پیرانو له فضل الله سره د مقابلې له پاره د «قومي جرګې» په نوم یوه ټولنه جوړه کړه. د خورشید کاکاجي، مختار



خان یوسفزي او زاهد خان په نومونو د سیمې درې مشران دېره په دېره د پیرانو د قناعت لپاره ګرځېدل چې له دوی سره یو ځای شي. د دوی مشر پیر د عبدالخان خالق په نوم یو څلور اویا کلن سپین ږیری و. کله چې ملکه سوات ته له والي سره د خبرو له پاره راغې، دی یې د ځانګړې ساتونکي په توګه ټاکل کېږي. سره له دې چې پلار مې کوم پیر یا خان نه و خو د خبرو کولو له پاره وټاکل شو. هغه په پښتو، اردو او انګلیسي ښې خبرې کړلې. له همدې امله دی په سوات کې د ننه او بهر یو اغېز لرونکی کس و.

هغه هره ورځ د سوات د پیرانو د ټولنې له خوا په سیمینارونو او رسنیو کې شته و او خبرې به یې کولې، ده به ویل:

- ستاسې هدف څه دی؟ تاسې د خلکو ژوند او فرهنګ لوټلی دی.

پلار مې راته وویل:

- زه له هر هغه سازمان سره چې د سولې له پاره کار کوي یو ځای کېږم. که غواړې له یوې شخړې او ستونزې خلاص شې، نو لومړی کار چې باید ترسره یې کړې دا دی، چې حقیقت ووایې. که ستا سر درد کوي او ډاکټر ته ووایې چې زړه مې درد کوي، هغه به له تاسې سره څه ډول مرسته وکړي؟ ته باید حقیقت ووایې. حقیقت او رښتینولي وېره له منځه وړي.

کله به چې هغه خپلو ملګرو احمدشاه، محمد فروغ او زاهد خان چې ټول سیاست پوهان و سره یو ځال کېدل.زه به هم دوی ته ورتلم. احمدشاه یو ښوونځی لاره چې محمد فروغ هم کار ورسره کاوه. زاهد خان یو لوی مېلمستون او یو هوټل لاره. کله چې زموږ کور ته راغلل، ما به چای ورته راوړ، په آرامه به د دوی په څنګ کې د خبرو د اورېدو له پاره کېناستم.

دوی ویل:

- ملاله یوازې د ضیاءالدین لور نه بلکې زموږ ټولو لور ده.

دوی به د اسلام آباد او پېښور تر منځ تلل راتلل او له راډیو سره یې ډېرې مرکې لرلې. په ځانګړې توګه له امریکا غږ او بي بي سي سره چې له دوی سره به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوبت مرکې کړلې، د مرکو له پاره به له دوی څخه یو کس خامخا حاضر و. دوی به خلکو ته ویل څه چې په سوات کې روان دي تر اسلام پورې تړاو نه لري. پلار مې ویل، په سوات کې د حکومت او پوځ له ملاتړ پرته د طالبانو شته والی شونی نه و.

دولت باید د خپلو هېوادوالو له حقوقو دفاع وکړي خو هغه وخت چې ونه شئ کړی د دولت او غیردولت تر منځ توپیر وښیئ او همدارنگه که چېرې په دولت ډاډ ونه لرئ چې د غیردولت په وړاندې به ستاسې ساتنه وکړي، وضعیت به ډېر سخت شي.

زموږ اطلاعاتي سازمان او پوځ ډېر پیاوړي دي او ډېری کسان نه غواړي چې په ښکاره توگه دا ډول خبرې وکړي. خو پلار او ملگرو یې هېڅ وېره نه لرله هغه ویل:

- ستاسې اقدامات زموږ د خلکو او پاکستان په وړاندې دي. د طالبانو ملاتړ مه کوئ، هغوی انساني خوی نه لري. ټول څرگندوي چې سوات د پاکستان له پاره قرباني کېږي خو هېڅوک او هېڅ شی نه باید د دولت له پاره قرباني شي. دولت د مور په څېر دی او یوه مور هېڅ کله هم خپل اولادونه نه پرېږدي او بله دا چې هغوی نه تېر باسي.

دا چې ډېری خلک حقیقت نه وایي، هغه ډېر زیات پرېشانه و. پلار مې د مارتین نیمولر[i] شعر چې آلماني نازي[ii] شاعر و، په خپل جېب کې ساته:

«لومړی ځل په کمونیستانو پسې تلو»

زه غلی وم ځکه چې کمونست نه وم.

وروسته په سوسیالستانو پسې راغلل.

بل ځل غلی شوم ځکه چې سوسیالست نه وم.

هغه وخت په یهودیانو پسې راغلل.

[i] مارتین نیمولر «۱۸۹۲- ۱۹۸۴» د نازیانو ضد د پروتستانو کشیش دی چې د هټلر په وړاندې د مقاومت او لنډو شعرونو د ویلو له امله یې نړیوال شهرت پیداکړ.

[ii] نازي آلمان له ۱۹۳۳ څخه بیا تر ۱۹۴۵ کال د د آلمان حکومت ته ویل کېږي چې په دې هېواد کې د ادولف هېټلر دولت تر ۱۹۴۵ کال پورې حکومت وکړ.



ما هېڅ ونه ویل ځکه چې یهودي نه وم.

په پای کې خپله په ما پسې راغلل.

خو نور د نیوکې او اعتراض له پاره څوک پاتې نه و.»

زه پوهېدم چې هغه په حقه و. که خلک غلي وي او چوپتیا اختیار کړي، هېڅ به هم بدل نه شي.

په ښوونځي کې مې پلار د سولې له پاره یوه تگلاره جوړه کړه او موږ یې وهڅولو چې د ښښو په اړه سپینې خبرې او حقیقت ووایو.

منیبه په ښه ډول پرې توانېدلې وه. «موږ پښتانه دینداره خلک یو. د طالبانو د کارونو له امله مو ټوله نړی تروریستان بولي. خو دا حقیقت نه لري. موږ سوله خوښي یو. غرونه، ونې، گلونه او زموږ د درې هر څه د سولې رنگ او بوی لري.»

زموږ د زده کوونکو له ډلې ځینو له یوازیني خصوصي پښتو ټلویزیون خیبر سره د جگړې له امله د نجونو د زده کړو د پرېښودو په اړه مرکې وکړې. مخکې تر مخکې به له موږ سره ښوونکو مرسته کوله چې پوښتنو ته څه ډول ځواب ووایو. هغه وخت چې شاوخوا یوولس، دوولس کلنې وو له یو بل سره به مو کار کاوه. خو کله مو چې پېښې په دیارلس او څوارلس کلنۍ کېښودې، پلار یا به یې ورونو دوی ته اجازه نه ورکوله، ځکه چې د بلوغ سن ته رسېدلې وې نو باید چې حجاب یې مراعات کړی وای.

یوه ورځ زه د هېواد لوی خبري ټلویزیون جیو ته لاړم. د دوی په دفتر کې د ندارو یا تمثیلي ټوټو څو پاڼې په سکرین ښکارېدې. له ځان سره مې فکر وکړ: «رسنۍ مرکې ته اړتیا لري. هغوی غواړي له یوې نجلۍ یا هلک سره مرکه وکړي خو ټولې نجونې له دې کاره وېرېږي او یا به یې کورنۍ اجازه ور نه کړي. زما پلار اتل دی او تر څنگ به مې وي. هغه ویل ته یو هلک یې او دا ستا حق دی چې خبرې وکړې.»

هر څومره به مې چې مرکې ډېرېدې، د پیاوړتیا احساس مې کاوه او نورو به مې هم تر ډېره ملاتړ کاوه. زه یوولس کلنه وم خو لویه ښکارېدم او رسنۍ هم له یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانې نجلۍ سره مرکې ته مینه والې شوې. یوه خبریال داسې وستایلم: «تکړه نجلۍ یعنې هغه نجلۍ چې د پرمختګ په حال کې ده» نورو به «پخه نجلۍ» راته ویله، د دوی په اند زه له خپل عمر نه ډېره پوهېدم.

ما باور لاره چې خدای(ج) به مې ساتنه کوي. که ما د نجونو د حقوقو په اړه خبرې کړلې، کومه تېروتنه مې نه کوله.

قرآنکریم وایي: «باطل به له منځه ځي او حق به بریالی شي.»

ما له ځانه سره فکر کاوه: «که د فضل الله په څېر یو کس کولای شي هر څه وران کړي، د څه له پاره یوه نجلۍ نه شي کولای هر څه بدل کړي؟»

ما به هره شپه له خدای(ج) سره راز او نیاز کاوه چې ځواک راکړي.

د سوات رسنۍ تر فشار لاندې وې، هڅه یې کوله چې د طالبانو څېره مثبته وښیي. خو ډېرو سیمه ییزو خبریالانو د درې په تېرېدونکو پېښو پرېشانې ښوده او له ما سره به یې مرکه کړله، ځکه چې ما به هغه خبرې کولې چې دوی به یې د کولو زړه نه لاره.

پلار ګاډی نه لاره نو له همدې امله به هر ځای ته په رېکشا کې تلو. د پلار یوه ملګري به د مرکې ځای ته رسولم. یوه ورځ زه او پلار د بي بي سي د اردو څانګې د یوه پروګرام له پاره چې د وتلي لیکوال واسط الله له خوا ترسره کېدو، پېښور ته ورسېدو. زه د پلار له ملګري او لور سره یې چې دوه پلاره او دوې لوڼې و هلته لاړم. مسلم خان د طالبانو استازی و چې په سټوډیو کې نه و. زه یو څه وارخطا وم خو سره له دې پوهېدم چې پروګرام ډېر ارزښت لرونکی دی او په ټول هېواد کې به یې خلک واوري. نو هلته مې وویل:

- طالبان څه ډول زړه کړي چې زما لومړی حق چې زده کړه ده له ما څخه واخلي او له زده کړو مې منعه کړي؟

مسلم خان هېڅ ځواب ور نه کړ، ځکه چې د هغه ټلیفوني خبرې مخکې تر مخکې ثبت شوې وې. آخېر یو ثبت شوی غږ څنګه کولای شي ژوندي غږ ته ځواب ورکړي؟



له دې مرکې وروسته خلکو ماته مبارکي راکړه. پلار مې وخندل او ویې ویل چې زه باید سیاست پوهه شم. هغه سر زما په سر کېښود او ویې ویل:

- سره له دې چې ماشومه یې. خو بیا دې هم د یوه سیاست پوه په څېر خبرې وکړې.

خو ما هېڅ کله هم خپلې مرکې نه اورېدې، ځکه پوهېدم چې دا ډېر لومړني قدمونه دي.

باد به زما خبرې د خزان د سرو ګلونو د پاڼو په څېر الوزولې او وړلې. د ښوونځیو ړنګولو ادامه لرله. د ۲۰۰۸م کال د اکتوبر په اوومه شپه مو له لرې د څو چاودنو غږونه واورېدل. چې د شپې مهال پټ مخو ملېشو د علم په دوو مرکزونو سانګوټا صومعه (خانقاه) او د هلکانو په اکسلسیورکالج حمله کړې وه او اور یې ور اچولی و.

ښوونکې د دوی تر راتګ مخکې له ښوونځې وتلې و، ځکه چې هر وخت به ګوابښل کېدل. دغه ښوونځې ډېر مشهور و، په ځانګړې توګه سانګوټا چې د وروستي والي په وخت کې جوړه شوه. او د ښه علمیت له امله ډېره پېژندل شوې وه او همدارنګه ډېره لویه هم وه د اکسلسیور ښوونځې دوه زره زده کوونکې او سانګوټا زر کسه زده کوونکې لرل. له چاودنو وروسته پلار هلته په ورتلو سره لیدلې و چې ټوله ودانۍ له خاورو سره خاورې شوې وه. هغه د ماتو خښتو او سوزول شوو کتابونو په منځ کې له خبریالانو سره مرکه کړې وه، وروسته ستړی او وېرېدلی کور ته راغئ.

هغه وویل:

- ټوله ودانۍ له منځه تللې او ټوټه ټوټه شوې وه.

سره له دې هم د پلار زړه د هیلو وړانګې خورولې او باور یې لاره چې یوه ورځ به دا ویجاړۍ پای ومومي. هغه څه چې پلار ډېر پرېشانه کاوه دا و چې د سیمې خلکو به له چاودنې او ویجاړۍ وروسته د ښوونځې وسایل لکه کتابونه، لرګي او نور له سوزېدو پاتې وسایل چور کول. کله چې پلار دا خبر واورېد چېغې یې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا خلک د هغو ځناورو په څېر دي چې په جنازو حمله کوي.

بله ورځ پلار د امریکا غږ په ژوندۍ خپرونه کې ګډون وکړ او دا ډول کارونه یې په شدت سره وغندل. د طالبانو ویاند مسلم خان هم د ټلیفون په کرښه و.

پلار پوښتنه وکړه:

- د دې دوو ښوونځیو ستونزه څه وه چې تاسې هغه والوزولې؟

مسلم خان ویلي و چې د سانګوتا په خانقاه کې عیسویت تدریس کېده او د اکسلسیور په کالج کې هم نجونو او هلکانو یو ځای درس وایه.

پلار ځواب ورکوي:

- تېروتنه کوې. د سانګوتا ښوونځی چې په ۱۹۶۰ م کال کې جوړ شوی دی تر اوسه یې یو زده کوونکی هم نه دی مسیحي کړی. په اصل کې هلته مسیحیان هم مسلمانان شول او اکسلسیور یوازې په لومړنۍ دوره کې ګډ دی او بس.

مسلم خان ځواب ورنه کړ.

له پلار څخه مې پوښتنه وکړه:

- نو د دوی خپلې نجونې څنګه کوي؟ هغوی نه غواړي چې درس ووايي؟

زموږ مدیره مېرمن مریم له سانګوتا څخه فارغه شوې وه، وړه خور یې عایشه هم د سانګوتا زده کوونکې وه. له همدې امله هغه او د سانګوتا نورې نجونې زموږ ښوونځي ته راغلې. د ښوونځي میاشتني فیس کفایت نه کاوه پلار اړ و چې زیاتې پیسې واخلي خو دا کار یې نه خوښېده. پلار د دواړو ښوونځیو د بېرته جوړولو له پاره هر ځای ته لاړ. ده په یوه لویه غونډه کې خبرې وکړې، هغه وخت یې له یوه مجلس څخه یوه نجلۍ را پورته کړې وه ویلي یې و:

- دغه نجلۍ زموږ راتلونکې ده. آیا غواړئ چې ناپوهه او بې سواده لویه شي؟

ګډون کوونکي ورسره موافق و، ټولو ویل چې ځان به د خپلو نجونو د زده کړې له پاره قرباني کړي. نوو راغلو زده کوونکو به وېروونکې کیسې کولې. عایشې به موږ ته ویل یوه ورځ چې له کوره د سانګوتا ښوونځي په لور روانه وه ویې لیدل چې یو طالب د یوه وژل شوي پولیس جسد له وښو کشوي او له غاړې یې وینې روانې



دي.

د سانګوتا ښوونځي نجونې ډېرې ځیرکې وې، له همدې امله سیالي پرمختګ کاوه. د دې نجونو له ډلې یوه هم ریده وه چې ډېره ښه ویانده وه. هغه زما او منیبې ښه ملګرې شوه. منیبې به هر وخت ښوونځي ته خواړه راوړل خو یوازې یوه اضافي قاشوقه به یې ورسره راوړله. ما ترې وپوښتل:

- ته زما ملګرې یې یا د ریدې؟

هغې په خندا ځواب راکړ:

- موږ درې واړه ښې ملګرې یو.

د ۲۰۰۸ م کال په اوږدو کې د طالبانو له خوا د ۴۰۰ په شاوخوا کې ښوونځي ویجاړ شول. نوی حکومت د بې نظیرې د خاوند آصف زرداري په واک کې و خو سوات ته یې هېڅ پام نه کاوه. خلکو ته مې وویل که چېرې د زرداري لوڼې د سوات په ښوونځیو کې وای حالات به داسې نه و. د ځانمرګو بریدونو خبرونه په ټول هېواد کې خپرېدل، آن چې په اسلام آباد کې یې د ماریوت هوټل هم والوزاوه.

د سوات ښار امنیت نظر نورو سیمو ته یو څه ښه و، له کلي څخه مو کورنۍ زموږ کور ته راغلې. کور مو وړوکی و، د تره له لورانو سره چې مخکې یې ژوند را سره کاوه ډېره ګڼه ګوڼه شوه. ډېر کار نه و چې کړی مو وای. نور مو د پخوا په څېر نه شو کولای په کوڅه او یا هم په بام کرکټ لوبه وکړو. نو له همدې امله به مو په انګړ کې د ټېله کولو لوبه کوله. زه او خوشال ورور مې هېڅ کله له یو بل سره جوړ نه و، هغه به هر وخت په ژړا مور ته منډه کړه، هېڅ وخت چا نه دي لیدلي چې ملاله او خوشال سره ملګري وي.

خوښېدل مې وېښتان رنګارنګ جوړ کړم، له همدې امله به د حمام هندارې ته په ساعتونو درېدم او هغه څه به مې آزمویل چې په فلمونو کې به مې لیدلي و. تر آټه او نهه کلنۍ به مې مور وېښتان د هلکانو په څېر لنډول چې له سپږو په امن وي او آسانه ږمنځ او پاک شي، ځکه چې وېښتان مې تر ټکري لاندې ګډوډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل. خو په پای کې مې اجازه ترې واخیسته چې وېښتان مې تر اوږو پورې اوږده کړم. زما پر خلاف د منیبې وېښتان صاف و او زما وېښتانو څپې لرلې. زړه مې غوښتل وېښتان مې کړی کړی. تاو کړم او یا یې و اوبم.

خو مور به مې چیغې وهلې:

- پشی. څه کوې؟ مېلمانه حمام ته ځي، تول تاته انتظار دي.

د ۲۰۰۸م کال روژه تر ټولو سخته میاشت وه. طالبانو د برېښنا پایې او گاز پیپونه والوزول. نو له همدې امله مو نور نه گاز او نه هم برېښنا لرله. د گاز د ډبو بیې یو په دوه شوې، نو مور مې باید په اور خواړه پاخه کړي وای، په دې کار سره یې هېڅ شکایت ونه کړ. داسې کورنی هم وې چې د ژوند شرایط یې له موږ هم خراب و. موږ پاکې او تصفیه شوې اوبه نه لرلې، ډېر خلک د وبا له لاسه مړه کېدل. روغتون به د ټولو ناروغانو درملنه نه شوای کولای، نو باید چې د خلکو د درملنې له پاره یې لویې کېږدۍ درولې وای.

سره له دې چې په کور کې مو جنراتور نه لاره خو پلار د ښوونځي له پاره واخیست. خوږې اوبه به له پیپ څخه په فشار راوتې، ټول ماشومان به د اوبو وړلو له پاره هلته راتلل. هره ورځ به د خلکو کتارونه لیدل کېدل چې له سطلونو، بوشکو او کوزو سره به د اوبو وړلو ته ولاړ و، یو گاونډي چې ډېر وېرېدلی و ویې ویل:

- تاسې څه کوئ؟ که طالبان پوه شي چې تاسې د روژې په میاشت کې خلکو ته اوبه ورکوئ پر موږ به حمله وکړي.

پلار ځواب ورکړ:

څه توپیر لري چې خلک د تندې او یا حملې له لاسه ووژل شي.

له ښوونځي څخه په مېله یې سفر تلل اوس زموږ له پاره داسې و لکه خوب چې وینو. خلک به د مازیگر له لمر لوېدو وروسته له کوره نه راوتل. ملېشو د سکي لوبو د وړونکو گاډي او په «مالم جبه» کې هوټل هم الوزولي و. نو له همدې امله د رخصتیو جنت په جهنم بدل شوی و.



وروسته په ۲۰۰۸ م کال کې د فضل الله ځای ناستي شاه دوران په راډیو کې اعلان وکړ چې د نجونو ټول ښوونځي به رخصت کړل شي. گواښ یې وکړ چې د جنوري له ۱۵ وروسته نجونې ښوونځیو ته د تلو اجازه نه لري. په لومړیو کې مو یې په خبرو باور ونه کړ، فکر مې کاوه چې ټوکې دي.

خورلېو ته مې وویل:

- څنگه به مو ښوونځیو ته له تلو منعه کړي؟ هغوی وایي غرونه به رنگ کړي خو نه شي کولای آن سرک په واک کې ولري. هوکې د دې کار قدرت نه لري.

نورې زده کوونکې راسره په یو نظر نه وې دوی وپوښتل:

- څوک به یې په مخ کې ودرېږي؟ په سلگونو ښوونځي یې وران کړل خو چا هېڅ هم ونه ویل.

پلار مې هر وخت ویل، سوات او ښوونکي تر وروستي ټولگي، وروستي ښوونکي او وروستي زده کوونکي چې ژوندي پاتې شي زده کړو ته به ادامه ورکوي. کورنی مې هېڅ کله آن یو ځل هم د ښوونځي د پرېښودو راته ونه ویل.

سره له دې چې موږ په ښوونځي او درس مین یو، خو تر هغې مو د زده کړو ارزښت ته پام نه و کړی چې طالبانو ښوونځي بند کړل. ښوونځی، د درسونو زده کړه او تکلیفونه تېرول یوازې د ساعت تېری. له پاره نه و بلکې زموږ راتلونکی و.

د هغې کال په ژمي کې واوره وشوه او موږ په ډېرې خوښی سره د واورې سړی جوړ کړ. د ژمي په موسم کې طالبان په غرونو کې ورک شول خو پوهېدو چې بېرته راځي. موږ باور لاره چې ښوونځي به بېرته پرانیستل شي. طالبان به کولای شي له موږ څخه قلم او پنسل واخلي خو نه شي کولای چې ذهن مو له فکر کولو را وگرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په سرو وینو لړلی واټ

د شپې په وخت به یې د مړيو جسدونه په واټ کې پرېښودل چې سبا سهار یې خلک وویني. له هر جسد سره به یې یو یادښت لکه «دا د پوځ د مامور عاقبت دی» یا هم «تر یوولسو بجو په دې جسد کار ونه لرئ کنه په دې پسې کس به تاسې یاست» پرېښود. ځینې شپې به له وژلو سره سم زلزلې هم کېدې چې خلک به ډېر وېرېدل ځکه چې موږ هره طبیعي بلا له یوې انساني فاجعې سره پرتله کوو.

طالبانو د ۲۰۰۹ م کال د جنوري په یوه سړه شپه کې «شعبانه» ووژله. شعبانې د مېنګورې ښار د بنړ بازار په یوه تنګه کوڅه کې چې هلته نڅا کوونکي او پېژندل شوي سندرغاړي اوسېږي، ژوند کاوه. د شعبانې پلار ویل چې څو کسان یې دروازه ټکوي چې شعبانه ورته ونڅېږي. شعبانه هم ځي چې د نڅا جامې یې واغوندي خو کله چې دوی ته راځي چې نڅا ته ورسره لاړه شي دوی خپل ټوپکونه پرې را اړوي او د شپې د نهو بجو په چوپتیا کې ژوند ترې اخلي. خلکو د شعبانې چیغې اورېدلې وې چې دوی ته یې زارۍ کولې: «قول درکوم چې بیا نڅا نه کوم او سندرې نه وایم، د خدای له پاره مې پرېږدئ. زه یوه ښځه یم، یوه مسلمانه یم. مه مې وژنئ!»

وروسته په پرلپسې توګه د ډزو غږ اورېدل کېږي.

په مرمیو سورې سورې جسد یې «شنه واټ» ته ولېږدول شو. په دې واټ کې ډېر جسدونه غورځول شوي و او خلکو هغه واټ «په سرو وینو لړلی واټ» په نوم یاداوه.

د شعبانې وژنه مو سبا سهار واورېده. فضل الله په راډیو ملا کې وویل، شعبانه د فاسد شخصیت لرلو له امله د مرګ په جزا ورسېده او د بنړ په بازار کې چې هره نجلۍ ولیدل شي وبه وژل شي. موږ د سوات په هنر او موسیقۍ ویاړ کاوه خو په دې وخت کې ډېرې سندرغاړې او نڅاګر دوبۍ او لاهور ته تښتېدلې و. د موسیقۍ د وسایلو غږوونکو په ورځپاڼو کې اعلان وکړ چې نور به هېڅ ډول ساز



ونه کړي او همدارنګه یې ژمنه وکړه چې له دې وروسته به د دیندراه کسانو په توګه ژوند کوي. دا ټول یې د دې له پاره ویل چې د طالبانو غوسه را کمه کړي.

خلکو د شبانې د بدو کارونو په اړه خبرې کولې، سره له دې چې زموږ نارینه وو هم د دې د نڅا د لیدو هیله لرله او هم یې دا د نڅاګرۍ له امله بده ګڼله. د یوه خان اولاد د یوه سلمان له اولاد سره هېڅ کله هم واده نه شي کوی. موږ پښتانه بوټونه خوښوو خو بوټ ګنډونکی نه، موږ د ټکریو او پټوګانو مینه وال یو خو ګنډونکو ته یې ارزښت نه ورکوو. کارکوونکي زموږ له ټولنې سره لویه مرسته کوي خو څوک یې پېژني هم نه، له همدې امله ده چې له طالبانو سره یو ځای کېږي څو یوه قدرت او مقام ته ورسېږي.

خلک د شعبانې د نڅا مینه وال و خو دې ته یې درناوی نه لاره او کله چې ووژل شوه، خلکو هېڅ ډول غبرګون ونه ښود. ډېر خلک یې په وژلو خوشاله شول دوی به ویل: «شعبانه یوه کافره او فاسده ښځه وه. باید چې وژل شوې وای.»

زه نشم ویلای چې هغه یوه تر ټولو بده ورځ وه، ځکه چې په همغه وخت کې د شعبانې وژنه هره ورځ او هره لحظه بده څرګندېدله. هر ځای بد خبرونه اورېدل کېدل. د خلکو د کورونو ړنګول، په ښوونځیو حملې، او په عام محضر کې خلک په دورو وهل.

دې کیسو پای نه لاره. د شعبانې له وژلو دوه اونۍ وروسته په متته کې یو ښوونکی ووژل شو. ښوونکي نه وه منلې چې پایڅې د طالبانو په ډول پورته کړي او له طالبانو سره یې دلیل ویلی و، له همدې امله یې په دار ځړولی و او وروسته یې پلار هم په ډزو ورته وژلی و.

زه نه پوهېدم چې له دا ډول حملو او کارونو څخه د طالبانو قصد څه دی او په یوه مرکه کې مې وویل: «که زه ستاسې په سر ټوپک ونیسم او ووایم چې اسلام د نړۍ یوازینی حقیقي دین دی، تاسې به یې څه ډول منئ؟ که هغوی غواړي چې د دنیا ټول خلک مسلمانان شي، ولې لومړی دوی خپله واقعي مسلمانان نه کېږي؟»

پلار به هر وخت په داسې حال کې چې ټول بدن به یې رېږدېده کور ته راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې بهر به يې وېروونکې پېښې ليدلې او يا به يې د پوليسو په اړه ډېر بد خبرونه اورېدلي و د بېلګې په توګه، طالبان په ښار کې د پوليسو سرونه د خلکو ننداري ته وړاندې کوي. آن هغه کسان چې په لومړيو کې يې باور لاره چې طالبان رښتيني مسلمانان دي او د فضل الله ملاتړ به يې کاوه، هغه ته به يې خپل سره زر او پيسې ورکولې اوس يې مخالف و.

پلار د يوې ښځې کيسه راته وکړه چې سره زر او پيسې به يې طالبانو ته ورکول او خاوند يې له هېواد بهر په بل هېواد کې کار کاوه. کله يې چې خاوند کور ته راځي او خبرېږي چې مېرمنې يې سره زر او پيسې طالبانو ته ورکړې دي ډېر غوسه کېږي. يوه ورځ د دوی په کلي کې يوه وړه چاودنه کېږي چې له امله يې ښځه له وېرې چيغې وهي او ژاړي. خاوند يې ورته وايي. ژاړه مه دا ستا د سرو زرو د لښتيو آواز دی. اوس دې د غاړکۍ او لاسبند آواز ته غوږ ونيسه.»

بيا هم ډېرو لږو خلکو نيوکه کوله. په سياسي ټولنه کې د پلار پخوانی سيال احسان الحق حقاني د اسلام آباد په يوه ورځپاڼه کې کار کاوه او د سوات د وضعيت په اړه يې يوه بيانيه وليکله، له سوات څخه د بيانيې له پاره رابلل شوي کسان لکه وکيل، فرهنګي کسان او يا بل څوک حاضر نه شول. يوازې څو خبريالانو او پلار مې په کې ګډون وکړ.

داسې ښکارېده چې خلک باور لري چې طالبان به سوات خوشی نه کړي او بايد چې دوی له طالبانو سره توافق ته ورسېږي. خلکو به ويل: «که طالبان شو، بشپړ امنيت به ولرو.»

له همدې امله ځوانان د طالبانو غړي کېدل. طالبان به د خلکو کورونو ته راتلل او د وسلو د اخيستو له پاره به يې له خلکو پيسې غوښتې او يا به يې ويل چې زامن يې د جګړې له پاره دوی ته وسپاري.پانګه وال وتښتېدل خو بې وزلو خلکو هملته له ژوند کولو پرته بله لاره نه لرله دوی له هر امکانه د ځان ساتلو هڅه کوله. له همدې امله مو ډېرو ځوانانو کورونه پرېښودل څوک د کار له پاره د جنوب کانونو او څوک هم خليجي هېوادونو ته لاړل، نو ځکه د تللو کسانو



اولادونه دوی ته تر ټولو ښه خواړه و.

ګواښونه کور ته را نژدې کېدل. يوه ورځ احمدشاه د ناپېژاندو کسانو له خوا په مرګ ګواښل شوی و. له همدې امله هغه د يو څه وخت له پاره سوات پرېښود او اسلام آباد ته لاړ چې د دې سيمې په اړه سم اطلاعات تر لاسه کړي.

يوه له ډېرو بدو ورځو څخه چې په هغې ورځو کې پېښه شوه دا وه چې خلکو به يو پر بل شک کاوه. زموږ تر منځ باور له منځه تللی و. د ټولو پام زما پلار ته و. خلکو به ويل: «خلک يو په بل پسې وژل کېږي، خو ضياءالدين يې له ټولو خبرو سره سره ژوندی دی. کېدای شي له استخباراتو سره وي.!» په حقيقت کې پلار هم ګواښل شوی و خو کيسه به يې له چا سره نه شريکوله. هغه په پېښور کې په يوه مطبوعاتي مرکه کې له پوځ څخه غوښتي و چې د طالبانو په ضد عمليات وکړي او رهبران يې ونيسي. وروسته هغه ته خلکو وويل چې نوم يې په راډيو ملا کې اورېدلی دی او شاه دوران پلار ګواښلی و.

پلار به د دې ګواښونو په کيسه کې نه و خو زه به وېرېدم. هغه په ډلو، غونډو او جلسو کې ډېر ګډون کاوه او نيمه شپه به کور ته راتلو. په هغې شپو کې مو پلار زموږ د ساتنې له پاره په شپو شپو د خپل يوه ملګري په کور کې اوسېده، ځکه چې طالبان ورپسې راتلل. پلار مو توان نه لاره چې زموږ د سترګو په وړاندې ووژل شي. ماته به تر هغې چې پلار نه و راغلی او دروازه به مو تړلې نه وه خوب نه راته. کله به چې پلار په کور کې و، مور به مې په انګړ کې دېوال ته د پلار د تېښتې له پاره يوه زينه دروله. پلار په خندا سره ويل.

- کېدای شي يوازې زموږ وړوکی اتل مورک پرې وتښتېدای شي. خو زه دا کار نه شم کولای.

مور به مې هر وخت د طالبانو د راتلو له ګواښ څخه د ځان ساتنې له پاره په ذهن کې نقشې جوړولې. دې به فکر کاوه چې د ويده کېدو په وخت کې تر خپل بالښت لاندې يو چاقو ورسره ولري. ما ورته ويل که چېرې هغه راشي زه به پټه تشناب ته ځم او پوليسو ته زنګ وهم. زه او ورونه مې په دې فکر کې وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تونل وکاږو. تل به مو دعا کوله چې خدای(ج) موږ ته یو جادویي قلم راکړي چې په وسیله یې طالبان له منځه یوسو.

یوه ورځ مې خپل وړوکی ورور اتل په باغ کې ولید چې په ډېرې پرېشانۍ سره په ځمکه کې ځای ژوروي. ترې ومې پوښتل:

- څه کوې؟

ویې ویل:

- غواړم قبر ژور کړم.

خبرونه له وژنو ډک و، سره له دې طبیعي وه چې اتل د قبر او تابوت په اړه فکر وکړي. ماشومانو اوس د خپلو نورو لوبو پر ځای د پوځ او طالبانو لوبه کوله. دوی به د ونو له ښاخونو کلاشینکوپ او له جنډو به یې موشک جوړاوه، همدا د دوی د تېښتونې وسیلې وې.

زموږ د ملاتړ هېڅوک هم نه و. زموږ د استازي مرستیال سیدجاوېد، د طالبانو په غونډو کې ګډون کاوه او د هغوی په مسجدونو کې یې لمونځ کاوه او همدا راز د دوی غونډې یې هم رهبري کولې. هغه په بشپړه توګه طالب شوی و. د طالبانو موخه نادولتي سازمانونه و چې دوی به ویل چې د اسلام دوښمنان دي. کله چې دې سازمانونو ته د طالبانو ګواښونکي لیکونه ورسېدل او له سیدجاوېد څخه د مرستې غوښتنې ته لاړل، جاوېد آن غوږ هم ورته ونه نیو. یو ځل مې پلار په یوه غونډه کې نیوکه پرې کوي او هغه ته وایي:

- تاسې د چا اوامر ترسره کوئ؟ فضل الله یا دولت؟

یو عربي متل دی وایي: «خلک له خپل پادشاه څخه پیروي کړي.»

کله چې د سیمې تر ټولو لوړ مقام له طالبانو سره یو ځای شي، طالبان کېدل طبیعي کار ښکاري.

ځینو باور لاره چې دولتي چارواکي طالبان هڅوي. دوی ویل دا د پوځ تصمیم و چې طالبان په سوات کې شته وي، ځکه چې امریکایانو غوښتل په سوات کې له یوې هوایي اډې څخه ګټه واخلي، څو خپلې بې پیلوټه الوتکې په کار واچوي. له



طالبانو سره سره امریکایانو ته دولت هم ویلای شوای چې موږ مرسته نه شو کولای ځکه چې په کافي اندازه ستونزې لرو. همدارنګه د امریکایانو د نیوکو د ځواب له پاره یوه لاره وه او اوس زموږ دولت کولای شوای وواییي:

«ستاسې نظر دا دی چې موږ ستاسې پیسې اخلو او تروریستانو ته یې وربښو؟ که ستاسې نظر همدا وي نو بیا ولې دوی هم په موږ حمله کوي؟

پلار مې ویل:

- معلومه ده چې یو پټ ځواک د طالبانو ملاتړ کوي. خو دا آسانه نه ده. که خبره پوه واضح کوو نوره هم پېچلې کېږي.

د محمدي شریعت د نفاذ تحریک مشر صوفي محمد هم په ۲۰۰۸ م کال کې له زندان څخه خوشې کړای شو. خلکو ویل چې هغه یې نظر زوم فضل الله ته منځلاری او آرام دی، او هیله کېده چې هغه به له دولت سره د سولې خبرې پیل کړي، څو په سوات کې شرعي احکام پلي او موږ د طالبانو له تاوتریخوالي نجات ومومو. پلار مې له دې موضوع سره موافق و. موږ پوهېدو چې دا به د شخړې پای نه وي خو پلار ویل چې که شرعي احکام په سمه توګه پلي شي طالبان نور د جګړې له پاره کومه پلمه نه لري. په دې صورت کې باید چې دوی خپلې وسلې په ځمکه کېږدي او د عادي خلکو په څېر ژوند وکړي. که نه خامخا به یې اصلي څېره بربنډه شي.

تر اوسه هم د مېنګورې په غرونو کې د پوځ سرتېري ځای پر ځای و. کله چې به د شپې له خوا په بستره کې پرېوتو، ټوله شپه به د دوی د وسلو د بوم بوم غږونه اورېدل کېدل. دغه غږونه به لس یا پنځه لس دقیقې وروسته غلي شول او وروسته به مو چې ځنګه بیا سترګو ته خوب راغئ دوی به بیا پیل وکړ. کله به مو خپل غوږونه پټول او یا به مو خپل سر تر بالښت لاندې کاوه، خو د ډزو غږونه دومره نژدې و چې په هر حال کې به اورېدل کېدل. په سبا ورځ به مو له ټلویزیون څخه د طالبانو د وژل کېدو خبرونه اورېدل، له ځانه سره به مو فکر کاوه چې پوځ د شپې د توپونو او راکټو په دومره ځوږ او چیغو څه کوي چې آن نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي توانېدلي چې د راډيو ملا خپرونې بندې کړي.
پوځ او طالبان دواړه ځواکمن و. کله به د دې دواړو ځواکونو د سيمې د څارنې ډلو په اصلي سرکونو له يو بل څخه له يو کيلو متر لږ واټن لاره. د دوی ډله به يې دروله او داسې به ښکارېده چې د يو بل له بدن څخه دي. هېڅوک نه پوهېدل چې ولې د خلکو ساتنه نه کېږي. ځينو به ويل چې هغوی د يوې سکې دوه مخونه دي. پلار مې ويل موږ عادي خلک د غنمو د هغو دانو په څېر يو چې د ژرندې د دوو ډبلو پلونو تر منځ بند پاتې وي. دا چې دوی له هېچا نه وېرېدل او ويل يې موږ بايد خپلې لارې ته ادامه ورکړو.
زه هم يو انسان يم کله به مې چې د مرميو آواز اورېد زړه به مې په شدت ټوپونه وهل. کله به مې ټول وجود وېرې واخيست خو هېڅ به مې نه ويل، دا په دې معنی نه وه چې زده کړې به پرېږدم. خو وېره ډېره پياوړې وي په پای کې همدا وېره لامل شوه چې خلک د شعبانې په ضد شي. ترور خلک بې زړه سوي کړل. طالبانو د اسلام او پښتونولۍ دواړو ارزښتونه ګواښل.
هڅه مې وکړه چې د «وخت تاريخچې» په نوم د اثر په مطالعه چې سټېون هاوکېنګ[i] ليکلی و ځان بوخت کړم. دغه کتاب د دې ډول پوښتنو ځوابونه ورکول چې نړۍ څه ډول رامنځ ته شوه او پخوانۍ زمانې ته تلل و . هغه وخت زه يوولس کلنه وم او هيله مې کوله چې داسې يو امکان شته وي چې پخوا ته لاړ شو.
د پښتنو په منځ کې غچ اخيستل هېڅ کله هم نه هېرېږي او کله چې له تېروتنې سره مخ شي، جزا به وينې او ما به هر وخت له ځانه پوښتل: «دغه غچ به کله اخيستل کېږي؟»

---

(i) سټيون ويليام هاوکينګ فزيک پوه نظري، ستوري پېژندونکی او برېتانوی ليکوال و او د کمبريج په پوهنتون کې د نظري ستور پېژندنې او څېړنو د مرکز مدير دی.



# د ګل مکۍ يادونه

په همغې زړه خوړېنو ورځو کې و چې د عبدالحی کاکړ په نوم د پلار يوه ملګري له پېښور څخه چې د بي بي سي راډيو خبريال و له پلاره سره اړيکه ونيوه. هغه د يوې ښوونکې يا زده کوونکې په لټه کې و چې د طالبانو تر ولکې لاندې سيمه کې د خپل ژوند يادونه ورته وليکي. هغه غوښتل خلکو ته په سوات کې د انساني فاجعې اړخونه وښيي. لومړی د مېرمن مريم کشرې خور عايشې ومنله خو کله يې چې خبره له خپل پلار سره شريکه کړه، مخالفت يې ورسره وکړ ورته ويل يې چې دا کار ډېر خطرناک دی.
زه چې پوه شوم پلار د دې موضوع په اړه خبرې کوي له ځانه سره مې وويل: «زه ولې دا کار ونه کړم؟»
ما غوښتل چې خلک له ټولو پېښو خبر شي. زده کړه زموږ حق دی. اسلام دا حق موږ ته راکړی دی. اسلام وايي چې ټولې نجونې او هلکان بايد ښوونځي ته لاړ شي. قرآن کريم وايي چې موږ بايد د پوهې په لټه کې و، ډېره مطالعه وکړو او د نړۍ په رازونو پوه شو.
تر دې وړاندې مې هېڅ کله هم يادښتونه نه و ليکلي او نه پوهېدم چې څه ډول يې پيل کړم. سره له دې چې موږ يو کمپيوټر هم لاره، خو هر وخت به برېښنا پرې کېده او لږ ځايونه و چې انټرنيټ ته يې لاسرسی لاره. له همدې امله به هره ورځ په سهار کې کاکړ زما له مور سره اړيکه نيوله. هغه به زموږ د محافظت له پاره د خپلې مېرمنې له ټليفون خبرې کولې، ځکه چې د ده خپل مبايل به د آی اېس آی له خوا څارل کېده. هغه به ماته لارښوونه کوله او د تېرو ورځو په اړه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پوښتنې کولې. ما به د خپلو ارمانونو په اړه خبرې کولې او هغه پېښې چې لیدلې او یا مې اورېدلې وې ورته ویلې به مې. ما به تقریباً شل او یا پنځه ویشت دقیقې په اردو ژبه خبرې کولې، سره له دې چې زموږ دواړو ژبه پښتو وه خو وېبلاګ په اردو ژبه لیکل کېده. وروسته به هغه زما خبرې لیکلې او په اونۍ کې به یې یو ځل د بي بي سي په اردو وېبپاڼه کې خپرولې.

هغه د آن فرانک ژوند راته تشریح کړ. یوه دیارلس کلنه یهودي نجلۍ چې د جګړو په اوږدو کې یې له نازیانو څخه له خپلې کورنۍ سره د تېښتې په موخه په امستردام کې ځان پټ کړی و او هلته یې خپل ټول یادښتونه ولیکل.

د آن فرانک لیکنې د دې ورځنۍ ژوند او احساسات بیانول. خو ډېر دردوونکي دي چې په پای کې د کورنۍ د پټنځای د خیانت له امله رسوا او ونیول شول. آن فرانک چې پنځه لس کلنه وه په یوه نظامي جبهه کې ناروغه او مړه شوه وروسته یې یادښتونه چاپ او خپاره شول او یو ډېر پلورل کېدونکی کتاب شمېرل کېده.

عبدالحی کاکړ ویل چې زما د نوم خپرول کېدای شي ډېر خطرناک وي، نو له همدې امله یې د «ګل مکۍ» نوم چې د غنم د ګل او همدا راز په پښتو پخوانیو کیسو کې د یوې اتلې مېرمنې نوم دی، وټاکه. د کیسې موضوع د رومیو او ژولیت په څېر وه چې په هغې کې ګل مکۍ او موسی خان په ښوونځي کې یو بل ویني او یو په بل مین کېږي. خو دوی دواړه له دوو بېلابېلو ټبرونو څخه دي چې د دوی مینه د جګړې لامل کېږي. سره له دې د شکسپیر د نندارې پر خلاف د دوی د کیسې پای دردوونکی نه وي. ګل مکۍ له قرآن کریم څخه په استفادې د قبیلې پیرانو او مشرانو ته وایي چې جګړه د حل لاره نه ده چې په پای کې هغوی له جګړې او شخړې لاس اخلي او دې دوو مینانو ته د واده کولو اجازه ورکوي.

زما لومړی یادښت د ۲۰۰۹ م کال په جنوري کې د «زه وېرېږم» تر عنوان لاندې خپور شو:



«تېره شپه مې وېروونکی خوب ولید. د طالبانو ځواکونه او د پوځ هلیکوپټرې په ټول سوات کې لیدل کېدې. په سوات کې د پوځ د عملیاتو له پیل څخه بیا تر اوسه همداسې خوبونه راته را روان دي.» همدارنګه مې په دې یادښت کې تشریح کړل چې د طالبانو د حکم له مخې نور ښوونځي ته له تللو وېره لرم.

«د یوه کس غږ مې واورېد چې په ما پسې راځي او وایي تا به وژنم. هغه وخت مې قدمونه چټک کړل، له څو قدمونو وروسته مې شاته وکتل چې شته دی کنه. ومې لید چې په ټلیفون له کوم چا سره خبرې کوي او په ټلیفون کې هغه کس ګواښي.»

دا چې خپل یادښتونه به مې په وېبپاڼه کې لیدل، په لومړیو کې یو څه وېرېدلې وم خو وروسته به چې کاکړ صیب راته تشریح کړل چې د کومو موضوعاتو په اړه خبرې وکړم په خپل نفس مې باور ډېر شو. هغه په شخصي احساساتو هماغه ډول چې خپله یې ویل «زما کنایه ډوله جملې» د کورني ورځني ژوند د جوړښت او د طالبانو د ترور له پېښو سره یې مینه لرله.

زموږ د ژوند د تر ټولو ارزښت لرونکې برخې ښوونځي، په اړه مې ډېر مطلبونه ولیکل. زه د ښوونځي په شین رنګه یونیفورم مینه وم. خو موږ ته سپارښتنه شوې وه چې د هغې په ځای ساده جامې واغوندو او کتابونه مو هم تر ټکریو لاندې پټ کړو. د یادښتونو یو عنوان د «رنګه جامې منعه دي» و. په دې مطلب کې مې ولیکل: «یوه ورځ ښوونځي ته د تلو له پاره تیارېدم او غوښتل مې یونیفورم واغوندم، خو هغه وخت مې د خپل مدیر سپارښتنه په یاد شوه او تصمیم مې ونیو چې خپل خړ رنګه جامې چې ډېرې مې خوښې دي واغوندم.»

په دې یادښتونو کې مې د چادرې په اړه هم خبرې وکړې. کله چې واړه و له چادرې سره مو جوړه وي، ځکه چې ډېره ښایسته ښکاري. خوکله یې چې اغوستو ته اړ کېږو، دغه احساس مو ګډوډ کېږي. همدارنګه له دې جامو سره پلی تګ هم ډېر سخت دی.

د یوې ورځې یادښتونه د هغې ورځې په اړه و چې زه، مور او د تره لور مو د چینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازار ته د سودا اخیستو له پاره لاړو. هلته خلکو ویل یوه ورځ یوه ښځه د بازار په منځ کې په چادري کې ولوېده. کله چې یو کس غواړي مرسته ورسره وکړي، هغه ښځه ورته وایي: «وروره، له ما سره مرسته مه کوه. په دې کار سره فضل الله خوشاله کوې.» کله چې زموږ د خوښې وړ مغازې ته راغلو، پلورونکي په خندا سره وویل، له ځان سره یې فکر کاوه چې موږ ځانمرګي بمونه یو، وېرېدلی و ځکه چې موږ چادرۍ اغوستې وې.

په ښوونځي کې ټولو د همدې یادښتونو په اړه خبرې کولې، آن چې یوې نجلۍ چاپ کړي او ښوونځي ته یې راوړي وو چې پلار ته مې یې ور وښیي.

هغه په موسکو شونډو وویل:

ډېره ښه ده.

زړه مې غوښتل خلکو ته ووایم چې دا یادښتونه ما لیکلي، خو د بي بي سي خبریال ماته دا اجازه نه راکوله ځکه چې کېدای شوای له خطر سره مخ شوې وای. زه یې په دلیل نه پوهېدم ځکه چې یوه ماشومه وم او چا کولای شوای چې په ماشومانو حمله وکړي؟ خو ځینو ملګرو مې په دې یادښتونو کې ځو نښې لیدلې وې او خپله مې هم په یوه یادښت کې خپل هویت څرګندکړی و: «د مور مې زما مستعار نوم ډېر خوښېږي او په ټوکو مې یې پلار ته ویل چې باید نوم مې بدل کړم. زما هم ګل مکۍ ډېره خوښېږي ځکه چې خپل نوم مې د «دردمنې» په معنی دی.»

د ګل مکۍیادښتونو د ټولو پام را واړاوه. ځینو ورځپاڼو د دې یادښتونو خلاصه خپره کړه. آن بي بي سي د یوې بلې نجلۍ په آواز کې دا یادښتونه ثبت کړل. زما پام شو په هغې پنسل چې دا کلمات لیکل کېږي کولای شي له راکټ، ټانګ او یا هم هلیکوپتر څخه پیاوړی وي. په دې ترتیب سره مو د مبارزې لارې زده کولې او زده مو کړل هغه وخت به پیاوړي و چې خبرې وکړو.

یو شمېر ښوونکو ښوونځی پرېښود. یوه ویل فضل الله ویلي چې له ده سره مرسته وکړو چې په امام دره کې پټنځای ورته جوړ کړو. بل ویل چې په لاره کې یې بې



سره جسد لیدلی دی چې له همدې امله نور نه شي کولای ځان له ګواښ سره مخ کړي او درس ورکړي. خلک وېرېدلي و. ګاونډیانو مو ویل، طالبانو له خلکو غوښتي، ځوک چې ځوانې مجردې لوڼې ولري، مسجد ته دې خبر ورکړي او بیا به هغه له طالبانو سره په نکاح کړي.

د ۲۰۰۹ م کال د جنوري لومړۍ ورځې وې چې هغه مهال په ټولګي کې یوازې لس نجونې حاضرې وې. سره له دې چې له دې وړاندې په ټولګي کې ۲۹ نجونې وې. ډېرو ملګرو مې دره پرېښوده چې په پېښور کې زده کړې وکړي. خو پلار ټینګار وکړ چې موږ دره نه پرېږدو. هغه ویل:

- سوات موږ ته ډېر ارزښت لرونکي توکي راکړل. په دې سختو ورځو کې باید د درې له پاره پیاوړي و.

یوه شپه موږ د شپې ډوډۍ له پاره د پلار د ملګري ډاکټر افضل کور ته چې د یوه روغتون مدیر و لاړو. له ډوډۍ خوړلو وروسته، ډاکټر موږ په خپل ګاډي کې د کور په لور وړلو، د سرک په سر مو نقاب لرونکي وسله وال ولیدل. وېرېدلي و. د ډاکټر افضل روغتون د طالبانو تر ولکې لاندې سیمه کې و. پرلپسې ډزې او د ناامنیو له امله د شپې چوپتیا د دې لامل شول چې روغتون په سمه توګه کار ونه کړای شي له همدې امله یې هغه بریکوټ ته ولېرداوه. مسلم خان ډاکټر افضل ته زنګ وهلی و او ترې غوښتي یې و چې روغتون بېرته په خپل پخواني ځای کې فعال کړي. ډاکټر مې له پلار سره په دې اړه مشوره کړې وه.

پلار ورته وویل: «د بدو خلکو په خوله ښه کارونه هم مه کړه.»

کوم روغتون چې د طالبانو له خوا وساتل شي، ښې پایلې نه لري، له همدې امله یې سرغړونه کړې وه.

ډاکټر افضل زموږ له کور سره په لږ واټن کې اوسېده، له همدې امله څنګه چې کور ته ورسېدو پلار ټینګار وکړ چې ورسره لاړ شي، ځکه چې دی مخکې تر دې هم طالبانو ګواښلی و. کله چې هغه او پلار مې بېرته ګرځېدل، ډاکټر په داسې حال کې چې وارخطا او غوسه و پلار ته مې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که موږ ودروي څه ورته ووایو چې نومونه مو څه دي؟
پلار ځواب ورکوي:
- ستاسې نوم افضل دی او زما هم ضیاءالدین یوسفزی موږ هېڅ کومه تېروتنه نه ده کړې. نومونه د څه له پاره بدل کړو؟ نومونه خو مجرمین بدلوي.

له نېکه مرغه طالبان له هغه ځایه تللي و. کله مې چې پلار اړیکه راسره ونیوله او د ستونزې د نه پېښېدو یې راته وویل ټول خوشاله شوو او د آرامۍ احساس مو وکړ.

زه په هېڅ ډول نه تسلیمېدم. خو د طالبانو له خوا نجونو ته ورکړل شوی مهال د پای ته رسېدو په حال کې و. څه ډول یې کولای شوای چې په یوویشتمه پېړۍ کې له پنځوسو زرو ډېرې نجونې له زده کړو بې برخې کړي؟ زه تر اوسه هم هیله منه وم چې کوندې یوه مثبته پېښه وشي او ښوونځي ونه تړل شي. خو زموږ نوبت هم را ورسېد. موږ هوډ لاره چې خوشال وروستی ښوونځی وي چې د زنګ غږ یې غلی شي.

مېرمن مریم په سوات کې د پاتې کېدو له امله واده هم وکړ ځکه چې نورې کورنۍ یې کراچۍ ته کډه کړې وه څو له شخړو او جنجالونو په امن وي نو دا د یوې ښځې په توګه په یوازې ژوند کولو نه توانېده.

د جنوري په څلورمه د چهارشنبې په ورځ زموږ ښوونځی هم وتړل شو، کله چې د هغې ورځې په سهار له خوبه پاڅېدم په خپله کوټه کې مې د ټلویزیون کامرې ولیدې. د عرفان اشرف په نوم یوه پاکستاني خبریال آن د مسواک وهلو او لمونځ کولو په وخت کې هم څارلم.

پلار مې په ناسمو شرایطو کې ژوند کاوه. یوه ملګري یې ورته ویلي و چې د نیویارک ټایمز د ویبپاڼې له پاره د یوه مستند په جوړولو کې ګډون وکړه، کومې پېښې چې په سوات کې کېږي نړیوالو ته یې بیان کړه. څو ورځې وړاندې مې له پلار سره په پېښور کې له امریکایي خبریال آدم الیک سره لیدلي و. هغه مې له پلار سره اوږده مرکه وکړه او ما هېڅ خبرې نه کولې. وروسته یې وپوښتل چې کولای شي له ما سره خبرې وکړي؟ ده د خپل ژباړن عرفان په مرسته له ما



پوښتنې کولې. له لسو دقیقو خبرو وروسته زما په څېره پوه شو چې په خبرو یې ښه پوهېږم. هغه وخت یې راڅخه وپوښتل:
- تاسې انګلیسي خبرې کوی شئ؟
ما ځواب ورکړ:
- هوکې، ما یو ډول د وېرې احساس کاوه.
آدم الیک چې حیران شوی و پلار او عرفان ته یې وویل:
هغه چې له تاسې ښې انګلیسي خبرې کوي، تاسې یې ماته ژباړئ!
د دې خبرې په کولو ټولو وخندل.

د مستند اصلي موخه دا وه چې پلار مې د ښوونځي په وروستۍ ورځ تعقیب کړي، د جلسې په پای کې عرفان پوښتنه رانه وکړه:
- که یوه ورځ ونه شې کولای ښوونځي او درې ته لاړه شې څه احساس به ولرې؟
ما وویل چې داسې پېښه به هېڅ کله ونه شي. هغه بیا خپله پوښتنه تکرار کړه په دې وخت کې مې له سترګو اوښکې راغلې. فکر کوم هماغه لحظه آدم الیک زه د خپل مستند له پاره وټاکلم.

آدم الیک نه شوای کولای سوات ته راشي ځکه چې هغه سیمه د بهرنیانو له پاره ډېره خطرناکه وه. کله چې عرفان له یوه کمره مین سره مېنګورې ته راغئ، تره مې چې له موږ سره ژوند کاوه وویل چې کور ته د دې ډول کامرو را وستل ډېر خطرناک دي. پلار هم ورته وویل چې کامرې یې پټې کړي. خو دوی له لرې ځایه راتلل او موږ پښتنو ته بده ده چې په کور کې مېلمنو ته هرکلی ونه وایو. له دې ټولو ور اخوا پلار پوهېده چې دا کامره به زموږ ستونزې ټولې نړۍ ته ورسوي.

ما له ټلویزیونونو سره ډېرې مرکې کړې وې خو په دې ډول پروګرام کې مې هېڅ کله هم برخه نه وه اخیستې. عرفان راته وویل:
- ارامه اوسه او طبیعي خبرې وکړه.

خو د یوې کامرې تر مخ چې آن د مسواک وهلو په وخت کې به یې هم تعقیبولم آسانه کار نه و. خپل هغه یونیفورم چې د اغوستو اجازه مې یې نه لرله دوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښود، تل مې له دې وېره لرله چې طالبان مې ښوونځي ته د تلو په وخت کې ووینې او تېزاب را باندې وپاشي، څه ډول یې چې په افغانستان کې وکړل.

د ښوونځي د وروستۍ ورځې په سهار په ښوونځي کې یوه ځانګړې غونډه وشوه خو زموږ په سر د ګرځېدونکو هلیکوپټرو له لاسه مو د یو بل خبرې په سختۍ اورېدې. د ښوونځي زنګ یې د وروستي ځل له پاره وکړنګاوه له دې سره مېرمن مریم اعلان وکړ چې د ښوونځي د بندېدو ورځ راغلې ده. خو د نورو کلونو په خلاف یې د نیم نور درسي کال له پاره هېڅ نېټه ونه ټاکله. سره له دې هم ځینو ښوونکو موږ ته کورنۍ دنده راکړه. په انګړ کې مو ټولو خورلڼو ته غېږه ورکړه. هغه وخت مې د ویاړونو تختې ته وکتل، له ځان سره مې وویل چې بیا به مې هم هلته نوم ولیکل شي کنه؟

آزموینې مو په مارچ کې پیل کېدې خو څه ډول؟

کله چې بیا ونه کړای شو زده کړو ته ادامه ورکړو، که اول نومره هم شم ارزښت به یې څه وي؟

کله چې یو څوک ستاسې له لاسه قلم واخلي، هغه وخت پوهېدای شئ چې زده کړه څومره ارزښت لري.

مخکې تر دې چې د ښوونځي دروازه وتړو، یو ځل بیا مې ورته وکتل، داسې لکه د تل له پاره چې ښوونځی پرېږدو.

دغه صحنه د مستند وروستۍ برخه وه.

په واقعیت کې بېرته ښوونځي ته راغلو، زما او خورلڼو مې زړه نه غوښتل ورځ پای ومومي، له همدې امله مو هوډ وکړ چې په دې ورځ تر ډېره په ښوونځي کې پاتې شو. وروسته د لومړني ښوونځي انګړ ته لاړو ځکه چې د غلو او پولیسو د لوبې له پاره یې ډېره ساحه لرله. هلته مو د مانګو لوبه وکړه، په دې لوبه کې یوه کړۍ جوړوو او آواز وایو، کله چې آواز بند شي ټول باید سمدلاسه ودرېږي. هر څوک چې وخاندي او یا حرکت وکړي له لوبې ویستل کېږي.

هغه ورځ کور ته له نورو ورځو ناوخته راغلو. هر وخت به د ماسپښین په یوه بجه



کور ته راتلو خو په دې ورځ په دریو بجو کور ته ورسېدو. د ښوونځي له تړلو مخکې ما او منیبې له یو بل سره بحث وکړ، زموږ د بحث دلیل احمقانه و چې نه شم کولای تاسې ته یې یاد کړم. آن زموږ نورو خورلڼو هم باور نه کاوه.

مستند جوړوونکو ته مې وویل: «دوی نه شي کولای له کوم څه مې بې برخې کړي. زه په ښوونځي، کور او یا بل هر ځای کې درس ویلای شم. له نړیوالو څخه مې یوازینۍ هیله دا ده چې د سوات او پاکستان ښوونځیو ته نجات ورکړي.»

کله چې کور ته ورسېدم ژړل مې. زړه مې غوښتل بیا هم ښوونځي ته لاړه شم. زه یوولس کلنه وم، فکر مې کاوه چې ټول ژوند مې له لاسه ورکړی. په ټولګي کې مې ټولو ته ویلي و چې طالبان نه شي کولای زموږ په وړاندې څه وکړي: «دوی د سیاست پوهانو په څېر دي، یوازې خبرې کوي، خو هېڅ کله هم عمل نه کوي.»

خو وروسته طالبانو پرمختګ وکړ، زموږ ښوونځي ته نژدې شول هغه وخت شرمېدلې وم.

په کور کې به مې هر وخت اوښکې تویولې، د خپلو احساساتو مخه مې نه شوای نیوی. مور مې هم ژړل، خو پلار مې ویل:

- ته به بیا هم خامخا ښوونځي ته لاړه شې.

د ښوونځي په تړل کېدو سره مې پلار هم کسب او کار له لاسه ورکاوه. د هلکانو ښوونځی د ژمي له رخصتۍ وروسته پرانیستل کېده خو د نجونو د ښوونځي تړل کېدو ډېر تاوان وکړ دا کار د پلار د عوایدو د کمېدو لامل شو. د ښوونځي ډېری لګښتونه نه و ورکړل شوي، پلار مې په وروستۍ ورځ د ښوونځي اجاره، د ښوونکو حقوق او نور حسابونه خلاص کړل.

د شپې ټوله هوا د توپونو له اوره ډکه وه چې درې ځله له خوبه پرې راویښ شوو. په سبا سهار هر څه بدل شوي و، له ځانه سره مې فکر کاوه چې پېښور او یا له هېواده بهر کډه وکړو او یا دا چې ښوونکو ته ووایم چې په کوم کور کې پټ ښوونځی جوړ کړي، هغه ډول کار چې افغانانو د طالبانو د حکومت په وخت کې کړی و. له هغې وروسته مې له ډېرو ټلویزیونونو او راډیو ګانو سره مرکې وکړې. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مرکه کې مې وویل: «هغوی کولای شي زموږ ښوونځي وتړي، خو دا نه شي کولای چې موږ له زده کړې او یادولو منعه کړي.»
په پوره هیله مندۍ سره مې خبرې کولې خو په اصل کې سخته پرېشانه وم. زه او پلار مې پېښور ته لاړو دېر ځایونه مو ولیدل چې خلک له دې حالاتو خبر کړو. د طالبانو د پېغورونو او ملنډو په اړه مې چې خلکو ته یې ورکول ډېرې خبرې وکړې. دوی غوښتل چې نجونو ته باید ښځې درس ورکړي او د ښځو درملنه هم باید چې ښځې ډاکټرانې وکړي. د دوی له دې نظریې سره سره یې د نجونو ښوونځي وتړل، نجونې یې له ښوونځي منعه کړې، پرې یې نه ښودې چې ښوونکې او ډاکټرانې شي.
یو ځل مسلم خان ویلي و چې نجونې نه باید چې ښوونځي ته لاړې شي او لویدیز مېتودونه زده کړي. دا د هغې کس خبره ده چې ډېری عمر یې په امریکا کې تېر کړی دی. هغه به هر وخت ویل چې د ده له طبعې سره سم درسي نظام به ترسره کړي. او پلار به مې ویل:
مسلم خان به د طبي غوږۍ او تبې کتلو پرته نور څه وکاروي؟ آیا د طبي درملنې له پاره له دې پرته بله کومه شرقي آله شته چې ویې کاروي؟ د طالبانو له نظره کله چې ماشوم کتاب لولي، یا هم انګلیسي ژبه او علم زده کوي، غربي کېږي له همدې امله دوی له زده کړو سره مخالف دي.
خو ما به ویل: «زده کړه زده کړه ده. موږ باید په لومړي سر کې هر څه زده کړو، وروسته کولای شو د خپل ژوند لاره وټاکو.»
زده کړه او تحصیل نه غربي دی نه شرقي، بلکې تر ټولو انسانانو پورې اړه لري.
مور مې ویل کله چې له رسنیو سره مرکه کوم باید چې مخ مې پټ کړم، ځکه چې په دې عمر کې باید په پرده کې وم. هغه به ماته ډېره په اندېښنه کې وه. خو هېڅ کله یې هم له کوم کاره نه منعه کولم. په هغې وخت کې د خلکو په زړونو کې وېرې او وحشت ځای نیولی و. دوی به هر وخت ویل چې طالبان به مې پلار ووژني او ماته به څه ونه وایي. دوی به ویل:



«ملاله یوه نجلۍ ده او طالبان نجونې نه وژني.»
خو نیا مې داسې فکر نه کاوه. هغې به چې کله به ټلویزیونونو کې د مرکې او یا له کوره د وتلو په مهال لیدلم، دعا به یې کوله: «خدایه ملاله د بې نظیربوټو په څېر کړې خو چې ژوند یې د بې نظیرې د ژوند په څېر لنډ نه وي.»
وروسته له دې چې ښوونځی وتړل شو، بیا مې هم د وېبلاګ له پاره یادښتونه لیکل. د نجونو د ښوونځیو له تړل کېدو څلور ورځې وروسته پنځه نور ښوونځي هم ویجاړ شول. په یوه مطلب کې مې ولیکل: «عجیبه ده دا ښوونځي خو تړل شوي و، نو ویجاړولو ته یې څه اړتیا وه؟ د طالبانو له وروستي ورکړل شوي وخت وروسته ټول ښوونځي وتړل شول. پوځ د دې پېښو په اړه هېڅ غبرګون نه ښیي. دوی په خپلو کنډکونو کې د غرونو په ډېرو کې پراته دي، پسونه حلالوي او غوښې یې په خوند خوري.» همدا راز مې د طالبانو د کېبل وهلو په اړه ولیکل: خلکو به هغه کسان چې خلک به یې په درو وهل لیدل خو پولیس به هېڅ ځای نه لیدل کېدل.
یوه ورځ د امریکا له سټنفورډ[i] پوهنتون څخه د شازیه شهید[ii] په نوم د اسلام آباد اوسېدونکې یوې محصلې اړیکه راسره ونیوله. هغې د نیویارک ټایمز مستند چې د سوات د ښوونځیو د تړلو په اړه و ټول کتلی و. له دې څخه ماته د رسنیو ځواک څرګند شو او هغه زما یوه اصلي ملاتړې شوه. پلار مې په مستند کې زما په حضور ویاړ کاوه او آدم الیک ته یې ویل:
- لور ته مې وګوره هغه په ځمکه نه ده پیداشوې له آسمانه راغلې.
آدم الیک موږ اسلام آباد ته بوتلو، په اسلام آباد کې مې د لومړي ځل له پاره قدم کېښود. اسلام آباد ډېر ښکلی و، ښکلې سپینې ودانۍ او سورور(پلن) سرکونه یې لرل. سره له دې چې د سوات هېڅ طبیعي ښکلا هلته نه وه. موږ لال مسجد او هغه سورور سرک چې د ولسمشر د واک مېنې په لور چې زرداري اوس هم

---

[i] Stanford
[ii] Shiza Shahid

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته ژوند کاوه تللی و ولید. هغه وخت جنرال مشرف لندن ته تبعید شوی و.
وروسته پلورنځیو ته لاړو هلته مو د ښوونځي کتابونه واخیستل. آدم الیک د امریکا ټلویزیوني خپروني لکه «بدرنګه بیټي» هم راته واخیستل. دغه د یوې لوی زړې نجلۍ کمیډي وه. ما له دې پروګرام سره ډېره مینه لرله، زړه مې غوښتل یوه ورځ نیویارک ته لاړه شم او د دې په څېر په دفتر کې کار وکړم.
موږ د «لوک ویرسه» موزیم ولید او دا چې دویم ځلي مو خپل ملي میراثونه ولیدل ډېره خوشاله وم. په سوات کې زموږ خپل موزیم تړل شوی و. لاندې په زینو کې یوه سپین ږیري بابا ډاډه شوي جوار خرڅول. هغه هم زموږ په څېر پښتون و، کله مې چې پلار ترې وپوښتل، د اسلام آباد اوسېدونکی یې؟ هغه ځواب ورکړ: «فکر کوې چې اسلام آباد دې تر مونږ پښتنو پورې اړه ولري؟» ویل یې چې د مومندو دی چې د قبایلو یوه سیمه ده، خو د نظامي عملیاتو له امله تېښتې ته اړ شوی. د مور او پلار په سترګو کې مې اوښکې ښکاره شوې.
ډېرې ودانۍ د بلوکو په واسطه محاصره شوې وې او د نقلیه وسایلو د کتلو له پاره یې د تلاشۍ څو دروازې جوړې کړې وې چې د بم او چاودېدونکو توکو مخنیوی وکړي. کله چې د بېرته راتلو په وخت بس په یوه کنده کې ولوېد خوشال ورور مې را ویښ شو او پوښتنه یې وکړه: «بم وچاودېد؟» وېره او ډار تل را سره ملګري و، په داسې توګه چې فکر مو کاوه هره وړوکې فتنه او غږ کېدای شي د چاودنې او ډزو وي.
په دې وړوکي سفر کې مو د سوات ستونزې هېرې کړې. خو کله چې بېرته درې ته راغلو، خطر او ګواښونه راپسې وو. دا چې سوات زموږ کور و له همدې امله مو نه شوای پرېښودی.
کله چې بېرته مېنګورې ته ورسېدو او د کوټې ور مې کش کړ، د ښوونځي بکس او یونیفورم مې ولیدل. هغه وخت مې ټول بدن غمونو ګیر کړ. اسلام آباد ته سفر ډېر خوندور او هوسا کوونکی و خو اوس دا کور او د سوات واقعیتونه زما ژوند دی.



# سوله که ملنډې

کله مې چې د وروښو ښوونځي له ژمنۍ رخصتۍ وروسته پرانستل شول، خوشال راته ویل چې د ده په څېر به ښوونځي ته لاړه نه شم. زه چې ډېره غوسه شوې وم ومې ویل: «ته پوهېږې چې څومره نېکمرغه یې؟» په کور کې مو یو ټلویزیون هم نه لاره، موږ چې اسلام آباد ته تللي و چا پټ کړی و.
یو کس د «کیمیاګر» په نوم د پائلو کوئلو[i] یو اثر راکړ، د شپانه د زوی په اړه یوه کیسه چې د خزانې د پیداکولو په لټه درې ګونو اهرامونو ته سفر کړي په داسې حال کې چې هغه ګنج په خپله له ده سره دی. له دې کتاب سره مې ډېره مینه پیداکړه او څو ځله مې مطالعه کړ. په دې کتاب کې لیکل شوي دي: «کله چې کوم څه غواړئ، ټوله نړۍ ستاسې د مرستې له پاره لاس د یو بل په لاس ورکوي چې هغه تر لاسه کړي.» زه فکر نه کوم چې پائلو کوئلو به تر اوسه زموږ درې ته راغلی او زموږ بې کفایته سیاست پوهان به یې لیدلي وي.
زه نه پوهېدم چې عبدالحی کاکړ په پټه توګه له فضل الله او د ده له قوماندانانو سره اړیکې نیسي. کاکړ په مرکو کې له هغوی سره پېژندلي و، هغوی یې هڅول چې د نجونو د ښوونځیو په اړه له سره فکر وکړي.

---

[i] Marriott

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه فضل الله ته وويل:

- مولانا غوږ ونيسئ. تاسې د خلکو روح واخيست، په عامه توګه مو خلک ووژل، سرونه مو يې پرې کړل، ښوونځي مو ونړول او سره له دې هم په ټول پاکستان کې ستاسې په ضد هېڅ نيوکه وانه ورېدل شوه. خو کله مو چې نجونې له زده کړو بې برخې کړې، د خلکو چيغې پورته شوې او آن د پاکستان رسنيو ستاسې په ضد خپله غوسه وښوده.

له ټول هېواده فشار وښودل شو او فضل الله اعلان وکړ چې نجونې تر لس کلنۍ يا څلورم ټولګي پورې زده کړو ته تلای شي. زه په پنځم ټولګي کې وم، خو موږ تر خپل عمر ورې ښکارېدو، هغه وخت مو کتابونه تر ټکريو لاندې پټول او دويم ځلي ښوونځيو ته لاړو. دا کار خطرناک ښکارېدو خو په هغې ورځو کې مې دا يوازينۍ هيله وه. موږ ډېر خوشاله و ځکه چې مېرمن مريم له ټولو ګواښونو سره سره خپله دنده پرې نه ښوده او تر اوسه يې هم موږ ته درس راکاوه. هغه چې لس کلنه وه زما پلار يې پېژانده او يو پر بل يې باور لاره.

هغې موږ ته ويل:

- دغه پټ ښوونځی زموږ پټ اعتراض دی.

خو ما د دې حالت په اړه په خپلو يادښتونو کې هېڅ هم نه ليکل. که موږ يې نيولي وای، کېدای شوای چې په کيبلونو يې وهلې وای او يا به يې هم د شعبانې په څېر وژلې وای. ځينې خلک له اروا‌وو، غڼيو (عنکبوت) او مارانو وېرېږي خو موږ په هغې ورځو کې له خپلو انسانانو څخه وېرېدو.

د ښوونځي په لاره به مو کله کله طالبان له پکولونو او لويو اوږدو او ککړو وېښتانو سره ليدل. ډېری وخت به يې مخونه پټ کړي و چې ډېر بد او وحشتاک به و.

د مېنګورې په سړکونو کې ډېره آرامي وه ځکه چې د هغې سيمې يو پر درې خلک له سيمې کډه شوي و. اوس د پوځ دوولس زره پوځيان چې د طالبانو د اټکل شوي شمېر څلور برابره و له ډېرو ټانګونو، پرمختللیو وسلو او هليکوپټرو سره په سيمه کې شته و. سره له دې هم اتيا په سلو کې سوات د طالبانو تر واک



لاندې و.

ښوونځي ته له بېرته راتلو څخه يوه اونۍ وروسته د ۲۰۰۹ م کال د فبروري په شپاړسمه شپه د ډزو په غږونو له خوبه پورته شوو. زموږ د خلکو يو دود دا و چې د ماشوم د پيداکېدو او واده د مراسمو په وخت به يې ډزې کړلې. سره له دې چې دا دود اوس ورک شوی و. نو لومړی مو فکر کاوه چې له خطر سره مخ يو. وروسته خبر شوو چې ډزې د واده له پاره وې. د ايالتي دولت چې اوس يې واک د خلکو له ملي حزب سره و او طالبانو تر منځ د سولې تړون شوی و.

دولت هوکړه کړې وه چې شرعي احکام به په ټول سوات کې پلي کوي او په مقابل کې به يې ملېشې خپله په وينو ککړه مبارزه دروي. طالبانو له لس ورځني اوربند سره چې يو سوله ييز حرکت بلل کېده هوکړه کړې وه او يو چينايي انجنير چې شپږ مياشتې مخکې يې نيولی و هم خوشې کړ.

موږ ډېر خوشاله و ما او پلار به مې هر وخت د سولې د قرارداد په اړه خبرې کولې. موږ به ويل چې څه ډول به عمل پرې وکړي. خلکو هيله لرله چې طالبان به نور دا جګړه حل او فصل کړي او بېرته به يې خپلو کورونو ته لاړ شي او د سوله خوښوونکو په څېر به ژوند وکړي. دوی په دې باور لاره چې د سوات شرعي قوانين به د افغانستان له شرعي قوانينو سره توپير ولري. د نجونو ښوونځي به پر ځای وي، د امربالمعروف او نهی عنی المنکر ډله به نه وي. سوات به همغه سوات وي خو په يوه بل قضايي نظام سره، زما زړه غوښتل چې په دې ټولو باور وکړم خو ډېره پرېشانه وم. له ځانه سره مې فکر کاوه: «آيا خامخا به د نظام د کړنو څرنګوالی په طالبانو د خلکو څارنه وي..»

خو تر لسو زرو ډېر پوليس او عادي خلک وژل شوي و. ښځې له حجاب پرته بهر نه راوتې، ښوونځي او پلونه يې نړولي و، خلکو يې کسب او کار پرېښی و. موږ له عمومي وحشيانه او له تاوتريخوالي د ډک عدالت له محکمو ډېر ځورېدلي و او تل به مو په وېره او ډار کې ژوند کاوه خو اوس دا ټول آرام شوي و.

د سهار د چای په وخت کې مې ورونو ته وړانديز وکړ چې نور د جګړې په ځای د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولې په اړه خبرې وکړئ. هغوی به د تل په څېر ماته پام نه کاوه او خپلو جګړه ییزو لوبو ته یې ادامه ورکوله. خوشال یوه هلیکوپټر او اتل یو کاغذي اووه مرمۍ ویشتونکی لاره.

هغه وخت د ښوونځي د یونیفورم په لور لاړم او ډېره خوشاله وم ځکه چې ډېر ژر مې کولای شول چې بېرته یې واغوندم. له بلې خوا مېرمن مریم پیغام را ولېږه چې آزموینې د مارچ په لومړۍ اونۍ کې پیلېږي. نو باید چې نور په خپلو کتابونو پسې تللې وای.

خو دا ځوږ او خوشالي ډېره لنډه وه. دوه ورځې وروسته د تاج محل د هوټل په بام پېژندل شوي خبریال حامد میر د سولې د تړون په اړه مرکه راسره کوله چې د بل خبریال له وژلو خبر شوو. موږ هغه پېژانده، موسی خان خېل نومېده او آته ویشت کلن و، ډېری وخت به مې یې له پلار سره مرکه کوله. په هغې ورځ د صوفي محمد په مشرۍ یو د سولې لاریون کېده. په اصل کې هغه یو لاریون نه بلکې یو شمېر خپلسري په آرامۍ سره ګرځېدل. وروسته په همغه ځای کې د موسی خان مړی هم پیداشوی و. ډېرې مرمۍ ویشتل شوی و او د ستوني یوه برخه یې پرې شوې وه. مور مې چې په دې پېښه خبره شوه، بسترې ته یې لاړه بیا یې ډېرې اوښکې تویې کړې.

د استازي مرستیال سیدجاوید، څو ورځې وروسته د فبروري په ۲۲ مه د سوات په مطبوعاتو کې د ټولې مېنګورې له پاره یو «دایمي اوربند» اعلان کړ. ده د سوات له ټولو اوسېدونکو څخه وغوښتل چې خپلو کورونو ته راشي. د طالبانو ویاند مسلم خان هم دغه نامحدود اوربند تایید کړ . ولسمشر زرداري هم دغه تړون په رسمي توګه په قانون کې ثبت کړ. همدا راز دولت اعلان وکړ چې د قربانیانو کورنیو ته به تاوان ورکړي.

د سوات خلک ډېر خوشاله و خو زه تر نورو ټولو ډېره خوشاله وم ځکه چې ښوونځی مو دویم ځلي پرانیستل کېده. طالبانو ویل چې د سولې له تړون وروسته نجونې ښوونځیو ته تلای شي خو باید چې ځانونه پټ کړي او حجاب



ولري.

په اصل کې زموږ امریکایي دوستان په دې تړون خوشاله نه شول. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلېنټن څرګنده کړه:

«زه فکر کوم د پاکستان دولت په دې تړون سره په بنسټیزه توګه قدرت طالبانو او سخت دریځو ته په واک کې ورکوي.» امریکایان په اندېښنه کې و چې دا تړون د تسلیم کېدو په معنی دی. پاکستان «ډاون» ورځپاڼې په یوه سرمقاله کې ولیکل: «د سولې تړون په څنګ کې یوه خطرناکه نښه ورسره لرله: له نظامي دولت سره مبارزه وکړئ په پایله کې چې له دولت څخه هر څه وغواړئ تر لاسه کوی یې شئ، او جزا به نه درکول کېږي.»

خو هېڅ یوه یې هم باید دلته ژوند نه وای کړی. موږ آرامۍ او سولې ته اړتیا لرله په دې اړه د صوفي محمد په نوم یوه سپین ږیري طالب رهبري کوله. هغه به «دیر» کې یو د سولې پنډغالی (کمپ) جوړ کړ او زموږ په یوه پېژندل شوي مسجد «د تبلیغ مرکز» کې به د حاکم په څېر کښېناسته. هغه باوري شوی و چې طالبان باید خپل ټوپکونه کېږدي او سوله په ټوله دره واکمنه کړي. خلکو به ورسره لیدل او د هغه لاسونه به یې مچې کول، ځکه چې نور له جګړې او وینو تویولو ستړي شوي و.

د مارچ په میاشت کې مې وېبلاګ ته یو یادښت ولیکه ځکه چې عبدالحی کاکړ ویل بله موضوع نشته چې خلکو ته یې بیان کړم. خو د سیمې ناوړه پېښو بدلون ونه کړ. د طالبانو تاوتریخوالی تر پخوا ډېر شو. اوس دوی حکومتي تروریستان و. زه ډېره ناهیلې وم. د سولې تړون یوازې یو خوب و. یوه ورځ زموږ له کوڅې سره نژدې یې د بیرغ رسمي تګ وکړ، دوی د یو پوځ په څېر په سرک له خپلو وسلو سره منظم لیکې لیکې په حرکت کې و.

دوی تر اوسه هم د چینې په بازار کې ګرځېدل. یوه ورځ مې مور او د تره لور چې په نژدې ورځو کې یې واده و، د سودا له پاره بازار ته ځي. یو طالب دوی ته نژدې ورځي ورته وایي: «که یو ځل بیا مې ولیدئ چې د چادرې په ځای مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکري په سر دي په کوټک به مو ووهم.» خو مور مې نه ترې وېرېږي او خپل حواس آرام ساتي. مور مې ورته وايي: «سمه ده له دې وروسته به چادري په سر کړو.» مور به مې هر وخت سر پټاوه خو د پښتنو په آدابو او دودونو کې چادري نشته.

ما واورېدل چې طالبانو د سیمساري په یوه پلورنځي له دې امله حمله کړې وه چې یوې ښځې په یوازې توګه په پلورنځي کې د ښکلا وسایلو ته کتل. طالبانو د پلورنځي مالک ته ویلي و: «که کومه ښځه د خپلې کورنۍ له نارینه پرته ستاسې پلورنځي ته راشي، د راتلو اجازه مه ورکوئ او که نه بیا مو په پلورنځي حمله کوو.» د پلورنځي مالک یې بې اندازې وهلی و چې هېڅا یې هم ملاتړ نه و کړی.

یوه ورځ مې پلار او د هغه ملګري د ده په مبایل کې د یوې وېډیو د لیدلو په حال کې ولیدل. یوه ټکان ورکوونکې صحنه وه. یوه ځوانه نجلۍ چې توره چادري او سور پرتوګ یې اغوستی و، پړمخې په ځمکه څملول شوې وه او یوه د اوږدې ږیرې او لنګوټې لرونکي کس په درو وهله. نجلۍ چې چیغې یې وهلې او له سترګو یې اوښکې روانې وې په پښتو ژبه یې زارۍ کولې: «خیر دئ مه مې وهئ! » خو طالبانو چیغې وهلې چې «ویې نیسئ هغه په ځمکه څملوئ.» کله یې چې هغه په درو وهله، چادري یې له مخه لرې شوه، بیا یې یوه دقیقه پرېښوده چې چادري په سر کړي خو بېرته یې ادامه ورکړه. نجلۍ یې ۳۴ درې ووهله. هلته ډېر خلک راټول شوي و خو هېڅ یې هم نه ویل. د نجلۍیوه خپلوان خو آن مرسته وکړه چې نجلۍ په ځمکه ټینګه ونیسي.

څو ورځې وروسته دا وېډیو په ټولو خلکو کې خپره شوه، دغه وېډیو په اسلام آباد کې یوې فلم جوړوونکې ښځې ته ورسېده او بیا څو ځله د پاکستان په ټلویزیونو او ټوله نړۍ کې خپره شوه. خلک ډېر په غوسه شول، خو دغه غبرګون ماته عجیبه ښکارېده ځکه چې دوی نه پوهېدل چې زموږ په دره کې څه پېښې او وحشتونه پېښېږي. هیله مې کوله چې د دوی غوسې د طالبانو له خوا د نجونو د ښوونځیو د بندولو په اړه هم وای. لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني په یوه بیانیه



کې اعلان وکړ چې د یوې نجلۍ په درو وهل د اسلامي شریعت خلاف کار دی، هغه زیاته کړه: «اسلام موږ ته رانښیي چې له ښځو سره له ادب ډک چلند وکړئ.»

یو شمېر خلکو دعوه کړله چې دغه وېډیو مستنده نه وه او ځینو ویل چې په دورو وهل د جنوري له میاشتې او سولې له تړون مخکې شوي دي او اوس د یوې خراب کارۍ له پاره خپاره شوي دي. خو مسلم خان ومنله چې دا صحنه مستنده وه. هغه ویل: «هغه له یوه نارینه سره چې خاوند یې نه و بهر را وتلې وه.»

په همغې ورځو کې چې د اپرېل لومړۍ ورځې وې د زاهد حسین په نوم یو پېژندل شوی خبریال سوات ته راغئ. هغه د استازي له مرستیال سره د لیدو له پاره د هغه د اوسېدو رسمي ځای ته ورغلی او ویني چې هلته د طالبانو د واکمنۍ جشن جوړ دی. د طالبانو څو تنه لوړ پوړو چارواکو له خپلو وسله والو ساتونکو سره لکه د سوات د طالبانو ویاند مسلم خان، د باجوړ د طالبانو مشر فقیر محمد چې له پوځ سره یې یوه وینې بهوونکې جګړه لرله په دې مېلمستیا کې ګډون کړی و. د فقیر محمد د سر له پاره دوه لکه ډالره ډالۍ ټاکلې وه خو هغه د یوه دولتي مامور په کور کې ناست او په خوند سره ډوډۍ خوري. همدارنګه وامې ورېدل چې د پوځ یوه جګړن په هغه لمانځه کې چې امام یې فضل الله و ګډون کړی و.

مسول څوک دی، د پلار له ملګرو مې یوه وویل: «هماغه ډول چې دوه هنډوانې په یوه لاس کې نه نیول کېږي، دوه پاچاهان هم په یوه هېواد کې حکومت نه شي کوی. یا فضل الله یا دولت؟

موږ تر اوسه هم هیله لرله چې په سیمه کې سوله دایمي شي. ټول خلک د اپرېل د شلم لویې غونډې ته سترګې په لاره و چې په هغې ورځ صوفي محمد د سوات له خلکو سره خبرې کولې.

د هغې ورځې په سهار ټول په کورونو کې و او ورونه مې هم په کور کې ولاړ و. یوه ډله طالبان چې په مبایلونو کې یې د بریا سندرې غږېدې تېر شول. خوشال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل:

- پلاره وګوره، که مې يو کلاشينکوف لرلای ټول مې همدلته ويشتل.

د پسرلي يوه زړه وړونکې ورځ وه. ټول خلک وارخطا و، ټولو هيله لرله چې صوفي محمد د سولې اعلان وکړي او له ټولو طالبانو وغواړي چې ټوپکونه يې نور کېږدي. پلار مې په دې غونډه کې برخه وانه خيسته. دوی د «سروش اکاډمی» له بام څخه چې هر مازيګر به مې پلار او ملګرو يې هلته بحث کاوه غونډه ننداره کوله. د ښوونځي بام د خبرو کولو په ځای لوړ و، نو له همدې امله ډېرو فلم اخيستونکو خپلې کامرې هلته ايښې وې.

ډېر خلک ليدل کېدل. د دريو يا څلور زرو کسانو په شمېر لونګۍ په سر ناست و، د طالبانو جهادي ترانې ويل کېدې. پلار مې ويل: «ترانې په بشپړه توګه طالبي وې.»

صوفي محمد په صحنه کې ناست و، يو اوږد کتار خلکو دې ته انتظار کاوه چې درناوی يې وکړي. غونډه د قرآن کريم په څو آيتونو سره پيل شوه. وروسته د پنځو سيمو « ملکنډ، کوهستان، شنګله، لوړ دير او ښکته دير» مشرانو خبرې وکړې. دوی هر يو د دې ډېر مينه وال و چې د سيمې مشر شي. ځکه چې کولای شي شريعت پلی کړي. وروسته دا مشران يا زنداني شول او يا هم ووژل شول خو د غونډې تر وخته يې د قدرت فکر کاوه. له همدې امله ټولو په قدرت خبرې وکړې او داسې يې انګېرله لکه محمد(ص) چې مکه فتحه کړې وي او جشن يې نيولی وي. سره له دې چې د محمد(ص) بريا يوه بې رحمانه بريا نه وه.

وروسته د صوفي محمد نوبت را ورسېد. هغه ښه وينا نه شوای کولای. د يوه ناروغه بوډا په څېر ښکارېده. پنځه څلوېښت دقيقې يې پوچه وينا وکړه. موږ له ده څخه د دې ډول خبرو د اورېدو هيله نه لرله، داسې ښکارېده لکه د بل له خولې چې خبرې کړي. هغه د پاکستان محکمې غير اسلامي وبللې ويې ويل: «لويديزه ولسواکي داسې يو نظام دی چې د کفارو له خوا پر موږ تپل شوی دی. اسلام ولسواکي او ټاکنې روا نه بولي.»



صوفي محمد د زده کړو په اړه خبرې ونه کړې. هغه آن دا چې له ملېشو يې ونه غوښتل چې وسلې مو کېږدئ او حجرې خوشې کړئ. نوموړي ملت وګواښه او چيغې يې کړې: «انتظار وباسئ موږ به اسلام آباد ته هم راشو.»

موږ له وېرې سره مخ شوي و. داسې وه لکه په تېز اور چې اوبه واچوي او ناڅاپه يې شغلې مړې شي. خلک ډېر ناهيلي و او هغه ته يې ښکنځلې کولې: «دغې شيطان څه وويل؟ او مور مې ويل: «هغه سوله نه غواړي، د خلکو د روح د اخيستلو هوډ لري. هغه دا موکه لرله چې د تاريخ اتل شي خو دا عزت يې خپله له لاسه ورکړ.» احساسات مو کور ته د تلو په وخت د سهار يا له کوره د وتلو د وخت په خلاف و.

په هغې شپه مې پلار د جيو په ټلويزيوني چينل کې مرکه لرله او کامران خان ته يې وويل چې خلکو ډېرې هيلې لرلې خو اوس په سيمه کې سولې ته هېڅ هيله نه لري. څه ته چې اړتيا وه صوفي محمد ونه کړل. ده بايد په هغه غونډه کې د سولې ټرون تاييد کړی وای او تاوتريخوالي ته يې پای ورکړی وای.

خلکو د پېښو شوو کارونو په اړه ډول ډول څرګندونې لرلې، ځينو ويل صوفي محمد خپل عقل له لاسه ورکړی او لېونی شوی دی. ځينو فکر کاوه چې هغه ته امر شوی چې دا ډول خبرې وکړي او يا يې ګواښلی دی: «څلور او يا پنځه ځانمرګي بمب الوزوونکي په غونډه کې و او ورته ويلي يې و که دا ډول خبرې ونه کړې ټول کسان به ووژل شي.

خلکو ويل هغه له خبرو کولو مخکې وارخطا ښکارېده. هغوی د يوه پټ ځواک په اړه چې په دې پېښو کې لاس لري له يو بل سره خبرې کولې. خو ما له ځان سره فکر کاوه: « څه توپير لري؟ تر ټولو مهم ټکی دا دی چې موږ د طالبانو د دولت تر واک لاندې يو.»

پلار بيا هم بوخت و او په څو سيمينارونو کې يې د طالبانو او سيمې د ستونزو په اړه خبرې کولې. په يوه سيمينار کې د ايالت د اطلاعاتو وزير ته وويل چې طالبانيزه کېدل د هېواد د سياست پايله ده چې ملېشو ته به يې افغانستان ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږلو له پاره لومړی له روسانو سره او بیا هم له امریکایانو سره د جګړې په مهال زده کړې ورکولې. هغه ویل: «که موږ د بهرنیانو په امر د دیني مدرسو زده کوونکو ته وسلې په لاس کې نه وای ورکړې، د سوات او قبایلو په سیمو کې داسې عامه وژنې نه کېدې.»

ډېر ژر څرګنده شوه چې امریکایانو دغه تړون په ښه توګه ارزولی دی. طالبان باوري و چې د پاکستان دولت تسلیم شوی دی او هر څه یې چې زړه وغواړي کوی یې شي. دوی د بانر لور ته چې د سوات جنوب ختیزه سیمه ده او له اسلام آباد سره پنځه شپېته کیلو متره واټن لري حرکت وکړ. د بانر خلک به هر وخت د طالبانو په وړاندې درېدل خو سیمه یېزو چارواکو امر ورته کړی و چې جګړه ونه کړي. کله چې ملېشې له خپلو راکټو او نورو وسلو سره هلته ورسېدل، پولیس له پوستو وتښتېدل او خلک هم له مخې وتښتېدل. طالبانو په هره سیمه کې د شریعت محکمې جوړې کړې، وروسته یې له مسجدونو څخه بیانیې خپرې کړې او سیمه ییز ځوانان یې را وغوښتل چې له دوی سره یو ځای شي.

دوی د سوات په څېر هلته هم ټلویزیونونه، فلمونه او کسټې وسوزولې. همدارنګه یې د «پیر بابا» پېژندل شوی زیارت چې یو صوفي و تر خپل واک لاندې ونیو. خلک به هلته د خپلو روحي ستونزو، د ناروغیو درملنې او همدارنګه د زامنو د ودونو په اړه هلته تلل او له خدای(ج) به یې دعا غوښتنه خو دا زیارت له دې وروسته وتړل شو.

د پاکستان د ټیټو سیمو خلک ډېر پرېشانه و ځکه چې طالبان پلازمېنې ته نږدې کېدل. داسې ښکارېده چې خلکو د هغې نجلۍ وېډیو چې توره چادري یې په سر کړې وه او طالبانو په درو وهله لیدلې وه. دوی پوښتنه لرله: «آیا څه چې موږ یې له پاکستان څخه هیله لرله همدا دي؟» طالبانو بې نظیره ووژله د هېواد تر ټولو ښه هوټل یې والوزاوه، طالبانو په ځانمرګو بریدونو کې په زرګونو کسان ووژل او د ډېرو کسانو سرونه یې پرې کړل، دوی همدا راز څو ښوونځي ړنګ کړل. نور به څه کېږي چې دولت او پوځ له هغې سره مخالفت وکړي؟



په واشنګټن کې ولسمشر اوباما اعلان کړی و چې د افغانستان د طالبانو په ضد به ۲۱ زره نور پوځیان ولېږي. خو اوس داسې ښکارېده چې دوی په بشپړه توګه پاکستان ته په اندېښنه کې و. دغه د خطر احساس زما او زما د ښوونځي د نجونو له پاره نه و. زموږ هېواد له ۲۰۰ ډېرې هستوي بټۍ لري چې دوی یې د ځارنې له پاره په اندېښنه کې و چې څوک به یې کوي. دوی اعلان وکړ چې نور په بیلیونونو ډالره مرسته نه کوي بلکې په ځای یې خپل سرتېري رالېږي.

د مې د میاشتې په لومړیو کې پوځ له سوات څخه د طالبانو د ویستلو له پاره د «حقیقت د لارې» عملیات پیل کړل. وامو وربدل چې په سلګونو خلاص سري جیپونه او هلیکوپترې د شمال غرونو ته راښکته شول. په مېنګوره کې حاضر سرتېري هم ډېر شول. هغوی دا ځل هوډ لاره چې ښار له طالبانو پاک کړي، څو ځله یې د لوډسپیکرو په واسطه اعلان وکړ چې ټول هېوادوال باید له سیمې کډه شي.

پلار مې ویل، موږ ښار نه پرېږدو. خو ډېری شپې به مو د ډزو له امله خوب نه لاره. ټول ډېر پرېشانه و. یوه شپه په چیغو له خوبه ویښه شوم. موږ په کور کې څو حیوانات ساتل، درې چرګې یوه د خوشال سپینه سویه چې یوه ملګري یې ورکړې وه. سویه به په کور کې آزاده ګرځېده. هغه وخت اتل پنځه کلن و او له سویې سره یې ډېره مینه وه، له همدې امله به هر وخت د مور او پلار د خوب په کټ ویده کېده. خو دا چې هر ځای به یې چټل کاوه، نو په هغې شپه مو بهر پرېښې وه. په نیمه شپه کې یې یوې پیشۍ بهر ویستله موږ یې دردناکې چیغې اورېدې. اتل په ژړا کې ویل: «سهار به خامخا دا پیشۍ وژنم.» د هغې سویې مرګ موږ ته بد ښادګونې ښکاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درې پرېښودل

ماته د درې پرېښودل ډېر سخت و. هغه ټپه چې تل به مې نیا ویله په یاد راغله:

«پښتون وطن پرېښودی نه شي
یا ډېر غریب شي یا د یار له غمه ځینه»

اوس مو ړ د دریېیم دلیل له امله چې طالبان و او شاعر به یې هېڅ فکر هم نه و کړی، وطن پرېښود.

د کور د پرېښودو په وخت کې مو احساس کاوه چې زړه مې ټوټه ټوټه کېږي. په بام ودرېدم، د الوم په غرونو مې سترګې خښې کړې چې په سپینو واورو پوښلي و. هغه وخت مې له پاڼو ډکو ونو ته وکتل، د زردالو د ونې مېوې په ډېر احتمال سره چا خوړلې وې.

په ټوله سیمه وژونکې چوپتیا خوره وه. د سمندر او باد هېڅ غږ نه لګېده، آن د مرغانو چن چن هم نه اورېدل کېده.

زړه مې غوښتل وژاړم، داسې احساس مې کاوه چې نور به مې هېڅ کله هم کور ونه وینم. مستند جوړوونکو رانه پوښتلي و چې که یوه ورځ سوات د تل له پاره پرېږدم څه احساس به ولرم. هغه وخت مې فکر کاوه چې دا څه احمقانه پوښتنه ده، خو اوس هغه څه پېښېدل چې فکر مې یې هم نه شوای کولای. په هغو



ورځو کې مې فکر نه کاوه زموږ ښوونځی دې وتړل شي خو داسې هم وشول. هغه وخت مې فکر کاوه هېڅ کله به هم د تل له پاره سوات پرېښږدم خو اوس له دې ځایه په خپلو پښو تللو. تر دې وړاندې مې فکر کاوه چې سوات به د طالبانو له منګولو نجات پیداکړي. اوس مې پام شو چې د داسې وړاندوېینې کړل ناشوني دي. ناڅاپه مې له سترګو اوښکې روانې شوې. داسې ښکارېده چې ټول یو بل ته انتظار وباسي، وروسته ټولو له یو بل سره وژړل، خو مور مې ډېره آرامه وه.

ټول کتابونه او کتابچې مې د ښوونځي په بکس کې کېښودل، هغه وخت مې کالي په یوه بل بکس کې ځای په ځای کړل. حواس مې پر ځای نه و. د ښوونځي هېڅ ډالۍ، عکسونه او شخصي وسایل مې را سره یو نه وړل، ځکه چې د بل چا په شخصي ګاډي کې مو سفر کاوه چې هلته د کالیو ځای لږ و. ما هېڅ قېمتي توکي لکه لپټاپ او یا هم ګڼې نه لرل زموږ ارزښت لرونکي وسایل یوازې یخچال، د جامو مینځلو ماشین او تلویزیون و. په حقیقت کې مو پرمختللی ژوند نه لاره، موږ پښتانه مېز ته تر کښېناستو چپرکټ او یا ځمکې ته ډېر ارزښت ورکوو. زموږ د کور په دېوالونو کې ډېر سوري لیدل کېږي، ټولو پیالو او قابونو چاکونه کړي و.

پلار مې ټینګار وکړ تر هغې چې امکان ولري دره نه پرېږدو. د مور او پلار له خپلوانو مې د خپلې کورنۍ غړي په ډزو کې له لاسه ورکړي و، له همدې امله دوی د هغوی کور ته د تسلیت له پاره لاړل، سره له دې چې هېچا له کوره د بهر کېدو زړه نه لاره. کله مې چې مور د هغوی درد او غم ولید تصمیم یې ونیو چې له دې ځایه لاړ شو. پلار ته یې وویل: «اړتیا نشته چې ته هم راشې، خو زه ځم. اولادونه هم له ځانه سره شنګلې ته بیایم.» مور پوهېده چې پلار یې یوازې نه پرېږدي. هغه نور له ډزو او هر ډول شخړو سترې شوې وه، له همدې امله یې له ډاکټر افضل سره اړیکه ونیوه، هیله یې ترې وکړه له پلار سره مې خبرې وکړي. دوی یې هم بار او بستره تړلې و له موږ یې هیله وکړه چې له دوی سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



له درېي ووزو. سفینه او کورنۍ یې هم د کور پرېښودو په حال کې و، له همدې امله مو هوډ وکړ چې یو شمېر کسان د دوی په ګاډي او یو شمېر له افضل سره لاړ شو.

د ۲۰۰۹ م کال د مې د میاشتې په پنځمه بې کوره شوو چې دا کار د یوې ناروغۍ په ډول ښکارېده.

پر مور سربېره د تره زوی، د هغه مېرمن او نیا مو هم بې کوره شوي و. وروڼو مې غوښتل چرګانې یې هم ورسره یوسي. زما چرګه مړه شوې وه ځکه چې د ژمي په یوه سړه ورځ مې په سړو اوبو وینځلې وه، هغه مې ببرته د بوټو په یوه کارتن کې پټه کړه چې توده شي او له ټولو ګاونډیانو مې وغوښتل چې د ژوندي پاتې کېدو له پاره یې دعا وکړي خو بیا هم ژوندۍ نه شوه. مور مې اجازه رانه کړه چې چرګان راسره یوسو، ویل یې ګاډی چټلوي. په پای کې مو چرګې له ډېرو اوبو او خوړو سره هملته پرېښودې. مور رانه وغوښتل چې د ښوونځي بکس مې هم په کور کې پرېږدم ځکه چې ګاډی تنګ و. زه ډېره وارخطا وم، د کتابونو خواته ورغلم، په دې وخت کې مې قرآني آیتونه تلاوت کول چې خدای(ج) یې ساتنه وکړي.

په پای کې ټول تیار و. مور، پلار، نیا، د تره د زوی مېرمن، اولادونه یې او وروڼه مې د ډاکټر افضل له مېرمنې سره د دوی په ګاډي کې کېناستو. خو یو لړ شمېر کسان د سفینې د کورنۍ په ګاډي کې ناست و چې زه هم ورسره وم او دا چې خپل کتابونه مې رانه وړای شوای ډېره غمجنه وم.

د خپل ښوونځي او کورونو د ساتنې له پاره مو څو آیتونه ولوستل. وروسته د سفینې پلار حرکت وکړ او موږ خپل د ښوونځي، کور او کوڅې څخه د یوه ناپېژانده سیمې په لور حرکت وکړ او نه پوهېدو چې آیا بیا به هم خپل ښار ووینو کنه.

تر دې وړاندې مې د باجوړ تصویرونه لیدلي و، هلته پوځ د طالبانو په ضد په یوه عملیات کې هرڅه له منځه وړي و، په دې ترتیب سره مې فکر کاوه هر څه مې



چې پېژندل له منځه تللي و.

په کوڅو کې ډېره ګڼه ګوڼه وه. ګاډي، ریکشې، لاسي کراچۍ او لوېې کراچۍ چې په څو تنو به یې کشولې ټول سرکونه نیولي و. آن چې موټرسایکلونه لیدل کېدل چې ټوله کورنۍ به پرې ناسته وه. په زرګونو کسانو یوازې له خپلو کالیو سره کور او کلی پرېښودل. داسې ښکارېده چې ټوله دره په حرکت کې ده. ځینې باور کوي چې د پښتنو نیکونه د اسرایلو ورکه قبیله ده او پلار به مې ویل: «د اسراییلو په څېر یو چې مصر یې پرېښودپه دې توپیر سره چې موږ حضرت موسی نه لرو چې لارښوونه مو وکړي.» ډېری خلک نه پوهېدل چې چېرته ځي، هغوی یوازې پوهېدل چې باید له درې څخه ځان وباسي. دا د پښتنو په تاریخ کې تر ټولو لویه کډوالي وه.

له مېنګورې بهر ډېرې لارې دي خو طالبانو ډېرې لویې ونې وهلې وې او سرکونه یې پرې بند کړي و، له همدې امله ټول خلک په یوه سرک تلل. هلته ډېر خلک لیدل کېدل. طالبانو له وسلو سره د سرک ساتنه کوله او ځینو یې د ودانیو څارنه کوله. دوی به په سرکونو ګاډي درول، موږ به په ټوکو ویل:

- طالبي ټرافیک!

د طالبانو او پوځ له تلاشۍ څخه په مشخصو فاصلو سره تېر شوو. یو ځل بیا پوځ د طالبانو له شته والي خبر نه و.

موږ چې خندل ومو ویل:

- کېدای شي سترګې مو کمزورې وي او هغوی به نه شي لیدی.

په سرک ډېره ګڼه ګوڼه وه او دا سفر دومره اوږد شو چې په ټولو خولې را ماتې وې. دا ډول سفرونه به تل موږ هلکانو او نجونو ته یو ډول سیل او مېله و ځکه چې له کوره به لږ وتلو. خو دې سفر توپیر لاره ټول پرېشانه و.

د ډاکټر افضل په ون ګاډي کې مې پلار له رسنیو سره مرکه کوله او د دې ډله ییزې کډوالۍ راپور یې ورکاوه. مور مې پرلپسې ورته ویل چې ورو خبرې وکړي نه چې طالبان یې غږ واوري. د پلار غږ مې دومره صاف او لوړ دی چې مور مې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ورته وايي چې اړتيا نشته په ټيليفون کې خبرې وکړې يوازې چيغه چې وکړي مقابل لورى يې اوري. په پاى کې د ملکنډ غرنۍ لاره پاى ته ورسېده او له سواته بهر شوو. د لمر لوېدو په وخت د مردان گرم او له گڼې گوڼې ډک ښار ته ورسېدو.

پلار به مې ټولو ته ويل:

- څو ورځې وروسته بېرته راځو. وضعيت به ژر سم شي.

خو موږ پوهېدو چې شونې نه ده.

په مردان کې د ملگرو ملتونو د پناه ورکولو د آژانس له خوا په پېښور کې د افغان کډوالو د پنډغالو په څېر د سپينو کېږديو لوى پنډغالي جوړ شوي و. موږ هوډ نه لاره چې په پنډغالو کې ځاى په ځاى شو ځکه چې د ژوند له پاره وړ ځاى نه و. له سوات څخه لږ تر لږه دوه ميليونه کسان تښتېدلي و او په دې پنډغالو کې د اوسېدو لپاره کافي چاپيريال نه و. که چېرې زموږ له پاره يوه کېږدۍ هم پيدا شوې واى، په منځ کې ډېره گرمه وه. هلته د وبا په څېر ناروغي خپره شوې وه. له بلې خوا پلار اورېدلي و چې په پنډغالو کې طالبان پټ شوي دي او په ښځو حمله کوي.

هغه کسان چې قدرت يې لاره د سيمې په کورونو او يا هم د خپلوانو په کورونو کې ځاى په ځاى شول. د کډوالو له ډلې درې په څلوره کسانو د خلکو په کورونو کې پناه واخيسته. د مردان خلکو کورونه، ښوونځي او مسجدونه ټول د خلکو په خدمت کې ورکړي و. زموږ په فرهنگ کې هغه ښځې او نارينه چې کومه خپلوي نه سره لري په يوه کوټه کې نه کښېني. له همدې امله کوربه نارينه په شپو شپو د پردې او مېلمنو د عزت له پاره له کوره بهر ويده کېدل. دا د پښتنو د مېلمه پالنې يوه حيرانوونکې بېلگه ده. زه باور لرم که چېرې د دې کډوالو د تللو او لگښتونو مسوليت دولت په غاړه اخيستى واى ډېر به له لوږې او تندې مړه شوي و.

موږ په مردان کې هېڅ خپلوان نه لرل هوډ مو وکړ چې شنگلې ته خپل کلي ته



لاړ شو، تر اوسه موږ په مخالف لور په حرکت کې و خو بله چاره مو نه لرله او دا يوازينۍ وسيله وه چې موږ يې له سواته ويستلو.

لومړۍ شپه مو د ډاکټر افضل په کور کې تېره کړه. وروسته پلار د اسلام آباد او پېښور په لور لاړ څو هلته خلک له دې پېښو خبر کړي. موږ ته يې قول راکړ چې په شنگله کې به را سره ووينې. مور هڅه وکړه هغه اړ کړي چې له موږ سره لاړ شي خو پلار ونه منله. پلار هوډ لاره چې د کډوالو د ژوند خراب شرايط په پېښور او اسلام آباد کې خلکو ته تشريح کړي او خلکو ته څرگنده کړي چې پوځ د دې ستونزو په اواري کې هېڅ ډول مرسته نه ده کړې. موږ له پلار سره خداى په آماني وکړه سره له دې چې ډېر سخت پرېشانه وو، دا فکر مو کېداى شي بيا يې ونه وينو.

بله ورځ مو د ماما کور ته چې په ابېټ آباد کې و لاړو. هلته مې د ماما له زوى خانجي سره چې هغه هم شمال لور ته روان و وليدل. هغه په سوات کې د هلکانو د يوه پوهنځي مدير و او اوس يې په رېکشه کې اووه آته هلکان غره ته وړل. هغه بېشام ته روان و او موږ له هغه ځايه يوې بلې وسيلې ته اړتيا لرله چې شنگلې ته مو ورسوي.

شپه مهال بېشام ته ورسېدو، دا چې ډېرى سرکونه تړل شوي و. شپه مو په يوه ارزانه او چټل هوټل کې تېره کړه، د ماما زوى مو د ون گاډي د پيداکولو په هڅه کې و چې شنگلې ته په کې لاړ شو. د گاډو په اډه کې يو کس مې مور ته ور نژدې شو خو هغې په بوټ وواهه چې ډېر ژر له هغه ځايه وتښتېد. داسې يې وهلى و چې د بوټ تلى پرې مات شوى و. زه هر وخت پوهېدم چې مور مې پياوړې ښځه ده.

د دې له پاره چې له بېشام څخه مو کلي ته لاړ شو بايد چې پنځه ويشت کيلومتره مو پلى تگ کړى واى. په يو ځاى کې پوځ ودرولو او ويې ويل چې له دې نور وړاندې تلاى نه شو او بايد چې بېرته را وگرځو. له دوى مو هيله وکړه ورته ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کور مو په شنګله کې دی نو چېرته لاړ شو؟

نیا مې اوښکې تویولې او ویل یې هېڅ په ژوند کې دومره نه وه بې زغمه شوې. په پای کې پوځ د تلو اجازه راکړه. په وسله سنبال پوځ هره خوا لیدل کېده. د تلاشۍ د پوستو او چوپتیا له امله ټولو نقلیه وسایلو تر پوځ پورې اړه لرله. له دې وېرېدو، داسې نه چې پوځ مو وپېژني، ټول به همدلته ووژني. کله چې کلي ته ورسېدو کورنۍ مو په لیدو حیران شول. ټولو باور لاره چې طالبان به بیا هم شنګلې ته راشي، نو له همدې امله دوی نه پوهېدل چې موږ ولې په شنګله کې نه یو پاتې شوي.

موږ په کرشت کې د خپل ماما فایز محمد کور ته لاړو او اړ و چې له خپلوانو مو جامې واخلو ځکه چې له ځانه سره مو نورې جامې نه لرلې. زه مې د ماما لور سنبل ته ډېره خوشاله وم. هغه له ما یو کال مشره وه. همدا چې هلته ځای په ځای شوو له هغې سره ښوونځي ته لاړم. زه په شپږم ټولګي کې وم، خو دلته مې د دې له پاره چې له سنبل سره یو ځای وم ښوونځي له اووم ټولګي پیل کړ. په ټولګي کې یوازې درې نجونې وې، ځکه چې ډېرې کلیوالې نجونې په دې عمر کې ښوونځي ته نه ځي، نو ځکه له هلکانو سره په یوه ټولګي کې کېناستې، دوی په کافي اندازه ښوونکي نه لرل او نه یې شوای کولای چې دریو نجونو ته په ځانګړې توګه درس ورکړي. ما له نورو نجونو سره توپیر لاره ځکه چې مخ مې نه پټاوه، تل به مې له ښوونکو سره خبرې کولې او ډېرې پوښتنې به مې کولې. خو ډېره هڅه مې کوله چې خبرو ته غوږ ونیسم او باادبه وم او تل به مې د ښوونکي په ځواب کې ویل: «هوکې ښاغلیه»

ښوونځي ته به تر نیم ساعت ډېر په پښو تلو، دا چې سهار ژر له خوبه نه شم پورته کېدی په دویمه ورځ ښوونځي ته ناوخته ورسېدم. کله چې ښوونکي زما د بیدارولو له پاره په لښته ووهلم لومړی ډېره ووېرېدم خو بیا وروسته متوجه شوم چې د هغوی د یوې زده کوونکې په سترګه راته ګوري.

ماما به مې آن جیب خرڅ هم را کاوه چې په ښوونځي کې د خوړلو لپاره کوم څه



پرې واخلم. په دې ښوونځي کې د مېنګورې د ښوونځي خلاف خوراکونه پلورل کېدل، مېنګوره کې به چېپس او د نبات اوبه پلورل کېدې خو دلته هندوانه او بادرنګ پلورل کېدل.

کله چې د (مور او پلار) او د وی ته د ډالۍ ورکولو ورځ را ورسېده، ټول هلکان وهڅېدل چې بیانیه ورکړي. ځینو نجونو هم برخه په کې واخیسته خو نجونو باید په عامه فضا کې خبرې نه وای کړې. نجونو به په ټولګي کې په مایکروفون خبرې کولې او غږ به یې په عمومي تالار کې اورېدل کېده. خو ما په عام محضر کې د خبرو کولو عادت لاره نو له همدې امله بهر را ووتم او د هلکانو په مخکې ودرېدم، لومړی مې یو نعت شریف ووایه وروسته مې له ښوونکي اجازه واخیسته چې آیا خبرو ته مې ادامه ورکوی شم. بیا مې یو شعر ووایه:

«بې زحمته راحت نه شته زما وروره
که راحت غواړې زحمت درلره بویه»

که زحمت تېر نه کړو راحت هم نه شو تر لاسه کوی. «یو الماس باید په ځلونو مات کړل شي، تر څو په یو کوچني جواهر بدل شي.» هغه وخت مې د خپلې هم نومې ملالۍ میوندۍ په اړه خبرې وکړې چې د سلګونو او زرګونو اتلو کسانو په اندازه پیاوړې وه ځکه چې د هغې یوه لنډۍ هر څه بدلوي او انګرېزان له ماتې سره مخ کېږي.

زده کوونکو حیران راته کتل، له ځان سره مې ویل، دوی به فکر کوي ځان ښودنه کړم او یا به له ځانه پوښتي چې ولې مخ نه پېچم.

زړه مې په خپلو کتابونو پسې تنګ شوی و تل مې د ښوونځي په بکس، د الیور تویست، زومیو او ژولیت په کتابونو او د بد شکله بتې په سریال پسې فکر کاوه. خو اوس مې د خپل ژوند تمثیلي ټوټه ترسره کوله. تر دې مخکې ډېره خوشاله وم چې ناڅاپه بده پېښه وشوه او په اوس وخت کې د دې پېښې پای ته سترګې په لاره یو. ما به چې د کتابونو په اړه فکر کاوه ورونو به مې خپلې چرګې یادولې.

په راډیو کې مې واورېدل چې پوځ په مېنګوره کې هم د جګړې عملیات پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وو. د پوځ سرتېري د نجات له چتر سره په مېنگوره کې راښکته شوي وو او په سرکونو یې مخامخ جگړه پیل کړې وه. طالبانو له دولتي ودانیو او هوټلونو څخه د پټنځای په توگه کار اخیست. له څلورو ورځو وروسته پوځ درې واټونه چې شین واټ هم په کې شامل و او هلته به طالبانو د خلکو مړي غورځول ونیول. وروسته یې هوایي ډگر په لاس کې واخیست او د یوې اونۍ په درشل کې یې ټول ښار دویم ځلي په خپل واک کې را ووست.

موږ په پلار پسې ناکراره و. په شنگله کې گرځنده (مبایل) ډېر لږ کار کاوه، باید چې د خبرو له پاره په یوه دښته کې یوې لوړې غونډۍ ته تللي وای، له همدې امله مو ډېرې خبرې نه شوای ورسره کولای. په شنگله کې تر شپږ اونیو ژوند کولو وروسته مې پلار راغئ ویې ویل چې کولای شو پېښور ته ورسره لاړ شو. په پېښور کې یې له دریو کسو ملگرو سره په یوه کوټه کې ژوند کاوه.

کله مې چې هغه ولید بې کچې خوشاله شوم. د کور ټول غړي یو ځل بیا د یو بل په څنگ کې و. وروسته موږ د اسلام آباد په لور چې مېرمن شیذې له فرانکپورټ څخه له موږ سره اړیکه نیولې وه حرکت وکړ. د هغې په کور کې مو واورېدل چې د افغانستان او پاکستان له پاره د امریکا ځانگړي استازي ریچارډ هولبروک په سیرینا هوټل کې د سیمې د اړو دوړ په اړه یوه غونډه جوړه کړې. ما او پلار مې هوډ وکړ چې غونډې ته ورشو.

څه ناڅه مو هغه غونډه له لاسه ورکړې وه ځکه چې د ساعت زنگ مو سم نه و تنظیم کړی له همدې امله مې پلار ډېر راته غوسه شو. هولبروک د لوړ قد، غوسه ناکې او سور رنگه څېرې لرونکی و خو خلکو به ویل چې هغه په بوسنیا کې د سولې بنسټ اېښودونکی دی. زه یې تر څنگ کېناستم هغه رانه وپوښتل چې څو کلنه یم.

ځواب مې ورکړ: «دوولس کلنه یم. ښاغلی سفیر له تاسې هیله لرم له موږ نجونو سره مرسته وکړئ چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړو.»

هغه په داسې حال کې چې خندل یې ځواب راکړ: «تاسې ډېرې ستونزې لرئ.



موږ ستاسې له هېواد سره په بیلیونونو ډالره مالي مرسته کړې او همدا اوس ستاسې له دولت سره د داسې اقداماتو په ترسره کولو بوخت یم چې خلکو ته برېښنا، گاز او نورې لومړۍ مرستې برابرې کړي. خو بیا هم ستاسې هېواد له ډېرو ستونزو سره مخ دی.»

ما له یوه راډیویي چینل «قدرت ۹۹» سره مرکه وکړه. هغوی مې مرکه ډېره خوښه کړه، دوی ویل، په ایبټ آباد کې یو مېلمستون لري چې موږ کولای شو هلته و اوسېږو. وروسته خبر شوو چې منیبه، زموږ یوه ښوونکې او یو بل دوست مو هم په ایبټ آباد کې دي ډېر خوشاله شوو. ما او منیبې د وروستۍ ورځې له شخړې وروسته له یوې بلې سره خبرې نه وې کړې. په یوه پارک کې مو د لیدو ژمنه وکړه، ما هغې ته پیپسي او بیسکېټ واخیستل، دې وویل:

- ته ملامته وې.

ما یې خبره ومنله چې زه ملامته وم. ځکه چې ماته نور دې موضوع ارزښت نه لاره، یوازې مې غوښتل چې تل د یوې بلې ملگرې و.

د څومره وخت لپاره یې چې په مېلمستون کې د اوسېدو راته ویلي و پای ته ورسېد. هریپور ته مو د عمه کور ته لاړو. دا څلورم ښار و چې په دوو میاشتو کې ورتلو. زه پوهېدم چې زموږ شرایط له هغو کسانو څخه چې په پنډغالو کې یې ژوند کاوه او د اوبو او خوړو له پاره به سره لمر ته په ساعتونو درېدل، ډېر ښه و. خو په دره پسې ډېره خپه وم. همله وم چې دوولسمه کلیزه مې ولمانځله. دا ورځ د هېچا په یاد نه وه، آن پلار مې هم هېره کړې وه. هغه دومره بوخت و چې نه یې شوای کولای د درې په اړه فکر وکړي. زه دردمنه وم او په یاد مې و چې یوولسمه کلیزه مې څومره بل ډول وه. د تېر کال په کلیزه کې مې له خپلو ملگرو سره کیک ووېشه، ډېر بالونونه مو لرل او هماغه وخت مې د دوولس کلنۍ هیله لرله خو دا ځل نه کیک او نه هم شمعې وې. دا ځل مې یوازې دا هیله وکړه چې په سیمه کې مو آرامي او سوله راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېیم څپرکی

# درې نجونې، درې مرمۍ

سر دې په لوړه تیره کېږده
پردی وطن دی پکې نشته بالښتونه

## د غمونو دره

دا ټول وختونه د یوه خوب په څېر تېر شول، د دریو میاشتو په شاوخوا له درې لرې و خو اوس بېرته د خپل ښار او درې په لور روان و.

د پخوانیو آثارو د کنډوالو له لیدو وروسته مو د بودا لویه گونبذه او غر او همدا راز د سوات پراخه سېند مو ولید چې له سترگو مې اوښکې ورته وبهیدې. داسې ښکارېده چې سوات په بشپړه توگه د پوځ تر ولکې لاندې و. آن هغه گاډی چې موږ په کې سواره و باید چې د منفجره مواد د تالاشۍ له یوې پوستې تېر شوی وای، څو د ملکنډ په لاره مخکې ولاړ شو. کله چې هغې خواته ورسېدو او د درې په لور مو حرک وکړ، هر ځای د تلاشۍ پوستې پرتې وې او په ډېرو ځایونو کې یې د بامونو په سر جوړ کړي مورچلونه لیدل کېدل. همدا راز په کلیو کې وړاندې تلو، ړنگې شوې ودانۍ او سوزول شوي نقلیه وسایل مو لیدل. دغې صحنو به زه د جنگي فلمونو یادونو ته بوولم. کله چې مېنگورې ته ورسېدو سخت وارخطا شوو.

پوځ او طالبانو په ټولو سرکونو جگړه کړې وه، په ډېرو دېوالونو د مرمیو آثار ښکارېدل. د طالبانو د اوسېدو د ودانۍ ړنگېدل، بې شمېره کنډوالې، د اوسپنو



ټوټې او ماتې شوې لوحې هر ځای لیدل کېدې. ډېرو پلورنځیو فلزي کټارې لرلې او نور پلورنځي چور شوي و. ښار غلی و، هېڅ گڼه گوڼه نه وه. لکه ښار چې له طاعون سره مخ شوی وي. د بسونو اډه د یوې بلې عجیبه صحنې په څېر ښکارېده. هلته به ډېرې رېکشې او بسونه ښکارېدل خو اوس یې اډه په ټولیزه توگه تشه شوې وه. آن په پلیو لارو بوټي را شنه شوي و. هېڅ کله مو خپل ښار په دې ډول نه و لیدلی.

د طالبانو هېڅ نښې نه ښکارېدې.

د ۲۰۰۹ م کال د جولای په ۲۴ مه لومړي وزیر اعلان وکړ چې د ټول سوات سیمه یې له طالبانو پاکه کړې په دې سیمه کې نور هېڅ طالب نشته. ژمنه یې وکړه چې د گاز خدمتونه به بېرته پیل او بانگونه به په کار پیل وکړي. همدا راز یې د سوات له خلکو وغوښتل چې بېرته خپلو کورونو ته لاړ شي. په دې وختونو کې د سوات د ۱،۸ میلیونه نفوس څخه نیم نفوس کډوال شوي و. خو ځینو یې باور نه لاره چې سیمه به د اوسېدو وړ وي له همدې امله بېرته رانه غلل.

کور ته د نژدې کېدو په وخت کې آن اتل چې ډېرې خبرې به یې کولې هم غلی و. کور مو د پوځ پوستې ته نژدې و. دې ته هم په اندېښنه کې و چې په جگړه کې ړنگ شوی نه وي. دا مو هم اورېدلي و چې ډېری کورونه چور شوي دي. پلار چې د کور په قلف کې کلي گرځوله سا مو په سینو کې بنده شوې وه. لومړی څه مو چې ولیدل باغچه وه چې د دریو میاشتو په اوږدو کې په یوه ځنگل بدله شوې وه.

وروڼه مې په بیړه د خپلو چرگو په لور لاړل خو بېرته چې راغلل اوښکې یې په مخ روانې وې. د چرگو د واړه بدن یوازې څو هډوکي او څو بڼکې پاتې وې. بېچاره چرگې د وږې له لاسه مړې شوې وې.

وروڼو ته مې ډېره خپه شوم. زه باید لومړی په خپل بکس پسې تللې وای. ښه و بکس مې په خپل ځای و او کتابونه مې هم په کې و. د خدای(ج) شکر مې و ویست چې کتابونه مې تر اوسه هم په بکس کې شته دي. ټول مې دانه دانه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويستل، رياضي، فزيک، اردو، انګرېزي، پښتو، کېميا، د ژوندانه چاپېريال، اسلاميات او د پاکستان مطالعه اوس مې کولای شول چې پرته له کومې وېرې ښوونځي ته لاړه شم.

وروسته مې د خوب په کټ ناسته په خيالونو کې ډوبه شوم.

دې ته ډېر خوشاله و چې کور مو نه و رنګ شوی. زموږ په کوڅه کې څلور پنځه کورونه چور شوي و، ټلويزيونونه او طلاوې يې ترې وړې وې. د سفينې مور خپل سر زر په بانګ کې امانت اېښي و آن هلته هم چور شوي وو.

پلار مې ډېر پرېشانه و زه هم ښوونځي ته ورسره لاړم. ومو ليدل چې د نجونو په ښوونځي يو توپ لګېدلی و. له پلار سره په شته کليانو دروازه خلاصه نه شوه، په لار له يوه تېرېدونکي هلک مو هيله وکړه له دېوال واوړي او له هغې خوا دروازه راته پرانيزي. په زينو د پورته کېدو په وخت کې مو د کومې پېښې انتظار کاوه.

کله چې تالار ته ننوتو پلار وويل:

- دلته څوک اوسېدلي دي.

په ځمکه د سګرېټو ډبلي او د خوړو تش پاکټونه پراته وو، مېزونه پرمخې (چپه) شوي وو. پلار مې د خوشال ښوونځي لوحه را پورته کړه په زوره مې چېغې کړې.

ترې لاندې د پسه څو خوسا شوي سرونه و چې د تېر ماښام ښکارېدل.

وروسته ټولګيو ته لاړو. په ټولو دېوالونو د طالبانو ضد شعارونه ليکل شوي و. آن په يوه تخته په داسې مارکر چې رنګ يې نه پاکېږي «ژوندی دې وي پوځ» ليکل شوي و.

اوس پوهېدو چې په ښوونځي کې چا ژوند کړی. يوه سرتېري زموږ د يوې ټولګيوالې د يادښت په کتابچه کې يو بې خونده او تکراري عاشقانه شعر ليکلی و. په ځمکه هرې خوا ته تش کارتوس پراته و. پوځ د انګړ په دېوال کې يو سوری کړی و چې ټول ښار ترې ښکارېدو. کېدای شي له دې سوري به يې په خلکو ډزې کړلې. زه ډېره پرېشانه وم چې زموږ ارزښت لرونکی ښوونځی د جګړې په ډګر بدل شوی و.



شاوخوا مې کتل چې له لاندې لور نه په زوره زوره د دروازې د ټکېدو آواز راغئ. ناڅاپه مې پلار وويل:

- مه يې خلاصوه ملالې.

هغه په خپل دفتر کې د پوځ يو ليک موندلی و په ليک کې يې زموږ په څېر ښاريان چې د دوی په نظر يې طالبانو ته اجازه ورکړې وه چې ښار ته راشي، سپک کړي وو. وروسته پلار ليک ولوست: «ستاسې د بې پروايئ له لاسه موږ د خپلو ډېرو اتلو سرتېرو ژوند له لاسه ورکړ. ژوندی د وي پاک پوځ!»

پلار وويل:

- طالبانو په لومړيو کې د سوات خلک تېر ويستل، وروسته د دوی له خوا ووژل شوو او اوس د طالبانو له پاره موږ سپک کېږو. تېرويستنه، وژنه، او سپکاوی!

پوځ له څو خواوو ملېشو ته ورته و. زموږ يوه ګاونډي کيسه وکړه چې پوځ به د طالبانو مړي د خلکو د ليدو له پاره په عام محضر کې غورځول. اوس د دوی هليکوپټرې د تورو حشرو په څېر په هوا کې زموږ په سر ګرځېدې، کله به چې د کور په لور تلو د دېوالونو په څنګ کې به مو تګ کاوه چې دوی مو ونه ويني.

د آته کلنو په ګډون په زرګونو داسې هلکان چې طالبانو يې د ځانمرګي بريدونو له پاره مغزونه ور مينځلي وو ونيول شول. پوځ به هغوی د جهاديانو له پاره ځانګړې پوستې ته لېږل. د نيول شوو کسانو له ډلې يو هم زموږ د اردو ژبې د زده کړې ښوونکی و چې نجونو ته د درس نه ورکولو له امله يې ښوونځی پرېښود او د فضل الله مرستې ته يې ور ودانګل.

خو فضل الله تر اوسه آزاد ګرځېده. په امام دره کې يې پوځ پوستې ور ړنګې کړې وې، وروسته پوځ څرګنده کړه چې هغه يې د پيوچار په غرونو کې محاصره کړی دی. پوځ وويل چې فضل الله سخت ټپي شوی دی او د ده وياند مسلم خان هم نيول شوی دی خو وروسته کيسه بدله شوه، دوی راپور ورکړ چې فضل الله افغانستان ته تښتېدلی او په کونړ کې دی. ځينو خلکو ويل فضل الله نيول شوی و خو پوځ او آی اېس آی هوکړې ته نه رسېدل چې له هغه سره څه وکړي. پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل بندي يې کړي خو آی اېس آی هغه باجوړ ته يووړ چې افغانستان ته وتښتېدی شي.

داسې ښکارېده چې مسلم خان او د محمود په نوم د طالبانو يو بل قوماندان نيول شوي دي او نور کسان تر اوسه آزاد ګرځي. تر هغې چې فضل الله زموږ په څنګ کې ګرځېده وېرېدم به، نه چې طالبان بيا واک ته ورسېږي. آن کله به مې خوب ليده خو لږ تر لږه دومره ښه و چې راډيو يې بنده شوې وه.

د پلار يوه ملګري احمد شاه به هغه «دايمي سوله نه بلکې لنډمهاله سوله» بلله. ورو ورو درې ته خلک راغلل، ځکه چې سوات ډېر ښکلی دی او موږ نه شو کولای ډېر وخت لرې ترې پاتې شو.

د ښوونځي زنګ مو د اګست په لومړۍ يو ځل بيا وکړنګېد. کله مو چې بيا دغه غږ واورېد عجيب احساس مو کاوه په بېړه په زينو کې پورته وختو. خپلې پخوانۍ خورلنې مې يو ځل بيا وليدې او ډېره خوشاله وم. ما مې د بې کورۍ ډېرې کيسې لرلې. موږ ډېر وخت د خپلوانو او د کلي په خپله کورنۍ کې تېر کړ خو ډېرو بيا په پنډغالو کې ژوند کړی و. زه پوهېدم چې موږ د بې کورۍ په وخت کې تر نورو ډېر نېک بخته وو. د ډېرو ټولګيو زده کوونکو بايد تر کېږديو لاندې درس ويلی وای ځکه چې ډېر ټولګي په جګړه کې وران شوي و. د سندس په نوم يوې ملګرې مو خپل پلار په يوه چاودنه کې له لاسه ورکړی و.

اوس ټولې پوهېدې چې د بي بي سي يادښتونه ما ليکل. ځينو ويل چې هر څه مې پلار راته ليکل خو زموږ مديرې مېرمن مريم دوی ته وويل:

- نه ملاله سربېره پر دې چې ښه وياند ده ښه ليکواله هم ده.

په هغې دوبي د خبرو له پاره يوازې يوه موضوع شته وه. زما د اسلام آباد ملګرې شيذه شهيد چې له سټنفورډ پوهنتون څخه فارغه شوې وه. د خوشال ښوونځي ۲۷ نجونې يې اسلام آباد ته د مېلې له پاره وغوښتې چې په اسلام آباد کې يې وګرځوي او د طالبانو په وخت کې چې کومه روحي ستړيا ورته پيداشوې رفعه يې کړي. هغه نجونې چې زموږ له ټولګي څخه په دې سفر کې راسره وې:



زه، منيبه، ملکه نور، ريده، کرېشمه، او سندس وې. پر موږ د پاملرنې له پاره مېرمن مريم او مور مې هم راسره لاړې.

موږ د اګست پر څوارلسمه چې د هېواد د خپلواکۍ له ورځې سره برابره ده، پلازمېنې اسلام آباد ته په داسې حال کې ورسېدو چې ساعت په ساعت هيجاني کېدو. ډېرې نجونې هغه وخت له درې راوتې وې چې بې کوره شوي وې خو دې سفر له هغې سره توپير لاره، دا د هغو رخصتيو په څېر و چې په ناولونو کې به مو لوستل. موږ په يوه مېلمستون کې ځای په ځای شوو، وروسته مو تمرين کاوه چې خلکو ته څه ډول کيسې وړاندې کړو څو پوه شي چې په دره کې څه تېرېږي او له موږ سره مرسته وکړي. شيذه زموږ له همدې لومړۍ جلسې څخه دا چې موږ دومره پياوړې اراده لرو ډېره اغېزمنه شوې وه. دې مې پلار ته زموږ کوټې ته په اشاره وويل:

- له ملالو ډکه کوټه!

موږ همدا راز د تفريح له پاره په پارک کې ګرځېدو، سندرې مو اورېدې، چې ډېرو خلکو ته دا کار عادي ښکارېدو خو په سوات کې سياسي نيوکې شوې وې او موږ د منظرو ليدو ته لاړو. له فيصل مسجد څخه د مرګلې د غره لمنې ته چې سعودي عربستان په کې په ميليونونو ډالره پانګونه کړې وه لاړو چې هلته «ټام، ډېک او هري» يوه انګليسي تمثيلي ټوټه وګورو، همدا راز هلته مو هنري ټولګي لرل. موږ په هوټل کې ډوډۍ خوړله او د لومړي ځل له پاره مې مک دونالډ هوټل وليد. په چيني هوټل کې مې يو ځانښت ډوډۍ له لاسه ورکړه ځکه چې د «پلازمېنې خبرې اترې» ټلويزيوني پروګرام، سره مې مرکه لرله. تر هغې وخته مې هېڅ کله هم «ډوک پنکېک» نه و خوړلی.

اسلام آباد په ټوليزه توګه له سوات سره توپير لاره. توپير يې موږ ته د اسلام آباد او نيويارک په څېر و. شيذې داسې مېرمنې لکه ډاکټرې، سياستوالې او همدا راز وکيلې موږ ته را وپېژندې. دې موږ ته وښودل چې ښځې کولای شي مهمې بوختياوې ولري او په عين حال کې خپل دودونه او فرهنګ هم وساتي. موږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوڅو او سرکونو کې ښځې لیدې چې له حجاب پرته ګرځېدې او سرونه یې هم لوڅ و.

وروسته په ځینو غونډو کې ما هم ټکری له سره لرې کړ په دې فکر چې د ورځې نجلۍ رانه جوړه شي. خو وروسته مې پام شو چې په ټکري لرې کولو سره د نن ورځې نجلۍ نه شم کېدای.

هلته مو یوه اونۍ تېره کړه او هماغه ډول مو چې وړاندوېینه کړې وه ما او منیبې بیا بحثونه پیل کړي و. هغې زه له یو کال مشرو نجونو سره په خبرو ولیدم راته ویې ویل:

- ته له رشام سره یې او زه له ریدې سره.

شیذې هڅه کوله له نفوذ لرونکو کسانو سره مو معرفي کړي. معلومه وه چې زموږ په هېواد کې نفوذ  او ځواک له پوځ سره و. زموږ یوه غونډه له اطهر عباس سره وه چې د پوځ ویاند او د عمومي اړیکو رییس و. موږ له هغه سره د لیدنې له پاره د اسلام آباد ګاونډي ښار راولپنډۍ ته حرکت وکړ. د پوځ استوګنځی له نور ښار څخه ډېر منظم و. چاپېریال یې په داسې چمنونو او زړه وړونکو ګلونو ښایسته کړی و چې سترګې مو یې له کاسې ورته بهر کېدې. آن چې ونې یې ټولې یو ډول وې چې نیمې تنې ته یې سپین رنګ ورکړی و، خو په دلیل یې نه پوهېدو. په د ننه یوه کوټه کې یې ټول ټلویزیوني چینلونه لګولي و چې څو کسانو ټول چینلونه ارزول، یوه بل افسر د ورځپاڼو یو غورچاڼ پلار ته ورکړ چې د نن ورځې ټول هغه راپورونه و چې پوځ ته اشاره په کې شوې وه. پلار مې حیران و داسې ښکارېده چې د هېواد تر سیاستوالو پوځ ډېر نفوذ لري.

موږ یې یوه تالار ته بوتلو چې هلته د سرلښکر انتظار وکړو. د پوځ د ټولو قوماندانانو او هېواد د ټولو واکمنو د مشرف او ضیاء په شمول زورواکو په ګډون د ټولو تصویرونه په دېوالونو ځړول شوي و. یوې خدمتګارې چې لاسونو ته یې سپین لاس پوښونه  ور اغوستي و موږ ته چای، بیسکېټ او د غوښې وړې سمبوسې چې په خوله کې مو اوبه کېدې راوړې. کله چې د پوځ ویاند عباس



راغئ ټول له ځایه پورته شوو.

عباس په سوات کې د پوځ په عملیاتو خبرې وکړې چې د یوې بریا په سترګه یې ورته کتل. هغه وویل په دې عملیاتو کې ۱۲۸ سرتېري او ۱۶۰۰ طالبان ووژل شول.

وروسته له دې چې د هغه خبرې پای ته ورسېدې موږ کولای شول پوښتنې ترې وکړو. موږ ته ویل شوي و چې پوښتنې مو مخکې تر مخکې تیارې کړو چې ما په یوه پاڼه کې اووه آته پوښتنې لیکلې وې. شیذې په خندا راته وویل چې هغه به ټولو پوښتنو ته ځواب درنه کړای شي. زه په کتار کې مخامخ ورته کېناستم او په کتار کې لومړۍ وم چې باید خبرې مې کړې وای. ترې ومې پوښتل:

- تاسې دوه درې میاشتې مخکې اعلان وکړ چې فضل الله او ځای ناستی یې په ډزو کې ټپیان شوي دي او وروسته مو وویل چې هغه په سوات او یا افغانستان کې دي. که چېرې تاسې ډېر معلومات لرئ نو ولې هغه نیولای نه شئ.

د هغه ځواب له لسو تر پنځه لسو دقیقو وخت ونیو چې زه یې په ځواب هېڅ پوهه نه شوم چې څه یې وویل. وروسته مې د بیارغونې په اړه ترې وپوښتل:

- پوځ باید د سوات د بیارغونې له پاره لاس په کار شي، نه یوازې دا چې ټول فکر یې نظامي عملیاتو ته وي.

منیبې هم پوښتنه وکړه:

- ړنګ ښوونځي او ودانۍ به څوک جوړ کړي؟

هغه په نظامي طریقه ځواب ورکړ:

- له عملیاتو وروسته به لومړی بیارغونه تکېږي او وروستی کړنې بیا تر ملکي چارواکو پورې تړاو لري.

سوله زموږ د ټولو نجونو یو ارمان نوه او هیله مو لرله چې طالبان سوله وکړي خو بیا مو هم ډېره هیله نه لرله.

وروسته اطهر عباس خپل ملاقات کارډونه موږ ته راکړل که چېرې اړتیا شي اړیکه ورسره ونیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ باید په وروستی ورځ د اسلام آباد په ټولنه کې د طالبانو تر ولکې لاندې ورځو په اړه خپلې تجربې وړاندې کړې وای. کله چې منيبې خبرې کولې د خپلو اوښکو مخنيوی يې ونه کړای شوای. چې ټولو ورسره وژړل. موږ په اسلام آباد کې له يوې نښې تجربې او بل ډول ژوند سره مخ شوي و. ما په خپلو خبرو کې وويل، کله مې چې د انګليسي ننداره وليده هېڅ کله مې فکر نه کاوه چې پاکستان تر دې انډوله استعداد لرونکي کسان لري، وروسته مې په ټوکو سره وويل:

- اوس پوه شوم چې نور د هندي فلمونو کتلو ته اړتيا نه لرو.

موږ په زړه پورې وخت تېر کړ، کله چې سوات ته بېرته راغلو، راتلونکي ته دومره هيله من شوي وو چې له امله مې يې په انګړ کې د ام يوه دانه وکرله ځکه چې ام د روژې په مياشت کې د روژه ماتي له پاره تر ټولو ښه مېوه ده.

خو پلار مې له لويې ستونزې سره مخ و. کله چې موږ بې کوره شوو ښوونځي څو مياشتې تړل شوي و او پلار مې هم هېڅ عايد نه لاره. ټول خصوصي ښوونځي له ورته ستونزې سره مخ و. يوازې يوه ښوونځي يې د ښوونکو د يوې مياشتې حقوق ورکړل خو د نورو ښوونځيو په وس پوره نه وه. د خوشال ښوونځي ښوونکو هم خپل حقوق وغوښتل. دوی هم پيسو ته اړتيا لرله، د دوی له ډلې ښوونکې (هېرا) وه چې بايد واده يې کړی وای او واده کړلو ته يې پيسو ته اړتيا لرله.

پلار له ستونزو سره مخ و. هغه وخت د پوځ د مشر عباس وېزېټ کارډ را په ياد شو. د دې ټولو ستونزو لامل د طالبانو د وتلو له پاره د پوځ عمليات و. له همدې امله ما او مېرمن مريم اطهر عباس ته يو ليک ولېږه چې خپله وضعه مو په کې تشريح کړې وه. هغه ډېر سخي و موږ ته يې يوولس سوه زره (۱۱ لکه) روپۍ راولېږلې. پلار له دې پيسو د ښوونکو د تېرو دريو مياشتو حقوق ورکړل.

ښوونکي ډېر خوشاله ښکارېدل، ډېرو يې په يو ځل دومره پيسې نه وې اخيستې. مېرمن هېرا چې اوښکې يې په مخ روانې وې له پلار مې يې مننه وکړه ځکه چې واده يې له پروګرام سره سم وشو.



خو دا له پوځ څخه د موږ د خوښۍ په معنی نه و دا چې پوځ د طالبانو د مشر په نيولو نه و توانېدلی ډېر خپه و. په دې وختونو کې ما او پلار له ډېرو نورو پروګرامونو سره مرکې وکړې. ډېری وخت به مې د پلار ملګری زاهد خان چې د سوات د قومي جرګې غړی و هم راسره و. هغه همدا راز د سوات د هوټلونو د ټولنې مشر هم و. له همدې امله يې ډېره هيله لرله چې وضعيت بېرته عادي حالت ته وګرځي، ترڅو سيلانيان بېرته سوات ته په راتلو وتوانېږي. هغه مې هم د پلار په څېر ډېر صادق انسان و، دی هم ډېر ځله ګواښل شوی و. د ۲۰۰۹ م کال د نوومبر مياشتې په يوه شپه يې د خطر زنګ تر غوږو تېر شو.

په هغه شپه زاهد خان د پوځ په پنډغالي کې له يوې جلسې څخه وروسته د کور په لور روان و چې حمله پرې وشوه. د ده د کورنۍ ډېر غړي په يوه سيمه کې اوسېږي په دې وخت کې يې د کورنۍ غړي په حمله کوونکو ډزې کوي او هغوی هم په تېښته اړ کېږي.

وروسته د ۲۰۰۹ م کال د ډسمبر په لومړۍ نېټه د خيبر پښتونخوا د ټولنې په يوه غړي شمشېر علي خان چې د خلکو د ملي ګوند پېژندل شوی سياستوال دی حمله وشوه. هغه په خپله حجره کې چې له امام درې، د فضل الله د اوسېدو له ځای سره يو ميل واټن لري په داسې حال کې چې شمشېر علي خان د خپلې ټولنې له نورو غړو او ملګرو سره د اختر مبارکي کوله چاودنه پرې وشوه. ډاکټر شمشېر علي خان يو له هغو ويناوالو څخه و چې طالبان به يې غندل. هغه ځای په ځای ووژل شو او نهه کسه نور هم ټپيان شول. خلکو ويل چې ځانمرګی آته لس کلن و او پوليسو يې يوازې پښې او د بدن ځينې نور غړي موندلي و.

دوه اونۍ وروسته زموږ له ښوونځي غوښتنه وشوه چې د سوات د سيمې د ماشومانو په ټولنه کې چې د يونيسف د اداري او «زموږ کور» د بنسټ له خوا جوړېږي ګډون وکړو. له ټول سوات څخه ٦٠ زده کوونکي د ټولنې د غړو په توګه ټاکل شوي و. ډېری يې هلکان و سره له دې چې زموږ له ښوونځي يوولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هغه ملامتوی نه شم ځکه چې ملکه نور غوښتل کورنۍ او په ځانګړې توګه مور یې ترې خوشاله وي.

سوات د پخوا په څېر نه و او ورو ورو بېرته خپل طبیعي حالت ته روان و. ځکه چې د بنر بازار ځینو نڅاګرو خپلې لوحې بېرته ځړولې وې. وروسته مو په ساز، آواز او اتڼ سره د سولې څو لمانځنې ولیدې. چې داسې څه مو هېڅ کله هم د طالبانو په وخت کې نه و لیدلي. پلار مې په مرغزار کې یوه لمانځغونډه جوړه کړه، په دې لمانځغونډه کې یې د مننې له پاره هغه کسان راغوښتي و چې په ښکته سیمو کې یې له بې وزلو سره مرسته کړې وه. ټوله شپه مو له سندرو خوند واخیست.

ډېرې پېښې به زما له کلیزې سره برابرېدې. د ۲۰۱۰ م کال په جولای کې چې هغه وخت ۱۳ کلنه وم باران وشو. په سوات کې باران ډېر لږ کېږي. موږ لومړی ډېر خوشاله و، فکر مو کاوه چې باران به ډېر ښه حاصل راکړي. خو دومره دروند او بې رحمه و چې آن زموږ په مخکې درېدلی کس مو نه لیده. د بشري سرچینو ساتونکو خبر ورکړی و چې غرونه د طالبانو او قاچاق وړونکو په واسطه لغړ شوي او ټولې ونې یې وهلې دي. له همدې امله سېلاب ډېر ژر درې ته راغئ او هر څه یې ورسره یوړل.

د سېلاب د پیل په وخت په ښوونځي کې و، له همدې امله یې کورونو ته ولېږلو. اوبه دومره ډېرې وې چې پل یې په پوره توګه لاندې کړی و، په بل پل هم اوبې اوښتې خو دومره ډېرې نه وې موږ وکولای شول پرې تېر شو. بد بوی یې لګېده. کله چې کور ته ورسېدو سر تر پښو لانده او ککړ شوي وو.

بله ورځ خبر شوو چې ښوونځي ته اوبه ننوتلې چې وچېدو یې څو ورځې ونیوې. کله چې ښوونځي ته لاړو په دېوالونو د اوبو د څپو کرښې ښکارېدې. ټول ځایونه ختو نیولي و. آن زموږ په چوکیو او مېزونو هم ختې پرتې وې. د سېلاب د اوبو بد بوی ټول ښوونځی په سر اخیستی و. ډېر تاوان یې پېښ کړی و، پلار مې د ښوونځي د جوړولو له پاره نوي زره روپۍ چې د نوي زده کوونکو د یوې میاشتې



نجونې تللې وې. لومړۍ جلسه په یوه تالار کې چې ډېرو سیاستوالو ګډون لاره وشوه. موږ د ویناوالو د ټاکنې له پاره یوه سیالي وکړه چې ما وګټله.

کله چې هلته ولاړه وم او خلکو د «ویناوالې مېرمن» چیغې راته وهلې عجیبه احساس مې کاوه خو په دې خوشاله وم چې بالاخره زموږ غږ واورېدل شو. ټولنه د یو کال له پاره وه چې موږ لږ تر لږه په میاشت کې یو ځل سره لیدل. د دې ستونزې د حل له پاره مو چې کارکوونکي، خځلې ټولوونکي او نور بې وزله ماشومان له دې وروسته کار ونه کړي او ښوونځي ته راشي نهه لارې تصویب کړې او همدارنګه هغه ښوونځي چې طالبانو ړنګ کړي و بېرته ورغول شي. کله چې دغه تصمیمونه ونیول شول، چارواکو ته یې ولېږل چې ډېر لږ یې ترسره شول.

منیبه، عایشه او ما د «سولې او جګړې» په نوم د یوې برېتانیایۍ ادارې چې د «روڼ اندي پاکستان» په نوم یې یوه پروژه پر مخ وړله د ورځپاڼه لیکنې په زده کولو مو پیل وکړ. کله مو چې د موضوعاتو راپور ورکول زده کول ډېرې خوشاله و. وروسته له هغې چې پام مې شو زما خبرې څومره کولای شي وضعیت بدل کړي او د بدرنګې بټې له نندارې څخه چې د یوې امریکایي ورځپاڼې په دفتر کې یې د ژوند په اړه لیکلې وه. زما هم له ورځپاڼه لیکنې سره مینه پیداشوه. دغې چارې لږ توپیر لاره کله مو چې تصمیم لاره، د داسې موضوعاتو په اړه ولیکو چې زموږ زړونو ته ډېر نژدې وي چې عنوانونه جامې او د وېښتانو د جوړولو ډول و، نه و. بلکې د طالبانو، او سخت دریځئ په اړه مو مقالې لیکلې.

ډېر ژر د آزموینو میاشت را ورسېده. زه دویم ځل له ملکه نور څخه مخکې او لومړۍ نومره شوم. مېرمن مدیرې هڅه کړې وه هغې ته ووایي چې په ښوونځي کې له زده کړو پرته نور فعالیتونه هم ولري خو هغې ویلي و چې نور کارونه نه شي کولای ځکه چې کېدای شي له زده کړو پاتې شي. مېرمن مریم ویل:

- ته باید د ملالې په څېر فعاله وې. په ښوونځي کې فعالیت ستا له پاره د زده کړو په څېر ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له فیس سره برابرې وې ولګولې.

ټول پاکستان اوبو په سر اخیستی و. د سیند سیمې لوی سېند چې د همالیا له غرونو څخه سرچینه اخلي، بیا د خیبر پښتونخوا، پنجاب، کراچۍ او عرب سمندرګي په لور ځي په څپې لرونکي سېلاب بدل شوی و او څنډې یې هم ګډې وډې شوې وې. سرکونه، محصولات او ټول کلي ړنګ شوي وو. د دوه زرو کسانو په ګډون ډوب شوي او څوارلس میلیونه خلکو ته هم زیان رسېدلی و. ډېرو خلکو کورونه له لاسه ورکړي وو او اووه زره ښوونځي ړنګ شوي وو.

په واقعیت کې زموږ په ژوند کې تر ټولو بد سېلاب و. د ملګرو ملتونو سرمنشي بان کي مون دغه سېلاب «آرامه سونامي» وبلله. وروسته مې پام شو چې د دې سېلاب تاوانونه له آسیایي سونامي، د پاکستان د ۲۰۰۵ م کال له زلزلې، د کاترینا طوفان او هایټي له زلزلې څخه ډېر و.

تر نورو سیمو سوات ته ډېر زیان رسېدلی و. زموږ د ۴۲ پلونو له ډلې ۳۲ مات شوي و چې د درې ډېره برخه یې ویجاړه کړې وه. د برېښنا پایې ړنګې شوې وې چې له امله یې برېښنا هم پرې شوې وه. زموږ کوڅه د غره په ډډې کې پرته ده چې له سرکښه سېند څخه لږ څنډې ته وو. خو کله مې یې چې غږ واورېد سر تر پښو ولړزېدم. یو غوسه ناک ښامار و هر څه چې په مخه ورتلل تر ستوني یې تېرول. د سېند په غاړه د سیلانیانو له پاره هوټل چې هلته به یې تر ټولو خوندور (قزل آلا) کبان نوشي جان کول او له خوندورو منظرو به یې خوند اخیست له یوې مخې اوبو وړي و. د سوات توریستي سیمو ته په بشپړه توګه زیان اوښتی و. د توریستي سیمو ویجاړېدو سوات ته ډېر زیان اړولی و. مالم جبه، مدین او بحرین له هوټلونو او بازارونو سره ویجاړ شوي وو.

ډېر ژر خبر شوو چې شنګلې ته هم بې بېلګې تاوانونه اوښتي. د آلپوري، د شنګلې مرکز او زموږ کلی تر اوبو لاندې شوي وو، ټول کلي له اوبو څخه ډک وو. په کرشت، شاپور، بارکانه او ډېرو نورو کلیو کې ډېر کورونه واورو ښوېیدنو لاندې کړي و. د فایز محمد ماما کور مې تر اوسه په ځای و خو تر څنګ روان سرک یې



په بشپړه توګه له منځه تللی و.

خلکو په ناهیلۍ سره شته وسایل او خواړه ساتلي وو او ټول حیوانات یې لوړو سیمو ته خېژولي وو، همدا راز سېلاب د دوی لو شوي غنم او د مېوو باغونه له منځه وړي وو. ډېرې مېښې هم په اوبو کې ډوبې وې. کلیوال بې وزله شوي وو خو هېڅوک نه و چې مرسته ورسره وکړي.

دوی هېڅ وس نه درلود، د دوی د برېښنا لنډمهاله او وړې اوبیزې کمپنۍ له منځه تللې وې. د څښلو له پاره یې هم پاکې اوبه نه لرلې ځکه چې د سېند اوبه ټولې خړې شوې وې. د اوبو ځواک دومره ډېر و چې آن له ډبرو جوړ کورونه هم څه ناڅه تاواني شوي و.

ښوونځی، روغتون، او په اصلي سرک د برېښنا برج په ټولیزه توګه له خاورو سره خاورې شوي وو.

هېڅوک نه پوهېدل چې سېلاب څه ډول راغئ. د سوات خلکو درې زره کاله د سېند په غاړه ژوند کړی و، دا سېند به مو تل د ګواښ په څېر نه بلکې د ژوند د لارې په توګه پېژانده او دره مو هم له بهر نړۍ څخه زموږ د ساتنې په توګه پېژنده. لکه څنګه مې چې د تره زوی سلطان رم ویل اوس دا دره په بشپړه توګه د غم په دره بدله شوې وه. لومړی زلزله، ورپسې طالبان او د پوځ عملیات او اوس چې د بیارغونې په حال کې وه، ویجاوړوونکی سېلاب راغئ چې زموږ ټولې هڅې یې ورسره یوړې. خلک ډېر پرېشانه وو، نه چې طالبان د خلکو له دې بېوسۍ څخه ګټه واخلي او درې ته بیا راشي.

پلار مې په هغو پیسو چې د ملګرو او خصوصي ښوونځیو په واسطه یې ټولې کړې وې، یو څه خوراکي توکي او نورې مرستې شنګلې ته ولېږلې. شیذه ملګرې او څو تنه نور فعالان چې په اسلام آباد کې مو اړیکې ورسره لرلې مېنګورې ته راغلل او یو څه پیسې یې پر خلکو ووېشلې. خو بیا هم د زلزلې د وخت په څېر ډېرې مرسته کوونکې اسلامي ډلې وې چې تر ټولو مخکې به یې ځانونه لرې پاتې سیمو ته رسول. ډېرې خلکو باور لاره چې سېلاب د دې سندرو او جشنونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امله د خدای(ج) عذاب دی. دا ځل زموږ تسلې دا وه چې طالبانو کومه راډيو نه لرله چې دا پيغام خلکو ته ورسوي.

په داسې حال کې چې زموږ ټول خلک بې کوره شوي او له ډول ډول ستونزو سره مخ وو، کور، ژوند او خپلوان يې له لاسه ورکړي وو، د هېواد ولسمشر آصف زرداري خپله رخصتي د فرانسې په يوه ماڼۍ کې تېروله.

پلار ته مې وويل:

- پلاره، زه خو گنگس شوې یم، ولې زموږ سياستوال خپلې دندې په سمه توگه نه ترسره کوي؟ ولې دوی نه غواړي چې خلک مو له خوږو او بربېښنا سره په امن ژوند ولري؟

د اسلامي ډلو له مرستې وروسته د پوځ له خوا خلکو ته اصلي مرسته ورسېده. نه يوازې پوځ بلکې امريکايانو هم خپلې هليکوپترې را ولېږلې چې همدا موضوع د خلکو د بدگمانۍ لامل شوه. ځينو به فکر کاوه چې دا ويجاړۍ او سېلابونه د امريکايانو له خوا وو. خلکو همدا راز ويل چې دوی د هارپ تکنالوژۍ «د يونوسفر څېړنيز پروگرام په لوړه فريکونسي فعال شوی دی» په کارولو سره چې تر اقيانوس لاندې لويې څپې را منځ ته کوي، زموږ ځمکې ته سېلاب را ووست. وروسته يې د مرستې په پلمه کولای شول په قانوني توگه پاکستان ته راشي او په هېواد کې خپل معلومات ټول کړي.

کله چې باران ودرېد بيا هم ژوند د پخوا په څېر له ستونزو ډک و. نه مو پاکې اوبه او نه مو هم برېښنا لرله. د اگسټ په مياشت کې په مېنگوره کې د کولرا يا وبا ناروغي خپره شوه چې ډېر ژر يې د ناروغانو د ډېرېدو له امله له روغتون بهر يوه کېږدۍ ورته ودروله. دا چې زموږ د خوراک راوړنې سرکونه ټول ويجاړ شوي وو نو لږ پيداکېدونکي خواړه هم ډېر په لوړه بيه وو.

د پيازو او شفتاليو فصل و، بزگرانو په ډېر زحمت سره خپل محصولات ذخيره کول. دوی به ډېر خطرونه منل، د دې له پاره چې خپل محصولات بازار ته راوړي د هغو کښتيو په واسطه يې له غوسه ناک سېند نه راتېرول چې د ټاير له ټوپونو



يې جوړې کړې وې. کله مې چې په بازار کې د پلورلو شفتالو وليدل ډېره ورته خوشاله شوم.

بهرنۍ مرستې تر بل هر وخت لږې وې. لويديز بډای هېوادونه له اقتصادي کړکېچ سره مخ شوي و، ټولې اروپا ته د آصف زرداري سفر د دې لامل شو چې هغوی زموږ له هېواد سره لږه همدردي وښيي. نورو دولتونو وښوده چې زموږ ډېری سياستوال د عايداتو ماليه نه ورکوي، نو له همدې امله له ماليه ورکوونکو څخه د مرستې غوښتنه کوي چې دوی په خپلو هېوادونو کې تر فشار لاندې وو ډېره سخته وه. وروسته له دې چې د طالبانو وياند د پاکستان له دولت غوښتنه وکړه چې د يهودو او مسيحيانو مرستې دې نه اخلي، بهرنۍ مرستندويې ادارې د خپلو کارکوونکو امنيت ته اندېښمن شول. دوی له شک پرته وېربدلي و. د تېر کال په اکتوبر کې د خوراک نړيواله اداره په اسلام آباد کې والوزول شوه چې پنځه مرسته کوونکي يې ووژل شول.

په سوات کې بيا هم د طالبانو نښې ليدل کېدې. په دوو ښوونځيو کې يې بمونه والوزول. دوی همدارنگه درې بهرني مرسته کوونکي چې د يوې مسيحي ډلې غړي وو او په مېنگوره کې يې خپل استوگنځي ته د تلو په وخت کې وتښتول او وبې وژل. موږ نور ټکان ورکوونکي خبرونه هم واورېدل. د سوات د پوهنتون مرستيال او د پلار مې ملگری ډاکټر محمد فاروق د دوو وسله والو له خوا چې په زور يې دفتر ته ننوتي و ووژل شو. ډاکټر فاروق يو اسلامي عالم چې د جماعت اسلامي د ډلې له پخوانيو غړو څخه و او د طالبانو سرسخته مخالف و. ده همدا راز د ځانمرگو په ضد يوه فتوا هم صادره کړه.

ټول بدن مو يو ځل بيا وېرې او وحشت ونيو. کله چې بې کوره وو د دې په اړه مې ډېر فکر کړی و چې په راتلونکې کې يوه سياستواله شم او اوس پوهېدم چې يوه ښه ټاکنه وه. هېواد مو له سياسي کړکېچ سره مخ و خو له دې کړکېچونو سره موږ رښتيني رهبران نه لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپل قد د لوړېدو دعا مې کوله

کله چې ۱۳ کلنه شوم نور مې بدن وده نه کوله. تل به له خپل عمر نه لویه ښکارېدم خو ناڅاپه مې د ټولو همزولو قدونه له ما لوړ شول. زه په ټولګې کې یوه له دریو لنډ قدو نجونو څخه وم. کله به مې چې د خورلڼو څنګ کې درېدم شرمېدم به. هر وخت مې له خدای(ج) څخه غوښتل چې قد مې لوړ شي. د یوه خط کش او پنسل په واسطه مې د خپلې کوټې په دېوال خپل قد اندازه کاوه او هر سهار به ورته درېدم چې نوره وده مې کړې که نه. خو د پنسل اندازه هېڅ کله هم له ۱۵۲ څخه نه لوړېده. له خدای(ج) سره مې ژمنه کړې وه چې که لږ نوره هم لوړه شم سل رکعته نفل لمونځ به کوم.

ما به په ډېرو پېښو کې وینا کوله خو د قد د ټیټوالي له امله به مې نه شوای کولای په ټولو حاضرینو واکمنه وم. کله به مې په سختۍ سره کولای شول چې د تربیون بله خوا ووینم. د لوړو پوندو بوټونه مې نه خوښېدل خو له دې وروسته یې په خوښېدو اړه شوې وم.

هغه کال زموږ ټولګي ته یوه نجلۍ بېرته رانغله. هغه چې څنګه بالغه شوه واده یې وکړ سره له دې چې له خپل عمر نه لویه ښکارېده خو بیا هم هغه یوولس کلنه وه. څه وخت وروسته مې واورېدل چې د دوو اولادونو مور ده. د کېمیا په ټولګې کې مو چې د هایدروکاربن فورمول یاداوه، ما د دې په اړه فکر کاوه چې که داسې وخت راشي چې اړه شم ښوونځی پرېږدم او د یوه خاوند پالنه وکړم.

ما پر طالبانو سربېره په نورو موضوعاتو هم فکر کاوه، خو طالبان مې په پوره توګه نه شوای هېرولای. زموږ پوځ په دې وختونو کې د ډاډه شوو جوارو او کرلو له پاره یې د کوډ جوړولو فابریکې عجیبې سوداګرۍ او همدارنګه ټلویزیوني ډرامې پیل کړې وې. د پاکستان د ټولو خلکو پام د «دندې له غږ وړاندې» په نوم یوې



ټلویزیوني ډرامي ور اړولی و. دغه پروګرام په سوات کې د ملېشو په وړاندې د پوځ د سرتېرو واقعي پېښې وې.

په نظامي عملیاتو کې تر سلو ډېرو سرتېرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او نهه سوه کسان هم ټپي شوي و، دوی غوښتل چې ځانونه اتلان وښیي. سره له دې موږ د قانون د حاکمیت په انتظار و. ډېری وخت به چې له ښوونځي کور ته لاړم په کور کې به مې ښځې لیدې چې اوښکې تویوي. په عملیاتو کې په سلګونو کسان ورک شوي و ټولو فکر کاوه چې هغوی پوځ او یا آی اېس آی نیولي دي خو دوی دواړو پوځ او استخباراتو هېڅ هم نه ویل. ښځو نه شوای کولای له کوم ځای او یا هم له کوم چا نه خبر واخلي او په دې هم نه پوهېدې چې زامن او خاوندان یې ژوندي دي که نه. ځینې یې ډېرې ناهیلې شوې وې او له ځانه یې د ملاتړ هېڅ لاره نه لرله. یوه ښځه یوازې هغه وخت دویم ځلي واده کولای شي چې خاوند یې مړ وبلل شي نه دا چې ورک شوی وي.

مور مې دوی ته ډوډۍ او چای ورکول خو د دوی د راتلو دلیل ډوډۍ او چای نه و. هغوی مې له پلاره مرسته غوښته. دا چې هغه د سوات د قومي جرګې ویاند و، نو د خلکو او پوځ تر منځ یې د استازي په توګه فعالیت کاوه.

یوه ښځه مې ولیده چې هیله یې کوله:

- زه یوازې دومره هیله لرم پوه شم خاوند مې ژوندی دی کنه.که چېرې هغه وژل شوی وي نو اولادونه مې دارالایتام ته بیایم خو په دې نه پوهېږم چې زه کونډه یم کنه.

بلې مېرمنې راته وویل چې زوی یې ورک شوی دی. ښځو ویل چې ورک شوو نارینه و له طالبانو سره مرسته نه کوله کېدای شي طالبانو ته یې کومه پیاله اوبه او یا کومه مړۍ ډوډۍ ورکړې وي. دغه کسان بې ګناه نیول شوي و په داسې حال کې چې د طالبانو مشران آزادانه ژوند کوي.

زموږ د ښوونځي یو ښوونکی چې زموږ له کوره یې د لسو دقیقو په واټن ژوند کاوه. پوځ یې ورور نیولی او شکنجه کړی و، وروسته یې په یوه یخچال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ تر حالته پورې اچوي.

هغه له طالبانو سره هېڅ اړیکې نه لرلې یوازې یو ساده دوکاندار و. وروسته پوځ له هغې ښوونکي بښنه غوښتې وه دا چې دوی پوه شوي نه و او د ورته نوم له امله یې هغه نیولی و.

یوازې دا ډول ښځې مو کور ته نه راتلې. یوه ورځ د فارس خلیج په مسقط کې یو بډای سوداگر کور ته راغئ. هغه مې پلار ته وویل چې ورور او شپږ زامن یې ورک شوي دي، غواړي پوه شي چې وژل شوي او که ژوندي دي. ځکه که وژل شوي وي غوښتل یې ښځې یې واده کړي. له دې ډلې یو هم یو مولانا و پلار مې غوښتل د آزادۍ له پاره یې یو څه وکړي.

دا پېښې یوازې تر سوات پورې نه وې تړلې، اورېدل مو چې په ټول پاکستان کې په زرگونو کسان ورک شوي دي. په پاکستان کې «مقدساتو ته د سپکاوي قانون» په نوم یو څه لرو چې له سپېڅلي قرآن کریم څخه د سپکاوي ساتنه کړي. د جنرال ضیاء د اسلامي مبارزې په وخت کې دې قانون نور هم زور واخیست، نو که چېرې څوک سپېڅلي پیغمبر(ص) ته سپکاوی وکړي نو جزا به یې مرگ او یا دایمي بند وي.

د ۲۰۱۰ م کال د نوومبر میاشتې په خبرونو کې مې د آسیې بي بي په نوم یوې مسیحي مېرمنې خبر واورېد چې په اعدام محکومه شوې وه. هغه یوه بې وزله مېرمن چې د پنځو اولادونو مور وه او د ژوند چلولو له پاره یې د پنجاب په یوه وروسته پاتې کلي کې مېوې بسته بندي کولې. د دوبي په یوه گرمه ورځ کې نورو کارکوونکو ته اوبه راوړې، خو هغوی یې اوبه نه څښې، ناپاکې یې بولې ځکه چې دا یوه مسیحۍ ده. دوی باور لاره چې د یوه مسلمان په توگه که چېرې د هغې له لاسه اوبه وڅښي دوی به هم ناولي شي. له دوی څخه یو چې د دې مسیحۍ مېرمنې گاونډۍ و ویل یې چې د آسیې بي بي وزې د دوی د اوبو څښلو ځای رنگ کړی دی نو له دې امله ډېر ورته غوسه دی.

دوی هڅه کوي چې آسیه بي بي مسلمانه شي. خو دا ځواب ورکوي چې مسیح



د مسیحیانو د گناهونو له پاره خپل ځان قربانوي. بیا له کارکوونکو پوښتي چې حضرت محمد(ص) د مسلمانانو له پاره څه کړي دي. د مېوې له بسته کوونکو څخه یو کس د کلي امام ته د دې ښځې راپور ورکوي، هغه هم پولیس خبروي، په مېرمن په زندان کې له یو کال تېرېدلو وروسته د اعدام حکم صادرېږي.

له هغې وخته چې مشرف د سپوږمکۍ ټلویزیون ته اجازه ورکړه اوس د ننداري له پاره څو چینله لرو. ناڅاپه به مو په ټلویزیون کې دا ډول پېښې لیدې. د ټولې نړۍ خلک په غوسه و او ټولو ټلویزیوني خپرونو په همدې اړه خبرې کولې. په پاکستان کې چې یوازې یوه چاراوکي د آسیې بي بي په ملاتړ خبرې کولې هغه پنجاب ایالت والي سلمان تاثیر و.

هغه هم په پخوا وخت کې یو سیاسي زنداني او د بې نظیرې له ملگرو څخه و. په وروستیو کې هغه په رسنیز ډگر کې لوی پانگه وبلل شو. هغه د آسیې بي بي د لیدو له پاره زندان ته لاړ، هلته یې وویل چې ولسمشر زرداري باید دې ته بښنه وکړي. سلمان مقدساتو ته د سپکاوي قانون یو «تور قانون» وباله. هغه اصطلاح چې له ځینو ټلویزیوني چینلونو څخه په ځلونو اورېدل شوې وه ترڅو ټول په احساساتو راولي. بیا د جمعې په لمانځه کې د ډېرو مسجدونو امامانو په والي نیوکې وکړې او محکوم یې کړ.

څو ورځې وروسته د ۲۰۱۱ م کال د جنوري په څلورمه سلمان تاثیر په هوټل کې د غرمې د ډوډۍ خوړلو په وخت د خپل یوه ساتونکي په واسطه په ډزو وویشل شو. ساتونکي یې هغه شپږویشت مرمۍ ویشتلې و. وروسته یې اقرار وکړ چې د جمعې د لمانځه د امامانو له وعظونو وروسته یې د الله(ج) د رضا له پاره دې کار ته قصد وکړ. ډېرو خلکو یې په قاتل آفرین ویل او مور دې حالت په بشپړه توگه حیران کړې و. کله چې هغه په محکمه کې حاضر شو، آن وکیلانو یې هم لاره په سرو گلونو ورته پوښلې وه. د دې تر څنگ د مسجد امام هم د والي جنازه ونه کړه او ولسمشر یې هم په جنازه کې گډون ونه کړ.

هېواد مو لېونتوب په مخه کړی و. وژونکي یې څه ډول ستایل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت وروسته يې بيا زما پلار وګواښه. ده د حاجي بابا د لومړني ښوونځي د الوزونې په درېيمه کلېزه کې ويلي و:

- فضل الله د شيطانانو رهبر دی. ولې د هغه په نيولو ونه توانېدل؟

وروسته خلکو ورته وويل چې له ځان سره پام وکړي. د پلار له خبرو وروسته د رالېږونکي له نوم پرته زموږ کور ته داسې يو ليک راولېږل شو:

«السلام عليکم،

تاسې د يوه روحاني زوی ياست خو يو واقعي مسلمان نه ياست. هر ځای چې لاړ شئ مجاهدين مو پيداکوی شي.»

کله چې پلار ليک ولوست تر دوو اونيو پورې پرېشانه ښکارېده، خو سره له دې يې هم خپلو فعاليتونو ته ادامه ورکړه چې ډېر ژر په نورو موضوعاتو بوخت شو.

***

په هغې ورځو کې داسې ښکارېده چې ټولو د امريکا په اړه خبرې کولې. په داسې حال کې چې هر وخت به يې خپل پخوانی دوښمن هندوستان د دې ټولو کارونو په اړه ملامت باله، خو اوس وخت کې د خلکو د بحث موضوع امريکا وه.

ټولو خلکو د امريکا د بې پيلوټه الوتکو په اړه چې هره اونۍ به يې قبايلي سيمې بمبارولې شکايت کاوه. اورېدلي مو و چې ډېر بې ګناه خلک په کې وژل شوي وو. وروسته د سي آی اې يوه مامور «ريمونډ ډېوېس» په لاهور کې دوه کسان په ډزو ووژل. څکه چې په عمومي سرک د هغې کسانو موټرسايکل د ده د ګاډي خواته نژدې شوی و. ډېوېس ويل چې هغوی دواړو د ده د تښتولو هڅه کوله. امريکايانو ويل چې هغه د سي آی اې مامور نه دی بلکې يوازې يو معمولي ديپلومات دی چې دې موضوع ټول بدګمانه کړل. آن موږ کم عمره زده کوونکې هم پوهېدو چې معمولي ديپلوماتان هم له نښې پرته ګاډو کې نه ګرځي او ګلاک تپانچه نه ورسره ګرځوي.



زموږ رسنيو شکايت وکړ چې ډېوېډ د يوه پټ پوځ غړی و چې سي آی اې پاکستان ته رالېږلی و. دا څکه چې دوی زموږ په اطلاعاتي اداره باور نه لري. ويل کېږي چې نوموړي په لاهور کې د طيبه لښکر په نوم د طالبانو يوې ډلې ته چې د زلزلې او سېلاب په وخت کې يې له خلکو سره مرسته کوله جاسوسي کوله او فکر يې کاوه چې دوی د مومبيي د ۲۰۰۸ م کال په عامه وژنه کې لاس لاره. د طيبه لښکر ډلې اصلي موخه د هندوستان له حکومت څخه د کشمير د مسلمانانو آزادول و، خو دوی په دې وخت کې په افغانستان کې هم نوی فعاليت پيل کړی و. ځينو خلکو ويل چې ډېوېډ په اصل کې زموږ د هېواد د اټومي بټيو په اړه معلومات ټولول.

ريمونډ ډېوېډ په پاکستان کې ډېر ژر په يوه مشهور امريکايي وپېژندل شو. ټولو هېوادوالو شکايت کاوه. خلکو فکر کاوه چې زموږ ښارونه د ډيمونډ په څېر له خلکو څخه ډک دي او له آی اېس آی يې هيله کوله چې هغه بېرته امريکا ته ولېږي. وروسته د ډېوېډ له خوا له وژل شوو کسانو څخه د يوه کس مېرمنې د عدالت د ناهيلۍ له امله د موږک د درملو په خوړلو سره ځان وژنه وکړه.

د همدې پېښې په اړه د واشنګټن او اسلام آباد يا راولپنډۍ تر منځ په اونيو بحثونه او خبرې روانې وې چې په پای کې موضوع حل شوه. دوی زموږ د دوديزو جرګو په څېر پرېکړه وکړه.

امريکا دوه ميليونه او درې سوه زره د وينې بيه ورکړه او ډېوېډ هم ډېر ژر له هېواد څخه وويستل شو. وروسته پاکستان له امريکا وغوښتل چې ډېری ټرون کوونکې يې خپل هېواد ته ور وغواړي او د وېزې له منلو يې انکار وکړ. دې ټولو پېښو له ځان سره يو ډول خپګان لاره، په ځانګړې توګه دا چې د ډېوېډ د آزادېدو له پېښې يوه ورځ وروسته يې په شمالي وزيرستان کې حمله وکړه چې په پايله کې يې د ۴۰ کسانو په شاوخوا کې ووژل شول. دغه حمله د سي آی اې له خوا يو پيغام و په دې معنی چې زموږ په هېواد کې له خپلې خوښې سره سم هر څه کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوشنبې په ورځ هغه وخت چې د دېوال له نښې سره مې ځان اندازه کاوه ځو ووينم که چېرې د شپې کومه معجزه شوې وي او قد مې لوړ شوی وي. د څنګ په کوټه کې مې غږ واورېد. د پلار ملګری موږ کور ته له نوو خبرو سره راغلی و. چې د باور وړ راته نه ښکارېدې.

د شپې په اوږدو کې د امريکا ځانګړو سمندري ځواکونو په ابېټ آباد کې هلته چې موږ په سوات کې د پوځ له خوا د عملياتو په وخت کې اوسېدلي و، اسامه بن لادن له پيداکولو وروسته وژلی دی.

هغه د لوړو دېوالونو په يوه لويه کلا کې چې د پوليسو له اکاډمۍ سره يې يو ميل واټن لاره ژوند کاوه. موږ باور نه شوای کوی چې پوځ دې د اسامه بن لادن له اوسېدو خبر نه وي. ورځپاڼې ليکلي و چې نظامي محصلينو آن د ده د کور په شاوخوا کې زده کړې کولې. د نوموړي کلا دېوالونه ۳٦۵ متره لوړ وو چې له پاسه يې اغزن سيم پرې تړلی و. بن لادن په لوړ پوړ کې د امل په نوم له خپلې ځوانې يمنۍ مېرمنې سره ژوند کاوه. د ده دوه نورې مېرمنې او يوولس اولادونه په لاندې پوړ کې اوسېدل.

په واقعيت کې په ډېرو پښتنو سيمو کې د کور د پردې د په ځای کولو له پاره لوړې کلاوې جوړېږي. له همدې امله د ده کور په سيمه کې غيرعادي نه ښکارېده. عجيبه يوازې دا وه چې د کور اوسېدونکي هېڅ کله هم بهر نه وو را وتلي، کلا له هېڅ ډول ټيليفون او انټرنېټ سره وصل نه وه. خواړه يې هم د دوو کسانو له خوا چې له خپلو کورنيو سره همدلته اوسېدل برابرېدل. هغوی د بن لادن د قاصدانو په توګه و. آن چې د يوه مېرمن د سوات وه.

ځواکونو په سر ويشتلی و او جنازه يې د هليکوپټر په واسطه وړل شوې وه. د اسامه دوه ورونه او يو يې مشر زوی هم وژل شوي وو، خو د بن لادن مېرمنې او نور اولادونه يې ژوندي پاتې شوي و چې اوس يې پاکستان ساتي. امريکايانو د اسامه جسد درياب ته وغورځاوه. ولسمشر اوباما ډېر خوشاله و او هغه لويې مېلې چې له سپينې ماڼۍ بهر کېدې موږ له تلويزيون څخه ننداره کولې.



لومړی مو فکر کاوه چې په دې عملياتو کې زموږ دولت هم ورسره دی. خو ژر پوه شو چې په دې عملياتو کې يوازې امريکايان دي. له دې کاره مو خلک خوشاله نه و. له موږ څخه هيله کېده چې له دوی سره يو ځای واي. موږ د ترور په وړاندې جګړه کې له دوی سره په مرسته کې ډېر سرتېري له لاسه ورکړي و.

دوی د شپې مهال په داسې حال کې چې د خپلو ځانګړو هليکوپټرو په وسيله چې ډېرې ټيټې الوتلې هېواد ته راغلي وو او د هېواد رادار يې د الکټرونيکي لاسوهنې په مټ بند کړی و. دوی له خپلو عملياتو وروسته يوازې ولسمشر زرداري او د پوځ مشر اشفاق کياني ته خبر ورکړی و. له دې پېښې څخه د پوځ ډېری قوماندانان د تلويزيون له لارې خبر شول.

امريکايانو ويل چې بله لاره يې نه لرله، ځکه چې هېڅوک هم نه پوهېدل چې آی اېس آی څه تصميم لري او مخکې تر دې چې دوی بن لادن پيداکړي کوم چا په پټه توګه مرسته ورسره کړې وه.

د سي آی اې د ادارې مشر وويل: «پاکستان يا په دې پېښو کې لاس نه لري او يا ډېر بې کفايته دی. په دواړو حالاتو کې به د ژوند له پاره وړ هېواد نه وي.»

پلار مې ويل:

- ډېره د شرم وړ وه. ناشونې ده چې په پاکستان کې دې يو تروربست پټ او په کلونو يې دې نه وي پيداکړی؟

نورو خلکو هم دا پوښتنه لرله.

تاسې پوهېدای شوای چې ولې ټولو خلکو دا فکر کاوه چې زموږ اطلاعاتي اداره د اسامه له اوسېدو خبره وه. د پاکستان اطلاعاتي اداره پياوړې اداره ده، داسې مامورين لري چې په هر ځای کې شته دي. هغه ډېره موده له پلازمينې سره نژدې په ٦۰ کيلومترۍ کې څه ډول ژوند کاوه؟

ده د ۲۰۰۵ م کال له زلزلې راهيسې هلته ژوند کړی و. آن چې دوه زامن يې د ابېټ آباد په روغتون کې پيداشوي وو او له نهو کلونو راهيسې يې په پاکستان کې ژوند کاوه. تر ابېټ آباد مخکې په هريپور او تر هغې مخکې زموږ په دره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدلی و چې هلته يې له خالد شيخ سره چې د سپټمبر د يوولسمې پېښې ترتيب کوونکی و ليدلي وو.

په کومه لاره يې چې اسامه پيداکړ د خوشال د خوښې وړ جاسوسي فلمونو په ډول وه. دوی د دې له پاره چې څوک يې پيدانه کړي د ايميل او ټليفون په ځای له انسانانو د قاصد په توګه کار اخيست. خو امريکايان د دوی يو قاصد پيداکوي او د ګاډي د پلېټ د شمېرې په واسطه يې له پېښور څخه تر اېبټ آباد پورې تعقيب کړی و. وروسته له دې چې د يوې لويې بې پيلوټه الوتکې په واسطه چې د اېکس وړانګو د ليدو وړتيا يې لرله، دوی ځاي، له الوتکې څخه يو د لوړ قد او اوږدې ږيرې خاوند چې په انګړ کې ګرځي په نښه کوي.

هره ورځ د دې پېښې نوې خبرې اورېدل کېدې. خلک د امريکا د حملې له امله په غوسه وو خو دې ته يې پام نه و چې د نړۍ لوی تروريست زموږ په هېواد کې ژوند کاوه. ځينو ورځپاڼو ويل چې امريکايانو کلونه وړاندې اسامه وژلی او جسد يې په يخچال کې ساتلی و. کيسه داسې وه چې دوی جسد اېبټ آباد ته راوړي او هلته يوه بې ځايه حمله کوي ترڅو په دې کار سره پاکستان بدنام او وشرموي. موږ څو ليکلي پيغامونه ترلاسه کړي وو، له موږ يې غوښتي و د پوځ په ملاتړ لاريون وکړو. په يوه پيغام کې له هندوستان سره زموږ دريو جګړو ته اشاره شوې وه: «موږ ۱۹۴۸، ۱۹۶۵ او ۱۹۷۱ کلونو کې ستاسې له پاره هلته په جګړه بوخت وو اوس چې له شانه په توره وهل کېږو ملاتړ مو وکړئ.»

داسې پيغامونه هم راتلل چې په پوځ به يې ملنډې وهلې. خلکو به ويل چې پوځ په کال کې څه ډول شپږ بيليون ډالره لګوي. دوی زموږ د ښوونې اووه چنده بوديجه لګوي په داسې حال کې چې زموږ له رادار څخه څلور امريکايي الوتکې په پټه تېرېدای شي؟ که امريکا دا کار کوی شي نو بيا دوی ولې له هنديانو سره مبارزه کوله؟

په يوه پيغام کې ليکل شوي وو: «هارن ونه کړئ، چې پوځ ويده دی.» يو بل پيغام داسې و: «د پاکستان دويم لاس د پلورلو له پاره. امريکايي الوتکې نه شي



پيداکوی خو ټلويزيوني چينلونه په آسانۍ سره پېژني.»

د پوځ مشران جنرال کياني او جنرال احمد پاشا پارلمان ته استيضاح شوي وو چې د دې پېښې په اړه چې تر اوسه هېڅ کله هم نه وه پېښه شوې معلومات ورکړي. موږ غوښتل پوه شو چې د څه له پاره زموږ هېواد تر دې اندازې پورې سپک شوی و.

همدارنګه امريکايي سياستوال هم له دې امله چې دوی فکر کاوه چې اسامه ټول وخت په کوم غار کې پټ دی خو زموږ د پلازمېنې په څو کيلومترۍ کې ومونډل شو. دوی له دې امله شکايت کاوه چې موږ ته يې په دې اتو کلونو کې شل بيليونه ډالره راکړي و چې له دوی سره مرسته وکړو. اوس دوی ته دا پوښتنه پيدا شوې وه چې زموږ دولت د چا ملاتړی دی.کله به داسې ښکارېده چې دا هر څه د پيسو له پاره وو. چې ډېرې پيسې يې پوځ ته رسېدلې او عادي خلکو ته څه پاتې نه و.

***

له دې پېښې څو مياشتې وروسته د ۲۰۱۱ م کال د اکتوبر په مياشت کې مې پلار راته وويل، يو برېښناليک يې تر لاسه کړی چې په کې ليکل شوي و، زه په مسټردام کې د ماشومانو د مدافعينو د يوې ډلې له خوا د ماشومانو د حقوقو د نړيوالې ډالۍ له پنځو نوماندو څخه يم. نوم مې د جنوبي افريقا د عيسوي راهبانو مشر (دژموند توتو) له خوا ليکل شوی و. هغه د اپارتايد[i] په وړاندې مبارزه کې مې د پلار له پاره اتل و. دا ډالۍ مې چې ونه ګټله، پلار مې ناهيلی شو خو ور ياده مې کړه چې هلته مې يوازې وينا کړې وه، موږ د عملي کارونو له پاره کومه اداره لکه د ډاليو ګټونکي نه لرله.

له لنډې مودې وروسته د پنجاب والي شهباز شريف زه د فارغينو يوه تلين ته د

[i] اپارتايد يوه افريقايي کلمه ده چې د تور او سپين نژدا تر منځ د بېلتون په معنی ده. اپارتايد تور نژاد دې ته اړ باسي چې په يوه ځانګړې سيمه کې ژوند وکړي چې له هر ډول حقوقو، سياسي، زده کړه او پرمختګ څخه بې برخې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینا له پاره وغوښتم. هغه د «دانش ښوونځي» په نوم د ښوونځیو یوه نوې شبکه جوړه کړه او زده کوونکو ته یې وړیا لپټاپ کمپیوټرونه واخیستل، کله چې دوی خپل لپټاپونه چالان کړل په پاڼه یې د ده تصویر لګېدلی و. د دې له پاره چې په ټول ایالت کې د زده کوونکو روحیه لوړه شي، هغو نجونو او هلکانو ته چې لوړې نومرې یې وړلې نغدې پیسې یې هم ورکولې. ما هم د نجونو د حقوقو د دفاع په خاطر د ۴۵۰۰ ډالرو یو چک تر لاسه کړ.

ما په دې تلین کې خړې جامې اغوستې وې او د لومړي ځل له پاره مې په عام محضر کې دا چې له طالبانو سره مې مبارزه کړې وه او په پټه ښوونځي ته تللې وم خبرې وکړې.

په دې وینا کې مې وویل:

- زه د زده کړې او تحصیل په ارزښت په ښه ډول پوهېږم، دوی زموږ قلمونه او کتابونه په زور را نه اخیستل. خو د سوات نجونې له چا نه وېرېږي او موږ اوس هم زده کړه کوو.

یوه ورځ په ټولګي کې وم چې ټولګیوالو مې وویل:

- تا د ۵۰۰ زره لویه ډالۍ ګټلې!

پلار مې هم ویل چې دولت د پاکستان د ملي سولې لومړۍ ډالۍ ماته راکړې، د باور وړ نه وه. په هغې ورځ ښوونځي ته ځو خبریالان راغلل داسې چې ښوونځی په یوه سټوډیو بدل شوی و.

دغه مراسم د ۲۰۱۱ م کال د ډسمبر په شلمه د لومړي وزیر په رسمي استوګنځي کې چې د اساسي قانون د غره په لمنه کې یوه له ډېرو لوړو سپینو ودانیو څخه ده او موږ اسلام آباد ته د سفر په وخت لیدلې وه جوړ شول. زه له سیاستوالو سره په کتنو عادت شوې وم له همدې امله وارخطا نه وم. سره له دې چې پلار مې راته ویل چې لومړی وزیر مو ګیلاني له یوې روحاني کورنۍ څخه دی هڅه یې کوله چې په دې خبرو مې ووېروي. وروسته له دې چې لومړي وزیر ډالۍ او چک راکړل، ما هم د خپلو هیلو ډېر اوږد لړلیک ورته وړاندې کړ. ورته



ومې ویل چې موږ غواړو ښوونځي مو له سره ورغول شي او په سوات کې د نجونو له پاره یو پوهنتون جوړ شي.

زه پوهېدم چې غوښتنو ته به مې دومره ارزښت ورنه کړي له ځانه سره مې فکر کاوه: «یوه ورځ سیاست واله کېږم او دا کارونه ټول ترسره کوم.»

بیا تصمیم ونیول شو چې دا ډالۍ هر کال تر اتلسو ټیټ عمر ماشومانو ته ورکړي چې زما په ویاړ یې «ملاله ډالۍ» نوم پرې کېښود. زما چې پام شو پلار مې ډېر خوشاله نه و. د نورو پښتنو په څېر هغه هم یو څه خرافاتي دی. د پاکستان په فرهنګ کې د ژوندیو په نوم څه نه نوموي. له همدې امله مې پلار ته ښه نه ښکارېده.

زه پوهېدم چې د مور مې له دې ډالیو سره مینه نه وه، ځکه هغه وېرېده که چېرې زه وتلې څېره شم نه چې حمله را باندې وشي. مور مې چاته اجازه نه ورکوله چې عکس یې واخلي، هغه په خپل دود کلکه ولاړه ده چې دا یو سل کلن فرهنګ دی. که یې دا دود مات کړی وای نارینه او ښځینه او په ځانګړې توګه خپلوانو به یې په ضد خبرې کولې. هغې هېڅ کله هم زما او پلار په کارونو کې مخالفت نه و کړی خو کله یې چې ماته ډالۍ راکړه ویې ویل:

- ډالۍ زما د لور ځای نه شي نیوی، زه ډالۍ نه بلکې لور مې غواړم. د دې یو تار وېښته په ټوله نړۍ نه ورکوم.

پلار مې ویل یوازې د یوه ښوونځي د جوړولو نیت مې لاره چې ماشومان زده کړه په کې وکړای شي. موږ په سیاست او د زده کړو له پاره مبارزه کې له ګډون پرته بله لاره نه لرله.

پلار زیاته کړه:

- زما یوازینۍ موخه دا ده تر خپلې وسې به له خپلو ماشومانو او خلکو سره مرسته وکړو چې زده کړه وکړي. خو دا چې ستاسې نیمایي مشران دروغ وایي او نیم نور یې له طالبانو سره په خبرو اخته دي، بله لاره نه ده پاتې باید چې یو څوک خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې کور ته ورسېدم خبره شوم چې په ښوونځي کې یوه ډله خبریالان غواړي مرکه راسره وکړي. له همدې امله مې باید ور جامې اغوستې وای. لومړی مې فکر وکړ چې باید ښکلې جامې واغوندم خو وروسته مې بیا تصمیم ونیو چې د مرکې له پاره معمولي جامې مناسب دي. ځکه غوښتل مې چې خلک مې تر ډېره پیغام ته پام وکړي نه دا چې زما ظاهري څېره د دوی ذهن واړوي.

کله چې ښوونځي ته ننوتم ټولو خورلڼو مې چیغې کړل:

- حیرانوونکې ده!

دوی یو څه پیسې ټولې کړې وې او ماته یې مېلمستیا پرې جوړه کړې وه.

یو لوی سپین کېک یې هم اخیستی و چې په خوږو یې پرې لیکلي و «تل بریالۍ اوسې.»

دا ډېره په زړه پورې وه چې دوستانو مې غوښتل د دې بریا خوښي راسره ووېشي. زه پوهېدم چې که زموږ له هرې ټولګیوالې سره یې کورنۍ مرسته کړې وای، دوی هم په دې اندازه بریالۍ کېدې.

د کیک له خوړلو وروسته مېرمن مریم وویل:

- نور باید درسونه ووایې ځکه چې د مارچ په میاشت کې آزموینې پیل کېږي.

خو دا کال په یوه دردوونکي یادښت سره پای ته ورسېد. د ډالۍ له اخیستو څخه پنځه ورځې وروسته مې ترور (خاله) ناڅاپه په حق ورسېده. هغه تر اوسه پنځوسو کلونو ته هم نه وه رسېدلې خو د شکر له ناروغۍ سره مخ شوې وه. ترور مې د ټلویزیون په پرده په لاهور کې د یوه ډاکټر تبلیغات ویني، وروسته یې خپل خاوند اړ باسي چې هلته یې بوزي. موږ نه پوهېږو چې ډاکټر مې ترور ته د څه پیچکاري ورکړې وه خو سمدلاسه بېهوښه کېږي او له ژوند سره خدای په آماني کړي. پلار مې ویل هغه ډاکټر طبي زده کړې نه لرلې یوازې خلک یې تېرویستل نو له همدې امله ده چې موږ باید د بې سوادۍ په وړاندې مبارزه وکړو.

د هغې کال تر پایه مو ډېرې پیسې ټولې کړې وې. د پنځو سوو زرو روپیو په اندازه مو د لومړي وزیر، د پنجاب والي، د خیبر پښتونخوا والي، د سېند د



دولت، سرلښکر غلام قمر، سیمه ییزو پنځو قوماندانو هم د یوه لابراتورا او یوه کتابتون له پاره سل زره روپۍ راکړې. خو دا زما د مبارزې پای نه و. اوس مې هغه درسونه چې له تاریخ څخه زده کړي و په یاد راوړل، دا چې پوځ له بریا وروسته د خلکو له چور څخه خوند اخلي. ما هم نسبت خپلو ډالیو ته همداسې احساس لاره. هغه واړه جواهرات و چې هېڅ معنی یې نه لرله. ما باید د دې بریا له پاره ډېر فکر کړی وای.

پلار مې د ډالیو په پیسو زما د کوټې له پاره یو د خوب تخت او یوه الماري واخیسته، څه یې د مور د غاښونو په ایښودو ولګولې او په شنګله کې یې یوه نومره ځمکه هم پرې واخیسته. هوډ مو وکړ چې پاتې پیسې په اړو خلکو ووېشو. زړه مې غوښتل د زده کړو له پاره یو بنسټ جوړ کړم. هماغه وخت مې چې ماشومان د خځلو په ټولولو ولیدل دا تصمیم مې ونیو. تر اوسه مې هم هغه موږک چې په خځلو کې ګرځېدل او هغه نجلۍ چې ککړ او جړ شوي وېښتان یې وو له یاده نه دي وتلي. هغه وخت مو د یوویشت نجونو یوه ټولنه جوړه کړه. لومړیتوب مو د سوات نجونې، په کار بوخت او خځلې ټولوونکي ماشومان و.

همدارنګه کله چې له ملکنډ څخه تېرېدو یوه نجلۍ مو ولیده چې مالټې یې خرڅولې. په یوه سپین کاغذ یې په قلم کوم څه نښه کول ترڅو پلورل شوې مالټې حساب کړي، سره له دې چې لیک او لوست یې زده نه و. عکس مې یې واخیست او له ځان سره مې ژمنه وکړه څومره مې چې له وس کېږي د نجونو د زده کړې له پاره به کار کوم. همدا زما مبارزه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښځه او سیند

د نجمې ترور اوښکې روانې وې. دې تر دې وړاندې سیند نه و لیدلی. موږ او کورنۍ مو په لویو ډېرو کېناستو. په داسې حال کې چې د عرب سمندرګي د مالګې تند بوی مو حس کاوه اوبو ته مو پام شو، یو لوی سمندرګی چې هېڅوک نه پوهېدل پای یې چېرته دی. په هغې وخت کې زه ډېره خوشاله وم. وروسته مې وویل:

- غواړم یوه ورځ له دې سمندر څخه واوړم.

ترور وپوښتل:

- دا څه وایې؟

دا خبر یې داسې وکړه لکه د کوم ناشوني کار په اړه مې چې څه ویلي وي.

د دې حقیقت د پیداکولو هڅه مې کوله چې ترور دېرش کاله د کراچۍ په ساحلي ښار کې ژوند کړی خو تر اوسه یې هېڅ کله هم اقیانوس په سترګو نه و لیدلی. خاوند یې هغه ساحل ته نه بووله، آن که ترور بهر وتلې وای هم به په لوحو نه پوهېده ځکه چې لیک لوست یې زده نه و.

په ډېرو ناسته وم او پورې غاړې ځمکو ته مې پام کاوه چې هلته ښځو آزاد ژوند کاوه. په پاکستان کې مو یوه لومړۍ وزیره لرله او په اسلام آباد کې مې هم له ښځو سره لیدلي و چې ډېر زحمت یې ویست، دلته حقیقت دا و چې زموږ په



هېواد کې ډېرې ښځې تر نارینه و پورې تړلې دي. د ښلګې په توګه مېرمن مریم یوه پوهه او پیاوړې ښځه ده خو دې ته ناشونې ده چې زموږ په ټولنه کې یوازې ژوند وکړي او کار ته لاړه شي. دا باید له پلار، ورور او یا خاوند سره ژوند وکړي.

په پاکستان کې که ښځې وغواړو خپلواکې شو، خلک فکر کوي چې موږ له پلارونو، وروڼو او یا خاوند څخه سرغړونه کوو. خو په حقیقت کې داسې نه ده. موږ یوازې غواړو د خپل ژوند د مهمو مسائلو له پاره په خپله تصمیم ونیسو، ښوونځي ته لاړې شو څو وکولای شو کار وکړو. د قرآن کریم په هېڅ ځای کې نه دي راغلي چې ښځه باید تر یو نارینه پورې تړلې وي. دغه خبره له آسمانه نه ده راغلې چې یوه ښځه دې خامخا د یوه نارینه اطاعت وکړي.

ناڅاپه مې د پلار په آواز سره د خپلو فکرونو له نړۍ بهر شوم. هغه وویل:

- لورې، د څه په اړه فکر کوې؟

ځواب مې ورکړ:

- پلاره زړه مې غواړي له اقیانوس څخه واوړم.

اتل ورور مې چیغې کړې:

- هېر یې کړه. موږ په ساحل کې یو زه غواړم په اوښ سپرلی وکړم.

د سیند د دولت له اعلان وروسته چې د عملیات په سرک یې د یوه لومړني ښوونځي نوم زما په نوم اړولی. موږ د ۲۰۱۲ م کال په جنوري میاشت کې د جیو ټلویزیون له خوا د مېلمنو په توګه کراچۍ ته لاړو. خوشال ورور مې تر اوسه هم د ایبټ آباد په یوه ښوونځي کې و نو له همدې امله له خوشاله پرته نوره ټوله کورنۍ کراچۍ ته لاړو. زه په لومړي ځل په الوتکه کې کېناستم. سفر دوه ساعته و چې ماته عجیبه ښکارېده. که په بس کې کراچۍ ته راتلای لږ تر لږه دوه ورځې وخت یې نیوه.

په الوتکه کې مې پام شو چې ځینې کسان نه شي کولای خپلې چوکۍ پیداکړي ځکه چې هغوی زده کړه نه لرله او په حساب نه پوهېدل. زما چوکۍ د کړکۍ تر څنګ وه چې کولای مې شول زموږ غرونه او دښتې له لوړ ځایه ووینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره مو چې د جنوب په لور تګ کاوه سیمې وچې او سپېرې کېدې. ډېر ژر د سوات په شنو سیمو پسې خپه شوم. اوس مې کولای شول پوهه شم چې ولې زموږ خلک کله چې جنوب ته د کار له پاره ځي وایي چې مړی یې باید د خپل وطن په سړه هوا کې خاورو ته وسپارل شي.

کله چې له هوایي ډګر څخه په ګاډي کې د هوټل په لور تلو، د خلکو، کورونو او ګاډو له ګڼې ګوڼې حیرانه وم. کراچۍ د خاورې په کره کې تر ټولو د ډېرې ګڼې ګوڼې لرونکی ښار دی. ډېره عجیبه ده ځکه کله چې د پاکستان بنسټ کېښودل شو دې بندر یوازې درې سوه زره اوسېدونکي لرل. کراچۍ د پاکستان لومړۍ پلازمېنه وه چې جناح هم په کې ژوند کاوه، وروسته بیا په میلیونونو مسلمانان چې اردو ژبې و له هندوستان څخه کراچۍ ته د کډوالو په توګه راغلل خو په اوس وخت کې د شلو میلیونونو په شاوخوا کې نفوس لري، په واقعیت کې کراچۍ په نړۍ کې د پښتنو تر ټولو لوی ښار دی. سره له دې چې زموږ له سیمې ډېر لرې دی، خو بیا هم له پنځو څخه تر اوو میلیونو پورې پښتانه هلته د کار له پاره تللي دي.

له بده مرغه چې کراچۍ اوس د تاوتریخوالي په ښار بدل شوی دی او هر وخت د پښتنو او کډوالو تر منځ شخړې روانې وي. د کډوالو سیمې ډېرې پاکې او منظمې ښکارېدې خو د پښتنو سیمې ناپاکې او ګډې وډې وې. کډوال د «متحده قومي خوځښت» ډلې پیروي کوي چې الطاف حسین یې مشر دی او په لندن کې د تبعید په توګه اوسېږي او له خلکو سره د انټرنیټ له لارې اړیکي نیسي. متحده قومي خوځښت ډېر منظم دی او له یو بل سره ډېر ښه اتفاق او اتحاد لري. د دوی خلاف موږ پښتانه بیا یو لاس نه یو، ځینې مو د عمران خان پلوي دي ځکه چې هغه یو پښتون دی، ځینې مو د مولانا فضل الرحمن په لاره ځي ځکه چې د هغه ډله «د اسلامي عالمانو ډله» اسلامي ډله بلل کېږي. ځینې یې د خلکو د ملي ګوند سیکولر پلوي دي، ځینې «د پاکستان د خلکو ګوند» چې د بې نظیرې ګوند دی او یوه ډله یې هم د «پاکستان د مسلمانانو



اتحاد» چې په نواز شریف پورې تړاو لري پیرو دي.

موږ د سیند ټولنې ته لاړو چې ټولو غړو یې وستایلم. بیا مو زما په نوم نومول شوي (ملاله یوسفزۍ ښوونځي) په ګډون له څو ښوونځیو لیدنه وکړه. ما هلته د زده کړو د ارزښت په اړه خبرې وکړې. دوی ته مې د زده کړو تر څنګ د بې نظېر بوټو د ژوند په اړه هم خبرې وکړې ځکه چې هغه د دې ښار اوسېدونکې وه ومې ویل:

- موږ ټول باید یو بل ته لاسونه ورکړو او د نجونو د حقوقو له پاره مبارزه وکړو.

زده کوونکو زما له پاره ترانې وویلې او زما یو نقاشي شوی تصویر یې چې آسمان ته مې سترګې نیولې وې راته ډالۍ کړ. دا ډېره عجیبه ښکارېده چې زما په نوم یو ښوونځی ثبت شوی و، عیناً د ملالۍ میوندۍ په څېر چې په افغانستان کې یې ډېر ښوونځي په نوم ثبت شوي دي.

د ښوونځي په نورو رخصتیو کې مې له پلار سره تصمیم ونیو چې لرې پرتو سیمو ته لاړ شو او له کورنیو او ماشومانو سره د لیک لوست په ارزښت خبرې وکړو. پلار ته مې وویل:

- د وعظ کوونکو په ډول به زده کړه ورکړو.

په هغې ورځ مو وروسته عمه او خاوند یې ولیدل. هغوی په یوه ډېر واړه کور کې ژوند کاوه، پلار مې هغه وخت کې پوه شو چې ولې یې د پوهنتون د زده کړو په وخت کې د اوسېدو ځای نه و ورکړی. په لاره کې «د رسول الله(ص) د عاشقانو» له واټ څخه تېر شوو. هلته مې د سرک په سر د سلمان تاثیر د وژونکي تصویر ولید چې په سرو ګلونو یې پوښلی و په داسې توګه چې تا به ویل هغه یو سپېڅلی کس و. پلار مې ډېر په غوسه شو. ویې ویل:

- په دې ښار کې دوه میلیونه کسان ژوند کوي. دومره څوک په کې نشته چې دا تصویر لاندې را وغورځوي؟

موږ په سېند او بازارونو یې سربېره چې مور مې څو جوړه جامې په کې واخیستې باید له یوه بل مهم ځای څخه مو هم لیدنه کړې وای. هوډ مو وکړ زموږ د لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبر او هېواد د بنسټ اېښودونکي محمد علي جناح زیارت وکړو. له مرمر ډېرو جوړه، ډېره آرامه او د ښار له ګڼې ګوڼې لرې ودانۍ وه چې موږ یې ډېر سپېڅلی ځای شمېرو. بې نظیره د لومړۍ وینا له پاره کله چې بېرته پاکستان ته راغله دې زیارت ته په لاره وه چې بس یې وچاودېد.

ساتونکي څرګنده کړه چې د جناح جسد په لاندې مقبره کې تر یوه لوی روښانه چیني څراغ لاندې په خپله اصلي کوټه کې نه دی. په اصل کې دی په لاندې پوړ کې د خپلې خور فاطمې له قبر سره نژدې چې ډېره موده له ده وروسته مړه شوه پروت دی. تر څنګ یې زموږ د لومړني لومړي وزیر لیاقت علي خان قبر دی چې هغه یې هم ترور کړی و.

بیا د یوې ودانۍ شاته لاړو هلته مو د یوه وړوکي موزیم ننداره وکړه. سپین د غاړې دسمالونه مو ولیدل چې جناح به په پاریس کې جوړول، یوه جوړه درې ټوټه یې جامې چې په لندن کې ورته جوړې شوې وې، د ده د ګلف لوبې لرګی او د سفر له پاره یو ځانګړی بکس چې د ده د خوښې د بوټونو په ګډون دوولس جوړه بوټونه په کې ایښي و. دېوالونه یې هم له تصویرونو ډک و.

په یوه تصویر کې د پاکستان د جوړښت لومړۍ ورځې دي او دومره ډنګر دی چې بیخي د مړینې په حال کې ښکاري. پوستکی یې د کاغذ په څېر نازک ښکارېده. خو په هغې وخت کې ناروغي پرې زور وه. جناح به هره ورځ پنځلس دانې سګرېټ څکول. کله چې د برېتانیایي هند وروستي واکمن لرډ مونتبتن د هند په وېشلو سره د خپلواکۍ له پاره هوکړه وکړه، جناح په سل او د سږو په سرطان اخته شوی و. وروسته یې وویل که پوهېدای چې جناح د مرګ په حال ناروغ دی، خامخا یې دغه هوکړه ځنډوله چې بیا به هېڅ کله هم پاکستان نه وای جوړ شوی. څنګه چې وړاندوېینه کېده جناح یو کال وروسته یعنې د ۱۹۴۸ م کال په سپټمبر میاشت کې له دنیا څخه رحلت وکړ. له هغې درې کاله وروسته زموږ لومړنی لومړی وزیر هم ووژل شو. له هماغه وخته زموږ هېواد ښه بخت نه لري.



هلته د جناح ځینې مشهورې ویناوې ننداري ته وړاندې شوې وې. یوه وینا یې دا وه چې په نوي پاکستان کې ټول خلک او ټول دینونه په ازاده توګه ژوند کولای شي او هر څوک خپل دین ساتلای شي. په یوه بل ځای کې یې د ښځو د مهم رول په اړه خبرې کړې وې. زړه مې غوښتل چې د ده د کور د ښځو تصویرونه ووینم. مېرمن یې زردشته وه او په ځوانۍ کې وفات شوې وه. یوازې دینا لور یې ژوندۍ وه چې په هندوستان کې یې له یوه زردشتي سره واده کړی او هلته اوسېږي. د دوی دا ډول واده د مسلمانانو له نوې ځمکې سره په ټکر کې و. دینا اوس په نیویارک کې اوسېږي. هلته مې چې څومره عکسونه ولیدل یوازې د فاطمې خور یې و.

د ده د ویناوو لوستل او مقبرې ننداره یې ډېر سخت کار و، فکر کوم که جناح همدا اوس په پاکستان کې شته وای ډېر به ناهیلی شوی وای. ده به خامخا ویلي وای چې دا هغه پاکستان نه دی چې ما یې هیله کوله. ده هیله لرله چې موږ خپلواک او پر یو بل زړه سوی ولرو. ده غوښتل چې په دې هېواد کې دې د هر دین او باور خلک په خپلواکه توګه ژوند وکړي.

له پلاره مې وپوښتل:

- که خپلواک شوي نه وای او تر اوسه هم د هندوستان یوه برخه وای آیا وضعیت به تر دې هم نه وای ښه شوی؟

د پاکستان د بنسټ تر اېښودو مخکې د مسلمانانو او هندوانو تر منځ نه ختمېدونکې مبارزه روانه وه. وروسته سره له دې چې یو خپلواک هېواد شوو بیا هم جګړه روانه وه خو دا ځل د پښتنو او کډوالو سني او شیعه ګانو تر منځ وه. زموږ څلور ایالتونه تل په جګړه کې ښکېل دي. سنیان تل د بېلتون خبرې کوي، په بلوچستان کې هر وخت جګړه روانه وي خو په اړه یې معلومات نه وړاندې کېږي ځکه چې ډېره لرې پاتې سیمه ده. آیا دا ټولې جګړې په دې معنی دي چې هېواد مو د دویم ځل له پاره سره ووېشو؟

کله چې له هغه ځایه را ووتو د موزیم په دروازه کې یو کس له بیرغونو سره ولاړ و

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شکايت يې کاوه. دوی راته وويل چې ژبه يې سرايیکي[i] ده په جنوبي پنجاب پورې تړاو لري. دوی د يوه بېل ايالت غوښتونکي دي.

د جګړې له پاره زموږ د خلکو تر منځ ډېر مسائل شته دي. ډېر خلک وايي چې هندوان، مسيحيان او يهودان زموږ دوښمنان دي، نو دا موږ مسلمانان ولې له يو بل سره په جګړه بوخت يو؟ زموږ خلک سرګړونه کړي. د دوی لويه اندېښنه له اسلام څخه دفاع ده. او د طالبانو په څېر خلکو له خوا چې قرآن د خپل ځان له ګټې سره سم تفسيروي بې لارې شوي دي. موږ بايد ګټورو خبرو ته پاملرنه وکړو. زموږ د هېواد ډېری خلک بې زده کړې دي، ځينې يې هم د زده کړو وس نه لري. موږ په داسې يوه هېواد کې ژوند کوو چې ښوونځي سوزوي. يو پاکستانی لږ تر لږه يوه ورځ هم د وژلو د خبر له اورېدو پرته نه شي ښېګا کوی.

يوه ورځ د شهلا انجم په نوم يوه نجلۍ زموږ هوټل ته راغله. دا يوه پاکستانۍ خبرياله وه چې په الاسکا کې يې ژوند کاوه. شهلا وروسته له دې چې زموږ مستند فلم په نيويارک ټايمز وېبپاڼه کې وينې، له موږ سره د ليدو هوډ کوي. هغې څو دقيقې له ما او وروسته مې يې له پلار سره خبرې وکړې. ناڅاپه مې پام شو چې په سترګو کې يې اوښکې ډنډ ولاړې دي. بيا يې زما له پلاره وپوښتل:

- آيا پوهېږې چې نن طالبانو دا بې ګناه نجلۍ ګواښلې ده؟

موږ نه پوهېدو چې د څه په اړه خبرې کوي، دې موږ ته په وېبپاڼه کې وښوده چې طالبانو په هغې ورځ دوې مېرمنې ګواښلې وې، يوه فعاله مېرمن شاد بېګم وه او بله زه ملاله وم.

دوی ويلي و چې دا دوه ښځې بې ديني خپروي نو بايد چې ووژل شي. ما باور ونه کړ ځکه چې په انټرنيټ کې ډېر داسې مسائل خپرېږي، نو بيا مې هم له ځانه سره فکر وکړ چې دا خبره به رښتيا وي ځکه چې له بل ځای څخه خپره شوې ده.

---

[i] سرايیکي له هندو آريايي ژبو څخه ده چې ويونکي يې په پاکستان او هند کې دي. سرايیکي د پنجابي ژبې له کورنۍ څخه ده.



د هغې ورځې په مازيګر هغې کورنۍ چې د وروستۍ مياشتې له آتلسم راهيسې يې زموږ په کور کې ژوند کاوه، له پلار سره اړيکه ونيوه. د دوی پخوانی کور د خاورو بام لاره چې د باران په وخت کې به څڅېده او موږ دوه اضافي کوټې لرلې چې دې کورنۍ ته مو په ډېره لږه کرايه ورکړې وې او اولادونو يې زموږ په ښوونځي کې وړيا درس وايه. درې اولادونه يې لرل چې ډېره مينه مې ورسره لرله او هر وخت به مو په بام د پوليس او غلو لوبه کوله.

په اړيکه کې مې يې پلار ته ويلي و چې پوليس يې کور ته ورغلي چې آيا زموږ کورنۍ کوم چا ګواښلې؟ کله مې چې پلار دا خبر واورېد د پوليسو له مشر سره يې اړيکه ونيوه، هغه هم له پلاره دا پوښتنه وکړه.

پلار مې ځواب ورکړ: «آخېر ولې، آيا تاسې ته کوم خبر رسېدلی؟» وروسته د پوليسو مشر له پلار څخه غوښتنه وکړه کله چې سوات ته لاړ شي له هغه سره ووينې.

له هغې وروسته مې پلار ناکراره و د کراچۍ له ښاره يې خوند نه شوای اخيستی. پلار او مور مې ډېر پرېشانه ښکارېدل. مور مې تر اوسه د خپلې خور په غم کې وه، خبره پرېشانوونکې وه دوی ته مې وويل:

- تاسې پرېشانه ياست خو ماته نه وايئ.

وروسته يې د هغې ټيليفوني اړيکې په اړه راته وويل دوی په دې ګواښونو باور کړی و خو ما هېڅ کله هم وېره نه لرله، ځکه ټول پوهېږي چې آخېر به يوه ورځ مړه کېږو. داسې مې احساسوله چې څوک له مرګه تښتېدی نه شي، که هغه د سرطان د ناروغۍ او که د طالب له لاسه وي. له همدې امله ده چې بايد ټولې غوښتنې مې عملي کړم.

پلار مې وويل:

- لورې، دا به ښه وي چې د څه وخت له پاره مبارزه ونه کړو او هر څه ناليدلي وبولو.

ځواب مې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه ډول؟ تاسې يوازينی کس وئ چې ويل مو که په کوم څه له خپل روح څخه ډېر باور ولرو، که ژوندي نه و هم غږ مو اورېدل کېږي. مور له مبارزې څخه لاس نه شو اخيستی.

خلکو به هيله رانه کوله چې په مهمو پېښو کې وينا وکړم. دوی ته څه ډول ووايم چې د امنيتي ستونزو له امله خبرې نه شم کوی؟ دا کار مو د مغرورو پښتنو په څېر نه شوای کولای. پلار مې هر وخت وايي چې د پښتنو په وينه کې اتلولي نغښتې ده.

هغه وخت مو په له غمه ډک زړه ښېرته سوات ته مخه کړه. کله مې چې پلار پوليسو ته لاړ، هغوی زما په اړه يوه دوسيه ورته ښودلې وه. دوی ويلي و چې زما ملي او نړيوال شهرت د طالبانو پام را اړولی دی او بايد چې زما ساتنه وشي. هغوی څو ساتونکي راته ومنل خو د پلار خوښه نه وه. د سوات ډېرو مشرانو ساتونکي لرل خو سره له دې هم وژل شوي و او د سوات والي هم د خپل ساتونکي له خوا وژل شوی و. پلار له ځان سره دا فکر هم کړی و چې د پوځ ساتونکي به د زده کوونکو کورنۍ پرېشانه کړي، زړه يې نه غوښتل چې د نورو ژوند له ګواښ سره مخ کړي. پخوا به چې پلار وګواښل شو ده به ويل:

- پرېږدئ چې ما ووژني، يوازې زه به ووژل شم.

ده همدا راز د سيمه ييز پوځ له ډګروال سره هم وليدل. هغه ويلي و چې که د ابېټ آباد په پوهنتون کې وم نو امنيت مې خوندي کېدای نه شي او که چېرې په سوات کې له مبارزې لاس واخلم نو هېڅ ستونزه به جوړه نه شي. له همدې امله کله چې د خيبر پښتونخوا حکومت وړانديز راته وکړ چې د سولې سفيره شم، پلار مې ويل ښه به دا وي چې دا وړانديز رد کړم.

له هغې وروسته به مې د شپې له خوا د انګړ دروازه کلکه تړله. مور به مې پلار ته ويل:

- دا له خطر وېرېږي.

پلار ډېر اندېښمن و، هره شپه به يې راته ويل چې د کوټې پردې دې مه پورته



کوه، خو مابه نه منله.

ورته ومې ويل:

- پلاره ډېره عجيبه ده. مور د طالبانو په وخت کې خوندي و خو اوس چې طالبان تللي امنيت نشته؟!

ځواب يې راکړ:

- هوکې ملالې، اوس طالبان يوازې زموږ له پاره دي. زما او ستا په څېر کسانو له پاره چې مبارزه کوي. د سوات خلک ګاډي چلوونکي او هټيوال ټول خوندي دي. دغه طالبي ځواک يوازې د ځانګړو کسانو له پاره دی، چې موږ هم په دې ځانګړو کې شمېر يو.

همدا موضوع لامل شوه چې له درس سره مې مينه لږ شوه. د مارچ د مياشتې د آزموينې پايلې خوشاله کوونکې نه وې زه په کې دويم نومره شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالبانو شخصي ډلې

منیبې ته مې وویل:

- که فرض کړو چې د مېښې او لېوه فلم دی او موږ هم په ځنګل کې ځو وینې ځښبونکي یو.

ښوونځي په مرغزار کې زموږ لپاره مېله جوړه کړې وه. شنه او ښکلې دره ده چې ډېره سړه هوا لري، یو لوړ غر یې څنګ کې پروت دی او د شنو او رڼو اوبو سېند لري. په څنګ کې یې د سپینې ماڼۍ هوټل دی چې په اوړي کې د والي د اوسېدو ځای دی.

له آزموینو یوه میاشت وروسته د ۲۰۱۲ م کال د اپرېل میاشت وه ټولو د خوشالۍ او آرامۍ احساس کاوه. زموږ په ډله کې اویا نجونې وې. مور، پلار او ښوونکي مو هم راغلي وو. پلار مې درې ډېنا ګاډي کرایه کړي وو خو بیا هم اضافي ځای نه و. له همدې امله زه، منیبه او درې نورې نجونې د ښوونځي په بس ګاډي کې پورته شوو. سره له دې هم موټر ډک و ځکه چې د چرګانو د غوښو لوی لوښي، وریجې او نور وسایل مو د ګاډي په غولي اېښي وو. لاره یوازې نیم ساعت وه خو ډېره په خوښۍ تېره شوه په لارو به موږ نجونو سندرې ویلې. په هغې ورځ منیبه ډېره ښکلې شوې وه، پوست یې ډېر ځلېدونکی ښکارېده.

پوښتنه مې ترې وکړه:

- مخ په کومو کریمو غوړوې؟

ځواب یې راکړ:

- همغه کریم چې ته یې کاروې.

زه پوهېدم چې حقیقت یې ونه وایه، بیا مې ورته وویل:

- نه داسې نه ده، ته زما تور رنګ وګوره او ستا پوستکی څومره ښایسته دی.



سپینه ماڼۍ مو ولیده، هغه کوټه چې ملکه په کې اوسېده او له ګلونو ډک باغونه مو ولیدل خو د والي کوټه مو ونه لیدای شوای ځکه چې هغه سېلاب ورانه کړې وه.

لږ وخت مو په شنه چمن کې قدم واهه، عکسونه مو واخیستل او د سېند په غاړه مو د اوبو شنل وکړل چې د اوبو څاڅکي د لمر په رڼا کې ډېر ښایسته ځلېدل.

تر غره لاندې یو آبشار و چې موږ یې څو دقیقې په غاړه په لویو ډبرو کېناستو او د اوبو زړه وړونکي غږ ته مو غوږ ونیوه چې ناڅاپه منیبې بیا هم ماته اوبه وشنلې.

له منیبې مې هیله وکړه:

- بس دي چې بیا به مې ټولې جامې لندې شي!

له دې وروسته مې له دوو نجونو سره چې له منیبې سره جوړې نه وې قدم واهه، دوی زه نوره هم منیبې ته تحریک کړم چې دا زما او منیبې تر منځ د یوې بلې شخړې له پاره یوه مقدمه وه. کله چې پورته د غره ډډې ته پورته شوو غرمنۍ تیاره وه. زموږ ګاډي چلوونکي عثمان بهایي جان د تل په څېر له موږ سره ټوکې وکړې ډېر یې وخندولو. مېرمن مریم خپله نوې زېږېدلې ماشومه حنا او دوه کلنه لور یې چې د ناوې په څېر ښایسته او ډېره شوخه وه هم له ځانه سره راوستې وه.

د غرمې ډوډۍ مو ډېره بې خونده وه. کله چې د ښوونځي همکارانو د چرګانو د پخولو له پاره په اور کړایي کېښوده ویې ویل چې دا چرګان د ټولو له پاره نه بس کېږي نو باید چې یو څه اوبه ور واچوي. د ډوډۍ له خوړلو وروسته مو وویل چې دا مو د ژوند تر ټولو بده غرمنۍ وه، ځکه چې قابونه له اوبو ډک و یوې نجلۍ وویل:

- په قاب کې مې آسمان ښکارېده.

پلار موږ د ټولو نورو سفرونو په څېر یوې غونډۍ ته بوتلو چې د ورځې د یادښتونو په اړه مو خبرې وکړو. دا ځل د بحث موضوع ډوډۍ وه چې پلار مې ډېر د شرم احساس کاوه.

د سبا ورځې په سهار د ښوونځي یو کارکوونکی د سهار د چای له پاره له شیدو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ او چرگ له هگیو سره کور ته راغئ. د کور دروازه هر وخت پلار خلاصوله څکه چې ښځې باید په کور کې د ننه وای. هغه کس وویل چې هټۍ پلورونکي یو لیک ورکړی دی.

کله چې پلار لیک ولوست، رنگ یې والوت. مور ته یې وویل:

- زما خدایه، دا خو زمونږ د ښوونځي په ضد وېروونکې تبلیغ دی!

مونږ ته یې په لوړ غږ لیک ولوست:

«مسلمانو ورونو،

د خوشال په نوم ښوونځی د نادولتي ادارو د یوه غړي په واسطه (زمونږ په هېواد کې نادولتي سازمانونه د مذهبي خلکو په وړاندې ډېر بد نوم لري نو له همدې امله دا لاره د خلکو د غوسې د پارولو له پاره وه.) اداره کېږي. چې د فساد او فحش مرکز دی. د پیغمبر^(ص)^ حدیث دی که کوم حرام عمل مو په خپلو سترگو ولید په خپله یې د بندولو هڅه وکړئ او که چېرې مو یې توانایي نه لرله باید چې نورو ته ووایئ. زه د دې ښوونځي له مدیر سره هېڅ ستونزه نه لرم خو ستاسې تر غوږونو د اسلام خبره رسوم. دغه ښوونځی د فساد او فحشا ځای دی دوی د مبلې له پاره د ښوونځي نجونې ښلابېلو ځایونو ته بیایي. که دا ښوونځی بند نه کړئ نو د قیامت په ورځ به الله پاک ته ځواب وایاست. کولای شئ د سپینې ماڼۍ هوټل ته لاړ شئ، د هوټل له مدیر وپوښتئ چې دې نجونو هلته څه کول.»

پلار مې لیک په څمکه کېښود ویې ویل:

- هېڅ لاسلیک نه لري بې نومه دی.

ټول وېرېدلي و.

پلار وویل:

- هغوی پوهېږي چې هېڅوک هم د هوټل له مدیر پوښتنه نه کوي. خلک به یوازې یوه بده پېښه تصور کړي.

مور یې په ځواب کې وویل:



- زه پوهېږم چې هلته څه تېر شول. نجونو کوم بد کار نه دی کړی.

هغه وخت مې پلار د ماما له زوی خانجي سره اړیکه ونیوه چې ترې وپوښتي، دا لیک یې څومره خپور کړی دی چې بد خبر یې ترې واورېد. دوی دا لیک په ټولو سیمو کې خپور کړی و. سره له دې چې ډېرو هټیو والو هغه نه و اخیستی او یا یې بهر غورځولی و. دوی د همدې موضوع په اړه له مسجد سره مخامخ لوی پوستر هم بند کړی و.

په ښوونځي کې مې ټولگیوالې وېرېدلې وې او پلار ته مې یې وویل:

- ښاغلیه، زمونږ د ښوونځي په اړه ډېرې بدې خبرې کوي، زمونږ پلرونه او میندې به څه وایي؟

پلار مې ټولې نجونې انگړ کې راغونډې کړې او پوښتنه یې وکړه:

- ولې وېرېدلې یاست؟ آیا ستاسې تگ د اسلام خلاف و؟ آیا بد اخلاقي مو کړې؟ نه، تاسې یوازې د اوبو شنل کړي او عکسونه مو اخیستي دي. نو هېڅ کله هم مه وېرېږئ. دا د فضل الله د کسانو تبلیغات دي. دا ستاسې حق دی چې د هلکانو په څېر آبشارونه او ځنگلونه ووینئ او خوشالي وکړئ.

پلار مې د یوه زمري په څېر خبرې کولې، خو زه یې په پرېشانۍ پوهېدم چې هغه وېرېدلی و. د یوې نجلۍ ورور راغئ او خپله خور یې له ښوونځي وویسته، سره له دې هم مونږ پوهېدو چې دا د شخړې پای نه دی. له یوه لنډمهال وروسته مونږ ته وویل شول چې یو کس د سولې له پاره د اسماعیل خان دره په پښو وهلې او دلته مېنگورې ته راځي، مونږ یې ښه راغلاست ویلو ته هوډ وکړ. په لاره کې کله چې د هغه لیدو ته ورتلو، په لاره کې مو یو د لنډې ونې کس ولید چې مونږ ته یې خبر راکړ:

- له هغې لارې مه ځئ . هلته یو ځانمرگی برید کوونکی دی.

مونږ ژمنه کړې وه چې له هغه سره وگورو، نو له همدې امله مو له یوې بلې لارې حرکت وکړ، د هغه په غاړه کې مو یوه کړۍ گل واچاوه. وروسته مو ډېر ژر د کور په لور حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې کال په پسرلي او دوبي کې عجیبې پېښې کېدې. هر وخت به زموږ کور ته ناپېژانده کسان راتلل او زموږ د کورنۍ په اړه به یې پوښتنې کولې. پلار وویل چې هغوی د اطلاعاتي ادارې کسان دي. د کتنو شمېره ورځ په ورځ ډېرېده. په ځانګړې توګه کله چې پلار او د سوات قومي جرګې زموږ په ښوونځي کې یوه غونډه وکړه چې د مېنګورې د خلکو او له ټولنې څخه د دفاع ټولنې له پاره د پوځ د پروګرامونو په اړه د شپنیو ګرځېدو په اړه شکایت وکړي. پلار وویل:

- پوځ وایي هېڅ خطر نشته، نو بیا د شپې ګرځېدو ته څه اړتیا لري؟

وروسته مو د پلار د یوه ملګري په ملاتړ چې د ښځو له حقوقو څخه د دفاع یوه نادولتي اداره یې اداره کوله په ښوونځي کې د ماشومانو له پاره د نقاشۍ یوه سیالي جوړه کړه. دغې تصویرونو جنسي برابري او یا هم د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی خلکو ته ښود. د هغې ورځې په سهار زموږ ښوونځي ته له اطلاعاتي ادارې څخه دوه کسان راغلل چې له پلار سره مې وویني. وروسته یې له پلاره وپوښتل:

- ستاسې په ښوونځي کې څه کیسه ده؟

ځواب یې ورکړ:

- دا یو ښوونځی دی. موږ د نقاشۍ یوه سیالي جوړه کړې وه، لکه د وینا کولو، پخلي او مقاله لیکنې سیالي.

هغه دوه کسان ډېر په غوسه شول. پلار هم ډېر په غوسه و او ویې ویل:

- ټول خلک ما پېژني او پوهېږي چې زما کار څه دی. تاسې ولې خپل کار نه ترسره کوئ او په فضل الله پسې نه ځئ؟ ولې هغه کسان نه نیسئ چې لاسونه یې د سوات د خلکو په وینو سره دي؟

د وکیل خان په نوم یو کس چې د پلار مې ملګری و د هغې کال په روژه کې یې له کراچۍ څخه د بې وزلو له پاره جامې را ولېږلې او له موږ یې د وېشلو هیله وکړه. وروسته یوه لوی تالار ته لاړو چې هلته یې بې وزلو خلکو ته ووېشو. د جامو له وېش مخکې هلته د اطلاعاتي ادارې کسان راغلي او پوښتنه یې وکړه:



- څه کوئ؟ دا جامې چا راوړې دي؟

د جولای میاشتې په دوولسمه څوارلس کلنه شوم چې په اسلام کې د بلوغ دورې ته تلل بلل کېږي. زما د زېږېدو په ورځ خبر راغئ چې طالبانو د سوات د یوه هوټل مالک چې د سولې په جلسه کې یې ګډون کړی و وژلی دی. هغه د مېنګورې په بازار کې د خپل کور په لور روان و چې حمله پرې شوې وه.

خلک یو ځل بیا هم په اندېښنه کې و نه چې طالبان بیا راشي. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۸م او ۲۰۰۹ م کلونو په بهیر کې د ټولو خلکو ژوند له ګواښ سره مخ و. دا ځل ګواښونه داسې خلکو ته متوجه و چې د ملېشو یا طالبانو په ضد یې خبرې کولې.

د پلار ملګری هدایت الله وایي:

- څنګه چې موږ د طالبانو په اړه فکر کوو، داسې منظمه ډله نه ده. دا د فکر یو ډول دی او د فکر دا ډول د پاکستان په ټولو سیمو کې شته دی. هغه کسان چې له امریکا، د پاکستان له دولت او انګرېزانو له قوانینو سره مخالف دي د طالبانو تر اغېزې لاندې دي.

د اګسټ د درېیمې ورځې مازیګر و چې د محبوب په نوم د جیو ټلویزیون یوه خبریال زما له پلار سره اړیکه ونیوله. هغه مې د پلار د ملګري زاهد خان چې د هوټل مالک و او په ۲۰۰۹ م کال کې حمله پرې شوې وه، د خور زوی و. خلکو به هر وخت ویل چې پر زاهد خان او زما پر پلار دواړو به طالبان حمله وکړي او وبه وژل شي. دوی نه پوهېدل چې څوک به تر نورو مخکې وژل کېږي. محبوب مې پلار ته وویل چې ماما یې د ماښام لمانځه ته مسجد ته روان و چې په لاره کې ډزې پرې وشوې.

پلار مې چې کله دا خبر واورېد ویې ویل:

- دا ځل یې زه په غېښي وویشتم. باور لرم چې په دې پسې کس به زه وم.

له پلاره مې هیله وکړه روغتون ته لاړ نه شي، ځکه چې ناوخته وه او کومو کسانو چې په زاهد خان حمله کړې وه کېدای شي اوس د ده په انتظار وي. خو ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووېل که هلته لاړ نه شم بیا به مې خلک ډارن وبولي. څو تنو سیاسي فعالینو پلار ته وړاندیز کړی و چې دوی ته انتظار شي څو یو ځای لاړ شي خو پلار فکر کاوه چې که دوی ته انتظار شي ناوخته به شي له همدې امله یې محبوب ته زنګ وواهه چې له هغه سره یو ځای روغتون ته لاړ شي. مور مې هم لوی څښتن ته په دعا لاسونه پورته کړل.

کله چې پلار روغتون ته رسېږي هلته د شورا یوازې یو غړی شته دی. له زاهد خان څخه په پرلپسې توګه وینه روانه وه چې د ږیرې سپین رنګ یې په سور رنګ اوښتی و. خو هغه نېک بخته و. حمله کوونکي له نژدې ځایه د تپانچې درې ډزې پرې کړي و. په همدې حال کې زاهد خان د هغه د لاس په نیولو توانېږي او له یوې مرمۍ پرته چې په ورمېږ یې لګېږي او له پوزې یې وزي نورې مرمۍ خطا ځي. وروسته د ده په یاد ورغلل چې یو د ټیټې ونې منظم او موسک ځوان یې په مخ کې درېږي، ده ویل چې هغه کس مخ هم نه و پېچلی. له دې پېښې څه وخت وروسته زاهد خان بیا هم د تېر په څېر مسجد ته ځي ځکه چې فکر یې کاوه نور به له خطر سره نه مخ کېږي.

پلار مې له دې پېښې وروسته خپل ملګري زاهدخان ته د ښې روغتیا دعا وکړه او له رسنیو سره یې په مرکه کې ووېل:

موږ په دې نه پوهېږو چې په زاهد خان ولې حمله وشوه په داسې حال کې چې دولت د سولې او امنیت د خوندیتوب دعوه کوي. دا له پوځ او حکومت څخه یوه لویه پوښتنه ده.

خلکو مې پلار ته خبر ورکړ چې له روغتون څخه ولاړ شي دوی ورته ویل:

- ضیاءالدینه نیمه شپه ده او تاسې تر اوسه دلته یاست. بې منطقه کار مه کوئ تاسې هم د زاهد خان په اندازه له ګواښ سره مخ یاست. نور هم ځان له ګواښ سره مه مخ کوئ.

په پای کې یې زاهد خان د عملیاتو له پاره پېښور ته ولېږداوه او پلار هم بېرته کور ته راغئ. زه لا ویده شوې نه وم ځکه چې ډېره پرېشانه وم. له دې پېښې



وروسته مې یو ځل بیا هره شپه ټول قلفونه دویم ځلي کتل.

هر وخت به د کور ټلیفون ته زنګ راته او پلار ته به یې ملګرو خبر ورکاوه چې په دې پسې کس به تاسې یاست. هدایت الله لومړی کس و چې ټلیفون یې وکړ او پلار ته یې خبر ورکړ:

- د خدای له پاره پام کوه. کېدای شي په دې پسې تاسې په نښه کړي. هغوی د جرګې په ټولو غړو حملې کړې دي. ته د ډلې ویاند یې، تاسې به هېڅ کله هم ژوندی پرې نه ږدي.

پلار مې باوري شو چې کېدای شي طالبان یې ووژني، خو بیا یې هم د پولیسو ساتونکي ونه منل.

پلار ووېل:

- که ستاسې ساتونکي دلته ولیدل شي، طالبان به له کلاشینکوف او یا هم ځانمرګو برید کوونکو څخه کار واخلي چې له امله به یې ډېر کسان ووژل شي. خو له ساتونکو پرته به یوازې زه ووژل شم.

هغه آن نه غوښتل چې سوات پرېږدي.

زما له مور څخه یې وپوښتل:

- چېرته تلای شو؟ زه سیمه پرېښودی نه شم. زه په سوات کې د سولې د نړیوالې ټولنې رییس، د مشرانو د شورا ویاند، د سوات د خصوصي ښوونځیو د ټولنې رییس، د خوشال ښوونځي مدیر او د خپلې کورنۍ مشر یم.

د ده یوازینی احتیاطي اقدام دا و چې ورځنی پروګرام یې بدل کړي. یوه ورځ به لومړني ښوونځي، بله ورځ د نجونو ښوونځي او بله ورځ به د هلکانو ښوونځي ته تلو.

زما ورپسې فکر و، هر ځای به چې روان شو څلور پنځه ځله به یې په کوڅه کې پورته او ښکته کتل.

له دومره ګواښونو سره سره مې پلار او ملګرو یې خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکوله، هر وخت به یې مطبوعاتي او نقدي مرکې لرلې، دوی به پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«که چېرې په سیمه کې سوله وي، نو بیا ولې په زاهد خان حمله وشوه؟ له هغې وخت راهیسې چې دویم ځلي سوات ته تللي یو په پولیسو او پوځ هېڅ حمله نه ده شوې. یوازې په سوله غوښتونکو او ملکي خلکو حملې کېږي.»

د سیمه ییز پوځ قوماندان ډېر پرېشانه وویل: «په مېنگوره کې هېڅ تروریست نشته»

هغه ویل چې زاهد خان د مال او پانگې په سر د شخړې له امله ویشتل شوی و.

زاهد خان په روغتون کې دوولس شپې تېرې کړې، د پوزې د رغېدو له پاره له پلاستیکي جراحۍ وروسته، د دې له پاره چې په بشپړه توگه روغ شي یوه میاشت یې په کور کې آرام وکړ. خو هغه غلی نه و. له دې وروسته نور هم زړور شو.

په دې وخت کې یې په اطلاعاتي اداره پسې ډېرې خبرې کولې ځکه چې پوه شوی و چې هغوی د طالبانو ملاتړ کوي. خپل نظر به یې ورڅپاڼو ته لیکه چې دا تېرې جگړې ټولې تمثیلي وې: «زه پوهېږم چې په ما چا حمله وکړه. خو په یو څه چې باید پوه شو هغه دا دي چې پر موږ دا ملېشې چا تپلې دي.»

هغه غوښتنه وکړه چې د محکمې رییس دې یو کمیسیون جوړ کړي او ارزونه دې وکړي چې درې ته طالبان چا را وستلي وو.

وروسته یې پر ده د حمله کوونکي کس تصویر په بشپړه توگه رسامي کړ، ویې ویل دا کس مخکې تر دې چې بل کس ووژني باید چې ونیول شي خو پولیسو یې د نیولو له پاره هېڅ هم ونه کړل.

پر ما د گوانښونو تر خپرېدو وروسته مې مور نه غوښتل چې چېرته پلې لاړه شم. له همدې امله له دې وروسته د ښوونځي په ون گاډي کې کور ته راتلم، سره له دې چې تر کوره پورې یوازې پنځه دقیقې لار وه. چلوونکي به زموږ د کوڅې د زینو تر څنگ له گاډي ښکته کولم. گاونډیو هلکانو به تر کوره هر وخت تنگوونکې خبرې راته کولې. د دوی په منځ کې د هارون په نوم هلک و چې له ما یو کال مشر ښکارېده او زموږ په کوڅه کې اوسېده. په ماشومتوب کې به مو



له یو بل سره لوبې کولې خو وروسته چې لږ لوی شوو ویل یې چې مینه را سره لري. خو څه وروسته یې کور ته د سفینې له خپلوانو یوه ښایسته نجلۍ راغله چې بیا پر هغې مین شو. کله چې هغې نجلۍ هارون ته وویل چې دا مینه نه ورسره لري، دویم ځلي یې زما خوا ته پام واړاوه. وروسته د هارون کور له دې کوڅې کډه وکړه او په کور کې یې موږ ځای په ځای شوو. هغه وخت هارون د پوځ د افسرۍ پوهنځي ته لاړ.

خو په رخصتیو کې یې کور ته راغئ، یوه ورځ کله چې له ښوونځي راتلم ومې لید چې په کوڅه کې اشارې راته کړې. وروسته په ما پسې شو او یوه پاڼه کاغذ یې زموږ په دروازه کې راته کېښود، له یوې ماشومې مې وغوښتل چې کاغذ راته راوړي. لیکلي یې و: «ته اوس مشهوره شوې یې خو زه تر اوسه هم په تا مین یم او پوهېږم چې درباندې گران یم. دا مې د ټلیفون شمېره ده. اړیکه را سره ونیسه.»

هغه پاڼه مې پلار ته ورکړه چې ډېر ورسره غوسه شو. وروسته یې هارون ته غږ وکړ ورته ویې ویل چې له دې کاره به یې پلار خبر کړي. دا وروستی ځل و چې هغه مې ولید. خو له دې وروسته به د کوڅې نور هلکان نه راته درېدل خو یو هلک چې د اتل د لوبو ملگری و، هر وخت به چې له کوڅې تېرېدم په لوړ غږ به یې چیغې راپسې وهلې: «هارون څنگه دی؟» یوه ورځ ډېره پرېشانه شوم له اتل مې وغوښتل چې هغه هلک کور ته راولي. په هلک دومره غوسه شوم او چیغې مې پرې ووهلې چې بیا یې هېڅ کله دا کار ونه کړ.

دا کیسې مې منیبې ته وکړې. هغې له هلکانو سره د اړیکو په اړه ډېر پام کاوه ځکه چې ورونه به یې هر وخت څارله. هغه وخت یې اوږده ساه واخیسته او ویې ویل:

- کله داسې فکر کوم چې په سوات کې تر نجلۍ کېدو د خلکو د وینو څښل آسانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملاله څوک ده؟

یوه ورځ سهار مهال د دوبي په وروستیو ورځو کې کله چې پلار ښوونځي تلو ته تیار و، پام یې شو زما نقاشي شوی تصویر چې په کراچۍ کې راته ډالۍ شوی و، په ګردونو پټ او ګونځې شوی دی. دا نقاشي په پلار ډېره ګرانه وه، د خپل تخت له پاسه یې ځړولې وه. مور ته یې وویل:

- دا تصویر ښه پاک او منظم کړه.

په همغې اونۍ کې زموږ د ریاضي ښوونکې شازیه چې پرېشانه ښکارېده ښوونځي ته راغله. پلار ته مې یې وویل چې تېره شپه یې خوب لیدلی چې زه سوزېدلې پښې ښوونځي ته راشم او هغه مرسته راسره کړي. له پلار مې یې وغوښتل چې بې وزلو ته یو څه وریجې ورکړي، ځکه چې هغوی به وریجې وخوري او ماته به دعا وکړي. پلار مې شازیې ته د وریجو په ځای پیسې ورکړې خو شازیه پرېشانه شوه، دې ویل چې باید وریجې یې ورکړې وای.

هغه وخت مې مېرمن شازیې ته وخندل خو له هغې وروسته به ما هم هر وخت خوبونه لیدل. خو د هېڅ یوه خوب په اړه مې مور او پلار ته څه ونه ویل، هر ځل به چې بهر ته تلم احساس مې کاوه چې طالبان له وسلې سره په ما پسې دي یا هم له داسې کاره وېرېدم چې له افغانو ښځو سره یې کړی و، کېدای شي مخ ته مې تېزاب وشني. په ځانګړې توګه زموږ د کوڅې له زینو وېرېدم، داسې فکر به



مې کاوه چې له شا څخه د چا د پښو غږ اورم یا مې فکر کاوه چې د کوم چا سیوری وینم.

ما مې د پلار پر خلاف ډېر پام کاوه. د شپې به تر هغې وینښه وم څو پورې مې چې ورونه، پلار او مور، هغه بله کورنۍ چې له موږ سره یې ژوند کاوه او له کلي راغلي مېلمانه به ټول نه و ویده شوي. بیا به مې ټول قلفونه او دروازې له سره دویم ځلي کتلې. انګړ ته به لاړم لویه دروازه به مې وکتله چې سمه بنده ده کنه. ټولې کوټې به مې کتلې، زما کوټه تر نورو مخکې ده او تر ټولو ډېرې کړکۍ لري، ټولې پردې به مې پورته کولې چې بهر هر څه ولیدی شم. سره له دې چې پلار مې دې کار ته نه پرېښودم، خو ما ځواب ورکاوه:

- که هغوی غوښتی ما ووژني په ۲۰۰۹ م کال کې یې وژلم.

دې ته په اندېښنه کې وم نه چې کومه زینه زما د کوټې کړکۍ ته کېږدي او بیا مې د کوټې هنداره ماته کړي او کوټې ته راشي.

د شپې به مې تل دعا ویله. طالبان فکر کوي چې موږ مسلمان نه یو خو تېروتلي دي. موږ تر دوی ډېر په خدای(ج) باور او ایمان لرو چې موږ به وساتي. هر وخت به مې آیت الکرسي ویله، ځکه زه باور لرم چې که دا آیت د شپې درې ځله ولوم نو خدای(ج) به د کور ټول اوسېدونکي د شیطانانو له وسوسې وساتي، که پنځه ځله ولوستل شي نو کوڅه به مو هم خوندي وي او که اووه ځله ولوستل شي ټوله سیمه به وساتل شي، له همدې امله به ما دا آیت شریف اووه ځله او یا هم له دې ډېر تلاوت کاوه.

وروسته به مې له الله(ج) سره راز او نیاز کاوه: «لویه خدایه! له موږ ټولو زما مور، پلار، ورونه او ټول سوات ساتنه وکړې.»

هغه وخت به مې تکراروله: «نه، له ټولو مسلمانانو. نه، نه یوازې مسلمانان بلکې د نړۍ له ټولو انسانانو ساتنه وکړه.»

د آزموینو په مهال به مې تر بل هر وخت ډېرې دعاوې ویلې. په دې ورځو کې ما او خورلڼو مې ټولو پنځه وخته لمونځ په منظمه توګه کاوه، هماغه ډول به چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور هڅه کوله چې زه مې لمونځونه په سم ترتیب سره وکړم. په ځانګړې توګه د مازیګر د لمانځه کړل ډېر سخت و ځکه چې له ټلویزیون څخه به بېلتون سخت کار و. د آزموینو په وخت کې به مې تل له خدای[ج] څخه د مرستې هیله کوله چې ښې نومرې واخیستی شم. سره له دې چې ښوونکو به مو ویل: «که هڅه ونه کړئ خدای[ج] به تاسې ته وړیا نومرې در نه کړي.»
ما به په درسونو کې ډېره هڅه او کوښښ کاوه. له آزموینو سره به مې ډېره جوړه وه ځکه چې دا مې د وړتیا د ښودلو له پاره یوه موکه وه. خو کله چې د ۲۰۱۲ م کال د اکتوبر آزموینې را ورسېدې، ځان مې تر فشار لاندې احساساوه. زړه مې نه غوښتل چې د مارچ په څېر بیا دویم نومره شم او ملکه نور تر ما مخکې شي. په تېرو آزموینو کې د دې د پنځو درسونو نومرې له ما مخکې وې.
د آزموینو تر پیل یوه ورځ مخکې د سهار تر دریو بجو پورې کېناستم او ټول کتاب مې دویم ځلي ووایه.
لومړی آزموینه د فزیک وه چې د اکتوبر په آتمه د دوشنبې په ورځ وه. زه له فزیک سره ډېره مینه لرم ځکه چې حقیقت بیانوي، د سیاست پر خلاف هغه هم په ځانګړې توګه زموږ په هېواد کې د قوانینو او اصولو نړی هېڅ ډول بې نظمي نه لري. کله چې د آزموینو پیل ته انتظار و، د قرآن کریم آیتونه مې تر ژبه لاندې تلاوت کول. ټولو پوښتنو ته مې کره ځوابونه ورکړي و خو بیا هم پوهېدم چې د یوې پوښتنې ځواب مې ناسم لیکلی. ډېره په غوسه وم له سترګو مې اوښکې روانې شوې. سره له دې چې دې پوښتنې یوه نمره لرله، خو داسې فکر مې کاوه چې ډېره بده پېښه کېږي.
کله چې مازیګر کور ته ورسېدم، خوب راتلو خو بله ورځ مې د پاکستان د مطالعې آزموینه لرله چې ډېر راته سخت و. اندېښنه مې لرله چې نومرې له لاسه ور نه کړم، نو له همدې امله مې شیدې او قهوه جوړ کړل چې شیطانان مې له سترګو څخه خوب یوسي. کله مې چې مور کوټې ته راغله ټوله پیاله یې تر وروستي څاڅکې پورې وڅښله، دا مې ورته نه شواى ویلاى: «مورې خیر دی مه



یې ښنبه، دا زما قهوه ده.» خو په الماری کې مې نوره قهوه هم نه لرله.
یوه ورځ بیا هم د شپې تر ډېره وخته ناسته وم چې د پاکستان د خپلواکی تاریخ مې یاد کړ.
د سهار په وخت کې مې مور او پلار د تل په څېر کوټې ته راغلل را ویښه یې کړم. آن د ښوونځي یوه ورځ مې هم په یاد نه ده چې خپله دې ویښه شوې وم. مور به مې د سهار د چای له پاره خوږ چای، ډوډی او د چرګې هګۍ تیارولې. زه، مور، پلار، خوشال او اتل ټولو به یو ځای د سهار چای څښنه. هغه ورځ مې د مور له پاره ډېر د ارزښت وړ وه ځکه چې لیک لوست زده کول یې پیلول. زموږ د وړکتون ښوونکې مېرمن الفت یې درس ته ټاکل شوې وه.
پلار مې سر د اتل په سر کېښود، اتل هغه وخت آته کلن او ډېر زړور و، ویې ویل:
- وګوره اتله کله چې ملاله لومړی وزیره شي ته به یې منشي وې.
اتل ډېر په غوسه شو ویې ویل:
- نه، نه، نه، زه له ملالې څه کم یم. زه خپله لومړی وزیر کېږم او هغه به مې منشي وي.
دا ټولې ټوکې او خبرې د دې لپاره وې چې د دوی پام بلې خواته شي او ما به یوازې د چرګې نیمایي هګی خوړلې وې.
د پاکستان د مطالعې د مضمون آزموینه مې ښه تېره شوه. پوښتنې یې د جناح په واسطه زموږ د لومړي مسلمان هېواد پاکستان د جوړېدو په اړه او همدا راز د بنګلدېش ملي فاجعې په اړه وې. دا ډېره عجیبه ښکاري چې بنګلدېش یو وخت د پاکستان یوه برخه وه سره له دې چې زموږ له هېواد څخه په زرګونه میله واټن لري. باور مې لاره چې ټولو پوښتنو ته مې سم ځوابونه ورکړي دي. کله چې آزموینه پای ته ورسېده ډېره خوشاله وم، تر هغې چې بس ګاډی را رسېږي او د ښوونځي چپراسي شیرمحمد موږ ته احوال راکوي له خورلنو سره مې خبرې کولې.
د ښوونځي بس ګاډي په ورځ کې دوه ځله تګ راتګ کاوه. په دې ورځ موږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم بس کې لاړو، زړه مو و په ښوونځي کې پاتې شو په دې اړه منيبې وويل:

- آزموينې سترې کړې يو راځئ په ښوونځي کې پاتې شو او يو څه بنډار وکړو.

زه ډېره آرامه وم ورسره ومې منله ځکه چې ډېره ښه آزموينه مې تېره شوې وه. زه وږې شوې وم خو دا چې اوس پنځه لس کلنه وم، له دې وروسته مې نه شوای کولای کوڅې ته لاړه شم. د ښوونځي يوې وږې ماشومې ته مې روپۍ ورکړې چې يو دانه جوار را ته راوړي. لږ مې ترې وخوړ، پاتې مې يوې ملګرې ته ورکړ.

په دوولسو بجو شيرمحمد موږ ته د لوډسپيکر له لارې غږ وکړ. ټولو د زينو په لور منډې کړې. ټولو نجونو مخونه پټ کړي و او په ون ګاډي کې کېناستې. ما مې هم خپل ټکری په سر سم کړ، خو هېڅ کله مې هم مخ پټ نه کړ.

دې وخت کې خپلو دوو ښوونکو ته انتظار وو له عثمان بهايي جان مو وغوښتل چې يوه کيسه راته وکړي. هغې به هر وخت خندوونکې کيسې ويلې. په هغې ورځ يې د کيسې په ځای جادو وکړ او يوه لپه رېګ يې ځای په ځای ورک کړ. موږ ټولو هيله ترې وکړه راته وښيي چې دا کار يې څه ډول وکړ. خو راته ويې نه ويل.

کله چې ټول حاضر و، مېرمن روبي او دوه واړه زده کوونکي د چلوونکي تر څنګ کېناستل. يوې بلې وړې زده کوونکې هم ژړل او غوښتل يې له موږ څخه مخکې کېني خو عثمان بهايي جان وويل چې هلته نور ځای نشته، بايد چې زموږ تر څنګ کېني. خو زه ډېره پرېشانه شوم، له ډرېور مې هيله وکړه چې هغې ته هم په مخه کې ځای ورکړي.

مور مې ويلي و چې اتل دې هم له موږ سره د ښوونځي په ګاډي کې راشي خو هغه کور ته پلی لاړ، د اتل خوښېدل چې په ګاډي پسې له شانه ودرېږي خو عثمان بهايي جان په دې کار سره ډېر په غوسه کېده او دا کار يې خطرناک باله. هغه ورځ عثمان بهايي جان ورته وويل:

- اتله د ننه ګاډي ته لاړ شه کنه نه دې وړم.

اتل پرېشانه شو ډېر په غوسه له نورو ماشومانو سره يو ځای پلی لاړ.



ګاډي حرکت وکړ. ما له خپلې هوښيارۍ او ښې ملګرې منيبې سره خبرې کولې. څو نجونو سندرې ويلې او ما په ګوتو په چوکۍ ساز کاوه.

زما او منيبې خوښېدل چې بهر وونيو. د حاجي بابا په سرکونو رنګه پلاينګ کوچونه او پلي خلک معلومېدل. په سور او سپين رنګ بايسکل سواره هلک چې زموږ په ګاډي پسې له شا را روان و ماته لاس وښوراوه چې يوې ښوونکې هغه د ګاډي له شا وشاړه. يوه کس د چرګانو سرونه يو پر بل پسې له تنې بېلول چې وينې يې په سرک توېيدې. عجيبه وه، په ماشومتوب کې به مې ويل چې د سوات خلک دومره په سوله او آرامۍ مين دي چې آن يوه مېږتون ته به يې هم ضرر نه وي رسېدلی.

په ډوډۍ کې د تاو شوي کباب بوی د روانو اوبو له بوی سره يو ځای چې تر اوسه هم خلکو خپل کثافات په کې اچول سره له دې چې د پلار له پرلپسې مبارزې سره بيا هم دا دود ختم نه شو، تر پوزو کېده. خو ډېر ژر ژمی را روان و چې هر څه يې په آرامه پاکول.

ګاډی د پوځ د تلاشۍ په سرک له اصلي سرک څخه ښي لور ته وګرځېد، په يوه پايه يو د لنګوټې او لوېې ږيرې لرونکی تصوير چې عينکې يې هم په سترګو دي ښکارېده او لاندې په لويو تورو ورته ليکلي دي «تر تعقيب لاندې تروريست»

د پورته ځانګړنو لرونکی کس فضل الله و. له سوات څخه د طالبانو د ويستلو له پاره د پوځ د عملياتو درې کاله تېر شوي و. له همدې امله مو له پوځ څخه مننه کوله خو نه پوهېدو چې تر اوسه ولې په هر لوړ ځای، هر سرک او هر بام ولاړ دي. آن خپلې درې ته هم خلک بايد د راتلو لپاره رسمي اجازه ولري.

په وړې غونډۍ پراته سرک هر وخت ګڼه ګونه وي ځکه چې پلنوالی يې لږ دی خو په دې ورځ په عجيبه توګه غلی او آرام و. له منيبې مې وپوښتل:

- خلک چېرته تللي؟

ټولو نجونو سندرې ويلې او کيسې يې کولې، غږ مو له بس بهر هم اورېدل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وخت کې مې په ډېر احتمال سره مور په خپل لومړي ټولګي کې زده کړې پیل کولې. ځکه چې زده کړې یې په شپږ کلنۍ کې پرېښې وې.

ما هغه دوه کسان چې سرک ته راغلل او ناڅاپه یې زموږ ون ګاډی ودراوه ونه لیدل. آن دا چې د دوی د پوښتنې چې «ملاله څوک ده؟» د ځواب موکه مې هم پیدا نه کړه. یا دا چې دوی ته یې تشریح کړم چې دوی باید ولې موږ نجونو او یا هم خپلو خویندو او لورانو ته د زده کړې اجازه ورکړي.

وروستي څه مې چې په یاد راځي دا و چې له ځانه سره مې فکر کاوه چې سبا باید درس زده کړم. کوم غږ مې چې په غوږونو کې انګازې وکړې، د هغې دریو مرمیو غږ نه و، بلکې د هغو دریو چړګانو غږ و چې هغې کس به سرونه ترې پرې کول او چټل سرک ته به یې غورځول.



# خلورم څپرکی

# د مرګ او ژوند تر منځ

نښېرا به ولې درته نه کړم

توره ټوپکه ورانوې ودان کورونه

# لویه خدایه، هغه په تا سپارم

همدا چې عثمان بهایي جان په پېښه پوه شو، ژر یې د سوات د مرکزي روغتون په لور حرکت وکړ.

ټولو نجونو چیغې او ژړاوې کړلې. زه د منیبې په پښو لوېدلې وم، له کیڼ سر او غوږ څخه مې وینې روانې وې. همدا چې لږ نه و تللي چې یوه پولیس زموږ ګاډی درولی و او په بېځایه پوښتنو یې زموږ وخت نیولی و. یوې نجلۍ مې د غاړې رګ نیولی و او چیغې کړي یې و:

- هغه ژوندۍ ده، ژر روغتون ته ځان ورسوئ. پولیس ته یې ویلي و چې تاسې لاړ شئ او هغه کسان ونیسئ.

مېنګوره موږ ته ډېره لویه سیمه ښکارېده خو په اصل کې ډېر وړوکی ښار دی او د خلکو په منځ کې خبرونه ډېر ژر خپرېږي. پلار مې د خصوصي ښوونځیو په یوه غونډه کې له مطبوعاتو سره ناست و او تازه د خبرو له پاره پورته شوی و چې مبایل ته یې زنګ راځي. د خوشال ښوونځي شمېره چې ګوري، مبایل خپل ملګري احمدشاه ته ورکوي چې هغه یې ځواب کړي. په دې وخت کې احمدشاه سمدلاسه پلار ته خبر ورکوي ورته وایي: «د ښوونځي په بس ګاډي ډزې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.»

د پلار رنګ الوتلی، سمدلاسه له ځانه سره فکر کوي: «کېدای شي ملاله هم په کې وي.»

هڅه یې کړې وه چې ځان ته زړه ورکړي، له ځانه سره یې ویل کېدای شي یو هلک عاشق وي او په خپله تپانچه یې هوایي ډزې کړې وي. هغه د څلور سوه مدیرانو په یوه غونډه کې و چې په ټول سوات کې د دولت په پروګرامونو د نیوکې له پاره راغونډ شوي و.

پلار مې د ټولنې د رییس په توګه نه شوای کولای چې غونډه پرېږدي نو خپله وینا یې له پروګرام سره سمه مخته یوړه.

همدا چې وینا یې پای ته رسېږي، پلار د حاضرینو پوښتنو ته نه پاتې کېږي، له خپل ملګري احمدشاه او ریاض سره چې دوی ګاډی لاره په بیړه د روغتون په لور ځي. له روغتون یې یوازې پنځه دقیقې لاره په مخ کې وه. کله چې هغوی را رسېږي هلته ډېر شمېر خبریالان، عکاسان او د ټلویزیون کامرې لیدل کېږي. هغه وخت یې باور شوی و چې زه هم ویشتل شوې یم. د پلار زړه ګړندی ټکان کاوه. خلک له لارې یوه او له خوا کوي او د کامرو په منځ کې روغتون ته لاره باسي.

پلار مې په پرلپسې توګه تکراروله:

- لورې، زما ښایسته او زما اتلې لورې...

ټنده، پوزه او اننګې مې یې ښکلول. هغه نه پوهېده چې ولې له ما سره په انګلیسي خبرې کوي. سره له دې چې زما سترګې تړلې وې خو بیا هم پوهېدم .

وروسته مې پلار وویل: «تشریح کوی یې نه شم خو ملالې ځواب راکړ.» یو کس ویلي و چې زه مسکه شوې وم. خو دا مې د پلار له پاره یوه مسکا نه بلکې هغه ته یوه ښکلې لحظه وه، ځکه چې هغه فکر کاوه چې زه یې د تل له پاره له لاسه نه یم ورکړې.کله یې چې زه په هغې حال کې لیدلې وم احساس یې کړی و چې له تر ټولو بدې پېښې سره مخ شوی دی. د مور او پلار له پاره یې ټول اولادونه



ارزښت لري خو زه مې د پلار له پاره ټوله نړۍ وم. زه له اوږدمهال راهیسې ورسره وم، لومړی په پټه د ګل مکۍ په نوم خو وروسته په ښکاره د ملالې په نوم.

ده تل فکر کاوه چې طالبان به په ما پسې نه بلکې په ده پسې راشي.

ده ویل داسې احساسوي چې په زړه یې ټکان راغلی: «دوی غوښتل چې په یوه غیشي دوه توتکۍ وولي. ملاله ووژني او ما د تل له پاره غلی کړي.»

پلار ډېر وېرېدلی و خو ژړل یې نه. د ښوونځي ټول مدیران روغتون ته راغلي و، ټولې رسنۍ او مدني فعالان هلته انتظار و، داسې ښکارېده لکه ټول ښار چې روغتون ته راغلی وي. پلار ټولو ته ویل: «ملالې ته دعا وکړئ.»

ډاکټرانو ډاډ ورکړی و چې مرمۍ مې مغز ته نه ده رسېدلې. دوی مې ټپ پاک کړی او ژر یې بېرته تړلی و.

وروسته مېرمن مریم په چیغو راننوته:

- ضیاءالدینه! څه پېښ شوي؟

دا په دې ورځ د خپل زوی د پالنې له امله ښوونځي ته نه وه تللې، لېوره یې زنګ ورته وهلی و نه چې دا هم د خوشال ښوونځي په پېښه کې وي. وروسته مریم ټلویزیون لګوي، د خبرونو په سر ټکو کې ویني چې د خوشال ښوونځي په ګاډي حمله شوې. دا سمدلاسه له خپل خاوند سره اړیکه نیسي، بیا یې خاوند تر روغتون پورې په موټرسایکل چې یوې ښځې ته په موټرسایکل تلل ډېر سخت کار دی را رسوي.

چیغې یې وهلې:

- ملالې، ملالې زما غږ اورې؟

زما له خولې هم چیغه وتلې وه.

مریمې ته یوه ډاکټر وویل چې مرمۍ مې په ماغزو نه بلکې په ټنده لګېدلې نو له کوم ګواښ سره مخ نه ده. دې له دوو نورو نجونو سره چې ویشتل شوې وې هم ولیدل. د شازیې په ولې او لاسونو هم دوه مرمۍ لګېدلې وې چې له ما سره یو ځای یې روغتون ته راوړې وه. د کاینات فکر نه دی چې ټپي شوې ده، کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللې وه خو کور کې یې پام شوی چې په مټ یوې مرمۍ ټپي کړې ده بیا یې کورنۍ روغتون ته راوړې وه.

پلار مې پوهېده چې هغوی ته هم پام وکړي خو بیا به هم یوه لحظه له ما نه لرې کېده. مبایل ته یې پرلپسې زنګ راته، د خیبر پښتونخوا وزیر لومړی کس و چې اړیکه یې ونیوله . هغه ویلي و: «اندېښنه مه کوئ، ما هر څه ترتیب کړي دي. په پېښور کې لیډي ریډینګ روغتون ستاسې انتظار کوي.»

پوځ د پېښې مسول و. سیمه ییز قوماندان د ورځې په درېو بجو وویل چې یوه نظامي هلیکوپټر رالېږي چې زه او پلار پېښور ته ولېږدوي. دوی کافي وخت نه لاره چې مور ته مې انتظار وکړو او هغه هم راسره لاړه شي. خو بیا هم مېرمن مریم ټینګار وکړ چې له مور سره لاړه شي ځکه چې کېدای شي زه یوې ښځې ته اړتیا ولرم. د مریم کورنۍ په اندېښنه کې وه ځکه چې د مریمې ماشوم زوی هم یو وړوکی عملیات کړی و خو مریم زما د دویمې مور په څېر وه.

کله یې چې زه امبولانس ته پورته کولم، پلار وېرېده نه چې طالبان بیا هم حمله وکړي. هغه فکر کاوه، ټول پوهېږي چې په امبولانس کې یې څوک روان کړي. د هلیکوپټرو ډګر یوازې یو میل واټن لاره، خو پلار ټوله لاره اندېښمن او له وېرې سره مخ و. کله چې هلته ورسېدو تر اوسه هلیکوپټر نه وه راغلې او موږ ورته په انتظار و. وروسته هلیکوپټر راغله، زه، پلار، د ماما زوی خانجي، احمدشاه او مریم ټول یې پورته کړو. موږ یو کس هم تر دې دمه په هلیکوپټر کې تللي نه و.

د پوځ د ورزشي لوبغالي په سر مو چې وطني سندرې په کې غږېدې پرواز وکړ. پلار چې کله له وطن سره د دوی د مینې سندره واورېده خپه شو. د هغه ساز او آواز خوښ و نه د داسې وطن پالنې غږ چې په یوه پنځه لس کلنه نجلۍ هم ډزې کړې چې اوس د مرګ په حال کې ده.

له لاندې د کور له بامه مې مور زموږ ننداره کړله. کله چې زما له ټپي کېدو خبره شوې وه، په ټولګي کې د مېرمن الفت درس ته ناسته وه چې الف انار او ب بابا زده کړي. په لومړیو کې له اصلي خبر څخه نه وه خبره شوې، فکر یې کړی و



چې زموږ ګاډي ټکر کړی او زما پښه خوږ شوې ده. په بیړه او په منډه کور ته تللې وه، نیا ته مې یې چې هغه وخت کې له موږ سره اوسېده خبر وړی و. له نیا مې یې هیله کړې وه، دعا راته وکړي.

موږ باور لرو چې خدای(ج) د مشرانو دعا ژر قبلوي. وروسته مې د مور سترګې د سهار په پاتې شوو هګیو لګېږي. زما د ډالۍ اخیستو تصویرونه هر ځای خپرېدلي وو. مور مې تصویرونو ته په کتو په سلګیو سلګیو ژاړي. ټول ځایونه له ملالې ډک و ملاله، ملاله، ملاله.

کور مو ډېر ژر له ښځو ډک شوی و. زموږ په فرهنګ کې که څوک مړه شي ښځې او نارینه نه یوازې خپلوان یې بلکې ګاونډیان یې هم کور ته راځي.

مور مې ډېره وېرېدلې وه. په برنډه ناسته وه او د قرآنکریم آیتونه یې لوستل. وروسته یې ښځو ته ویلي وو: «ژاړئ مه یوازې دعا وکړئ.»

ورونه مې په منډه د ننه کوټو ته تللي و. اتل چې له ښوونځي څخه پلی کور ته راغلی و، ټلویزیون چالانوي او په خبرونو کې وینې چې په ما ډزې شوې دي. خوشال ته غږ کوي او دواړه په زوره زوره ژاړي. ټلیفون ته یو مخ زنګ راځي. ټولو ښځو مې مور ته زړه ورکاوه چې مرمۍ یې یوازې په ټنډه لګېدلې او ماغزو ته یې نه ده رسېدلې. دې فکر کاوه چې ماته به ډېره عجیبه وي چې دا راسره نشته خو دې ته خلکو اجازه نه وه ورکړې چې له ماسره لاړه شي. د پلار یوه ملګري مې کور ته په ټلیفون خبر ورکړی و چې زه یې پېښور ته لېږدولې یم.

تر ټولو بد حالت هغه و چې یو کس زما له کلي ګانو سره زموږ کور ته راځي. کلي ګانې یې د حملې په صحنه کې موندلې وې. مور یې په لیدو سره چیغې وهې: «زه یې کلي ګانې نه غواړم. زه مې لور غواړم. زه له ملالې پرته کلي ګانې څه کړم؟!»

د هلیکوپټر غږ اورېدل کېږي.

د هلیکوپټرو هوایي ډګر مو له کوره یو میل واټن لري، د الوتکې له پورته کېدو سره ټولې ښځې بام ته منډې کوي. دوی ویل: «خامخا به ملاله وي!» مور مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ټکرۍ له سره پورته کوي چې دا کار د یوې پښتنې له پاره ډېر سخت دی، په دواړو لاسونو کې یې پورته نیسي او آسمان ته ګوري. خپل خدای(ج) ته وایي چې خپله لور مې په تا سپارلې. موږ امنیتي ساتونکو ته اړتیا نه لرو زموږ ساتونکی یوازې ته یې، تاسې مې د لور ساتنه کوئ او تاسې به یې بېرته ماته راکوئ.»

په هلیکوپټر کې مې پرلپسې وینې قی کولې. پلار ډېر وارخطا و فکر یې کاوه چې وینه مې د ننه په بدن کې بهېږي، نژدې و چې خپلې هیلې له لاسه ورکړي. خو د مریم فکر کېږي چې زه هڅه کوم په ټکري مې خوله پاکه کړم. مریم دوی ته وایي: «وګورئ، حرکت کوي. دا یوه ښه نښه ده.»

کله چې په پېښور کې ښکته شوو، ټولو فکر کاوه چې ما د لیډي ریډېنګ روغتون ته وړي چې په دې روغتون کې د اعصابو او ماغزو یو ډېر تکړه جراح کار کوي خو د دې هیلې په خلاف یې نظامي روغتون ته وړې وم. چې د ۶۰۰ بسترونو ډېر لوی روغتون دی او د انګرېزانو د حکومت په وخت کې جوړ شوی دی. پېښور د قبایلي سیمو دروازه بلل کېږي، دلته پوځ د ۲۰۰۴ م کال راهیسې د ملېشو د نیولو له پاره راغلی دی، روغتون ټول د ځانمرګو بریدکوونکو له قربانیانو ډک دی. د روغتون د ودانۍ چاپېر د پولیسو د تلاشیو ودانۍ پرتې دي څو روغتون له ځانمرګو برید کوونکو څخه خوندي وي.

زه یې په بیړه د ځانګړې پالنې څانګې ته یوړم. چې په یوه بېله ودانۍ کې وه. په کوټه کې د ځړېدلي ساعت عقربه د مازیګر په پنځو بجو ولاړه وه. زه یې یوې کوټې ته د ننه کړم چې دېوالونه یې له هندارو جوړ شوي و. د څنګ په کوټه کې یو ساتونکی پروت و چې په یوه ځانمرګي برید کې سخت سوزېدلی و. یو کس کوټې ته راننوت ویل یې چې ډګروال جنید نومېږي او د ماغزو او اعصابو جراح دی. پلار ډېر په اندېښنه کې شو ځکه چې د هغه کس څېره ډاکټر ته ورته نه وه او عمر یې هم ډېر لږ و. وروسته ډګروال له پلار څخه وپوښتل: «ستاسې لور ده؟» مریم ځان زما مور معرفي کاوه چې د ننوتلو اجازه ورکړي.



ډګروال زما د حالت په اړه څرګندونې وکړې. زه پوهېدم، سترګو مې حرکت کاوه خو خبرې مې نه شوای کولای. ډګروال مې د کیڼې غوږې پاس برخه چې مرمۍ پرې لګېدلې وه وګنډله، ډېر وارخطا و ځکه چې په عکسونو کې یې هېڅ مرمۍ نه وه لیدلې. ویې ویل: «که مرمۍ په دې ځای لګېدلې وي نو باید د مرمۍ د وتلو لاره هم وي.»

وروسته یې زما ستون فقرات په لاس وکتل او زما په اوږه کې یې مرمۍ پیداکړه. بیا یې هم زما د ماغزو عکسونه واخیستل. ډګروال مې پلار ور وغوښت ویې ویل چې په سوات کې عکسونه یوازې له یوې زاویې اخیستل شوي و، خو نویو عکسونو ښودله چې ټپ شدید دی.

پلار ته یې وویل: «ورته وګوره ضیاءالدینه په عکسونو کې ښکاري چې مرمۍ ماغزو ته نژدې شوې او مغزو ته هم زیان رسېدلی دی. باید چې دعا وکړو او انتظار او اوسو. په دې حالت کې یې عملیات کوی نه شو.

پلار ډېر پرېشانه شو. په سوات کې ډاکټرانو ورته ویلي و چې له کوم ګواښ سره مخ نه یم، خو اوس ګواښ ډېر جدي و. خو که ګواښ جدي وي ولې یې نه عملیات کوي؟ پلار په نظامي روغتون کې خوشاله نه و. زموږ په هېواد کې چې پوځ ډېر ځله قدرت په لاس کې اخیستی و، خلک د دوی په وړاندې له ډېر احتیاط څخه کار اخلي. په ځانګړې توګه په سوات کې چې پوځ له ډېر اوږده مهال وروسته د طالبانو په ضد عملیات پیل کړي و. د پلار یوه ملګري اړیکه ورسره نیولې وه ورته ویلي یې و: «لور دې یوه بل روغتون ته یوسه. موږ نه غواړو چې هغه هم د لیاقت علي خان په څېر د ملت شهیده شي.»

له پلار څخه مې لاره ورکه وه. ډګروال جنید ته یې وویل: «نه پوهېږم څه وکړم. موږ ولې دلته یو؟ موږ فکر کاوه چې یوه ملکي روغتون ته ځو.»

له څو لحظې چوپتیا وروسته یې بیا ورته وویل: «کېدای شي ډاکټر ممتاز دې روغتون ته راولئ؟»

وروسته پوه شو چې هغه یې د څېرې پر خلاف دیارلس کاله کېږي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان په پوځ کې د اعصابو تجربه لرونکی جراح دی. هغه یې له تره وروسته چې هغه هم په پوځ کې د اعصابو جراح و د یوه ډاکټر په توګه له پوځ سره یو ځای شوی و، ځکه چې ډېر ښه امکانات یې لرل. نظامي روغتون له طالبانو سره په لومړۍ لیکه کې و. جنید به هره ورځ د مرمۍ او چاودنې له ډېر شمېر ناروغو سره مخ و.

وروسته یې وویل: «ما د زرګونو ملالو درملنه کړې ده.»

دا چې پلار مې هغه وخت ډېر غمجن و ځواب یې ورکړ: «تاسې ډاکټر یاست. هر ډول فکر چې کوئ سمه ده ترسره یې کړئ.»

هغه وخت ټولو باید څو ساعته صبر کړی وای چې څه کېږي، نرسانو مې د زړه ټکان او د ژوند نښې څارلې. کله کله به مې ورو غږ اورېدل کېده، لاس به مې ښوراوه او یا به مې سترګې خلاصې او پټې کېدې. کله به مې چې سترګې په بشپړه توګه پرانیستل شوې، مېرمن مریم به وویل: «ملالې، ملالې، تر دې وړاندې مې یې سترګو ته کتلي نه و چې څومره ښکلې دي.»

بې کراره وم، هڅه مې کوله لاس مې وښوروم. مریمې وویل:

- مه ښوره.

د لمر لوېدو په وخت کې مې مور له اتل سره راغله. تر دې ځایه یې د پلار له ملګري محمد فاروق سره څلور ساعته په ګاډي کې په لاره تېر کړي وو. تر دې وړاندې مریمې له مور سره اړیکه نیولې وه: «کله دې چې ملاله ولیده ونه ژاړې او چیغې ونه وهې. هغه هر څه اوري.»

پلار هم په ټلیفون کې ورته ویلي و چې ځان هرې پېښې ته تیار کړي، پلار غوښتل مور ته مې زړه ورکړي.

کله چې مور را ورسېده، دوی یو بل په غېږ کې ونیول او اوښکې یې تویولې. هغه وخت مور ماته وویل:

- وګوره اتل هم دلته دی. غوښتل یې تا ووینې.

اتل چې د غم او درد له لاسه ژړل وویل:



- مورې، ملاله مې ډېره ټپي شوې ده.

مور مې نه پوهېده چې ډاکټرانو ولې د مرمۍ د ویستلو له پاره تر اوسه عملیات کړي نه یم.

وروسته یې وویل:

- زما اتله او زما ښکلې لور....

اتل دومره ژړل او شور یې جوړ کړی و چې د روغتون خدمتګار هغه د روغتون شپه غالي ته یووړ.

له پلار څخه بیخي لاره ورکه وه، ځکه چې بهر ډېر کسان لیدل کېدل. سیاستوال، دولتي چارواکي او ایالتي وزیران د همدردۍ له پاره هلته راغلي و. آن والي هم هلته و چې پلار ته مې یې زما د درملنې له پاره سل زره روپۍ ورکړې وې. زموږ په ټولنه کې که یو څوک مړ شوی وي او دولتي چارواکي یې کورنۍ ته راشي، کورنۍ یې د غرور احساس کوي خو پلار مې تر اوسه پرېشانه و. فکر یې کاوه چې دا ټول کسان مې مړینې ته انتظار دي، ځکه چې دوی زما د ساتنې له پاره هېڅ اقدام نه و کړی.

وروسته یې چې کله ډوډۍ خوړه، اتل ټلویزیون چالان کړ، خو پلار سمدلاسه بند کړ. وس یې نه لاره چې پر ما د حملې خبرونه ووینې. کله چې پلار بهر شو مریمې بېرته چالان کړ. ټولو چینلونو زما تصویرونه ښودل. مور مې په ډېرې عاجزۍ وویل:

- زما بېچاره ملاله، زما ملاله،

مریمې هم یو ځای ورسره ویل.

نیمه شپه ډګروال جنید پلار ته وویل چې له کوټې بهر خبرې ورسره وکړي. هلته یې ورته وویل:

- ضیاءالدینه د ملالې سر پړسوب کړی.

پلار مې یې په مطلب پوه نه شو. وروسته ډاکټر ورته ویلي و چې حالت یې ښه نه دی او هره لحظه کېدای شي بېهوشه شي. بیا مې هم وینې قی کولې. ډګروال

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنید د درېیم ځل له پاره امر وکړ چې د ماغزو عکس مې واخلي. دا ځل عکسونو ښودله چې د ماغزو برخې مې خطرناک پړسوب کړی.

پلار وویل:

- ما خو فکر کاوه چې مرمۍ یې ماغزو ته نه ده رسېدلې.

ډگروال جنید ورته تشریح کړه، یو هډوکی مات شوی او ټوټې یې ماغزو ته ننوتلې دي چې له امله یې ماغزو پړسوب کړی. هغه باید د سر د کاسې یوه برخه جراحي کړې وای څو ماغزه کافي چاپېریال ولري، له دې پرته به فشار د زغم وړ نه وي. ډگروال وویل:

- همدا اوس باید هغه عملیات کړو. که عملیات یې نه کړو ژوندۍ نه پاتې کېږي. نه غواړم په راتلونکي کې پښېمانه شې چې ولې دې دا کار ونه کړ.

د سر د کاسې پورته کول پلار ته د زغم وړ نه وو او ډېر خطرناک ورته ښکارېدل په ناهیلۍ یې وپوښتل:

- ژوندۍ به پاتې شي؟

په دې وخت کې پلار یو څه زړه پیداکړی و.

ډگروال جنید زړور هوډ کړی و، خو مشرانو یې مخالفت وکړ او نورو هم ویل چې د عملیات له پاره باید بهر ته یوړل شم. دا هغه هوډ و چې زما ژوند یې ساته. پلار د عملیات اجازه ورکړه او جنید هم وویل چې ډاکټر ممتاز به هم د مرستې له پاره را وغواړي. پلار مې چې کله د رضایت پاڼه لاسلیک کوله لاسونه یې لړزېدل. په دې پاڼه کې په تور او سپین رنگ لیکل شوي و: «کېدای شي ستاسې ناروغ ژوندۍ پاتې نه شي.»

عملیات یې د شپې په یوه نیمه بجه پیل کړل. مور او پلار مې د عملیات له کوټې بهر ناست و. پلار مې ویل: «خدایه ته ملاله وساتې. زه له هغې پرته ژوند نه شم کولای. خدایه زما ژوند واخله هغې ته یې ورکړه. ما ډېر ژوند کړی.»

ناڅاپه مور وویل:

- خدای(ج) به زموږ لور ببرته راکړي.



بیا یې مخ دېوال ته کړ او په لاس کې نیولی قرآنکریم یې په ساعتونو تلاوت کړ.

مریمې ویل:

- ما هېڅ کله څوک نه و لیدلي چې ستا د مور په څېر دعا وکړي. دا ډاډمنه وه چې خدای(ج) به یې د دعاوو ځواب ورکړي.

پلار هڅه کوله چې د تېر په اړه فکر ونه کړي. دا چې نه باید زه یې د نجونو د حقوقو مبارزې ته هڅولې وای.

ډگروال جنید مې له آتو څخه تر لسو سانتي مترو پورې د سر د ککرۍ کیڼ لورې جراحي کړ چې ماغزه د پړسوب له پاره کافي ځای ولري. بیا یې د معدې له کیڼې خوا تر پوستکي لاندې ځای ځیرې کړ. د دې له پاره چې د هډوکي ټوټه سالمه ساتل شوې وي په دې سوري کې یې د ننه وساته. دوی زما ترایکوتومي عملیات وکړل، له دې یې اندېښنه لرله، نه چې د ماغزو پړسوب مې د تنفس د هوا د راتگ مخه ونیسي. عملیات د پنځو ساعتونو په شاوخوا کې وخت ونیو.

د مور له دعاگانو سره سره مې پلار فکر کاوه چې نوي په سلو کې بهر انتظار خلک زما د مرگ د خبر هیله لري. د پلار ځینې ملگري او پلویان ډېر غمجن وو، پلار داسې احساسوله چې نور خلک مې په شهرت نیت بدوي.

پلار د عملیات له کوټې بهر ولاړ و چې یو نرس ور نژدې شو او پوښتنه یې وکړه:

- تاسې د ملالې پلار یاست؟

بیا یې هغه د ننه یوې کوټې ته ورسره ننه ویست.

پلار ویل فکر مې کاوه چې راته وایي چې موږ یې ژوند بچ نه کړای شو.

خو هغه وویل:

- وینې ته اړتیا لرو یو کس باید د وینې بانک ته لاړ شي.

پلار یو څه آرام شو خو بیا هم پرېشانه و. د ده په ځای یې یو ملگری په وینه پسې لاړ.

د سهار پنځه نیمې بجې وې چې حراجان له کوټې ووتل. پلار ته یې وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سر یوه برخه یې جراحي کړې او په خېټه کې یې ساتلې ده. زموږ په فرهنګ کې ډاکټران خپل کار ناروغانو او یا د هغې خپلوانو ته نه تشریح کوي. پلار ترې وپوښتل:

- یوه بې منطقه پوښتنه کوم. دا چې لور مې ژوندۍ پاتې کېږي؟

ډګروال جنید ځواب ورکړ:

- په طب کې دوه جمعه دوه خامخا څلور نه کېږي. موږ خپل کار وکړ د سر یوه برخه مو عملیات کړه اوس به انتظار وباسو.

پلار بیا وپوښتل:

- زه یوه بله احمقانه پوښتنه هم لرم. دا هډوکی څه کوئ او څه به پرې وکړئ؟

دا ځل ډاکټر ممتاز ځواب ورکړ:

- تر دریو میاشتو پورې یې ببرته په خپل ځای ږدو، ډېر آسانه کار دی.

په سبا سهار خوشاله خبرونه واورېدل شول. ما مې مټ ښورولی و. له ایالت څخه درې تکړه ډاکټران زما معاینې ته راغلل. دوی وویل چې جنید او ممتاز عملیات په ښه توګه کړی، خو اوس باید ناروغ بېهوش کړي ځکه چې هوښیاري یې د دې لامل کېږي چې په ماغزو یې فشار راشي.

په داسې حال کې چې زه د مرګ او ژوند په حال کې وم، طالبانو یوه اعلامیه خپره کړې وه او زما د ویشتلو مسولیت یې په غاړه اخیستی و. دوی ویلي و چې حمله یې د زده کړو د بندېدو پر خلاف زما د مبارزې له امله نه وه. د پاکستان د طالبانو د تحریک ویاند احسان الله احسان وویل: «دا حمله موږ وکړه او هر څوک چې زموږ په وړاندې خبرې وکړي همداسې به ووژل شي، ملالې د بې دینۍ په اړه خبرې کولې له همدې امله وویشتل شوه. هغه ځوانه وه خو د پښتنو په سیمو کې یې لویدیځ فرهنګ دود کاوه. ملاله لویدیځ پلوې ده، په طالبانو پسې یې خبرې کولې او ولسمشر اوباما ته یې عزیز ویلی و.»

پلار مې پوهېده چې د دوی مطلب څه و. کله مې چې یو کال وړاندې د سولې ډالۍ واخیسته، ډېرې مرکې مې وکړې چې په یوه کې مې یې باید د خپلې



خوښې وړ سیاستوالو نومونه اخیستي وای. هلته مې خان عبدالغفار خان، بې نظیر بوټو او ولسمشر بارک اوباما وټاکل. ځکه چې د یوه تورپوستي ځوان په توګه یې د یوې له ستونزې ډکې کورنۍ سره سره وکولای شول چې خپلو هیلو ته ورسېږي. خو امریکا د پاکستان د خلکو په نظر د دوی د بې پیلوټه الوتکو، په دې هېواد کې د پټو حملو او ریمونډ ډېوېس له امله بې باوره شوې وه.

د طالبانو یوه ویاند وویل چې دوه میاشتې مخکې فضل الله په یوه غونډه کې د دې حملې امر ورکړی و. هغه ویلي و: «څوک چې د دولت پلوي او زموږ په ضد وي وبه وژل شي. تاسې به ووینئ چې نور مهم کسان به هم قرباني شي.» ده زیاته کړه چې د دوو سواتیانو په وسیله یې زما او د ښوونځي د سرک په اړه معلومات ټول کړي او د حملې له پاره یې هم د پولیسو له پوستې سره نژدې ځای ټاکلی چې وښیي موږ په هر ځای کې حمله کوی شو.

په سبا ورځ چې له عملیات مې څو ساعته تېر شوي وو، ناڅاپه ټول کسان په منډو شول او خپل یونیفورمونه یې منظمول. په دې وخت کې د پوځ مشر جنرال کیاني راغئ او پلار ته یې وویل:

- خلک تاسې او ستاسې لور ته دعا کوي.

کله چې کیاني په ۲۰۰۹ م کال کې د طالبانو په ضد عملیاتو کې سوات ته راغئ، ما خبرې ورسره وکړې. په هغې جلسه کې مې وویل: «زه ډېره خوشاله یم، تاسې لوی کار وکړ. اوس باید یوازې فضل الله ونیسئ.»

په تالار کې ټولو ښه راغلاست ورته وایه، وروسته جنرال کیاني زما لور ته راغئ او په سر مې یې د یوه پلار په څېر لاس تېر کړ.

ډګروال جنید جنرال ته د عملیاتو خلاصه تشریح کړه، په دې وخت کې یې ډګروال ته وویل چې تصویرونه یې باید د ښې کتنې له پاره بهر ته ولېږي ترڅو په دقیقه توګه معاینه شي. له دې کتنو څخه وروسته د احتمالي ناروغیو د خپرېدو له امله زما د کټ څنګ ته هېچاته هم د راتلو اجازه نه وه. خو وروسته ډېر کسان راغلل لکه عمران خان، په طالبانو نیوکه کوونکی او د اطلاعاتو وزیر چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو له لاسه یې یو زوی هم ووژل شو، میان افتخار حسین او همدا راز زموږ د ایالت وزیر حیدر هوتي چې تر دې وړاندې مې په یوه پروګرام کې مرکه هم ورسره کړې وه. خو هېڅ یوه هم ونه کولای شول د ننه راشي. هوتي خلکو ته وویل:

- تېول ډاډه اوسئ چې ملاله به ژوندۍ پاتې کېږي. هغه باید ډېر نور کارونه هم ترسره کړي.

د ماسپښنین درې بجې وې چې په هلیکوپټر کې له راولپنډۍ نه دوه برتانوي ډاکټران را ورسېدل. ډاکټر جاوېد کیاني او ډاکټر فیونا رینولډز چې د بېرمېنګهم له روغتون څخه وو او د پوځ له ډاکټرانو سره د مرستې له پاره چې د ینې د پیوند کولو عملیه ور زده کړي دې روغتون ته رالېږل شوي ړو. زموږ هېواد له ټکان ورکوونکو احصایو ډک دی، پر زده کړو سربېره، له هرو اوو پاکستاني ماشومانو یو یې د پېچکاریو د ناپاکو بمبو له امله په زېړي یا (هیپیتایت) اخته کېږي او ډېری یې د ینې د ناروغیو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. جنرال کیاني د دې ستونزو د له منځه وړلو له پاره لاس په کار شوی و. له برتانوي ډاکټرانو یې غوښتنه کړې وه مخکې تر دې چې هېواد ته یې لاړ شي، په هغې سبا چې په ما حمله کېږي، جنرال ته د خپل پرمختګ په اړه خبر ورکړي. کله چې هغوی له جنرال سره په خبرو بوخت دي، په کوټه کې یې دوه ټلویزیونونه روښانه دي، یو په اردو ژبه سیمه ییز ټلویزیون او بل هم په انګلیسي ژبه سکای نیوز ټلویزیون چې زما د حملې راپور یې ورکاوه.

د پوځ مشر له ډاکټر سره له تخلص پرته بله کومه خپلوي نه لرله خو یو بل یې ښه پېژندل. له همدې امله ډاکټر ته جنرال وویل چې د دې ګډو وډو راپورونو له امله اندېښنه لري، له ډاکټر یې غوښتنه وکړه چې انګلېستان ته تر تلو مخکې باید ما وګوري. ډاکټر جاوېد چې د ملکې الیزابېت په روغتون کې د بېړنیو پېښو سلاکار دی غوښتنه یې ومنله خو ډاکټر فیونا یې چې په بېرمېنګهم روغتون کې د ماشومانو د کتنې متخصصه ده هم له ځان سره راوستې وه. دوی د پېښور په



اړه ښه احساس نه لاره ځکه چې د بهرنیانو له پاره یوه ممنوعه سیمه ګرځېدلې ده، خو کله یې چې اورېدلي و چې ما د نجونو د زده کړو د حق له پاره مبارزه کوله نو زما مرستې ته په ډېره مینه راغلي وو. ځکه پوهېدل چې دوی خپله ډېر نېکمرغه دي چې په یوه ښه ښوونځي کې یې زده کړې کړې وې او توانېدلي و چې ښه ډاکټران شي.

ډګروال جنید او د روغتون چارواکي د دوی له راتلو خوشاله نه و تر دې چې ډاکټر جاوېد ورته څرګنده کړه چې دوی چا رالېږلي دي. انګرېز ډاکټران د روغتون له شرایطو او موقعیت څخه ناخوښ وو. لومړی یې د اوبو یو نل د لاسونو د مینځلو له پاره را خلاص کړ خو په نل کې اوبه نه وې. وروسته ډاکټر فیونا دستګاوې وکتلې او ډاکټر جاوېد ته یې څه وویل. پوښتنه یې وکړه چې د وروستي ځل له پاره یې د وینې فشار څه وخت اخیستی دی. ځواب راغئ: «دوه ساعته مخکې»

ډاکټر وویل چې د وینې فشار باید ژر ژر واخیستل شي او بله دا چې د (ډې اکسایډ کاربن) سطحه مې ډېره ټیټه وه.

هغه ډاکټر جاوېد ته وویل چې د جراحۍ عملیات په ښه توګه شوي دي خو جوړېدل له عملیات وروسته د مراقبت له امله پرمختګ کوي. د ماغزو له جراحۍ وروسته اړینه ده چې د ناروغ په تنفس څارنه وشي او د ناروغ د (ډې اکسایډ کاربن) سطحه باید متوسطه وي. ډاکټر جاوېد ویل په الوتکه کې پرواز له خطره ډک دی، یوازې کولای شئ د وړ وسایلو په وسیله دا کار ترسره کړئ او که چېرې روغتون دا دستګاه ولري بیا یې هم دوی په ښه توګه نه شي کاروی. وروسته دوی په همغه هلیکوپټر کې له پېښور څخه لاړل ځکه چې په دې ښار کې له تیارې وروسته ژوند خطرناک و.

د کورنیو چارو وزیر رحمان ملک یو له هغو کسانو څخه و چې لیدو ته مې راغلی و خو د ننه راتلو اجازه نه وه ورکړل شوې. هغې ماته له ځانه سره یو پاسپورټ هم راوړی و. پلار مې مننه ترې کړې وه خو ډېر پرېشانه و. په هغې شپه د پوځ شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالي ته د تلو په وخت کې پاسپورټ زما مور ته ورکوي. بیا وایي: «دا د ملالې پاسپورټ دی. خو نه پوهېږم چې له هېواده بهر او که د جنت له پاره دی.» بیا په سلګیو سلګیو ژاړي. دوی په روغتون کې د ننه وو، نه پوهېدل چې زما کیسه ټولې نړۍ اورېدلې ده او خلکو د درملنې له پاره له هېواد څخه بهر غوښتم.

وضعیت مې خراب شوی و او پلار اوس ټلیفون ته لږ ځواب وایه. یوه اړیکه له پنجاب څخه د کمپیوټر په برخه کې د نابغه ماشومې عارفې کریم د کورنۍ له خوا وه چې په ټولنو کې مې خبرې ورسره کړې وې. هغه په نهه کلنۍ کې د پروګرام جوړونې په برخه کې د ځوانې کسبي نجلۍ په توګه د مایکروسافټ له خوا تایید شوې وه او له بېل ګېټس سره یې د کتنې له پاره د سیلیکون درې ته رابللې وه. خو د همدې کال په جنوري کې هغه د زړه د حملې له امله له سختې ناروغۍ وروسته په حق رسېدلې وه. هغې شپاړس کلنه او له ما څخه یو کال مشره وه. کله چې د هغې کورنۍ اړیکه ونیوله، پلار مې چیغې کړې: «راته ووایئ چې یو پلار له خپلې لور پرته څنګه ژوند کوی شي.»

بیا یې په زوره زوره وژړل.



# ناپېژانده لور ته سفر

د سې شنبې په ماسپښین حمله را باندې وشوه او د پنجشنبې په سهار پلار دومره ناهیلی و چې محمد فائز ماما ته یې وویل، کلی باید د جنازې مراسمو ته تیار شي. زه بېهوښه وم. د ژوند نښې مې ناهیلې کوونکې وې. مخ او بدن مې پړسېدلي، سږي او کولمې مې نژدې وې له کاره ولوېږي.

پلار مې وروسته وویل کله یې چې زه د هغې وړې شیشه یي کوټې په منځ کې له نلونو او دستګاوو سره پیوسته لیدم سخت وېرې پسې اخیست. تر هغې ځایه چې دی پوهېده، زه د ډاکټر له نظره ژوندۍ نه یم. پلار له ځانه سره فکر کاوه: «دا تر اوسه پنځه لس کلنه ده، مرګ یې ډېر وختي دی.»

مور مې تر اوسه هم دعاوې ویلې او لږ ویده کېده. فایزمحمد ماما مې ورته ویل چې باید د حج سورت ډېر ووایي. مور مې د دې سورت هغه دوولس آیتونه چې د خدای(ج) د بې پایه قدرت په اړه دي پرلپسې تلاوت کول. پلار ته یې ویل داسې احساسوي چې زه به جوړه شم خو نه پوهېده چې څه ډول به جوړېږم.

کله چې ډګروال جنید زما کتنې ته راغئ، پلار بیا هم پوښتنه ترې وکړه:

- ژوندۍ به پاتې شي؟

ډاکتر پوښتنه ترې وکړه:

- تاسې په خدای(ج) ایمان لرئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې ووېل:

- هوکې.

ډګروال جنید داسې ښکارېده چې ژوره قلبي عقیده او باور لري. سپارښتنه یې دا وه چې له خدای(ج) سره و اوسو ځکه چې هغه به زموږ د دعاوو ځواب راکړي.

د پنجشنبې په شپه له اسلام آباد څخه د ځانګړو حالاتو دوه نظامي متخصص ډاکټران راغلل. جنرال کیاني هغوی د دوو انګرېزو ډاکټرانو د راپور په بنسټ چې که په پېښور کې د درملنې له پاره پاتې شم، ماغزه به مې ضرر پیداکړي او یا هم کېدای شي د پالنې د څرنګوالي او پاکۍ د نه مراعات له امله به ژوندی پاتې نه شم، پېښور ته رالېږلي و.

د روغتون کارکوونکو د انګرېزو ډاکټرانو هېڅ سپارښتنې عملي نه کړې، د شپې مهال مې وضعیت خطرناک شو. د پنجشنبې په سهار د متخصصینو د ډلې مسئول سرطبیب اسلم له ډاکټر فیونا سره اړیکه نیولې وه ورته ویلي یې و: «د ملالې وضعیت خطرناک دی.»

په بدن کې مې د ننني غوټې په نوم کوم څه پراختیا موندلې وه، په داسې توګه چې وینې مې نه ټوټې کېدې، د وینې فشار مې ډېر ښکته و او د وینې تېزاب مې ډېر شوي و. ادرار مې نه شوای کوی، نژدې وې چې کولمې مې له کاره ولوېږي. ډاکټر فیونا غوښتل بېرمېنګهم ته د تلو له پاره هوایي ډګر ته لاړ شي، بکسونه او کالي یې هم په هوایي ډګر کې و، په دې وخت کې زما په اړه یې خونده خبرونه اوري، بېرته پښېمانه کېږي. زما د مرستې له پاره دوه نور نرسان هم ورسره ملګري کېږي او بېرمېنګهم ته نه ځي.

د پنجشنبې په ماسپښین پېښور ته را ورسېد او پلار ته مې یې ووېل چې باید د راولپنډۍ نظامي روغتون ته مې چې د ځانګړې پالنې تر ټولو بهتره څانګه لري، ولېږدوي. هغه نه پوهېده چې دومره ټپي ماشومه څنګه تر بل روغتون پورې یوسي، خو ډاکټر فیونا ډاډ ورکړ چې دا ډول کار یې په ځلونو کړی باید چې اندېښنه ونه کړي. پلار پوښتنه ترې وکړه چې کومه هیله شته:



- که هیله نه وای زه بېرته نه راتلم.

پلار ویل په هغې ساعت توانېدلی و چې د خپلو اوښکو مخه ونیسي.

په هغې ورځ یوې نرسې زما په سترګو کې څاڅکي واچول. وروسته مې مور پلار ته ووېل:

- ورته وګوره، د ډاکټر فیونا خبره سمه ده، که چېرې هیله نه وای نو نرسې یې په سترګو کې څاڅکې نه اچول.

شازیه له دریو ټپي نجونو څخه یوه وه چې همدې روغتون ته یې راوړې وه. ډاکټر فیونا هغه هم کتلې وه او پلار ته یې ویلي و چې هغه هم ښه ده او هیله یې ترې کړې وه چې له ملالې سره مرسته وکړي.

موږ په امبولانس کې چې امنیتي کنډک هم راسره و هوایي ډګر ته ورسېدو. په هلیکوپټر کې پرواز یو ساعت او پنځه لس دقیقې وخت ونیو. ډاکټر فیونا لږ کېناسته، هغه ټوله لاره د بېلابېلو تجهیزاتو او وسایلو سره بوخته وه او پلار ویل داسې ځرګندېده چې ورسره په جګړه ده. څو کاله کېدل چې دا په دې کار بوخته وه. په انګلېستان کې یې دنده د ناروغو هلکانو ځای په ځای کول او د ځانګړې پالنې په څانګه کې یې د دوی درملنه کړه. خو هېڅ کله هم په داسې یوه حالت کې واقع شوې نه وه. پېښور د لویدیزوالو له پاره ډېر خطرناک و.

دې وروسته له دې چې زما په اړه یې په ګوګل کې پلټنه کړې وه، پام یې شوی و چې دا یوه ډېره غیرمعمولي پېښه ده. بیا وروسته ډاکټر فیونا ووېل: «که چېرې تاسې ته هره پېښه شوې وای زه یې سپکولم او یا هم که خدای(ج) مه کړه مړه شوې وای زه به د پاکستان د تېرېسه مور وژونکې بلل کېدم.»

څنګه چې په راولپنډۍ کې له هلیکوپټر ښکته شوو، په امبولانس کې یوه بل نظامي روغتون ته ولېږدول شوو. پلار په اندېښنه کې و ویل یې: «دوی د سر د ټپ درملنه څه ډول کولای شي؟» خو ډاکټر فیونا ډاډ ورکړ چې په ټول پاکستان کې دا روغتون د ځانګړې درملنې له پاره ښه وسایل لري. د دوی تجهیزات ډېر پرمختللي دي، ډاکټرانو یې په انګلېستان کې زده کړه کړې ده. د دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرمېنگهم روغتون نرسان هم هلته شته و او د دې روغتون نرسانو ته يې په ځانگړې توگه د سر د ضررونو په اړه لارې ښودلې وې.
روغتون په ټولیزه توگه محاصره شوی و. یو کنډک سرتېرو یې ساتنه کوله آن چې په بامونو یې هم وسله والو مورچل نیولی و. هېچا د ننوتلو اجازه نه لرله، ډاکټرانو باید چې یونیفورم اغوستی وای، د ناروغانو یوازې د لومړۍ درجې خپلوانو د لیدو حق لاره او ټول تر امنیتي څارنې لاندې و. آن چې یو کس یې زما په کورنۍ پسې کړی و او دوی به یې هر ځای څارل.
پلار مې وارخطا و او ماما مې ورته وویل: «پام کوه چې له دوی څخه یې ځینې د امنیت پټ کسان دي.»
په شپه غالي کې سرتېرو زما کورنۍ ته درې کوټې ورکړې وې. مبایلونه څنگه چې دوی ویل د امنیتي ستونزو له امله یې ترې اخیستي و، خو څنگه چې ښکارېده حقیقت دا و چې له ورځپاڼو سره د پلار له مرکې وېرېدل. آن کله به چې مور او پلار خوړنځي ته تلل هم به یو کس له دوی سره و او هېچا هلته د راتلو اجازه نه لرله. آن کله چې لومړی وزیر زما پوښتنې ته راغلی و د راتلو اجازه یې نه وه ورکړې. امنیتي تدابیر یې حیرانوونکي و، خو د دریو تېرو کلونو په بهیر کې طالبانو په ډېرو مهمو نظامي جوړښتونو چې په پیاوړې توگه یې ساتنه کېده، لکه د مهران د سمندري ډلې په اډه او د کامرې د هوايي ځواک په اډه یې یرغل کړی و.
هره لحظه د دې امکان و چې طالبان حمله وکړي. پلار ته مې ویل شوي و چې آن په ورونېو به مې هم حملې وکړي پلار ډېر په اندېښنه کې و ځکه چې تر هغې وخته هم خوشال په مېنگوره کې و خو وروسته یې هغه هم راولپنډۍ ته راووست.
په شپه غالي کې یې نه کمپیوټر لاره او نه هم انټرنیټ شته و خو یو زړه سوانده او مهربان پخوونکی چې زموږ کورنۍ ته ټاکل شوی و هر څه به چې زموږ د کورنۍ په کار و ورته راوړل یې. هغه دوی ته ویلي چې دا ورته د ویاړ وړ ده چې د



دوی کورنۍ ته خواړه برابروي. د دوی هېڅ خوړو ته زړه نه کېده خو هغه به دوی د خوندورو خوراکونو په پخولو او تیارولو سره اړ کول چې فرني، او ډول ډول شیریني وخوري، خو دوی داسې احساسوله چې له ما پرته نیمگړي دي.
د همغې ورځو یوه ورځ وه چې پلار مې د لومړي ځل له پاره زموږ د حملې د پېښې په اړه د نړیوالو غبرگونونه لوستي وو. داسې ښکارېده چې ټولې نړۍ ته یې ټکان ورکړی و. د ملگرو ملتونو سرمنشي بان کي مون دغه عمل یو «بېکاره او نفرت زېږوونکی» آواز بللی و. ولسمشر اوباما بیا هغه د: «بېزاره کېدل، نفرت لرل، فاجع او دردناک.» په کلمو سره تشریح کړ. خو په پاکستان کې ځینې غبرگونونه مثبت نه و. په داسې حال کې چې ځینو مقالو زه د «سولې نمونه» ښودلې وم، د ځینو وېبلاگ لیکونکو پوښتنې دا وې چې آیا په ما په رښتیا هم حمله شوې کنه. ډېرې کیسې راپسې لیکل شوې وې په ځانگړې تو گه په اردو ورځپاڼو کې دوی لیکلي و چې ما د نارینه و په لویو ړیرو نیوکه کړې وه. د ډاکټر راحلې قاضي په نوم د جماعت اسلامي ډلې غړې زما په ضد خبرې کولې، زه یې د امریکا لاسپوځې بللم او د ریچارډ هالبروک تر څنگ یې زما تصویر «له امریکایي نظامي مامورینو سره هم نظري» ښودلې وه.
ډاکټر فیونا لویه مرسته راسره وکړه. مور مې یوازې په پښتو ژبه خبرې کوی شي نو له همدې امله یې په ژبه نه پوهېده، خو ډاکټر فیونا به چې کله زما له کوټې وتله د لاسونو په پورته کولو به یې ورته ویل چې اوس ښه ده.
هغه نه یوازې زما ډاکټره بلکې کورنۍ ته مې پیغام لېږونکې وه. هغه به په پوره صبر د کورنۍ د غړو تر څنگ کېناسته او بیا به یې له پلار غوښتل چې دا هرڅه مې مور ته څرگند کړي. پلار به مې د حیرانۍ تر څنگ خوشاله و ځکه چې زموږ په هېواد کې ډېر لږ ډاکټران پیداکېږي چې یوې بې سواده ښځې ته موضوع تشریح کړي. زما د وړیا درملنې له پاره د نړۍ له بېلابېلو برخو څخه زما کورنۍ ته پیغام رسېده. د امریکا د جان هاپکینز تر ټولو پرمختللي روغتون زما د وړیا درملنې وړاندیز کړی و. د سناتور جان کري په څېر پانگه وال شخص چې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځله پاکستان ته راغلی و، گابرېل گیفورډز د امریکا د ولسي جرگې غړی چې د ایرېزونا په ایالت کې د سر په برخه کې په ډزو لگېدلی او سخت ټپي شوی و، په گډون ډېرو پانگه والو د مرستې وړاندیز کړی و. د مرستې نور وړاندیزونه له سینگاپور، آلمان، عربي متحده اماراتو او انگلیس څخه وو.

هېڅا مې هم له مور او پلار سره مشوره نه کوله. ټول تصمیمونه پوځ نیول. جنرال کیاني له ډاکټر جاوېد څخه وپوښتل. دا لازمه ده چې له هېواده بهر یې ولېږدوو که نه؟ د پوځ مشر ډېر وخت په همدې موضوع بوخت و. ډاکټر جاوېد وایي دوی به شپږ ساعته زما په اړه خبرې کولې. هغه نظر هر سیاستوال ته د سیاست په ډگر کې زما د مړینې په پایلو ښه پوهېده. هیله من و چې په یوې سیاسي هوکړې سره په طالبانو هر اړخیز عملیات وکړي. خو نژدې خلک یې وایي چې هغه ډېر زړه سواندی دی. پلار یې یو عادي سرتېری و او په ځوانۍ کې په داسې حال کې وفات شوی و چې کیاني د خپلې آته کسیزې کورنۍ مشرۍ ته یوازې پاتې کېږي. ده باید دکورنۍ پالنه کړې وای. کله چې جنرال کیاني د پوځ مشر شو، په لومړي قدم کې د عادي سرتېرو د زده کړې، خوړو او ځای د ښه والي له پاره لاس په کار شو.

ډاکټر فیونا ویل چې کېدای شي زه له فلج ډوله ستونزې سره مخ شم، لاس او ښۍ پښه مې سم کار ونه کړي. نو له دې امله پرمختللو وسایلو ته اړتیا وه چې پاکستان نه لرل. هغه سپارښتنه وکړه: «که غواړئ چې درملنه یې سمه پایله ولري له هېواده بهر یې ولېږئ.»

جنرال کیاني امریکا ته زما له وړلو سره مخالف و ځکه چې له ریمونډ ډېوېس وروسته د امریکا له خوا په پاکستان کې په اسامه بن لادن حمله او د څو پاکستاني سرتېرو وژلو یې تر منځ اړیکې ترینگلې کړې وې. ډاکټر جاوېد په لندن کې د گرېټ اورموند سټریټ[i] او همدا راز د ادینبرو[ii] او گلاسگو[iii]

[i] Great Ormond Street
[ii] Edinburgh
[iii] Glasgow



تخصصي روغتونونه وړاندیز کړي و. جنرال کیاني ترې وپوښتل: «ولې یې ستاسې په خپل روغتون کې درملنه ونه شي؟»

په بېرمېنگهم کې د ملکې الیزابیت روغتون د افغانستان او عراق د ټپیانو په درملنه پېژندل شوی و. دغه روغتون له ښار څخه بهر و. جاوېد له خپل رییس کوین بالگر[i] سره اړیکه ونیوه هغه هم سمدلاسه هوکړه وکړه، خو وروسته یې وویل: «موږ یوه هم هېڅ کله فکر نه کاوه چې روغتون ته به څه مسولیت ولري.»

د ملکې الیزابیت روغتون ته د یوې بهرنۍ په توگه زما وړل یو څه ستونزمن و او بالگر هم ځان د انگرېز او پاکستان د حکومتونو تر منځ بوخت ولید. له بلې خوا مو ورو ورو وخت له لاسه ورکاوه. سره له دې چې زما وضعیت یو څه ښه شوی و خو باید چې تر دوه اویا ساعتونو پورې یې رسولې وای.

ډاکټران زما د لېږد له ستونزې سره مخ شوي و. ډاکټر جاوېد وړاندیز وکړ چې له سلطنتي هوایي ځواک څخه کار واخلو ځکه چې هغوی هر وخت افغان ټپي سرتېري وړي. خو جنرال کیاني له دې کار سره مخالف و. جنرال کیاني ډاکټر جاوېد د خبرو له پاره خپل کور ته وغوښت، ورته ویې ویل چې نه غواړي هېڅ نظامي ځواک په دې کار کې ښکېل شي. ځکه چې تر دې وړاندې هم زما په اړه ډېرې اوازې خپرې شوې وې، خلکو ویلي وو چې زه د سي آی اې ماموره یم او یا هم دې ته ورته کیسې اورېدل کېدې، له همدې امله د پوځ مشر نه غوښتل چې دا ډول د دروغو اوازې نورې هم پیاوړې شي. ډاکټر جاوېدپه ستونزو کې گیر و. د انگلېستان حکومت د مرستې وړاندیز کړی و چې د پاکستان د دولت له خوا یوه غوښتنلیک ته اړتیا وه. خو زموږ دولت له دې وېره لرله نه چې خپل باور له لاسه ورکړي.

له نېکه مرغه چې په دې وخت کې د متحده عربي اماراتو حاکم صحنې ته را وړاندې شو. هغوی خپله جېټ الوتکه چې په منځ کې یې یو روغتون لاره وړاندیز کړه.

[i] Kevin Bolger

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تصمیم ونیول شو چې زه د اکتوبر په ۱۵ مه د دوشنبې په ورځ د لومړي ځل له پاره د پاکستان له خاورې بهر شم.
پلار او مور مې فکر کاوه چې که هر هېواد ته ولاړ کېږم دوی به هم راسره وي. مور او وروڼو مې پاسپورټونه نه لرل. د یکشنبې په ورځ له ماسپښین وروسته مې پلار ته وویل شول چې سبا سهار مې انګلېستان ته وړي چې له مور او وروڼو پرته مې یوازې پلار کولای شي راسره لاړ شي. هغه ویلي وو چې د هغوی پاسپورټونه کومه ستونزه لري او د امنیتي دلایلو له امله به مې د تلو خبر آن خپلې کورنۍ ته هم نه ورکوي.
پلار به مې مور ته هر څه ویل نه یې شوای کولای له هغې څخه داسې یوه موضوع پټه کړي.
په ډېر خپګان یې مور ته موضوع تشریح کړه. مور مې هم له ماما فایز محمد سره خبرې وکړې. هغه مې د مور امنیت ته ډېر پرېشانه و ویې ویل: «که چېرې هغه له خپلو دوو وړو زامنو سره په مېنګوره کې پاتې شي له هرې پېښې سره مخ کېدای شي.»
پلار مې ډګروال ته وویل:
- ما مې کورنۍ ته خبر ورکړ، هغوی ډېر پرېشانه دي. زه هغوی یوازې پرېښودی نه شم.
دا موضوع د لویې ستونزې لامل کېده، ځکه چې زه یوه ماشومه وم او نه مې شوای کولای په یوازې توګه له هېواد څخه بهر لاړه شم نو له همدې امله جنید، ډاکټر جاوېد او ډاکټر فیونا هڅه وکړه پلار ته قناعت ورکړي ترڅو له ماسره لاړ شي. خو پلار خپل تصمیم نیولی و او ډاکټر جاوېد ته یې وویل:
- لور مې په امنیت کې ده او یوه امن هېواد ته ځي. نه شم کولای مېرمن او زامن مې دلته یوازې پرېږدم هغوی په خطر کې دي. د لور ساتنه مې خدای(ج) کړي. زه یو پلار یم زامن مې هم د لور په اندازه راته ګران دي.
ډاکټر جاوېد مې له پلار څخه غوښتنه وکړه چې له ده سره په خصوصي توګه



خبرې وکړي.
جاوېد وپوښتل:
- آیا ډاډه یې چې ستا دلیل یوازې همدا دی؟
هغه غوښتل باوري شي چې پلار د کوم چا د فشار له امله دې تصمیم ته اړ شوی نه وي.
پلار ځواب ورکړ:
- مېرمنې مې وویل چې هغوی به یوازې نه پرېږدم.
ډاکټر یې په اوږه لاس کېښود او په ډاډ یې ورته وویل چې لور به یې په بشپړ امنیت کې وي. پلار هم ورته ویلي وو:
آیا دا یوه معجزه نه ده کله چې ملاله وویشتل شوه تاسې دلته راغلئ؟
ډاکټر جاوېد ځواب ورکړ:
- دا زما عقیده ده چې خدای(ج) لومړی مورږ ته لومړی ستونزه او بیا یې حل رالېږي.
وروسته مې پلار رضایت پاڼه لاسلیک کړه چې ډاکټر فیونا به انګلېستان د سفر په وخت کې د ملالې سرپرسته وي. پلار چې هغه ته پاڼه ورکړه لاسونه یې لړزېدل ویې ویل:
- ډاکټر فیونا هغه په تاسې سپارم. هیله کوم په لور مې پام وکړئ.
وروسته مې مور او پلار خدای په آماني را سره وکړه. د شپې یوولس بجې وې چې هغوی زه د وروستي ځل له پاره په پاکستان کې ولیدم. ما خبرې نه شوای کولای، سترګې مې تړلې وې، یوازې ساه مې وه چې هغوی یې ډاډه کول چې زه تر اوسه هم ژوندۍ یم. مور ژړل، پلار هڅه کوله چې هغه آرامه کړي ځکه پلار پوهېده چې نور له ګواښ سره مخ نه یم. ټول هغه وختونه چې دوی په لومړیو کې راکول، دا چې راتلونکي څلورویشت ساعتونه خطرناک دي او دا چې آته راتلونکي ساعتونه له ډېر خطر سره مخ او کړکېچن دي او راتلونکي دوه اویا ساعتونه ډېر مهم دي. له کومې پېښې پرته تېر شوي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړسوب کم شوی او وینې مې هم ښه والی موندلی و. کورنۍ مې ډاډه وه چې ډاکټر فیونا او ډاکټر جاوېد به په ښه توګه زما پالنه وکړي.

کله مې چې کورنۍ خپلو کوټو ته لاړل له سترګو مې خوب وتښتېد.

له نیمې شپې لږ وروسته غږ وشو. له ډګروالانو څخه یو و چې تر دې وړاندې یې پلار هڅولی و له ماسره انګلېستان ته لاړ شي. هغه مې پلار ته وویل چې باید انګلېستان ته راسره لاړ شي کنه دوی به یې هېڅ کله هم ونه لېږي.

پلار ځواب ورکړ:

- تاسې ته مې وویل چې نه ځم. ولې مو راویښ کړم؟ زه مې هېڅ کله هم کورنۍ یوازې نه پرېږدم.

بیا هم یوه مامور پلار ته غږ وکړ چې خبرې ورسره وکړي. ورته وېې ویل:

- تاسې د هغې پلار یاست باید چې ورسره لاړ شئ. که تاسې ورسره نه وئ روغتون به یې ونه مني.

پلار بیا هم ورته تکرار کړه:

- ما مې خپل تصمیم نیولی. څو ورځې وروسته چې کارونه سم کړم له کورنۍ سره مې ورځم.

وروسته ډګروال وویل:

- راځئ روغتون ته لاړ شو چې څو نور سندونه هم لاسلیک کړو.

نیمه شپه وه پلار هم وېرېده. نه یې غوښتل یوازې ورسره لاړ شي، مور ته یې وویل چې ورسره لاړه شي. پلار په دې وخت کې دومره په اندېښنه کې و چې پرلپسې یې د قرآن کریم څو ایتونه تر ژبه لاندې تکرارول. د یونس سورت آیتونه چې په انجیل کې د یونس(ع) د کیسې په څېر چې په سمندر کې یو کب تېروي. همدا آیتونه د یونس(ع) له خوا هغه وخت لوستل کېږي چې دی د کب په خېټه کې دی.

دغه آیت مور ته ډاډ راکوي چې که مور ایمان ولرو نو د ډېرو سختو ستونزو له پاره هم حل لاره شته.



کله چې روغتون ته ورسېدل، ډګروال پلار ته وویل چې انګلیستان ته زما د وړلو له پاره څو نور سندونه هم باید لاسلیک کړي. دا ټول پټ کارونه، د داسې کسانو له خوا چې یونیفورم یې اغوستی او هر ځای ولاړ دي، پلار او کورنۍ مې یې له وېرې سره مخ کړي و.

کله چې مور او پلار شپه غالي ته تللي ډېر پرېشانه و. پلار مې نه غوښتل چې له کورنۍ پرته بې وزله لاړه شم. زما وروستی یاد به د ښوونځي بس ګاډی وي، دوی له دې امله پرېشانه و نه چې زه داسې فکر وکړم، دوی هېره کړې یم.

د اکتوبر په پنځه لسمه د سهار په پنځو بجو یې زه د پوځ تر امنیت لاندې هوایي ډګر ته یوړم. سرکونه یې د خلکو په مخ تړلي و، سرتېري په بامونو ولاړ او د سرکونو په غاړو ګرځېدل. د عربي اماراتو الوتکه زموږ په انتظار ولاړه وه. ماته بیا وروسته وویل شول چې الوتکه د ننه ډېره ښایسته وه. په دې الوتکه کې یو دوه نفري تخت، شپاړس لومړی درجه چوکۍ او یو وړوکی روغتون و. د دې روغتون کار کوونکي څو اروپايي نرسان او یو آلماني ډاکټر و.

دریغې چې هغه وخت بېهوښه نه وای او کولای مې شول له دې ښکلو منظرو مې خوند اخیستی وای. الوتکې د سون توکو له پاره د ابوظبي په لور حرکت وکړ او بیا وروسته د بېرمېنګهم په لوري لاړه.

پلار او مور مې په شپه غالي کې انتظار و. دوی فکر کاوه چې پاسپورټونه به ډېر ژر ورته تیار کړي او په څو ورځو کې به بېرمېنګهم ته راشي. خو هېڅ خبره یې وانه ورېده. آن چې کوم مبایل یا کمپیوټر یې هم نه لرل چې زما له حالت څخه خبر شي.

دا انتظار نه ختمېدونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

# دویم ژوند

وطن زما زه د وطن یم
که د وطن له پاره مرم خوشاله یمه

## بېرمېنګهم

د اکتوبر شپاړسم له ویشتل کېدو یوه اونۍ وروسته په هوښ راغلم. له کور څخه مې په زرګونو میله لرې وم. د سا کښنلو له پاره مې په غاړه کې یوه کړۍ ترل شوې وه له همدې امله مې خبرې نه شوای کولای، د عکس اخیستو له شعبې یې د ځانګړې پالنې څانګې ته وړلم چې پوره په هوښ راغلم.

لومړی فکر مې چې ذهن ته راغئ ومې ویل: «شکر خدایه چې ژوندۍ یم.»

پوهېدم نه چې چېرته یم، خو دومره پوهېدم چې په خپل هېواد کې نه یم. نرسانو او ډاکټرانو په انګلیسي خبرې کولې. ما خبرې ورسره کولې خو دا چې په غاړه کې مې کړۍ بنده وه هېچا مې هم غږ نه اورېده. کیڼې سترګې مې هر څه دوه ګوني ښودل دا چې هر چا دوه پوزې، دوه خولې او څلور سترګې لرلې. په ذهن کې مې ډېرې پوښتنې را ولاړېدې دا چې:

«زه چېرته یم؟

دلته چا راوستې یم؟

پلار او مور مې چېرته دي؟

آیا پلار مې ژوندی دی؟» ډېره حیرانه وم.



کله چې زه په هوښ راغلم، ډاکټر جاوېد راسره ولاړ و، هغه ویل چې زما د هغې وخت سرګردانه سترګې او وېرېدلی حالت به هېڅ کله هم هېر نه کړي. هغه له ما سره په اردو ژبه خبرې کولې. یوازې دومره پوهېدم چې خدای[ج] یو نوی ژوند راکړی دی. یوې ښایسته ښځې چې ټکری یې په سر و، لاس مې یې ونیو راته ویې ویل:

- السلام علیکم.

وروسته یې په اردو ژبه دعا وویله او د قران کریم آیتونه یې تلاوت کړل. ویې ویل چې ریحانه نومېږي. ښه غږ یې لاره او ډېره روانه غږېده، ناڅاپه بې ارادې ویده شوم.

بله ورځ چې بیداره شوم، پام مې شو چې په یوه عجیبه شین رنګه کوټه کې چې هېڅ کړکی یې نه لرله او ډېر روښانه څراغونه په کې لګېدل، پرته یم. د ملکې الیزابت د روغتون د ځانګړې پالنې کوټه وه. هر څه پاک ښکارېدل، د مېنګورې د روغتون په څېر نه وو.

یوه نرس یوه کتابچه او یو قلم راکړ. خو په سمه توګه مې څه نه شوای لیکلی. غوښتل مې د پلار د ټلیفون شمېره مې ولیکم خو حروف مې سم نه شوای لیکلی. ډاکټر جاوېد د الفبا تورو یوه پاڼه راته راوړه چې تورو ته اشاره وکړم. لومړي تورې مې چې ولیکل (پلار) او (هېواد) و. نرس راته وویل چې په بېرمېنګهم کې یم خو زه نه پوهېدم چې بېرمېنګهم د نړۍ په کوم ځای کې دی. خو وروسته یې یوه نقشه راته وښووده پوه شوم چې په انګلیس کې یم. په اصل کې نه پوهېدم چې څه پېښ شوي و. نرسانو څه راته ونه ویل. آن په خپل نوم نه پوهېدم، آیا تر اوسه هم ملاله وم؟

دومره سر درد وم چې د تسکین ټابلېټو هم درد نه کراراوه. له کیڼ غوږ مې وینه روانه وه. ډاکټران او نرسان تلل او راتلل. نرسانو پوښتنه رانه کوله او ویل یې چې د هو په توګه دوه ځله سترګې ورپوم. هېچا نه راته ویل چې څه پېښ شوي دي او دې روغتون ته چا راوړې یم. داسې مې احساسوله چې د مخ کیڼ لوری مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم کار نه کوي. د ډېر مهال له پاره مې ډاکټرانو او نرسانو ته نه شواى کتلاى. کېڼ غوږ مې خبرې نه اورېدې، د خولې ژامې مې سم کار نه کاوه. له همدې امله مې هر چاته اشاره کوله چې ښي لور ته مې ودرېږي.

وروسته د فیونا په نوم یوه زړه سواندې ډاکټره راغله او ماته یې یوه سپینه د خرس د څېرې نانځکه راکړه. هغه راته ویل چې باید په نانځکه جنید نوم کېږدم او بیا یې د دې نوم دلیل راته توضیح کړم. زه نه پوهېدم چې جنید څوک و له همدې امله مې خپلې نانځکې ته «لیلا» نوم وټاکه. دې د لیکلو او تمرین لپاره یوه کتابچه راته راوړه. زما لومړۍ دوې پوښتنې دا وې: «پلار مې ولې نشته؟» پلار مې پیسې نه لري د دې درملنې پیسې مې څوک ورکوي؟»

هغه ځواب راکړ:

- پلار دې په پاکستان کې دی. لګښت ته اندېښنه مه کوه.

هر څوک به چې راتلل همدا پوښتنې مې ترې کولې خو د ټولو ځواب همدا و. خو قناعت مې نه و کړی. نه پوهېدم چې څه پېښنه شوې وه او په هېڅچا مې هم باور نه کاوه.که پلار مې جوړ وي نو ولې مې تر څنګ نشته دی؟ فکر مې کاوه چې پلار او مور مې نه پوهېږي چې زه چېرته یم او کېدای شي چې د مېنګورې په سرکونو او کوڅو کې به په ما پسې سرګردانه وي. آن دا باور مې هم نه لاره چې مور او پلار به مې ژوندي وي. په لومړیو ورځو کې مې ذهن په خیالونو کې ډوب و. تر سترګو مې تصویرونه تېرېدل چې زه په یوه کوټه کې پرته یم او څو کسان مې تر څنګ دي، داسې ډېر تصویرونه چې د شمېر وړ نه وو او پوښتنه یې کوله چې، پلار مې چېرته دی؟

له ځانه سره مې فکر کاوه زه ویشتل شوې یم خو باور مې نه کاوه. آیا هغه ټول خوب و که خاطره؟

همدا راز د پیسو موضوع هم ډېره ځورولم. د ډالې پیسې د ښوونځي لګښتونه او په شنګله کې د یوې نمرې ځمکې اخیستل و. هر وخت به مې چې ډاکټران له یو بل سره په خبرو لیدل فکر مې کاوه چې وایي: «ملاله پیسې نه لري، ملاله یې



د درملنې له پاره پیسې نه لري.» له ډاکټرانو څخه یو د لهستان و چې هر وخت به خپه ښکارېده. ما فکر کاوه چې هغه د روغتون مالک دی او خپه ځکه دی چې زه مې د درملنې لګښت نه شم ورکولای. له همدې امله مې یوه نرس ته اشاره وکړه چې کاغذ راته راوړي پرې ومې لیکل: «ولې خپه یې؟»

ځواب یې راکړ:

- خپه نه یم.

بیا مې ولیکل: «زما د درملنې لګښت څوک ورکوي؟»

ویې ویل:

- اندېښنه مه کوه. ستاسې دولت یې ورکوي.

له دې وروسته به یې چې هر وخت ولیدم خوشاله به و.

زه هر وخت د هرې ستونزې له پاره د یوې حل لارې په هڅه کې یم، له ځانه سره مې فکر کاوه چې کېدای شي وکولای شم د روغتون معلومات خونې ته لاړه شم او له هغه ځایه مې له مور او پلار سره خبرې وکړم. بیا مې له ځانه سره وویل: «ته خو پیسې نه لرې چې اړیکه ونیسې او آن دا چې د خپل هېواد کوډ هم نه لرې. باید له دې ځایه بهر لاړه شم کار وکړم، وروسته یې په پیسو یو مبایل واخلم او له پلار سره مې اړیکه ونیسم. هغه وخت بیا کولای شو چې ټول یو ځای ژوند وکړو.»

ګډ وډ فکرونه مې په ذهن کې ګرځېدل. فکر مې کاوه ډاکټر فیونا چې کومه نانځکه راته اخیستې شین رنګ لري او بیا یې په یوه سپین خرس بدله کړې وه. هر وخت به مې پوښتنه کوله: «هغه شین خرس یا نانځکه چېرته ده؟» سره له دې چې هر ځل به یې راته ویل چې دلته هېڅ شنه نانځکه نه وه. شین رنګ د ځانګړې پالنې د خونې و خو ما تر اوسه ویل چې یوه شنه ناوکۍ مې لرله.

یوازې څه چې ډاډ یې راکاوه ریحانه وه. هغې به ډېرې آراموونکو دعاوې ویلې او ما به مې شونډو ته حرکت ورکاوه چې آمین ووایم.

ټلویزیون به هر وخت غلی و پرته له هغې وخت نه چې اجازه یې راکړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مسترچیف» خپرونه وګورم، په مېنګوره کې مې هم دا خپرونه خوښه وه. خو اوس هر څه بدل شوي و. وروسته پوه شوم چې هېچا اجازه نه لرله چې کوټې ته مې ورځپاڼه راوړي او یا هم ماته څه ووایي.

له ځانه سره مې فکر کاوه چې کېدای شي پلار مې ژوندی نه وي له همدې امله ډېره وېرېدم. په دې وخت کې ډاکټر فیونا د تېرې اونۍ یوه پاکستانۍ ورځپاڼه راته راوړه، په هغې کې مې د پلار تصویر چاپ شوی و چې له جنرال کیاني سره د خبرو په حال کې و او وړاندې یوه مېرمن چې ټکرۍ یې په سر و او د وړور تر څنګ مې ناسته وه. ومې لیکل: «دا مې مور ده!»

په هغې ورځ ډاکټر جاوېد له خپل موبایل سره راننه ووت. ویې ویل:

- غواړم له مور او پلار سره دې خبرې وکړم.

سترګې مې له حیرانتیا نه وځلېدې.

هغه غوسه ناک ښکارېده خو ډېر مهربانه و. ویې ویل:

- یوازې ژاړې به نه، مبایل درکوم ته باید ډېره قوي وې.

شمېره یې ډایل کړه، خبرې یې ورسره وکړې بیا یې مبایل ماته راکړ.

د پلار غږ مې و. دا چې په غاړه کې مې یوه کړۍ وه خبرې مې نه شوای کولای. د غږ په اورېدو یې ډېره خوشاله شوم، د مخ له امله مې خندلی نه شوای خو په زړه کې ډېره خوشاله وم. پلار مې قول راکړ ویې ویل: «ډېر ژر راځم. ته آرام وکړه، تر دوو ورځو پورې به تاته در ورسېږم.» وروسته یې راته وویل چې ډاکټر جاوېد سپارښتنه کړې چې ونه ژاړم. ډاکټر له ما څخه غوښتل چې پیاوړې وم. دا اړیکه ډېره لنډه وه ځکه چې مور او پلار مې نه غوښتل زه ستړې شم. مور مې په ټلیفون کې دعا راته وکړه.

ما تر اوسه فکر کاوه چې له ما سره د دوی د نه راتګ دلیل دا و چې زما د درملنې له پاره یې پیسې نه لرلې، له ځانه سره مې ویل، له همدې امله تر اوسه په پاکستان کې دي چې زموږ ځمکه او ښوونځي وپلوري. هغه ځمکه چې اخیستې مو وه ډېره لږ وه او په دې هم پوهېدم چې کور او ښوونځي مو په اجاره



نیولي و، نو هغه به څه خرڅ کړي وای؟ کېدای شوای له بدایو به یې پور غوښت.

***

له هغې ټلیفوني اړیکې وروسته مې هم مور او پلار پوره نه و ډاډه شوي ځکه چې دوی زما غږ وانه ورېده. چا چې له دوی سره خبرې کولې ګډ وډ خبرونه به یې ورته رسول. یو هم سرلښکر غلام قمر د سوات د نظامي عملیاتو قوماندان و. پلار ته یې ویلي و: «له انګرېزانو مې ښه خبرونه اورېدلي. موږ ډېر خوشاله یو چې زموږ لور جوړه شوې ده.» هغه ویلي وو «زموږ لور» دوی اوس زه د ټول هېواد لور بللم.

جنرال مې پلار ته ویل چې دوی اوس په ټول سوات کې پلټنه کوي او په سرحدونو کې هم په هغوی پسې ګرځي. زیاته کړې یې وه دوی پوهېږي چا چې په ما ډزې کړې وې، د طالبانو دوه ویشت کسیزه ډله وه چې دوه میاشتې مخکې یې د پلار په ملګري زاهد خان هم حمله کړې وه.

پلار مې هېڅ هم نه و ورته ویلي خو ډېر پرېشانه و.

ځکه چې دوی ډېر وخت وړاندې ویلي و چې د سوات سیمه یې له طالبانو څخه پاکه کړې ده. اوس همدا جنرال ورته وایي چې دوه ویشت کسه طالبانو څه کم دوه میاشتې هلته تېرې کړې وې. همدا راز پوځ ویلي و چې په زاهد خان د یوې کورنۍ شخړې له امله ډزې شوې وې. خو اوس یې ویل چا چې په زاهد خان ډزې کړې وې په ملاله یې هم حمله کړې وه. پلار مې غوښتل ورته ووایي: «تاسې پوهېدئ چې طالبان دوه میاشتې په سوات کې ګرځېدل. په دې هم پوهېدئ چې غواړي زما لور ووژني خو بیا مو یې هم مخه ونه نیوه؟» خو پوهېده چې دا پوښتنې کول به هېڅ ګټه ونه لري.

د جنرال خبرې تر اوسه هم پای ته نه وې رسېدلې.هغه مې پلار ته وویل سره له دې چې ملاله په هوښ راغلې خو په لیدلو کې ستونزه لري، پلار ډېر پرېشانه شوی و له ځانه سره یې فکر کاوه چې څنګه هغه دومره معلومات لري او زه یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرم؟

هغه اندېښمن و چې زه به په پوره توګه ژنده شوې وم. هغه وخت يې د خپلې ګرانې لور په اړه تصور کاوه چې په تياره کې قدم ږدي او له پلاره پوښتي: «پلاره، زه چېرته يم؟»

دغه خبرونه دومره دردناک و چې نه يې غوښتل مور ته يې ووايي، سره له دې چې هېڅ کله نه شي کولای له مور څخه کومه خبره پټه کړي. په دې وخت کې يې له خپل خدای[ج] سره خبرې کړې وې: «زه داسې څه منلی نه شم، زه به هغې ته خپله يوه سترګه ورکړم.» خو دا چې دی په هغې وخت کې درې ځلوينښت کلن و، اندېښنه يې لرله چې سترګه به يې ماته کار راکړي کنه. په هغې شپه يې خوب نه و کړی. د بلې ورځې په سهار يې د پوليسو له يوه امنيتي مامور څخه هيله کړې وه، ټليفون يې ورکړي چې له ډګروال جنيد سره اړيکه ونيسي. پلار مې هغه ته په خپګان سره ويلي وو: «اورېدلي مې دي چې ملاله څه نه شي ليدی.»

هغه ځواب ورکړ: «که هغه کولای شي وليکي او ولولي نو څنګه ليدی نه شي؟ ډاکټر فيونا راته ووېل چې لومړی يادښت يې ستاسې په اړه و.»

خو نه دا چې يوازې مې ليدای شوای آن چې يوه هنداره مې هم غوښتې وه. هغه وخت مې په هغې وړه کتابچه کې ليکلي وو: «هنداره» ځکه چې غوښتل مې مخ او وېښتان مې ووينم. نرسانو يوه سپينه وړه هنداره راته راوړه چې تر اوسه مې ساتلې ده. کله مې چې ځان وليد ډېره ووېرېدم. هغه اوږده وېښتان مې چې د ډول ډول جوړولو له امله به يې په ساعتونو هندارې ته ولاړه وم ورک شوي وو او د سر په کيڼه خوا مې آن يو وېښته هم نه و. په کتابچه کې مې وليکل: «وېښتان مې لنډ شوي دي.» داسې فکر مې کاوه چې طالبانو راباندې لنډ کړي دي. خو په اصل کې پاکستاني ډاکټرانو راباندې پرې کړي و. مخ مې هم په پخواني طبيعي ډول نه و داسې و لکه چا يې چې يوه خوا له منځه وړې وي او له کيڼې سترګې سره مې يو ټپ ښکارېده. تر اوسه مې توري او کليمې ځای په ځای



ليکلې. هغه وخت مې وليکل: «ماته څه پېښ شوي دي؟»

همدا راز مې وليکل: «څراغونه مړه کړئ.» ځکه چې د څراغونو په لګېدو سره مې سر دويم ځلي شديد درد پيداکړ.

وروسته ډاکټر فيونا وويل چې ماته يوه بده پېښه شوې.

ورته ومې ليکل: «په ما ډزې شوې دي؟ پلار مې څنګه دی؟»

هغې ځواب راکړ چې د ښوونځي په بس ګاډي کې ډزې را باندې شوې دي. ويل يې چې په دوو نورو خورلڼو مې هم مرمۍ لګېدلې دي، زياته يې کړه چې د دوه نورو نومونه نه پېژني. راته تشريح يې کړه چې مرمۍ مې له کيڼې سترګې سره چې ټپ يې تر اوسه ښکاري ننوتلې وه او بيا مې په اوږو کې ورانديې تللې وه. دغې مرمۍ کولای شول چې سترګه مې له منځه يوسي او يا مې هم ماغزو ته لاړه شي. په واقعيت کې له دې پېښې زما نجات يوه معجزه وه. کوم احساس مې نه لاره ځکه چې اوس خو دا پېښه شوې وه. يوازې په دې خپه وم چې تر حملې مخکې مې وخت نه و پيداکړی چې خبرې ورسره وکړم. هغه خبرې چې دوی ته مې بايد کړې وای اوس به يې هېڅ وانه وري. هغه کس چې ډزې راباندې کړې وې په اړه مې يې په ذهن کې بد فکر نه لاره، د غچ په اړه مې هېڅ فکر نه کاوه. يوازې زړه مې غوښتل چې سوات او خپل کور ته لاړه شم

له هغې وروسته مې په ذهن کې ډول ډول فکرونه وګرځېدل خو نه مې شوای کولای خيال او حقيقت سره بېل کړم. د ډزو کيسه چې زما په ياد وه په بشپړه توګه يې له هغه څه سره توپير لاره چې پېښ شوي و. زه مې له پلار سره په يوه بل ګاډي کې چې د ګل په نوم نجلۍ په ګډون څو نورې نجونې هم راسره وې ناست و. چې ناڅاپه دوه طالبان راپيداشول چې تورې جامې يې اغوستې وې. له دوو څخه يې يوه زما په لور وسله ونيوه چې يوه وړه مرمۍ يې زما په بدن ونښته. په دې خيال کې مې په پلار هم ډزې وشوې.

وروسته هر څه ګډ وډ کېږي، زه د ناروغانو په يوه کټ پرته يم، هلته ډېر خلک ليدل کېږي، سترګې مې د پلار په لټه پسې سرګردانه دي. په پای کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداکوم او هڅه کوم خبرې ورسره وکړم خو خبرې نه شم کوی. په نورو خیالونو کې به په نورو ځایونو وم لکه په اسلام آباد کې د جناح بازار، د چینې بازار چې هلته ناڅاپه ډزې راباندې کېږي. آن یو ځل مې خوب لیده چې ډاکټر هم د طالبانو له ډلې څخه وي.

کله به چې په هوښ راتلم، زړه مې غوښتل چې په دې پېښو پوهه شم. څوک به چې راتلل اجازه یې نه لرله چې خپل موبایل هم د ننه راوړي، خو ډاکټرې فیونا به هر وخت خپل آیفون ورسره راووړ ځکه چې هغه د بېړنیو حالاتو ډاکټره وه. کله به چې هغې آیفون کېښود غوښتل به مې په ګوګل کې خپل نوم وپلټم، خو سخته وه ځکه چې د سترګو د لید د ستونزې له امله مې نه شوای کولای توري سم ولیکم. غوښتل مې بربېښنالیک مې خلاص کړم خو پټ نوم مې یې په یاد نه و.

په پنځمه ورځ مې خبرې کړای شوای خو غږ مې د پخوا په څېر نه و. کله چې ریحانه راغله له اسلامي اړخه مو د حملې په اړه خبرې وکړې. هغې ته مې وویل:

- هغوی په ما ډزې وکړې؟

هغې ځواب راکړ:

- هوکې همداسې ده. د نړۍ هېڅ مسلمان باور نه شي کوی چې یو څوک دې داسې جنایت وکړای شي. مور مې وایي کېدای شي هغوی مسلمان نه وي. دوی داسې کسان دي چې ځانونو ته مسلمانان وایي خو عملونه یې اسلامي نه دي.

موږ د دې په اړه چې د بېلابېلو او مشخصو دلایلو له امله ټولې پېښې څه ډول رامنځ ته کېږي او بله دا چې زده کړه نه یوازې د نارینه و بلکې د ښځو حق هم دی، خبرې وکړې. ما د یوې مسلمانې نجلۍ په توګه د خپلو زده کړو د حق په اړه خبرې وکړې.

****

څنګه چې په خبرو کولو وتوانېدم د ډاکټر جاوېد په ټلیفون مې له مور او پلار



سره خبرې وکړې. دې ته په اندېښنه کې وم چې غږ به مې بل ډول اورېدل کېږي. له همدې امله مې له پلاره وپوښتل:

غږ مې بدل شوی دی؟

ځواب یې راکړ:

- نه د پخوا په څېر دی او نور به هم ښه شي. ډېره خو په عذاب نه یې؟

ومې ویل:

- ښه یم خو د سر درد مې دومره سخت دی چې نور یې زغمی نه شم.

پلار مې ډېر پرېشانه شو. فکر کوم هغه زما د سر له درد څخه په لوی درد اخته شو. په ټولو اړیکو کې به یې پوښتنه کوله چې آیا سر درد مې ښه شوی دی کنه؟ له هغې وروسته به مې یوازې ورته ویل چې حالت مې ښه دی. زړه مې نه غوښتل هغه ناآرام شي یوازې دا پوښتنه مې ترې کوله چې دوی څه وخت راځي؟

تر دې وخته یې د راولپنډۍ په روغتون کې یوه اونۍ تېره کړې وه او له دې نه وو خبر چې بېرمېنګهم ته به څه وخت لېږل کېږي. مور مې دومره ناهیلې شوې وه چې پلار ته مې یې ویلي و: «که تر سبا پورې د تلو خبر رانه کړي زه د خوړو اعتصاب کوم.»

وروسته مې پلار امنیتي مامور ته ورغلی او هغه ته یې دا خبره کړې وه. هغه مامور وېرېدلی و او پلار ته یې ویلي وو چې اسلام آباد ته به یې د سفر کارونه برابر کړي او هلته به هرڅه ورته ترتیب کړل شي.

کله مې چې پلار بېرته مور ته راغئ ورته ویې ویل: «ته یوه لویه ښځه یې. تل به مې فکر کاوه زه او ملاله ښه مبارزین یو خو ته د شکایت په کړلو تر موږ ښه پوهېږې.»

دوی په اسلام آباد کې «د کشمیر کور» هوټل ته چې د پارلمان د غړو له پاره ځانګړی شوی دی ولېږل شول. تر اوسه هم تر سختو امنیتي تدبیرونو لاندې و، آن که به مې پلار سلمانی ته هم تلو یو پولیس به یې تر څنګ ناست و، نه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمان یې غاړه ټپي کړي.

اوس یې د دوی ټلیفونونه هم ورکړي له یو بل سره مو ډېرې خبرې وکړې. هر وخت به چې ډاکټر جاوېد له پلار سره اړیکه نیوله د هغې مبایل به بوخت و. بیا مې د مور یوولس رقمي شمېره ورکړه، ډاکټر جاوېد حیران شو، فکر یې وکړ چې حافظه مې ښه کار کوي.

خو مور او پلار مې تر اوسه په ستونزو کې ژوند کاوه. دوی نه پوهېدل چې ولې تر اوسه بېرمېنګهم ته لېږل شوي نه دي. ډاکټر جاوېد هم نه پوهېده چې ولې تر اوسه هغوی راغلي نه دي.کله چې هغوی وویل چې دوی هم د دې انتظار په لامل نه پوهېږي، جاوېد اړیکه ونیوه بیا یې دوی ته ډاډ ورکړ چې ستونزه پوځ نه ده جوړه کړې ستونزه په دولت کې ده.

د کورنیو چارو وزیر رحمان ملک هیله لرله چې له دوی سره یو ځای بېرمېنګهم ته راشي ځو په روغتون کې یو ګډ مطبوعاتي کنفرانس ولري. همدا لامل شوی و چې د دوی سفر ځنډېدل شي. هغه همدا راز غوښتل ډاډه شي چې مور به د انګلېستان له دولت څخه د سیاسي پناه غوښتنه نه کوو ځکه چې دا به یې د دولت له پاره تر ټولو لوی شرم وي. په پای کې یې په څرګنده پوښتنه ترې وکړه چې آیا داسې کوم هوډ لري او کنه. ډېره د ملنډو وړ وه ځکه چې مور مې تر اوسه سیاسي پناه نه پېژنده او پلار مې هم هېڅ کله د داسې یوې موضوع په اړه فکر نه و کړی.

کله مې چې کورنۍ د کشمیر په کور کې ځای په ځای شول، هلته یې له سونیا شهید سره چې د شیذې مور وه کتلي و. هغه نجلۍ چې د خوشال ښوونځي نجونو ته یې د اسلام آباد د سفر امکانات برابر کړي و. هغې فکر کړی و چې دوی له ماسره انګلېستان ته راغلي خو کله چې پوه شوې وه چې دوی تر اوسه په پاکستان کې انتظار دي حیرانه شوې وه. دوی ته ویل شوي و چې د بېرمېنګهم لور ته هېڅ ټکټ نشته.

سونیا دوی ته جامې راوړې وې ځکه چې دوی هر څه په سوات کې پرېښي و.



بیا یې د زرداري د دفتر د ټلیفون شمېره پلار ته راوړې وه. پلاره اړیکه یې ورسره نیولې وه او زرداري ته یې پیغام پرېښی و. په همدې شپه زرداري دوی ته زنګ وهي او د هر څه ضمانت ورته کوي چې ورته برابر به یې کړي. سونیا د هغو کلونو په اړه خبرې وکړې چې په زندان کې وه ویلي یې وو: «زه په ښه توګه پوهېږم چې له اولاد څخه بېلتون څومره سخت وي.»

د دې په اورېدو سره مې چې دوی به تر دوو ورځو پورې به په بېرمېنګهم کې وي یوازې یوه هیله ترې وکړه. پلار ته مې وویل:

«د ښوونځي بکس مې درسره راوړه. که سوات ته نه شې تلای خیر دی نور کتابونه راته واخله. د مارچ په میاشت کې آزموینې پیلېږي.» زړه مې غوښتل بیا هم لومړۍ درجه واخلم. تر ټولو ډېر مې غوښتل فزیک مې راوړي ځکه چې د دې کتاب درسونه تر نورو یو څه سخت دي، باید چې شمېرې یې تمرین کړم. فکر مې کاوه چې د نوومبر په میاشت کې به خپل کور ته لاړ شو.

د مور او پلار راتلو لس ورځې وخت ونیو. له دوی پرته راته هغه لس ورځې د سلو ورځو په اندازه اوږدې شوې. ورځې او شپې ډېرې سترې کوونکې وې، سم خوب مې هم نه راته. د کوټې ساعت ته به مې کتل د وخت تېرېدو ډاډ را کاوه چې ژوندۍ یم. په ژوند کې د لومړي ځل له پاره سهار وختي ویښېدم.

په حقیقت کې به هره ورځ سهار په اوو بجو کله به چې نرسان راتلل له خوبه ویښېدم. نرسانو او مېرمن فیونا به لوبې راسره کولې. د روغتون کارکوونکي او نرسان پر ما ډېر مهربانه و، په ځانګړې توګه آیما چودري[i] او سرطبیب جولي تریسي[ii] چې ترځنګ به مې کېناستل او لاس به مې یې نیوه. د پاکستان مې یوازې یو ټکری لاره چې ډګروال جنید زما له پاره د ډالۍ په څېر ډاکټر فیونا ته ورکړی و. وروسته دوی پلورنځي ته تللي وو او جامې یې راته اخیستې وې.

دوی نه پوهېدل چې یوه نوې سواتۍ پېغله څه ډول جامې اغوندي. دوی د لنډو

---

[i] Yma Choudhury
[ii] Julie Tracy

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیسونو، پتلونونو، د خوب جامو، او جرابو له ډکو کڅوړو سره کوټې ته راغلل. آیما پوښتنه وکړه: «کوم رنګ دې خوښېږي؟» البته چې زما خړ رنګ خوښېده. دوی به له دې امله راته اندېښنه کوله چې ډوډۍ مې نه خوړه خو اصلاً مې د دوی د روغتون خواړه نه خوښېدل. له دې هم وېرېدم چې حلال دي کنه. نرسانو پوښتنه رانه وکړه:

- څه ډول خواړه دې خوښېږي؟

ځواب مې ورکړ:

- سور کړی چرګ.

آیما به هره غرمه سور کړی چرګ او کچالو راته اخیستل، آن چې یوه ورځ یې خپله خواړه راته پاخه کړل.

هغوی زما د ساعت تېري له پاره یو ډي وي ډي فلېیر راووړ. لومړی فلم مې چې ولید «د بېکهم په څېر یې شوټ کړه» و، د یوې سک مذهبه[i] نجلۍ کیسه وه چې له خپلو ناخوښو فرهنګي دودونو سره یې مبارزه کوله او له فوټبال سره یې مینه وه. په دې فلم کې چې کله نجونو په نیمه لوڅو ځانونو د فوټبال لوبه کوله ورته حیرانه شوم له نرسانو مې هیله وکړه چې بند یې کړي.له هغې وروسته به هغوی کارټوني فلمونه راته راوړل. د خرش پرش (شرک) فلمونه مې وکتل. کیڼې سترګې مې تر اوسه هم سم څه نه لیدل، له همدې امله به مې د فلم کتلو په وخت کې پټوله، له کیڼ غوږ مې وینه راتله، په هغه کې به یې هر وخت مالوچ اېښودل. یوه ورځ مې چې لاس په خېټه اېښی و له یوه نرس پوښتنه وکړه:

- دا را وتلي څه شی دي؟

معده مې لویه او کلکه شوې وه خو په دلیل یې نه پوهېدم.

ځواب یې راکړ:

- د سر د کاسې یوه برخه دې ده.

ډېره ووېرېدم.

---

[i] سیک د هند په دینونو کې د شاګرد په معنی دی



د خبرو له پیل وروسته، د لومړي ځل له پاره دویم ځلي وګرځېدم. لاسونو او پښو مې هېڅ ستونزه نه لرله، پرته له ښي لاس څخه مې چې په سمه توګه یې حرکت نه کاوه، ځکه چې مرمۍ مې ورمېږ ته ننوتې وه له همدې امله په لاره ګرځېدای نه شوی. لومړي قدمونه مې دومره په سختۍ اخیستل، داسې مې احساسوله چې سل کیلومتره منډه مې کړې ده. ډاکټرانو ویل چې ښه به شم یوازې مې فزیوتراپي ته اړتیا لرله چې عضلې مې بېرته کار پیل کړي.

یوه ورځ یو بل فیونا راغئ، فیونا الکساندر هغې راته وویل چې د روغتون د مطبوعاتي څانګې مسول دی. ډېره راته په زړه پورې وه ځکه چې هېڅ کله فکر نه شم کولای چې د سوات کوم روغتون دې یوه مطبوعاتي څانګه ولري. څو پورې چې د مطبوعاتي څانګې مسول نه و راغلی نه پوهېدم چې څومره تر پاملرنې لاندې یم.

د پاکستان د پرېښودو تصویرونه او دا چې بېرمېنګهم ته ځو خپاره شوي وو او رسنۍ هم ژر پوهېدلې وې چې مطلب مو بېرمېنګهم دی. زموږ د رارسېدو سره سم د سکای نیوز هلیکوپټر ډېر ژر د روغتون په سر دورې وهي د جاپان او استرالیا په ګډون له ټولې نړۍ څخه دوه سوه او پنځوس خبریالان روغتون ته راغي. فیونا الکساندر د خبریالۍ شل کلنه تجربه لرله او د بېرمېنګهم پوسټ[i] اېډېټر هم و. سره له دې هغه په ښه توګه پوهېدو چې هغوی ته څه ډول خبر ورسوي او روغتون ته د دوی د راتلو مخه ونیسي. له هغې وروسته به روغتون زما په اړه خبرونه د رسنیو او خبریالانو په واک کې ورکول.

ډېر شخصیتونه له ماسره د کتنې له پاره انتظار وو، دولتي وزیران، دیپلوماتان، سیاستوال او آن د کنتربري[ii] له ښار څخه د لوی رهبر استازی هم راغلی و. ډېرو یې د ښایسته ګلونو ګېډۍ راته راوړې وې.

یوه ورځ فیونا الکساندر د کارډونو او د لوبو د سامانونو یوه ډکه کڅوړه راته راوړه.

---

[i] Birmingham Post

[ii] Canterbury. د انګلیستان په جنوب ختیزه برخه، د کنت په ولسوالۍ کې یو ښار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر مې کاوه چې دا ډالۍ به مسلمانانو د لوی اختر له امله رالېږلې وي خو کله مې یې چې د رالېږلو نېټې ولیدې چې د ډېر مخکې وخت دي پوه شوم چې تر اختر پورې هېڅ اړه نه لري. دا ډالۍ د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه وې چې ماته یې د روغتیا هیله کوله چې ډېری یې د زده کوونکو له خوا وې. زه ډېره حیرانه وم او فیونا په خندا وویل:

- تر اوسه دې ټول نه دي لیدلي!

هغه وویل چې تر اوسه یې ډېرې کڅوړې او د آټو زرو په شاوخوا کې کارډونه نه دي کتلي. چې ډېرو یې پټه لیکلې وه: «بېرمېنګهم د ملالې روغتون» یوه یې آن داسې لیکلي و: «هغې نجلۍ ته چې حمله پرې شوې وه، بېرمېنګهم» په دې پټه هم تر روغتون پورې را رسېدلي وو. ډېرو هم د لورولۍ وړاندیزونه کړي وو لکه زه چې کورنۍ نه لرم او آن یوه خو له ماسره د واده وړاندیز هم کړی و.

ریحانې ویل چې له ټولې نړۍ څخه په میلیونونو ماشومانو له ما څخه ملاتړ ښودلی او دعا یې راته کړې ده. وروسته مې پام شو چې زما ژوند خلکو ساتلی و.

خلکو نورې ډالۍ هم رالېږلې وې. ډېر کارتنه شیریني او ډول ډول نانځکې په ډالیو کې ښکارېدې.

تر ټولو قېمتي ډالۍ د بې نظیر بوټو د زامنو بلاول[i] بوټو او بخت آور[ii] له خوا وې. د ډالیو په منځ کې یې د خپلې مور دوه ټکري راته لېږلې وو. هغه وخت مې یې شالونه پوزې ته نژدې کړل چې د بې نظیرې بوی په کې حس کړم. وروسته مې په یوه کوټي تړل شوی یو تور اوږد وېښته، پیداکړ چې دا ماته تر ټولو بهترینه ډالۍ ښکاره شوه.

هغه وخت پوه شوم چې طالبانو پر دې حملې سره زما مبارزه نړیواله کړې وه.

په داسې حال کې چې په تخت د نوې نړۍ له پاره لومړیو قدمونو اخیستو ته انتظار وم، د ملګرو ملتونو د ښوونې او روزنې استازی ګورډن براون[iii] او د

(i) Bilawal
(ii) Bakhtawar
(iii) Gordon Brown



انګلېستان پخواني لومړي وزیر د «زه ملاله یم» په شعار سره یوه بیانیه صادره کړه چې تر ۲۰۱۵ م کال پورې به هېڅ شاګرد هم له ښوونځي څخه نه بې برخې کېږي. د دولت، وزیرانو، د فلم د لوبغاړو او همدا راز زموږ د وروستي والي سر اولاف کرویه مشرې لور[i] له خوا پیغامونه را ولېږل شول. هغې لیکلي وو دا چې په پښتو لیکلی او لوستلی نه شي شرمېږي. سره له دې چې بابا یې په پښتو خبرې کولې. آن چې یو پیغام زما د خوښې لوبغاړې انجیلا جولي له خوا رالېږل شوی و. زړه مې غوښتل چې دا ټول منیبې ته ووایم.

خو هغه وخت نه پوهېدم چې بیا به کور ته لاړه نه شم.

(i) Sir Olaf Caroe

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موسکا یې ترې غلا کړې وه

کله مې چې کورنۍ د بېرمېنګهم په لور پرواز وکړ، د ځانګړې پالنې له څانګې څخه د څلورمې کوټې پنځلسمې او نولسمې برخې ته ولېږل شوم. هغې کوټې چې څو کړکۍ یې لرلې او کولای مې شول د لومړي ځل لپاره انګلېستان ووینم. له ځانه مې وپوښتل: «نو غرونه چېرته دي؟» منظرې بارانې او مرطوبې وې، سره له دې مې له ځانه سره فکر وکړ، کېدای شي پټ شوي وي. زه تر هغې وخته نه پوهېدم چې د انګلېستان څمکه لږ لمر لري. له کوڅې او کور پرته څه نه لیدل کېږي. د سرو خښتو یو ډول جوړ کورونه چې د ټولو رنګونه هم سره ورته وو. هر څه آرام او منظم ښکارېدل.

ډاکټر جاوېد راته وویل، کورنۍ مې په لارو ده، مرسته یې راسره وکړه چې کښېنم. زه ډېره حیرانه وم. د دې شپاړسو ورځو په بهیر کې له هغه وخته چې په ډزو وویشتل شوم او په مېنګوره کې مې له خپل کور سره خدای په آماني وکړه، په څلورو روغتونونو کې بستر شوم او په زرګونو میله مې سفر کړی و. داسې مې احساسوله چې شپاړس کلونه تېر شوي دي. وروسته ور خلاص شو او آشنا غږ مې تر غوږو شو: «جانې!» اوه «زما ګرانې پیشی!»

هوکې خپله دوی وو، دوی زما لاسونه مچو کول.

د دوی مخه مې نه شوای نیولای، ډېرې اوښکې مې توېې کړې. په دې ټول



وخت کې چې په روغتون کې یوازې وم یو څاڅکی اوښکې مې نه وې بهېدلې. خو اوس مې یې مخه نه شوای نیولی. پلار او مور مې هم ژړل. احساسوله مې څه پسې چې ډېره سرګردانه وم پیدا مې کړل. ورونو مې راته ویل: «ملالې ډېر درپسې خپه شوي و.» خو ډېر ژر یې پام نانځکو ته واوښت. کله چې خوشال غوښتل په لپټاپ کې مې لوبې وکړي بیا مې شخړه ورسره پیل شوه.

مور او پلار ته مې ډېره حیرانه وم. دوی هم اوږده سفر ستړي کړي وو، دوی په دې لږ موده کې ډېر مشران ښکارېدل، د سپینو وېښتو تارونه مې یې په سر لیدل. د دوی په حالت پوهېدم چې په داسې حال کې زما په لیدلو ډېر پرېشانه وو. سره له دې چې د خپلې پرېشانۍ د پټېدو هڅه یې کوله. د ډاکټر جاوېد له راتلو مخکې یې دوی ته داسې خبر ورکړی و: «کومه نجلۍ چې غواړئ ووینئ لس په سلو کې بېرته جوړه شوې. تر اوسه پورې نوي په سلو کې جوړه نه ده.»

خو دوی نه پوهېدل چې نیم مخ مې کار نه کوي له همدې امله مې موسکا نه شوای کولای. کینه سترګه مې پړسېدلې وه، نیم وېښتان مې توېې شوي وو او خوله مې یوې خواته کږه وه، لکه ښکته چې کش شوې وي، سره له دې کله مې چې غوښتل موسکه شم، ډېره کږه ښکارېده. همدا راز مې له یوه غوږ څخه هېڅ نه اورېدل، د ماشومانو په ژبه مې خبرې کولې داسې لکه یو وړوکی ماشوم چې خبرې کوي.

کورنۍ ته مې یې د پوهنتون د محصلینو په یوه شپه غالي کې ځای ورکړ. د روغتون مسولینو فکر وکړ چې په روغتون کې به ژوند ورته سخت وي، ځکه چې ژر به د خبریالانو له خوا محاصره شي او دوی غوښتل چې له ما څخه د ریکوري په دې حساسو شېبو کې ساتنه وکړي. کورنۍ مې پرته له هغې جامو چې اغوستې یې وې او د شیذې مور سونیا ورته اخیستې وې نور څه له ځانه سره نه لرل، ځکه په نهم د اکتوبر کله چې دوی سوات پرېښود نه پوهېدل چې بیا به کور ته راشي او کنه.

کله چې شپه غالي ته لاړل، د ماشومانو په څېر یې ژړل. تر دې وړاندې زه هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت خوشاله وم او ژوندی زړه مې لاره. پلار به مې هر چا ته په ویاړ ویل: «زما آسماني موسکا او زما آسماني موسکاوې.» اوس یې په عاجزۍ سره مور ته وویل: «هغه ښکلې څېره او هغه ځلېدونکې مخ له منځه تللی. د دې له شونډو یې خندا اخیستې ده. طالبان ډېر بې رحمه دي، هغوی یې خندا ترې غلا کړې ده. یو کس ته ګرده نړۍ ورکوی شو خو خندا او خوشالي هېڅ کله هم بېرته نه ورکول کېږي.»

دا ستونزه مې د مخ د عصبي رشتې له امله وه. هغه وخت ډاکټران ډاډه نه و او ویل یې که ضرر یې لیدلی وي، کېدای شي په خپله جوړه شي. مور ته مې تسلې ورکوله که مخ مې بېرته په پخواني حالت نه وي هم یې په کیسه کې نه یم. زه هغه څوک وم چې تل به مې خپلې ظاهرې څېرې او د وېښتانو ډول ته ارزښت ورکاوه. خو کله چې څوک له مرګ سره لاس او ګرېوان وي هرڅه بدلېږي. هغه وخت مې ورته وویل:

- ماته مهمه نه ده. آن که ونه خندی شم او سترګې هم ونه رپوی شم. زه تر اوسه خپله یم ملاله یم! تر ټولو مهم دا دي چې خدای(ج) مې ژوند بېرته راته وباښه.

نو بیا به مې چې مور هر وخت روغتون ته راتله خندل به مې یا به مې هڅه کوله موسکه شم. یوه پټ خپګان به مې د مور څېره پټوله. د یوې سرچپه هنداړې په څېر وه، هر ځل به مې چې خندل د مور په څېره کې به مې پرېشاني ښکارېده. هغه وخت به مې پلار مور ته کتل. هر وخت به مې د مور په سترګو کې دا پوښتنه لوستل کېده: «ملاله ولې داسې شوې ده؟» کومه نجلۍ یې چې نړۍ ته راوړې وه او پنځه لس کاله یې په شونډو موسکا خوره وه. یوه ورځ مې پلار ترې وپوښتل:

تورپېکۍ ستا نظر څه دی؟ حقیقت ووایه. آیا دا زما ګناه ده؟

هغې ځواب ورکړ:

- نه، تا ملاله نه ده هڅولې چې غلا وکړي او یا څوک ووژني. هغې د خپل حق له پاره مبارزه وکړه.



سره له دې چې پلار مې پرېشانه و چې که په راتلونکې کې هر ځل زما موسکا وینې دا حمله به ور په یاد کېږي. یوازې دا بدلون مې نه و کړی، په سوات کې چې وم دومره حساسه وم چې د هرې ورې موضوع له پاره به مې ژړل خو اوس په بېرمېنګهم کې به مې له ډېر درد سره هم شکایت نه کاوه.

روغتون به نورو کسانو ته د راتلو اجازه نه ورکوله. څلور ورځې وروسته کله مې چې کورنۍ راورسېده یوه ډله سیاستوال روغتون ته راغلل. هغوی له دریو هېوادونو څخه چې له ماسره یې مرسته کړې وه راغلل، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر رحمان ملک، د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر وېلیام هېګ او د عربي متحده اماراتو د بهرنیو چارو وزیر شیخ عبدالله بن زاید وو. دوی اجازه نه لرله چې له ما سره ووینې. سره له دې چې له پلار او ډاکټرانو سره یې کتلي و.

پلار له دوی سره له کتنې وروسته پرېشانه ښکارېده ځکه چې رحمان ملک ورته ویلي وو: «ملالې ته ووایاست چې خپل ملت ته یوه مسکا وکړي.» ځکه دا یوازینی کار و چې وس مې یې نه لاره.

رحمان ملک پلار ته تشریح کړې وه چې ویشتونکی د عطاءالله خان په نوم یو طالب و چې په سوات کې د ۲۰۰۹ م کال په عملیاتو کې نیول کېږي او بیا له دریو میاشتو بند وروسته یې بېرته خوشې کوي. د رسنیو راپور ښوده چې هغه د جهانزېب په پوهنتون کې د فزیک په برخه کې زده کړه کړې وه. مالک ادعا وکړه چې په افغانستان کې د حملې نقشه پروګرام شوې وه. هغه ویل چې د عطاءالله د سر له پاره یې یو میلیون ډالره جایزه اېښې ده او پلار ته یې قول ورکړی و چې هغه به خامخا پیداکړي.

موږ باور ونه کړ، ځکه چې تر اوسه یې، د بې نظیر بوټو، کومو کسانو چې د جنرال ضیاء د الوتکې په راغورځولو کې لاس لاره او همدارنګه زموږ د لومړني لومړي وزیر لیاقت علي خان وژونکي هم نه وو نیولي.

پر ما له حملې وروسته یې یوازې دوه کسان نیولي وو، زموږ بې وزله ډرېور عثمان بهايي جان او د ښوونځي مالي چې د عثمان بهايي جان ټلیفون ته یې ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړی و او له دې پېښې یې خبر کړی و. مالي کس له څو ورځو بند وروسته خوشې شو خو عثمان بهایي جان تر اوسه هم له پولیسو سره دی ځکه چې کېدای شي د حمله کوونکي په پېژندلو کې له دوی سره مرسته وکړي. کله مې چې دا خبر واورېد ډېره پرېشانه شوم. عثمان بهایي جان یې د څه له پاره نیولی؟ ولې یې عطاء الله تر اوسه نه دی نیولی؟

د ملګرو ملتونو سازمان د نوومبر په لسمه چې یوه میاشت او یوه ورځ له دې ورځې وروسته ده د «ملالې ورځ» په نوم ونوموله. دې موضوع ته مې ډېر پام ونه کړ ځکه چې له دې یوه ورځ وروسته مې یو سخت عملیات په مخ کې لاره او ټاکل شوې وه چې د مخ اړوند عصبي رشتې له پاره مې عملیات وکړي. روغتون به خبریالانو ته تازه خبرونه ورکول خو د دې عملیات په اړه یې څه نه وو ورته ویلي، ځکه چې له دې باید څوک نه وای خبر شوي.

د نوومبر په یوولسمه یې عملیات خونې ته یوړم چې دغه جراحي د ریچارډ ایروینګ په نوم یو ډاکټر ترسره کړې وه. هغې ماته تشریح کړه چې دغې عصبي رېښې د مخ په یوه خوا امر کاوه او کینه سترګه مې یې پټه او لوڅه کوله او پوزه مې یې حرکت ته برابروله، پورتنۍ وروځې مې یې پورته کولې او په پای کې مې د هغې په وسیله کولای شول موسکا هم وکړم. د دې عصبي رېښې رغول دومره سخت وو چې آته ساعته او دېرش دقیقې وخت یې ونیو. ډاکټر لومړی زما غوږ له هر ډول تپ او هډوکي له ټوټو پاک کړی و او پوه شوی و چې د کیڼ غوږ پردې مې ژوبلې شوې دي. بیا یې د مخ عصبي رېښې له شقیقه هډوکي څخه چې د سر کاسې ته ننوزي پسې واخیستې او د هډوکو ټوټې چې زما ژامه یې له حرکته غورځولې وه پورته کړې. وروسته پوه شو چې دوه سانتي متره عصبي رېښه په بشپړه توګه له منځه تللې وه.

عملیات په ښه توګه ترسره شول، سره له دې چې درې میاشتې وخت یې ونیو. په دې سره به مې د مخ کینه خوا ورو ورو په حرکت پیل وکړي. ماته یې ویلي وو چې هنداري ته مخامخ مخ ته ورزش ورکړم.



ښاغلي ایروینګ وویل چې له شپږو میاشتو وروسته به عصبي رېښه دویم ځلي په کار پیل وکړي. سره له دې چې هېڅ کله به هم د پخوا په څېر نه وي. خو ډېر ژر مې موسکا وکړه او سترګې مې ورپولې او همدارنګه د اونیو په تېرېدو سره مې مور او پلار په مخ کې نوي حرکتونه لیدل.

سره له دې چې مخ زما و خو مور او پلار مې له ما څخه ډېر خوشاله کېدل. وروسته ښاغلي اېروینګ وویل چې د روغتون په تېرو شلو کلونو کې د مخ عصبي رېښو دا تر ټولو ښه پایله وه، په دې وخت کې اتیا په سلو کې ښه شوې وم.

ورو ورو مې د سر درد هم ورک شو، بېرته مې کولای شوی مطالعه وکړم. د «اوز حیرانوونکي جادوګر» کتاب مطالعه مې پیل کړه چې ګورډن براون راته رالېږلی و. د دوروتي کیسه وه چې له هڅو سره یې څه ډول کور ته تلو او د بې زړه زمري او اوسپنیز سړي په څېر تریو و چې زه یې ځانته جذب کړم.

هغه باید له ډېرو خنډونو څخه تېر شي ترڅو خپل مقصد ته ورسېږي او زه فکر کوم کله چې وغواړئ خپلې موخې ته ورسېږئ، کېدای شي ستاسې په مخ کې خنډونه شته وي خو حقیقت دا دی چې باید له ناهیلۍ پرته ادامه ورکړئ. زه د دې کتاب له مطالعې دومره اغېزمنه وم چې کیسه مې یې پلار ته هم وکړه. هغه ډېر خوشاله و ځکه پوهېده چې حافظه مې کار کوي یو څه یادوی شم او په جزیاتو یې بېرته تشریح کوی شم، نو حافظه مې په ښه توګه کار کوي.

زه پوهېدم چې مور او پلار مې حافظې ته اندېښنه لري، ځکه چې دوی ته مې وویل چې د حملې وخت مې په یاد نه دی او همدا راز مې د خپلو ملګرو نومونه هېر کړي و. یوه ورځ مې پلار پوښتنه وکړه:

- ملالې کولای شې پښتو ټپې راته ووایې؟

دا ټپه ورته وویله:

- که خپل سفر د یوه مار له لکۍ څخه پیل کړئ، ستاسې مطلب به د هغې د سر له زهرو ډکه نړۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه بیت د پاکستان چارواکو ته اشاره کړې چې په لومړیو کې یې له ملېشو څخه ګټه واخیسته خو اوس په هغې ځا کې چې خپله یې ژور کړی و لوېدلي دي.

وروسته مې وویل:

- زه غواړم چې یوه ټپه له سره ولیکم.

دغه ټپې زموږ د سیمې د سل کلن حکمت یوه برخه ده او نه باید چې هغه بدل کړو.

- کوم شعر؟

ځواب مې ورکړ:

- دغه ټپه:

که له زلمو نه پوره نه شوه
ګرانه وطنه جینکۍ به دې ګټینه

خو زما زړه غواړي چې داسې شي:

که له زلمو نه شوه که نه شوه
ګرانه وطنه جینکۍ به دې ګټینه

پلار وخندل او د تل په څېر یې دا کیسه بیا هم راته تشریح کړه.

***

په لوبغالي کې مې له یوه فیزیوتراپیست سره تمرین کاوه چې پښې او لاسونه مې ښېرته په ښه توګه حرکت وکړي.

د ډسمبر په شپږمه د لومړي ځل له پاره له روغتون څخه ووتم.

آیما ته مې ویلي وو چې په طبیعت مینه یم، هغه یو پروګرام راته جوړ کړی و چې دوه تنه کارکوونکي زه او مور مې بېرمېنګهم بوتانیکال بڼ ته چې له روغتون سره نږدې دی لاړ شو. هغوی مې پلار ته اجازه ور نه کړه چې له موږ سره لاړ شي. دا



چې پلار په رسنیو کې ډېر ښکاره شوی و نو کېدای شي څوک یې وپېژني. سره له دې ډېره خوشاله وم او د لومړي ځل له پاره چې بهر ته ووتم انګلېستان او په ځانګړې توګه بېرمېنګهم مې ولیدل.

ماته ویل شوي وو چې باید په ګاډي کې له کړکۍ سره نږدې نه بلکې د ګاډي په منځ کې کېنم. زړه مې غوښتل د دې نوي هېواد ننداره وکړم. په اصل کې متوجه نه شوم چې د ګاډي په منځ کېناستل زما د ساتنې له امله و.

کله چې باغ ته ننوتم او ټول بوټي او ونې مې ولیدې، د خپلې سیمې یادونو ته لاړم. ویل مې: «دغه بوټی په سوات کې هم شته. دغه بل یو هم لرو.»

زه د خپلې درې په بوټو ډېره ویاړم.

عجیبه ښکارېده چې د نورو لیدونکو له پاره یوه معمولي ورځ وه. خو ما عجیب احساس لاره، کله چې سفر پای ته ورسېد، مور مې ډېره حیرانه وه.

هوا دومره سړه وه چې یوې کافي ته ننوتو چای او خوندور کیک مو وخوړل.

دوه ورځې وروسته آصف علي زرداري زما لیدنې ته راغئ. روغتون یې له ماسره په کتنه خوښ نه و ځکه چې د خبریالانو ګڼه ګوڼه کېده، خو پلار مې نه شوای کولای دا کتنه رد کړي. زرداري نه یوازې دا چې زموږ ولسمشر و بلکې اعلان یې کړی و چې دولت به زما د درملنې ټول لګښتونه ورکړي چې دوه ویشت زره پونډه کېږي. دوی همدا راز په بېرمېنګهم کې زما د کورنۍ له پاره یو کور هم اجاره کړی و. دغه لیدنه د ډسمبر په آتمه د شنبې په ورځ وه او د جیمز بانډ فلم ته ورته وه.

بهر ډېر شمېر خبریالان راغونډ شوي وو، دوی فکر کاوه چې ولسمشر زرداري به په روغتون کې له ماسره ووینې. خو دوی زه چې یوه خولۍ مې په سر وه په یوه لوی ارغواني رنګه کټ کې د کارکوونکو د راتګ په دروازه د دفتر په لور یوړم. خبریالان او عکاسان مې لیدی شوای خو دوی هېڅ پوه هم نه شول. وروسته په دفتر کې انتظار شوم. تر دې چې زرداري او کسان یې په دوو ګاډیو کې را ورسېدل، هغوی یې د شا له دروازې څخه ننه ویستل. لس کسان نور هم ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، د کار کوونکو رییس، د دفاع وزیر او په لندن کې د پاکستان کمېشنر چې له فیونا وروسته مې یې د مور او پلار تر راتلو پورې زما مسولیت په غاړه اخیستی و. ډاکټرانو په لومړیو کې هغه ته تشریح کړې وه چې زما مخ ونهه ګوري خو وروسته هغه له خپلې ورې لور آصفې سره چې څو کاله له ما مشره وه راغئ. دوی ماته یوه د ګلونو ګېډۍ راوړې وه. لاس یې زما په سر کېښود، په واقعیت کې دا یو زموږ له دودونو څخه دی. خو پلار مې اندېښمن و ځکه چې ما له پوست پرته څه نه لرل او هېڅ هډوکي مې د ماغزو ساتنه نه کوله او د سر هغه برخه مې تر ټکري لاندې پټه وه. وروسته مو ولسمشر د پلار تر څنګ کېناست ویې ویل موږ ډېر ښه چانس لرو چې ملاله مو انګلېستان ته را وستلې ده.

ویې ویل:

- په پاکستان کې هم جوړېده خو په دې اندازه نه لکه اوس چې ده. اوس دویم ځلي خندلی شي.

ښاغلي زرداري کمېشنر ته وویل چې پلار ته مې د ښوونې او روزنې یوه بوختیا پیداکړي چې وکولای شي خپل عاید تر لاسه کړي او همدارنګه یې هوډ وکړ یو ډیپلوماتیک پاسپورټ هم ورکړي چې په انګلېستان کې پناه اخیستو ته یې اړتیا پیدا نه شي. پلار مې د آرامۍ احساس وکړ ځکه چې د لګښت په اړه یې ډېره اندېښنه لرله. ګورډن براون هم ترې غوښتې وو مشاور یې شي او دا خبره هم ولسمشر ومنله ویل یې کولای شي دواړه دندې ترسره کړي. د ښاغلي زرداري له جلسې وروسته یې موږ رسنیو ته دا ډول ور وپېژندو: «یوه عجیبه نجلۍ او د پاکستان عزت»

تر اوسه هم هم په پاکستان کې تر اوسه داسې کسان و چې زما په اړه یې سم فکر نه کاوه. سره له دې چې پلار مې هڅه کوله دا موضوع رانه پټه کړي، پوهېدم چې ځینو کسانو شک لاره چې په ما ډزې شوې وې که نه او یا هم موږ په بهر کې د ژوند کولو له پاره صحنه جوړه کړه.

د ۲۰۱۳ م کال پیل زما له پاره خوشالوونکی و، ځکه چې د جنوري په لومړیو



کې له روغتون څخه رخصت شوم او د دویم ځل له پاره مې کولای شول له کورنۍ سره مې یو ځای ژوند وکړم. د پاکستان کمېشنر په بېرمېنګهم کې یو ډېر ښایسته او موډرن اپارتمان راته په اجاره کړی و. زموږ اپارتمان په لسم پوړ کې و. ما به سر د مور په سر اېښود، ځکه چې موږ د زلزلې په کال چې په دویم پوړ کې اوسېدو ویلي وو چې بیا به هېڅ کله هم په اپارتمان کې ژوند نه کوو. پلار مې ویل مور ودانۍ ته په رسېدو سره وېرېدلې وه ویلي یې وو: « زه په دې لېفټ کې مړه کېږم.»

له دې امله چې بیا مو له یو بل سره ژوند کاوه ډېره خوشاله وم. وروڼه مې له ښوونځي او ملګرو یې لرې وو چې یو څه خپه ښکارېدل. سره له دې چې نوي ژوند اتل حیران کړی و. سوړ ژمی و، کله به چې واوره اورېده او د لویو هندارو لرونکو کړکیو څخه به مو یې ننداره کوله، زړه به مو غوښتل چې د مېنګورې د کور په څېر مو بهر ووزو او د واورې دانې چې ځمکې ته راښکته کېږي په لاسونو کې ونیسو. کله به د ګرځېدو له پاره بهر وتلو چې بدني ځواک مې لوړ شي خوبیا به هم ډېره ژر ستړې کېدم.

په هغې سیمه کې د کوستا په نوم یوه د شیشه یي دېوالونو لرونکې کافي وه چې هلته به نارینه او ښځې داسې له یو بل سره نژدې کېناستل چې په سوات کې د داسې څه فکر هم نه کېده. اپارتمان په یوه مشهوره کوڅه براډ سټریټ کې و چې نوموړې کوڅه له پلورنځیو او د شپې له کلبونو څخه ډکه وه. سره له دې چې زه له اخیستلو سره مینه نه لرم خو بیا هم دې پلورنځیو ته تلم. کله به مې داسې ښځې لیدلې چې په ساړه ژمي کې به یې یوازې لنډ شلوار اغوستی و پښې به یې لوڅې وې او د لوړو څوکو بوټونه به یې په پښو و. مور مې ډېره حیرانه وه له پلاره یې غوښتنه وکړه:

- هیله کوم ما دوبۍ ته بوزه، زه دلته ژوند نه شم کولای.

موږ ته یې خبر راکړی و چې د اونۍ په رخصتیو کې په براوټ سټریټ کې تر ناوخته پاتې نه شو ځکه چې کېدای شي خطرناک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ډول شونې ده چې د اوسېدلو د پخوانۍ سيمې په پرتله دې خطرناک وي؟ آيا د هغې ځای د خلکو سرونه طالبانو له تنې بېلول؟ مور او پلار ته مې ونه ويل خو هر وخت به چې کوم کس د آسيا خلکو ته ورته و او رانژدې به شو ترې وېرېدم به. فکر مې کاوه چې ټولو تر کاليو لاندې يوه تپانچه پټه کړې.

په اونۍ کې به مې يو ځل د سکايف له لارې په مېنګوره کې له خپلو دوستانو سره خبرې کولې، دوی ويل چې تر اوسه هم زما په ياد يوه چوکۍ تشه پرېږدي. زموږ ښوونکي د پاکستان د مطالعې د آزموينې پاڼه چې په دې ورځ په ما حمله وشوه. ټولګي ته راوړې وه او ما پوره نمرې اخيستې وې خو دا چې په نورو آزموينو کې مې برخه اخيستې نه وه ملکه نور اول نمره شوې وه. اوس د ملکه نور او منيبې تر منځ سيالي وه.

ملکه نور راته وويل:

- له تا پرته سيالي بې خونده ده.

هره ورځ پياوړې کېدم، خو تر اوسه مې د جراحي کارونه پای ته نه و رسېدلي. د سر د کوپړۍ يوه برخه مې تر اوسه په معده کې پرته وه. ډاکټران مې د اورېدو ستونزې ته په اندېښنه کې وو. کله به چې د پلې تګ له پاره بهر وتلم، په ګڼه ګوڼه کې به مې د مور او پلار خبرې نه اورېدې.

د فبرورۍ په دويمه د يکشنبې په ورځ د يوې بلې جراحۍ له پاره د ملکې اليزابيت روغتون ته لاړم. دا ځل د انون وايټ په نوم يوه ښځه جراحه وه. لومړی يې له معدې څخه د سر د کوپړۍ هډوکی را وويست. وروسته يې هوډ وکړ چې په خپل ځای يې کېنږدي ځکه کېدای د مکروبي کېدو له ګواښ سره مخ شي. هغه يو کرانيوپلارستيتيتانيوم ترسره کړ او د تيتانيوم يوه پاڼه يې چې قالب کړې وه زما په سر کې کېښوده.

د عمليات په کوټه کېچې وم، ښاغلي ايروينګ چې زما د عصبي رېښې جراحي يې کړې وه د کيڼ غوږ د پردې له پاره مې يې د يوې لارې وړانديز وکړ. هغه د حلزوني کرلو په نوم يوه وړه الکټرونيکي دستګاه د سر او غوږ تر څنګ کېښوده او



ماته يې وويل چې له يوې مياشتې وروسته به مې غوږونه جوړ شي.

تقريباً پنځه ساعته د عمليات په کوټه کې وم او درې عملياته مې وکړل خو له پنځو ورځو وروسته مې ببرته کورنۍ ته لاړم. له څو اونيو وروسته کله چې د غوږ تر څنګ مې يې يوه آله لګېدلې وه، کيڼ غوږ مې د لومړي ځل له پاره خبرې واورېدې. په لومړيو کې غږونه ډېر عجيبه و خو ورو ورو سم شول.

موږ انسانان نه پوهېږو چې خدای(ج) څومره لوی ذات دی. هغه موږ ته يو فوق العاده مغز او له مينې ډک زړه راکړی دی. شونډې او ژبه چې په هغې سره کولای شو خبرې وکړو او خپل احساسات پرې بيان کړو. دوې سترګې چې د نړۍ ښکلاوې او رنګونه پرې وينو. دوې پښې چې د هغې په وسيله د ژوند په سرک تګ کوو. دوه لاسونه چې زموږ له پاره کار کوي. يوه پوزه چې د هغې په واسطه د ژوند ښه بوی حس کوو. دوه غوږونه چې د عشق خبرې پرې اورو. هېڅوک نه پوهېږي چې د بدن په هر غړي کې يې څومره قدرت پروت دی خو هغه وخت پوهېږي چې يو يې له لاسه ورکړي.

زه مې له خپل لوی خدای(ج) څخه د دې زحمت ويستونکو ډاکټرانو له امله چې زما د بيا جوړېدو له پاره يې هڅې وکړې او د دې له پاره چې زه يې دې دنيا ته راوګرځولې يم مننه کوم. ځينې انسانان سمه لاره ټاکي او ځينې يې بيا بې لارې کېږي. يوه انسان د يوې مرمۍ په وسيله ټپي کړم. ماغزو مې پړسوب پيداکړ، د اورېدو حس يې رانه واخيست. د مخ د کيڼ لوري عصبي رېښو ته مې يې ضرر ورساوه. وروسته په ميليونونو انسانانو زما د نجات له پاره دعا وکړه او ډاکټرانو مې بدن بېرته راکړ. زه ښه نجلۍ وم. هيله مې يوازې دا وه چې له خلکو سره مرسته وکړم چې دا د ډالۍ او يا پيسو له پاره نه وو. تل به مې له خدای(ج) سره راز او نياز کاوه: «زړه مې غواړي له خلکو سره مرسته وکړم. هيله کوم په دې لاره کې مې يوازې مه پرېږده.»

يو طالب په يوه ون ګاډي کې په دريو نجونو ګولۍ اوروي خو يوه يې هم نه مړه کېږي. داسې کيسه عجيبه ښکاري، خلک زما روغتيا يوه معجزه بولي. زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرې شازيې چې دوه مرمۍ يې پر بدن لګېدلې وې، د اتلانتيک ولز له کالج څخه يې د زده کړې يو بورس تر لاسه کړ. سره له دې هغه هم د زده کړو له پاره انګليستان ته راغلې وه. زه د کاينات له پاره هم داسې هيله لرم. زه پوهېږم چې خدای(ج) مورږ له مرګ څخه وساتلو. او انګېرم چې دا زما دويم ژوند دی. خلکو زما د ساتنې له پاره دعا وکړه او اوس زه يوزاې د يوه دليل له امله ژوندۍ پاتې شوې يم او غواړم له دې ژوند څخه د خلکو د خدمت له پاره ګټه واخلم.
کله چې خلک د هغې مرميو او پېښو په اړه خبرې کوي، له ځان سره فکر کوي چې دا د ملالې کيسه ده: «هغه نجلۍ چې د طالبانو له خوا ترور شوه.» او زه هېڅ کله هم داسې نه احساسوم چې دا دې زما د ژوند کيسه وي.



## وروستۍ خبرې

# يو ماشوم يو ښوونکی، يو کتاب او يو قلم

بېرمېنګهام د ۲۰۱۳ م کال اګسټ
د مارچ په مياشت کې له هغه اپارتمان څخه يوه کرايي کور ته لاړو. هر ځای په رنګه کاغذونو پوښل شوي کارتنونه چې ټول له کاړدونو او صميمانه ليکونو څخه ډک وو ليدل کېدل. په يوه کوټه کې يوه پيانو ايښې وه چې زمورږ د يوه هم زده نه وه. مور په دېوالونو او چتونو د يوناني خدايانو او حکاکي شوو پرښتو له ليدو ناخوښه ښکارېده.
کور مو ډېر لوی او تش ښکارېده، يوه برېښنايي اوسپنيزه دروازه يې لرله، شاته يې يو لوی باغ و چې ډېرې ونې او زمورږ د کرکټ له پاره يې يو لوی چمن لاره. خو د لوبو له پاره يې هېڅ بام نه لاره او هېڅ يو ماشوم په کوڅو کې له ګوډيانو (کاغذ پرانونو) سره نه ليدل کېده، آن ګاونډيان هم نه ليدل کېږي چې زمورږ کور ته راشي او ديوه ځاښت وريجې په پور يوسي او يا هم له دوی څخه په پور څو چرګان راوړو. مورږ د څنګ له کوره يوازې يو دېوال واټن لرو خو دا واټن د څو ميله په ډول ښکاري.
کله چې بهر ګورم مور مې وينم چې ټکری يې په سر دی، په باغ کې قدم وهي او الوتونکو ته دانه ورکوي. داسې ښکارېده چې تر شونډو لاندې کومه سندره هم وايي، کېدای شي همغه د خوښې ور ټپه يې وي:

د باغ کوترې مو مه وژنه
که يوه مړه کړې نورې نه راځي مينه

هغه د شپې پاتې خواړه الوتونکو ته ورکوي، اوښکو يې په سترګو کې کړۍ جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. اوس هم د پخوا په څېر ډوډۍ خورو، د غرمې او شپې له پاره وريجې او غوښه د سهار په چای کې مو د چرګې هګۍ او یا هم شات وي. خو هر وخت به يو څخه خواړه پاتې کېدل. مور مې په خوړو کې اسراف نه خوښوي. زه پوهېږم د دې هغه ماشومان په ياد راځي چې په کور کې به مو ډوډۍ ورکوله چې ښوونځي ته ورېي لاړ نه شي او فکر يې کاوه چې اوس څه ډول ژوند کوي.

په مېنګوره کې به چې هر وخت له ښوونځي راغلو کور به مو له مېلمنو ډک و اوس مې باور نه راځي چې تر دې وړاندې به هر وخت د يوې آرامې او له شور او ځوږ څخه د تشې ورځې په هيله وو، څو د ښوونځي کورنۍ دنده وکړو. دلته يوازې د خوشال د ايکس او باکس لوبې او الوتونکو غږ و. زه مې په کوټه کې يوازې کېناستم او په يوه لوبه به بوخته وم.

موږ بېدای نه وو، مور او پلار مې د لوږې په واقعي معنی پوهېدل. مور به مې هېڅ وخت څوک له دروازې ناهيلي نه لېږل. يوه ورځ يوه زړه ښځه چې وږې او تږې وه زموږ د کور دروازې ته راغله. مور هغه کور ته راوسته، ډوډۍ يې ورکړه. هغه دومره خوشاله شوه چې ويې ويل:

- له ټولو کورونو مې خير وغوښت خو يوازې ستاسې دروازه خلاصه وه. هر ځای چې اوسېږئ خدای(ج) مو هېڅ وخت د کور دروازه مه بندوه.

زه پوهېږم چې مور مې له يوازېتوب سترې شوې ده. هغه ډېره اجتماعي ښځه ده د ګاونډيو ښځې به هر وخت په ماسپښين کې زموږ کور ته راتلې. اوس يې هر وخت ټيليفون په لاس کې وي او په پاکستان کې يې له خورلڼو سره خبرې کوي.

په دې ښار کې هغې ته ژوند ډېر سخت دی ځکه چې په انګليسي خبرې نه شي کوی. کور مو ډېر امکانات لري خو دې ته ټول عجيبه ښکاري، يو څوک بايد موږ ته د ګاز د منقل، د کاليو د ماشين او ټلويزيون د کارولو چل راوښيي.

د پخوا په څېر مې پلار په پخلنځي کې مرسته نه ورسره کړي. ما به د پلار په سر سر اېښود ورته ويل به مې:

- پلاره، تاسې د ښځو د حقوقو په اړه خبرې کوئ خو د کور ټول کارونه مور



کوي.

همدارنګه نه پوهېدو چې په بسونو او کتارونو کې څنګه سفر وکړو. د مور زړه مې د چينې په بازار کې پسې تنګ شوی و. له کله مو چې د ماما زوی شاه زموږ کور ته راغئ مور ډېره ورته خوشاله وه.

د ماما زوی يو ګاډی لاره او مور به يې د سودا اخيستو له پاره په کې وړله، دې به نه شوای کولای د سودا د اخيستلو له پاره له دوستانو او ګاونډيانو سره خبرې وکړي.

کله چې په لوړ غږ سره ور بندېږي، مور ژر درېږي، هغه په دې شپو ورځو کې په واړه غږ هم وېرېږي. همدا راز ډېری وخت اوښکې تويوي او ما په غېږه کې نيسي بيا وايي: «ملاله ژوندۍ ده.»

اوس له ما سره د خپل ډېر واړه ماشوم په څېر چلند کوي.

پوهېږم چې پلار مې هم ژاړي. کله مې چې وېښتان د مخ يوه لور ته اړوم هغه مې ډېری وخت د سر ټپ ويني او اوښکې تويوي او کله چې د نيمې ورځې له خوب څخه پاڅېږي او په باغ کې يې د اولادونو د ساعتېرۍ آواز اوري، آرامي احساسوي ځکه چې يو غږ تر ما پورې اړه لري. هغه پوهېږي چې خلک وايي ملامتي يې د پلار وه چې حمله پرې وشوه. د ده له پاره دا پېښې ډېرې سختې وې. په سوات کې يې د شلو کلونو زحمت پرېښی و، ښوونځی يې چې له هېڅ څخه يې جوړ کړ خو اوس د دريو ودانيو او ۱۲۰۰ زده کوونکو او ۷۰ ښوونکو لرونکی و. زه پوهېږم چې هغه د يوه بې وزله هلک په توګه د تور او سپين غره تر څنګ په هغې لرې پرتو کليو کې په خپلو ټولو کړيو کارونو وياړ کاوه. هغه وايي:

- داسې دي لکه يوه ونه دې اېښې وي او د ودې له پاره يې دې په کلونو زيار ويستلی وي، لږ تر لږه دومره حق خو لري چې تر سيوري لاندې يې کېښېنې.

هيلې يې دا وې چې په سوات کې يو لوی ښوونځی ولري او په هېواد کې سوله او ولسواکي ټينګه وي. پلار د خپلو کارونو او په سوات کې له خلکو سره د مرستې له امله په سيمه کې يو ځانګړی درناوی او اجتماعي ځای ترلاسه کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ کله یې هم دا فکر نه کاوه چې له هېواده بهر ژوند وکړي او کله چې خلک وایي چې موږ خپله غوښتل انګلېستان ته لاړ شو ډېر پرېشانه کېږي. کله هم وایي چې موږ په هېواد کې له بې کوره څخه په بهر کې په بې کوره بدل شوو. زموږ زړه به هر څه ته آن د هغې بدبویه اوبو بهیر ته هم تنګ کېده. پلار به ویل:

- که پوهېدای چې له داسې پېښې سره به مخ کېږو، د وروستي ځل له پاره خو به مو تر شا کتلي و. د پیغمبر(ص) په څېر کله یې چې له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت کاوه څو ځله یې تر شا وکتل. اوس د سوات ځینې کیسې داسې دي لکه چې په کتاب کې مو د یوې ډېرې لرې سیمې کیسې اورېدلې وي.

پلار ډېری وخت په ویناوو کې تېروي. ده ته عجیبه ده چې اوس خلک زما په خاطر غواړي چې خبرې یې واوري. زه یې تل د هغه د لور په نوم پېژندم او اوس هغه زما د پلار په توګه پېژني. هغه وخت چې هغه زما د ډالۍ د ترلاسه کولو له پاره فرانسې ته لاړ خلکو ته یې وویل: «زموږ په خاوره کې ډېری کسان د زامنو له امله پېژندل کېږي خو زه یوازینی پلار یم چې د لور له امله پېژندل کېږم.»

یو نوی ښایسته یونیفورم زما د خوب د کوټې په وره ځړېدلی، دغه جامې شین رنګ لري او د ښوونځي له پاره دي. هېڅ زده کوونکی فکر نه کوي چې د زده کړو له امله به ووژل شي او یا دا چې د ښوونځي ودانۍ به یې ورته والوزوي. د اپرېل په میاشت کې دومره ښه شوې وم چې کولای مې شول په بېرمېنګهم کې ښوونځي ته لاړه شم. دا هم عجیبه وه چې له وېرې پرته ښوونځي ته لاړه شم، هغه وېره چې په مېنګوره کې مې لرله او له کوره د وتلو په وخت کې به مې یوې او بلې خواته کتل نه چې کوم طالب مې مخې ته ودرېږي.

ښه ښوونځی دی. ډېری درسونه یې زموږ د ښوونځي په څېر دي خو ښوونکي د تورې تختې او سپین تباشیر په ځای له پاورپاینټ او کمپیوټر څخه کار اخلي. په دې ښوونځي کې ډول ډول درسونه ورکول کېږي لکه، موسیقي، هنر، د کمپیوټر درسونه، کورنی اقتصاد او موږ ته په دې ټولګي کې پخلی هم را زده



کوي. تر اوسه هم په فزیک مینه یم. زړه مې غواړي چې د نیوټن او د هغه د اساسي اصولو چې ټوله نړۍ ګټه ورڅخه اخلي ډېر څه زده کړم.

خو زه مې هم د مور په څېر د یوازېتوب احساس کوم. اوس ډېر وخت ته اړتیا ده چې د پخوا په څېر ملګرې پیداکړم او د دې ښوونځي نجونې هم له ما سره بل ډول چلند وکړي. دوی وایي: «هغه ملاله ده» د دې ښوونځي نجونې ما د نجونو د حقوقو د مدافعې په توګه پېژني. په خوشال ښوونځي کې یوازې زه ملاله هغه نجلۍ وم چې کیسې به مې ویلې او د تشریح له پاره یې هرڅه نقاشي کړي. هغې نجلۍ چې هر وخت به یې سر د ورور او یا دوست په زنګنو ایښود. فکر کوم چې هر ټولګی به یوه د ښو اخلاقو، نابغه، کیسه ویونکې، ډېره مینه ناکه، ښکلې، شرمناکه، او یوه بدنامه نجلۍ ولري. خو دلته مې تر اوسه هېڅوک هم نه پېژندل.

دا چې دلته هېڅوک هم نه لرم چې خپلې کیسې ورته وکړم، ټولې منیبې ته ساتم او بیا یې په سکایف کې ورته وایم. زه هر وخت لومړی ترې پوښتم: «په ښوونځي کې څه کیسې دي؟» منیبې په وروستیو ډېرو آزموینو کې ښې نومرې اخیستې وې. ټولګیوال مې تر اوسه هم زما په یاد یوه چوکۍ تشه پرېږدي او زما نوم یې پرې لیکلی.

د هلکانو په ښوونځي کې ښاغلي امجد زما لوی تصویر د ننوتو په دیوال بند کړی، دی وایي هره ورځ چې ښوونځي ته ننوزي څو دقیقې زما تصویر ته ګوري.

په انګلېستان کې مې د ژوند په اړه منیبې ته کیسې کوم. کوڅې د کورونو له ردیف سره سمې او منظمې دي داسې نه لکه په پاکستان کې چې هرڅه نامنظم وو او د خاورو او تیږو یو کور به د یوې ماڼۍ تر څنګ هم جوړېدای شوای. ښکلې او قوي کورونه چې د زلزلې او سېلاب په وړاندې هم مقاومت لري خو د لوبو له پاره هېڅ هوار بام نه لري. هغې ته وایم چې انګلېستان مې ډېر خوښېږي ځکه چې ټول خلک یې قوانین مراعاتوي، پولیسو ته درناوی لري او هر څه منظم دي. د هېواد هر مسولیت د دولت په غاړه دی، د پوځ د مشر نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کولو ته د چا اړتیا نشته. ښځې په کارونو بوختې دي چې په سوات کې مو یې فکر نه شوای کړای. ښځې کولای شي پولیسو او یا هم امنیتي ځواک کې وي دوی لوی لوی شرکتونه اداره کوي او هر ډول یې چې زړه وي همغسې جامې اغوندي.

اوس پر ما د حملې په اړه ډېر فکر نه کوم خو بیا هم هره ورځ چې هنداري ته درېږم ناځاپه راپه یاد شي. زه پوهېږم چې هېڅ کله به هم د پخوا په څېر نه وم، اصلاً سترګې سمې نه شم رپولی، کله چې خبرې کوم کیڼه سترګه مې ډېر ځله خلاصېږي او پټېږي. د پلار ملګري هدایت الله هغه ته ویلي و چې باید په سترګه مې وویاړم ځکه چې دا ښکلا یې د قرباني ورکولو له امله ده.

تر اوسه څرګنده نه وه چې حمله چا را باندې کړې وه خو د عطاءالله خان په نوم یو کس زما د ویشتلو مسولیت اخیستی و. پولیسو تر اوسه نه و پیداکړی خو ویل یې چې د نیولو په حال کې یې دي او غواړي له ما سره مرکه وکړي.

سره له دې چې په ښه توګه مې نه شوای کولای هغه ورځ را په یاد کړم خو کله کله مې په ذهن کې په بې انتظاره توګه د هغې شېبو تصویرونه وګرځي. تر ټولو بده خاطره په جولای کې وه چې موږ په ابوظبي کې وو. د مارچ په میاشت کې حج ته د تلو په وخت کې دا کیسه وشوه. هغه وخت چې غوښتل مو سعودي عربستان ته د عمرې له پاره لاړ شو. له مور سره مې یوه پلورنځي ته د حج د مراسمو د ځانګړې چادرې د اخیستلو له پاره لاړم. ما غوښتل یوازې یو ټکری په سر کړم ځکه چې ټاکل شوې نه ده چې یوه ښځه دې خامخا چادري په سر کړي. کله چې په پلورنځي کې روانه وم په خپله شاوخوا کې مې ډېر کسان ولیدل. فکر مې وکړ چې دوی پر ما حمله کوي. ډېره سخته ووېرېدم سره له دې چې چیغې مې ونه کړې له ځان سره مې وویل: ملالې، تا یو ځل مرګ په سترګو لیدلی. دا دې دویم ژوند دی. مه وېرېږه! اتله اوسه! که و وېرېږې هدف ته دې رسېدی نه شې.

موږ باور لرو کله چې لومړی ځل کعبې شریفې ته وګورو هره هیله چې ولرو الله(ج)



به یې پوره کړي. هغه وخت مې په خپل هېواد کې د سولې د راتلو او نجونو د زده کړې له پاره دعا وکړه او له سترګو مې اوښکې روانې شوې. خو کله چې نورو سپېڅلو ځایونو لکه د مکې دښتې او د پیغمبر(ص) د ژوند ځای ته لاړم حیرانه شوم، ځکه چې هلته ډېرې تشې بالتۍ او ډېرې خځلې په ځمکه پرتې وې. خلکو د تاریخ په ساتنه کې بې پروایي کوله او د رسول الله(ص) هغه حدیث یې هېر کړی و چې پاکي د ایمان یوه برخه ده.

ژوند مې په بشپړه توګه بدل شوی دی. د اجاره شوي کور د کېناستلو په کوټه کې مو د نړۍ له بېلابېلو برخو، هندوستان، امریکا، اسپانیا، فرانسې، ایټالیا، او اسټرالیا د هېوادونو ډالۍ لیدلی کېږي. زه یې د نوبل د سولې نړیوالې ډالۍ ته نوملې یم. په اصل کې زه د دې جایزې له پاره تر ټولو کشره نومانده وم. هغه وخت مې چې په ښوونځي کې ډالۍ تر لاسه کړه، د نه ستاینې وړ خوشالي مې لرله ځکه چې د هغې له پاره مې هڅه کړې وه خو دې ډالیو توپیر لاره.

زه د دې ډالیو له امله ډېره مننه کوم. ماته یوازې دا را په یادوي چې تر اوسه هم د خپل هدف د ترلاسه کولو له پاره چې د نجونو او هلکانو له پاره د زده کړو حق دی ډېر کارونه لازم دي چې ترسره یې کړم. زړه مې نه غوښتل چې خلک مې د هغې نجلۍ په نوم وپېژني چې طالبانو حمله پرې کړې بلکې د هغې نجلۍ په نوم چې د زده کړو د حق د ترلاسه کولو له پاره یې مبارزه کړې وه او ژوند به مې د دې هدف د ترلاسه کولو له پاره وقف کړم.

په شپاړسمه کلیزه مې نیویارک ته د ملګرو ملتونو په اداره کې د وینا له پاره سفر وکړ. په یوه داسې تالار کې ناسته وم چې هلته د نړۍ ډېرو لویو مشرانو وینا کړې وې، وېروونکې راته ښکارېده خو پوهېدم چې غواړم څه ووایم.

هغه وخت مې له ځانه سره وویل: «ملالې دا ستا له پاره یوه موکه ده.»

یوازې څلور سوه کسان زما چاپېره ناست وو، خو فکر مې کاوه چې هلته په ملیونونو کسان شته دي. زما خبرې یوازې د ملګرو ملتونو سازمان له پاره نه وې بلکې د ټولو هغو کسانو له پاره وې چې کولای شي په نړۍ اغېزه ولري. زړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل چې ټول هغه کسان چې په بې وزلۍ کې ژوند کوي، هغه ماشومان چې کار کوي او هغه چې له ترورېزم څخه ځورېږي او د زده کړو له حق څخه يې بې برخې کړي دي هم زما خبرې واوري. هيله مې لرله خبرې مې ماشومان د زړه پيداکولو لپاره واوري او د خپلو حقوقو له پاره ودرېږي.

د بې نظير بوټو يو سپين ټکرۍ مې د يوه خړ کميس له پاسه په سر کړ او د نړۍ له مشرانو څخه مې هيله وکړه چې د نړۍ د ټولو نجونو او هلکانو له پاره د وړيا زده کړو آسانتيا برابره کړي.

وروسته مې وويل: «راځئ خپل قلمونه او کتابونه په لاسونو کې واخلو ځکه چې زموږ تر ټولو پياوړې وسله ده. يو ماشوم، يو کتاب او يو قلم نړۍ بدلوی شي.»

په واقعيت کې نه پوهېدو چې دا خبرې به څه ډول وې تر دې چې د حاضرينو له خوا تشويق شوم. مور مې اوښکې تويولې او پلار ويل چې بې کچې خوشاله شوی دی.

په هغه ورځ يوه بله پېښه هم وشوه او مور مې په لومړي ځل کامرې ته ودرېده. په داسې حال کې چې د ژوند ډېر کلونه يې له عکس او کامرې پټ تېر کړي وو، دې ته داسې يو کار ډېر سخت ښکارېده.

په سبا ورځ په هوټل کې د سهار د چای خوړلو په وخت اتل وويل:

- ملالې، ته ولې دومره مشهوره شوې؟ څه دې کړي دي؟

ټول وخت چې په نيويارک کې وو هغه د آزادۍ د پارک د مجسمو او مرکزي پارک ننداري حيران کړی و.

له دې خبرو وروسته مې د نړۍ له گوټ گوټ څخه ډېر پيغامونه تر لاسه کړل چې زما د ملاتړ له پاره يې رالېږلي و او خو خپل هېواد مې غلی و، له څو پيغامونو پرته چې پاکستانيو ورونو او خويندو مې په ټولنيزو شبکو کې ليکلي و. هغوی په دې جمله «د شهرت له پاره د يوې پېغلې تمه» محکومه کړې وم. يوه يې ويلي و: «هېواد مو هېر کړئ، ښوونځی هېر کړئ. هغه بلاخره هغه څه ته ورسېده چې غوښتل يې، په بهر کې په زړه پورې ژوند.»



په واقعيت کې ماته ارزښت نه لري او پوهېږم چې خلک د دې له پاره دا ډول خبرې کوي چې زموږ مشرانو، سياستوالو او چارواکو هېڅ کله هم په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی او د پاکستان وضعيت ورځ په ورځ خرابېده. د ترورېستانو بې پايه حملو خلک وېرولي دي. خلک اوس په يو بل باور نه لري خو زړه مې غواړي ووايم چې زه له خلکو څخه هېڅ ډول ملاتړ نه غواړم بلکې دا ترې غواړم چې د سولې او هلکانو د زده کړو لپاره هڅه وکړي.

تر ټولو عجيب ليک چې له خبرو وروسته مې تر لاسه کړ، د عدنان رشيد په نوم د طالبانو د يوه قوماندان و چې په نژدې وختونو کې له زندان څخه تښتېدلی و. هغه تر دې وړاندې د پاکستان په هوايي ځواک کې په کار بوخت و او له ۲۰۰۳ م کال را په دې خوا په دې تور بندي شوی و چې د ولسمشر د له منځه وړلو په هڅه کې و. هغه ليکلي چې طالبانو زه د زده کړو د خنډونو په وړاندې د مبارزې له امله نه وم ويشتلې بلکې دوی ادعا کړله چې د طالبانو په ضد مې چې يو اسلامي دولت يې جوړولو خبرې کړې وې چې له همدې امله دوی حمله راباندې کړې وه. هغه ليکلي چې زما د ويشتلو په خبر حيران شوی و او دا چې ماته يې له ويشتلو مخکې خبر نه و راکړی هم پرېشانه و. ليکلي يې و چې که پاکستان ته لاړه شم، چادري په سر کړم او ديني مدرسې ته لاړه شم دوی به مې وبښي.

خبريالانو رانه وغوښتل ځواب ورکړم. خو له ځانه سره مې فکر وکړ: «دا نو څوک دی چې ماته داسې څه ليکي؟» طالبان ماته امر نه شي کړی. دا زما ژوند دی، خپله کولای شم د ژوند ډول مې وټاکم. خو محمد حنيف په يوه مقاله کې اشاره کړې د طالبانو د ليک مثبت اړخ دا و چې خلکو دعوه کړله زه ويشتل شوې نه يم، په داسې حال کې چې دوی د دې حملې مسوليت هم په غاړه واخيست.

زه پوهېږم پاکستان ته به ځم، هر وخت مې پلار ته وايم زړه مې کېږي کور ته مې لاړه شم هغه پلمې لټوي: «نه جاني، تر اوسه دې درملنه خلاصه شوې نه ده.» يا هم «دلته ښه ښوونځي شته دي، ته بايد ډېر څه زده کړې چې خپلې موخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېږي.»

د پلار خبره سمه ده. زه غواړم هر څه په ښه توګه زده کړم او د پوهې په وسلې سره ځان مجهز کړم. هغه وخت کولای شم د خپلې موخې لپاره مې په ډېر قدرت سره مبارزه وکړم.

نن ورځ موږ ټول پوهېږو چې زده کړه د انسان له لومړنیو اړتیاوو څخه ده. نه یوازې په لویدیز کې بلکې اسلام هم بشر ته دا حق ورکړی دی. اسلام وايي ټول هلکان او نجونې باید ښوونځي ته لاړې شي. په قرآن کریم کې لیکل شوي دي، خدای(ج) له موږ څخه غواړي چې د علم او پوهې په ترلاسه کولو کې هڅه وکړو. هغه له موږ څخه غواړي پوه شو آسمان ولې شین دی او یا هم د ستورو او اقیانوسونو په اړه پوه شو. په دې پوهېږم چې دا یوه لویه مبارزه ده، په ټوله نړۍ کې اووه پنځوس ۵۷ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته نه ځي چې دوه دېرش ۳۲ میلیونه یې نجونې دي. له بده مرغه پاکستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د زده کړو وضعیت ډېر په کې خراب دی. ۵،۱ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته نه ځي، سره له دې چې زموږ په اساسي قانون کې لیکل شوي دي چې ټول ماشومان د زده کړو حق لري. د ۵۰ میلیونو په شاوخوا لویان مو بې زده کړو دي، د دې ډلې دوه پر درې برخه ښځې دي چې له ډلې څخه یې یوه زما خپله مور ده.

تر اوسه ډېرې نجونې وژل کېږي او ښوونځي الوزول کېږي. د مارچ په میاشت کې د کراچي په هغه ښوونځي چې موږ ورغلي و حمله شوې. د ښوونځي د ډالیو ورکولو په وخت کې یې د لوبو د ډګر له لوري یو بم ور غورځولی و. په دې حمله کې د ښوونځي مدیر عبدالرشید وژل شوی او له آتو څخه تر لسو کلونو پورې زده کوونکي ټپیان شوي وو. کله چې دا خبر مور واورېد، له ځنډ پرته یې وژړل. ویې ویل: «زموږ زړه نه غواړي چې د اولادونو له سر څخه مو یو وېښته هم کم شي خو داسې کسان هم شته چې پر دوی حمله کړي آن چې دوی ته دا هم اهمیت نه لري چې د حملې قربانیان یې هلکان دي.» یوه ډېره ټکان ورکوونکې حمله د



جون په میاشت کې د کوټې په ښار کې وشوه، یوه ځانمرګي په هغه بس چې یوه ښوونځي ته یې څلوېښت تنه نجونې وړلې چاودنه کړې وه. څوارلس یې وژل شوې وې. وروسته یې په روغتون کې په ځینو نرسانو ډزې کړې وې.

یوازې طالبان نه دي چې د ماشومانو ژوند اخلي، کله هم بې پیلوټه الوتکې، کله جګړې او کله هم د لوږې له لاسه وژل کېږي. داسې وخت هم راځي چې خپله د کورنۍ له خوا قرباني کېږي. د جون په میاشت کې زما دوې همزولې د سوات په شمال ګلګت کې وژل شوې وې. دوی د خپلې ګډا یوه وېډیو چې ټکري او د سیمې دودیزې جامې یې اغوستې وې په باران کې ډکه کړې او بیا یې انټرنېټ ته پورته کړې وه، ویل کېدل چې وروڼو یې وژلې وې.

اوس سوات تر نورو سیمو یو څه آرام ښکاري خو له طالبانو څخه د ظاهري پاکونې څلور کاله وروسته هم هلته نظامي ځواکونه لیدل کېږي. فضل الله یې تر اوسه نه دی نیولی او زموږ ګاډی چلوونکی تر اوسه په کور کې بندي دی. زموږ دره چې یو وخت د سیلانیانو د مېلې ځای و اوس په یوه وېرووونکې سیمه بدله شوې. هوټلونه او د لاسي صنایعو پلورنځي اوس له خلکو تش دي او بیا به ژر سیلانیان ور نه شي.

د تېر کال راهیسې مې ډېر ځایونه لیدلي دي خو تر اوسه مې خپله سیمه راته د نړۍ تر ټولو ښکلې ده. په اصل کې نه پوهېږم چې هغه ځای به د دویم ځل لپاره څه وخت ووینم، خو باور لرم دا کار به هم وشي.کله هم د ام د هغې زړې په اړه چې په باغچه کې مې کرلی و فکر کوم. له ځانه سره وایم که څوک هغې ته اوبه ورکړې په راتلونکې کې به یې هلکان او نجونې مېوه وخوري.

نن مې ځان ته په هنداره کې وکتل او د یوې لحظې لپاره په فکر کې لاړم. یو ځل مې له خدای(ج) څخه غوښتې وو چې یو یا دوه انچه مې قد لوړ کړي خو هغه د آسمان په کچه لوړه کړم. دومره چې نور مې ځان اندازه کوی نه شم. له همدې امله مې کومه ژمنه چې له الله(ج) سره کړې وه وفا وکړه او سل رکعته نفل لمونځ مې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه مې په خپل خدای(ج) مینه یم. ټوله ورځ خبرې ورسره کوم او تل به یې مننه کوم.

خدای(ج) ماته لوی مسولیتونه راکړي دي. زړه مې غواړي چې ټول انسانان په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړي او ټولې نجونې او هلکان زده کړه وکړای شي. دا زما حق دی چې د خورلڼو په څنګ کې مې په یوه چوکۍ کښېنم او په آرامه مې خپل کتابونه ووایم. هیله مې دا ده چې د ټولو انسانانو په شونډو د خوښۍ موسکا په سترګو ووینم.

زه ملاله یم. نړۍ مې بدله شوې ده خو خپله مې هېڅ بدلون نه دی کړی.



# د سوات او پاکستان مهمې پېښې

۱۹۴۷م د اګست څوارلسمه - د مسلمانانو د لومړي هېواد په توګه د پاکستان بنسټ اېښودل او د سوات شاهي ایالت له پاکستان سره یو ځای کېدل.

۱۹۴۷م – د پاکستان او هند لومړۍ جګړه.

۱۹۴۸م – د پاکستان د بنسټ اېښودونکي محمد علي جناح مړینه.

۱۹۵۱م – د پاکستان د لومړني لومړي وزیر لیاقت علي خان ترور.

۱۹۵۸م – د پاکستان په لومړۍ نظامي کودتا کې جنرال ایوب واکمن شو.

۱۹٦٥م – د پاکستان او هند دویمه جګړه.

۱۹٦۹م – سوات د شمال لویدیز سرحدي ایالت برخه کېږي.

۱۹۷۰م – د پاکستان لومړۍ ملي ټاکنې وشوې.

۱۹۷۱م – د پاکستان او هند درېیمه جګړه، د پاکستان ختیز خپلواک کېږي او اوسنی بنګلدېش ترې جوړېږي.

۱۹۷۱م – لیاقت علي د پاکستان د لومړني لومړي وزیر په توګه ټاکل کېږي.

۱۹۷۷م- جنرال ضیاءالحق په یوه نظامي کودتا کې واک ته رسېږي.

۱۹۷۹م – دوالفقار علي بوټو اعدام شو او په افغانستان شوروي حمله وکړه.

۱۹۸۸م- جنرال ضیاء او د پوځ لوړ پوړي افسران په یوه هوایي پېښه کې مړه شول، ټاکنې وشوې او بې نظیرې وګټلې چې په اسلامي نړۍ کې لومړنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ وزیره وه.

۱۹۸۹م – له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو وتل.

۱۹۹۰م- بې نظیر بوټو بې واکه کېږي.

۱۹۹۱م – نواز شریف لومړی وزیر شو.

۱۹۹۳م – پوځ نواز شریف استعفا ته اړ ویست، او د بې نظیرې دویم دولت په کار پیل وکړ.

۱۹۹۶م – په کابل کې طالبان واک ته ورسېدل.

۱۹۹۶م – بې نظیره دویم ځلې بې واکه شوه.

۱۹۹۷م – د نواز شریف دویم دولت په کار پیل وکړ.

۱۹۹۸م – هندوستان او پاکستان هسته يي آزموینې وکړې.

۱۹۹۹م – بې نظیر بوټو او خاوند يې آصف علي زرداري په فساد محکوم کېږي، بې نظیره تبعید کېږي او زرداري بند ته لېږل کېږي او د یوې کودتا په پایله کې پرویز مشرف واک ته رسېږي.

۲۰۰۱م – د القاعده له خوا په نړیوال سوداګریز مرکز او پنتاګون حمله کېږي. د امریکا له لوري په افغانستان بمبار پیلېږي. د طالبانو دولت ړنګېږي او اسامه بن لادن پاکستان ته تښتي.

۲۰۰۴م – د پاکستان پوځ په قبایلو کې د طالبانو په ضد عملیات پیلوي. په پاکستان د امریکا د بې پیلوټه الوتکو لومړۍ حمله او د زرداري تبعید.

۲۰۰۵م – په سوات کې د مولانا فضل الله له خوا د ملا راډیو جوړول، په پاکستان کې لویه زلزله چې په پایله کې يې اویا زره کسان ووژل شول.

۲۰۰۷م – په اسلام آباد کې په لال مسجد د پوځ له لوري حمله، بې نظیر بوټو بیا پاکستان ته راځي، فضل الله اسلامي محکمې جوړوي، مشرف خپل ځواکونه سوات ته لېږي، په پاکستان کې د طالبانو رامنځ ته کېدل او د بې نظیرې وژل.

۲۰۰۷م – په ټول سوات کې د طالبانو واک ته رسېدل.

۲۰۰۸م – زرداري ولسمشر او مشرف تبعید کېږي.



۲۰۰۹م – فضل الله اعلانوي چې په سوات کې دې د نجونو ټول ښوونځي وتړل شي، طالبان او د پاکستان دولت د سولې تړون کوي، کله چې طالبان سوات تر خپلې ولکې لاندې راولي د سولې تړون لغو کېږي او د پاکستان پوځ په سوات کې د طالبانو په ضد عملیات پیلوي.

۲۰۰۹م جولای – د پاکستان دولت وايي چې سوات يې د طالبانو له نفوذ څخه پاک کړی.

۲۰۰۹م ډسمبر – ولسمشر اوباما اعلان کوي چې افغانستان ته ۳۳ زره نور پوځیان هم لېږي چې په افغانستان کې د ناټو ټول سرتېري یو سل او څلوېښت زره کېږي.

۲۰۱۰م – په ټول پاکستان کې سېلاب د ۲ زره کسانو ژوند واخیست.

۲۰۱۱م – د پنجاب والي سلمان تاثیر ووژل شو، په ایبټ آباد کې اسامه بن لادن ووژل شو، ملالې د پاکستان د سولې ملي جایزه ترلاسه کړه.

۲۰۱۲م د اکتوبر نهمه- په ملاله حمله وشوه.

۲۰۱۳ م د مې میاشت – مشرف بیا راځي خو نیول کېږي. د طالبانو له تاوتریخوالي سره سره ټاکنې کېږي. نواز شریف د درېیم ځل لپاره لومړی وزیر کېږي.

۲۰۱۳م – ملالې د خپلې شپاړسمې زېږد کلیزې په ورځ په نیویارک کې ملګرو ملتونو ته په خطاب کې وویل چې ټولو ماشومانو ته د وړیا زده کړو حق ورکړي.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**